Ketabton.com

# د پولادي امير

# تر سيوري

# لاندې

PROPERTY OF ACKU 11883

PROPERTY OF ARIC Established 1989

ليکوال:

فرانک. اې. مارتين

ژباړن

محمد معصوم هوتک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم :: د پولادي امیر تر سیوري لاندې

لیکوال :: فرانک.اې.مارتین

ژباړن :: محمد معصوم هوتک

خپرندوی ::د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه - جرمني

د خپرېدو لړ :: ۵۷

چاپ شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ نېټه :: ۲۰۰۴م/۱۳۸۳ل

## چاپځی

دانش کتابتون، قصه خوانی بازار، پېښور

*Tel/Fax:091-2564513/E-mail:danish2k2000@yahoo.com*

# د خپرندويې ټولنې يادښت

"د پولادي امير تر سيوري لاندې" د فرانك مارتين هغه په زړه پورې اثر دى چې د افغانستان د معاصر تاريخ د يوې ډېرې مهمې دورې (د امير عبدالرحمن خان او امير حبيب الله خان د واكمنۍ د دورو) په هكله ليكل شوى دى او سره له دې چې په افغانستان كې په هغه وخت كې د يو بهرني مهم كاركوونكي او ماهر د خاطراتو بڼه لري، خو د دې په څنګ كې د اسې نويو او په زړه پورې موضوعګانو ته اشارې لري، چې تر اوسه يې په بل ځاى كې څرك نه دى لګېدلى او له همدې كبله د افغانستان د معاصر تاريخ څېړونكيو او مينه والو ته د لوستلو او استفادې وړ دى.

د دې تاريخي اثر پښتو ژباړن ښاغلى محمد معصوم هوتك، د پوره ستاينې او كورودانۍ وړ دى چې د غه كتاب يې په روانه او خوږه پښتو ژبا ړلى او د نورو ډېرو علمي كارونو او د پښتو ژبې د علمي كولو او شتمنېدو په لاره كې د خپلو نورو هلو ځلو په څنګ كې يې د اسې يو اثر پر ژباړه هم پوره ډېر وخت تېر كړى دى.

د افغانستان د كلتوري ودې ټولنه، ځان نېكمرغه ګڼي چې د غازي امان الله خان د واكمنۍ او د افغانستان د خپلواكۍ د پنځه اتيايمې كاليزې په مناسبت، د "غازي امان الله خان ـ د افغانستان د خپلواكۍ ستورى" په نوم د

علمي - تاريخي سيمينار په ويار دا او داسې يو شمېر نور خورا مهم تاريخي آثار خپروي او د ګران افغانستان د تاريخ مينه والو هېوادوالو ته يې وړاندې کوي.

مــوږ د دې اثر د قــدرمــن ژباړن د لا زياتو بريا وو هــيله کوو او خپــل هېوادوال د دې اثر لوستلو ته رابولو.

په درناوي

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه
جرمني - د کولن ښار
د ۲۰۰۴ ع کال د مارچ دولسمه
د ۱۳۸۳ ل کال د کب ۲۲

# دژباړونکي یادابنت

د ۱۸۸۷ م کال په سرکي امیرعبدالرحمان خان ( ۱۸۸۰ ـ ۱۹۰۱ م ) له یوه انګرېزمهندس سرتوماس مارټین ( ۱۸۵۰ ـ ۱۹۰۶ م ) Sir Thomas Martin سره په افغانستان کي دصنعتي کارونو پرسر موافقه وکړه . نوموړي مهندس خپل استازی سر سالټر پاین Sir Salter Pyne کابل ته ولېږه . سالټر پاین ، چي وروسته په کابل کي په مستر پاین سره مشهور سو ، تر مسیو ژېروم فرانسوي وروسته لومړنی اروپایي دئ ، چي د افغان و انګلیس تر جګړي وروسته په کابل کي استوګن سو ( ۱ ).

مسیو ژېروم د هغه سفرېه ترڅ کي له امیرعبدالرحمان خان سره وپېژندله ، چي نوموړي امیر په ۱۸۸۴ م کال له لارډ ډفرین سره دکتلو په نیت راولپنډۍ ته کړی و. امیر ورته بلنه ورکړه ، چي په کابل کي دصنعتي کارخانو په جوړولو کي مرسته وکړي . نوموړی مهندس کابل ته راغی او له خان سره یې د کریم بخش په نامه یو هندی ، چي دبرېښنا ماهر و ، راووست . مسیو ژېروم څه موده په کابل کي پاته سو او وروسته دامیر په حکم د ځینو سامانونو دپېرودلو له پاره هندوستان ته ولاړ . د یولك و څلوېښت زرو هندي روپیو په بیه یې سامانونه وپېرودل او کابل ته یې راولېږل. خودده دژوند و مرګ پته ورکه سوه او امیر وایي ، چي له زیات تلاښ سره سره بیاهم څرګنده نسوه ، نوموړی ژوندی دئ که مړ ؟ ( ۲ )

---

( ۱ ) مستر پاین لومړی وار د ۱۸۸۷ م کال داپرېل په سر کي کابل ته ورسېد . څو میاشتي یې تېري کړې او بیرته انګلستان ته ولاړ . ( دافغانستان پېښلیك دمستر پاین راتګ د۱۸۸۹ م کال په پېښو کي راوړی دئ ) نزدې یو نیم کال وروسته دوهم وار بیرته کابل ته راغی . په دې وار راتګ کي ورسره دغه کسان ملګري وو : جان الفرېډ ګرې John Alfred Gray. مستر ستېوارټ Mr.Stewart او مستر میډلیټن Mr.Myddleton . دوی درې واړه انګرېزان وو . جان الفرېډ ګرې دامیر جراح و . خپل دسترګو لیدلی حالونه په یوه پنډ کتاب کي بیان کړی دئ . چي At the court of the Amir نومېږي او په ۱۹۰۱ م کال په لندن کي چاپ سوی دئ .

( ۲ ) تاج التواریخ ـ دوهم ټوك ـ ۱۷ مخ ـ لاهور

سالتهر پاین د مسیو ژیروم فرانسوي لخوا رالېږل سوي ماشینونه په کار واچول . په هغو کي د ترکاڼی ، برمه کاری ، ولډنګ کاری ، اړې اوزندې د ستګاوي شاملي وې . ددې پرځنګ یې د توماس مارټین دشرکت په نمایندګي یې یوه جبه خانه ، یوه ضرابخانه ( دسکو وهلو دستګاه ) او څو نوري دستګاوي او ورکشاپونه جوړ کړل ، چي وروسته بیا دغو ورکشاپونو یو شمېر عصري صنایع منځ ته راوړل . ویل کېږي چي نوموړي مستهر پاین د سر مارټیمر ډیورنډ له هیات سره چي د افغانستان د جنوبي او ختیځي پولي د ټاکلو لپاره په ۱۸۹۳ م کال کابل ته راغلی و ، ډېره مرسته وکړه او دافغانستان په امیر یې د انګریزي هیات خبري ومنلې . ( ۱ )

امیر عبدالرحمان خان له سر توماس مارټین سره ټینګي اړیکي لرلې اوامیر ورته دهغه هیات دسربښتې کار په لاس ورکړ ، چي لندن ته دده د دوهم زوی شهزاده نصرالله خان دسفر ملګری و . شهزاده نصرالله خان د ۱۸۹۵ م کال په اپریل کي له کابله روان سو او د مي له څلېرویشتمي څخه بیا د دسمبر تر دریمي پوري په لندن کي و . شهزاده له انګلستان سره دمستقیمو ډیپلوماټیکو اړیکو د ټینګېدو په نیت دخپل پلار امیر عبدالرحمان خان لخوا هغه هیواد ته استول سوی و . امیر که څه هم پخپل دغه مقصد کي بریالی نسو ، خو له سرتوماس مارټین سره یې مناسبات بیاهم دوستانه پاته سول او دپوره باور وړ یې و . له شهزاده نصرالله خان سره کابل ته دراستنېدوپه وخت کي دنوموړي توماس مارټین کشر ورور فرانك مارټین Frank . A . Martin ملګری و( ۲ ) . داشخص زموږ دهمدې کتاب لیکوال دئ ، چي په کابل کي د سر سالتهر پاین پر ځای د کارخانو او ورکشاپونو د سرانجینیر په توګه ټاکل سوی و . فرانك مارټین د پاټریك ویلیام مارټین Patrick William Martin کشر زوی کېدی .

---

( ۱ ) فراهي ـ غبدالغفار ـ افغانستان د دیموکراسی او جمهوریت په کلونوکي ـ ۲۴ مخ ـ اول چاپ ـ امریکا ـ ۲۰۰۱ م

( ۲ ) سردار نصرالله خان دخپلو دغو لیدنو کتنو پربابرساله ولیکله او په کابل کي چاپ سوه . خو امیر عبدالرحمان خان د خینو مصلحتو له مخي نشر نکړه .

پلار یې دانګلستان دبرمنګهم ښار دځرمنو دصنایعو څښتن و . مشر ورور یې، سر توماس مارټین په ۱۸۷۴ م کې دهندوستان دکلکتې په ښار کې یو صنعتي شرکت پرانیست . دغه شرکت ته په ۱۸۸۹ م کال دبنګال داوسپنې او پولادو دکمپنۍ سرپرستي ور دغاړې سوه او تر هغه وروسته یې په هندوستان کې داورګاډو دپټلیو په غزولو کې درنه ونډه واخیستله . دغه راز یې دکلکتې ښاوخواکلیو او د اله آباد ، بنارس ، کانپور ، لکهنو ، اګرې او سـرینګر ( کشمیر ) ښارونو ته دچښلواوبو رسولو پروژې بشپړې کړې .

لکه وړاندې چې مو یادونه وکړه ، سرتوماس مارټین په هند کې دکابل دامیر عبدالرحمان خان داستوګنې په وخت کې دنوموړي امیر پاملرنه خانته واړوله او ورسره اشنا سو . ( ۱ ) ددغو دوستانه اړیکو اغېزه وه ، چې زموږ دهمدې کتاب مولف فرانك مارټین یې دکابل دورکشاپونو سرانجنیرۍ ته ورساوه او په کابل کې بیا ددغه خیرك او متشبث انګریز استوګنې ددغه کتاب ، چې ستاسې په واك کې دئ ، دلیکلو زمینه برابره کړه .

فرانك مارټین هم کابل ته دوه واره راغلی دئ . لومړی وارسفر یې په ۱۸۸۹ م کال کې و او دکابل دورکشاپو په څنګ کې یې داستوګنې له پاره ځای ورکړی و . ( ۲ ) دوهم وار ، لکه وړاندې چې مو ولوستل ، له شهزاده نصرالله خان سره یوځای راغی . دوهم وار یې دخدمت ټوله موده څه دپاسه اته کاله وه ، چې په دې موده کې دامیر عبدالرحمان خان دپاچهۍ شپږ کاله او دسراج الملت والدین امیرحبیب الله خان دواکمنۍ دسرکلونه شامل دي . فرانك مارټین دامیر عبدالرحمان خان په دربارکې دپوره عزت څښتن و . له درباریانو سره دومره زیات محشور و ، چې ان دهغوی د کورنیو مسایلو او خپل منځي دښمنیو او رقابتو په باب یې ښه پوره معلومات درلودل . نوموړی ګرځنده سړی و او دکابل ښاوخوا سیمې یې ټوله تر پښو کښلې وې . دعادي خلګو او د کوڅو و بازار په حالاتو ښه سم بلد و . په پارسي او اردو یې خبري کولای سوې

---

( ۱ ) جورج سمیت ـ د ډیکشنري آف نیشنل بیوګرافي ـ لومړی ټوك ـ ۵۷۸ مخ ـ اکسفورډ .

( ۲ ) وګورئ : دهمدې اثر لسم خبرکی .

. نوموړی دخپل مسلك انجنيري پر څنگ هنرمن سړی هم و . دکتاب په منځ کي ځيني تصويرونه دده په هنرمنو گوتو انځور سوي دي .دده دکتاب تر لوستلو وروسته سړی ويلای سي ، چي فرانك دهغه وخت دکابل او دهغه ځای د دربار او درباريانو په معرفی کي په بشپړه توگه بريالی ليکوال گڼل کېدلای سي . دده دکتاب ځيني برخي داسي ترخه حقايق دي ، چي لوستل به يې درانه تمام سي . خو ما يې په دې نيامت ژباړلو او خپرولو ته ونښکل ، چي زموږ دهيواد اوسنی حالت هم تر دوه ويشت کلني جگړې او کډوډيو وروسته د امير عبدالرحمان خان تر واکمنی ورانديني شرايطو ته ورته دي . زموږ دهيواد اقتصادي و سياسي و ټولنيزه شيرازه دهماغه وخت په شان ورانه سوې ده اود هيواد اوسېدونکي د مطلقي خپلسری او بې قانونی په حالت کي ژوند تېروي . زموږ راتلونکو مشرانو ته دغه شان وران ويجاړ هيواد ور دغاړي سوی دئ، لکه امير ته چي په غاړه کي ورلوېدلی و .ددغه اثر لوستل به له درنو لوستونکو سره مرسته وکړي ، چي دخپل گران هيواد دتاريخ له يوې داسي مرحلې سره اشنا سي ، چي وگړي يې دنن په شان دخپلي بقا و فنا له ستونزو سره مخامخ وو .

دافغاني تاريخ په باب بهرنيانو په تېره بيا انگرېزانو ښه ډېر آثار کښلي دي . له دغو آثارو سره له هغو کسانو پرته ، چي په لويديځ کي ورته داستوگني زمينه برابره سوې ده ، نور افغاني څېړونکي په پوره اندازه اشنا نه دي . زما په فکر ددغو آثارو ژباړل له هغو کارونو څخه دي ، چي په بهر کي داستوگنو افغانانو پر غاړه پراته دي . ما دهمدې اړتيا له مخي په داسي حال کي دغه کار ته ملا وتړله ، چي نه له انگرېزی څخه دترجمې اوږده سابقه لرم او نه پوره صلاحيت . خو بيا مي هم له خان سره پتېيلې ده. چي که پاك خدای توان او حوادثو فرصت راکړ ، له خپل وس سره سم به ددغو آثارو په ژباړلو کي برخه اخلم . داكتاب چي ستاسي په واك کي دئ ، دهمدې ژمني لومړی محصول دئ . دکتاب ژباړه مقيده نه ده او مطالب په آزاده توگه ژباړل سوي دي . لمنليکونه يې ما پر زيات کړي دي . دترجمې په ځينو برخوکي زما مشر زوی ذکي هوتك مرسته کړې ده او دټايپ ستونزه يې گران سعيد لودين پر خان ومنله . دواړو ته د نېکمرغه ژوند دوعا کوم . زه دغه راز د پاك خدای ( ج ) له دربـــــاره څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړم ، چې افغانانو ته دخپل کور بيرته ودانولو ، د استقلال او خپلواکۍ دساتلو په لارکې يې توفيق ورکړي. آمين .

محمدمعصوم هوتك

تورنتو ـ کاناډا

دمارچ دوولسمه ـ ۲۰۰۲ م کال

# لومړی څپرکی

**د مارش حکم ـ سرتېري او ساتونکي ـ پربوده وو ( خاروبو ) باندي دمالونوچلولوچلند ـ دکمپونوبیان ـ مارشونه (مزلونه ) ـ په کلیو اوبنارو کي د سردارنصرالله هرکلی ـ د دښتو بیان ـ کندهار ـ امیر او هغه ملا چي دکندهار بست ته یې پناه وړې وه .**

---

د ۱۸۹۵ ع کال په دوبي کي افغان شهزاده نصرالله ( ۱ ) د درو څلورو میاشتوله پاره دانګرېزي حکومت مېلمه و او مخکي له دې چي دسمندرله لاري کراچي اوبیاپه اورګاډي کي چمن ته چي افغان پولي ته نژدې دبلوچستان کوټې پر لور د اورګاډي تم ځای دئ ، ولاړسي ، د بیرته ستنېدو سفر یې په پاریس ، روم او ناپلس کي په لنډ تم کېدو سره نور هم خوندور سو .

شهزاده ته د اورګاډي په سټېشن کي دکوټې دسیمه ییزآمرجنرال سربرون General Sir Brown اونوروافسرانواوسرکاري مشرانوله خواهرکلی وویل سو ، چي وروسته بیاد پولي په اوږدوکي خپل کمپ ته ولاړ ، په کمپ کي هغه شمېرعسکراوشهزاده ملګري ورسره یوځای سول چي دامیرله خوادده دسفرملګرتیاله پاره رااستول سوي وو ، زه (فرانک مارتین ـ م . هـ ) له شهزاده سره (په انګلستان کي یې دی په دغه نامه باله ) له هغه وخته ملګری سوی وم چي له لندنه رارهي سو اودغه رازدکندهارله لاري ترکابله پوري داس په سپرلي ورسره وم اوکله چي یې په دابله ورځ وختي له کمپه حرکت کاوه ماورته یوه دملاړمینوټولی جوړه کړه . داکتوبرپای نژدې کېدونکی اوفصل پرتمامېدوچي موږ سفرپیل کړ ـ خودغه ورځ ډېره توده وه اوڅومره چي وړاندي تللو ، هومره پسې تودېدله . له شهزاده سره دسپرو ملګرواسانوددوړو وریځي جوړي کړي وې اودې کارنورهم تموښې(sultry) جوړکړ اوسفریې ستومانوونکی کړ .

دښت ډېروچ ښکارېدی . شاوخوایې د ریګوغټ اوبې وښومیدانونه اودلته وهلته یکښې داغزیوبوټي وو ـ ځای په غټې ډبري هم له مخکي راوتلي وې اولږځه لیري یې لوخي شاګی اوډېرېن غرونه پراته وو . د لمرسوځنده وړانګوله ریګواوډبروڅخه پخپله دلمرتبی جوړه کړې وه . له چمن څخه تـــــر کندهارپوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړك نسته خوله پخوا څخه دکاروانودتېرېدلوله امله پرمځکه باندي لاري جوړي سوي دي چي پرځنډه يې خاى خاى داسانواواوښانوسپين هډوكي پراته وو . خوبياهم شهزاده اوملازمينو يې په خوشالى سره لاري وهلې ځكه دوى د يوه بهرني سفرله ټولوخطرونوڅخه روغ رمټ راستانه سوي وو اوكابل ته په رسېدو سره يې خپلو دوستانوته دعجايبوسيمواوعجايبودودونو او رواجونو ډېري كيسې لرلې.دغه رازيې له دغوسيموڅخه له ځانوسره داسي توليدات راوړي وو چي هم سوغاتونه كېدلاى سواى اوهم دسوداګرى اوډېري ګټې مالونه .د شهزاده په مخكي داوزبكودسپروسرتېرو(Lancers) دوه قطاره يوله بل څخه لېرشانته ليري روان وو اولږ څه وروسته يې په دواړوخواووكي په اوزبكوپسې د شاهي رسالې د ساتونكودوه قطاره وو. دوى توري اوكارابين توپك درلودل اوترنورويې جامې هم ښې وې اوپه هغه پسې بيا سپاره عسكرووچي شكېدلي جامې يې اغوستي وې اووحشي څېرې يې لرلې ، البته دومره وحشي نه لكه اوزبك چي دپسود پوستكوخولى(busbies) يې پر سر، وربښتان يې پرمخونوراايله كړي اوڅېرې يې لا ور وحشي كړي وې . دسپروسرتېرودوه قطاره ښايي له پوځي نظره سم نه وي خوسره له دې هم د اړتيا په وخت كي ډېرګټوربښكارېدل.

ترټولوړاندي يوسړى روان و. دآس پرځين (زين) بناندي محلي ډول ورته پروت اوداسانودپښولو بږغ سره سم يې په پرله پسې توګه ډباوه . دادود (رواج) د شاهي كسانود تېرېدلواورسېدلو ښكارندويي كوي.

دشهزاده اړخ ته يوسړي په منډه څغستل په لاس كي يې سترزرين سايوان(چتر ) وچي دلمرد سوځنده وړانګومخه په نيول كېدله اوشاوخوايې پلي ساتونكي وو ترهغولږڅه وړاندي بيانورپلي ساتونكي له ( اضافي ) اسانوسره روان وو. دسپروخدمتكارانوشاته دخانانواوقومي مشرانوهغه ډله وه چي له شهزاده سره ملګري وو. زه هم ددوى په منځ كي وم اوپوهېدلم چي ددوړو په اوريځوكي سپرلوڅه رازښكاري . مخ له خولوډك اودوړي باندي خيښتي پرتې ـ دومره غليظي دوړي چي اسانوپكي لارنه سواى ليدلاى اودم وكړى به يې پرډبروباندي نوكان خوړل.

دلاري په اوږدوكي ترموږوړاندي اووروسته پــــــه يوڅه ليري واټن كي

داوښانواوډېابوګانولیکي رواني وې پرهــریوه باندي له دوړو ډک بارونه باراو جلوونه یې د پلیوخلکوپه لاس کي وو. په بارونوکي ددغه کوچني لښکرخېمې اوسامانونه وو. د بوده وو ( ښاروېو ) له هري لیکي سره یوسپورعسکر (سوار ) رهي و. دده وظیفه پرلاري باندي دبېخایه ښنډېدومخنیوی اوراتلونکي کمپ ته د بارونو سلامت رسېدل وه . زیاتره بارکښ ښاروي دمالونودوړولو راوړلو د سوداګر (کریه کښانو ) ملکیت واوداهغه کسان دي چي موقع ورته برابره سي ترکوچني ګټي لاهم نه تېرېږي.

زه دېرخوښ سوم کله چي مي واورېدل ، شهزاده ترغرمې وروسته دچایوچښلوله پاره دتم کېدوامروکړ. ښکه خوله مي دګرمی اودوړوله امله سره نښتي وه اوبدبوی یې تې . موږټول دیوې کوچني شاګی (غونډۍ) ښنګ ته له اسونوراکښته سوواودچایوترډمېدلوپوري خدمتګاران اوعسکرهماغه شان سپاره ولاړوو، ښکه دوی هغه کسان دي چي ستړیانه پېژني . دچایوترچښلووروسته، شهزاده ماته سګرېټ تعارف کړل اوزه بایدووایم چي نوموړي دسفرپه ترڅ کي پرماډېره پاملرنه کوله اوراباندي مهربان و. ده خپلوګنډونکو ته امروکړچي زماله پاره پوست لرونکي بالاپوښونه (پوستینان ) جوړکړي.ده ویل چي انګریزي کوټونه دهغي سختي یخنی له پاره مناسب نه دي،چي موږته په راتلونکي کي ګوري اوما دده ددغي پرځای پاملرني له امله مننه ترې وکړه . شهزاده پخپل هیوادکي هغه رازکورټ نه ولکه په لندن کي چي افغان شهزاده و. دلته دی یوښېل شخصیت و.

له یوې لنډي دمي وروسته مارش بیاپیل سواودکمپ تررسېدوپوري یې دوام وکړ ـ ماپښینی سپرلوډېرخوندوره وه ښکه ګرمی لږاولارپرکلکه مځکه باندي وه، دوړه بیخي نه لیدل کېدله.

دټولوهغوکلیواوسېډونکي چي زموږپه لارکي وو، ددېوالونومخي ته راغونډسوي وو چي شهزاده اوملګري یې وګوري. دکلي مشران ترنوروړمخکي ولاړوو او کله چي به شهزاده ورنږدې سودوی به خپلي بګړی په دواړولاسوکي ونیولې اوده ته به یې دښه سفردوعاوکړه . دزیاتروکلیوپه مخ کي به یې دلاري پردواړوخواواوږدې لکړي په مځکه کي ښخي کړي وې اودلکړوڅوکي به دلاري

په پساره په یوه تناوسره تړل سوي وې، دتناوپه مخ کي به یې په ټوکرانوکي پېچل سوی قرآن مجید خوړند کړی و. شهزاده اوملګري یې چي به ترقرآن مجید لاندي تېرېدل ـ هغه به یې په ښي لاسومسح کړاوبیابه یې هغه لاس خپلو سترګو، خولو اوخګرونو (ټټر ) ته وړ اویوه لنډه دوعابه یې کوله . تردې وروسته به شهزاده دکلي له مشرانوسره تم سو، خبري به یې ورسره وکړې اوترهغه وروسته به یې بیاخپله لاروهله . زمورسره دوې درې باجه خاني ملګري وې اوهرکمپ ته به یې دشهزاده په رسېدوسره لویه سلامي (Royal Salute) په داسي حال کي رغول،چي دی به یې مخ ته تېرېدی . کله چي به یې له کمپه حرکت کاوه، همدغه عمل به تکرارېدی. په هرکمپ کي به دغه رازیوه لویه ماښامنی(شامیانه ) برابرېدله اوهلته به نوده دربارکاوه اودشاوخواسیمي ټول مشران به په دې نیامت پکښې ناست وو چي یابه یې دشهزاده سلام کاوه اویابه یې هغوخلکوته دخوراکي موادو او وښوبرابرولوله بابته پیسې ترلاسه کولې،چي دشهزاده دورتګ له پاره به یې هرڅه مخکي له مخکي تهیه کول.

په زیاتروتم خایونوکي به هغه کسان راغونډسوي وو،چي خپلوان اودوستان یې انګلستان ته تللي او دوی یې دکتلوغوښتونکي وو. افغانان وارد واره په چمن کي په خپلودوستانوخبرسول. دوی له خپل دوست سره په لومړی کتنه کي هغه درې واره په غېږکي نیسي ، یووارښې خواته بیاکیڼ ته اودوهم واربیاښی ته ، اووروسته نودپوښتنواوخوابونواوږده لړۍ پیل کیږي. تررو غېږ وروسته چي څوک د دوی مینه ناکي پوښتني یا ژړاوي چي معمولادخپلوانودمرګ د خبر د اورېدلو یا ددوستانواوخپلوانودلیدلودخوښۍ له امله اوري، ډېره اغېزه پرکوي اوپرې متاثرکېږي.

دچمن داورګادیپه تم ځای کي مي دشهزاده یومامور (کوتوال ) په داسي حال کي په سترګه سوچي له اورګاډي څخه یې دمالونواوبارونودراکښته کولواوخلاصولوسرپرستي کوله. دی دانګلستان په سفرکي له شهزاده سره مل و. کوتوال پر صندوخانوناست واوخوراخواشیني ښکارېدی . ده په اردوژبه ښه سمي خبري کولای سوې اومایې دستونزي پوښتنه خني وکړه . له خولې یې اسوېلی ویوست اووې ویل همدااوس یې واورېدل،چي ورور یې په کابل کي بندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوی دئ . اوس دده دښمنان، پدرلعنتان دده دوررله زوال څخه ګټه اخلي او غواړي دامیرذهن دده په وړاندي مسموم کړي. ده ته داهم ویل سوي چي که کابل ته ستون سي امیربه یې غالبا ووژني . ده وویل چي دهرچورت یې وهلی اودي نتیجې ته رسېدلی دئ چي ښه به دا وي ، بیرته کراچي ته ولاړسي او هورې له څینودوستانوسره ترهغوپاته سي ترڅووکولای سي بیرته خوندي هیواد ته ستون سي. ده له ماڅخه وغوښتل چي په بل اورګاډي کي ور سره په بیرته تګ کي مرسته وکړم .

زماله خوابه دکابل دیوه لوی ماموربه تېښته کي مرسته کول امیرته یوه بده پیلامه وي خوداهم سخته ده چي له یوچاسره دي دمرګ په تېښته کي مرسته ونه سي. په داسي حال کي چي ویل مي زه به فکرپکښې ووهم اوداورګاډوبه باب به پوښتني وکړم ، له ده څخه رهي سوم .حیران دې ته وم چي څرنګه داستونزه په سمه توګه اواره کړم . دامي معلومه کړه چي ترماښام دمخه به بل اورګاډی نه وي . مورږ په دغه وخت کي افغان پولي ته نژدې خپل کمپ ته نژدې سوي وو، څرنګه چي په دې برخه کي دسملاسي ګام اخیستلواړتیانه وه، ځکه مي نو سمدلاسه څه ونکړل خو کار مي په پام کي ونیو .

دغرمې دډوډی پروخت هغه انګریزي ژبی راته راغلی چي دسورسات اوبه چمن کي دشهزاده دهرکلمي په ارتباط دنوروچارومسئول ؤ،راته وې ویل چي کوتوال دخپلي تېښتي په باب ده ته هم مراجعه کړې ده او زیاته یې کړه چي دی بایدڅه وکړي؟ ماته څرګنده وه چي زمورږله وسه سمدلاسه څه پوره نه وه. ځکه مي نوپرده ټینګاروکړچي هیڅوك بایدپوه نه سي چي موږددغه سړي په تېښته کي شریك یو او ده ته مي هغه بدتاثروښودچي پرامیرباندي به وسي . حکومت به بې له شکه معلومات وکړي اوموږبه ملامت سو. دی ولاړخوبیرته له کوتوال سره راغی، له هغه سره یې په فارسي ژبه، چي زه یولږڅه په پوهېدم ، اوږدې خبري وکړې . زمایقین دئ چي دی یې هڅاوه په هماغه ورځ افغان کمپ ته ورسره ولاړسي اوبه شپه کي یاپه دابله ورځ بیرته راوګرزي اوخپل نفربه وربرېږدي چي په کراچي کي ورسره وګوري . په هرصورت ، کله چي زه په هغه مازیګر د افغان کمپ پرلور وخوځېدم، کوتوال راسره و او مـــورږکمپ ته یوځای

ورسېدواوپه دابله ورخ چي مود کندهارپرلورتګ ته خانونه سمبالول. کوتوال دشهزاده دملازمینوپه ډله کي و.

وروسته له هغه، که څه هم شهزاده ته له کندهاره حکم وسوچي کوتوال به کابل ته لاس تړلی ورولي، خوده له امیرسره سوله وکړه اودڅه وخت له پاره یې له خپلي څوکی څخه ښه پوره خوندواخیست، خلك به یې په وحشیانه تو‌ګه شکنجه کول اوو‌ژل اودبډواوشوکماری له لاري یې خپله پانګه زیاتوله،اته کاله وروسته چي مړکېدلی . څولکه روپۍ یې درلودې.دمرګ په ورخ یې ماواورېدل چي خني عسکرله دې امله اندېښمن وو،چي دده روح به په هماغه شپه په دوزخ کي مکوټ سوی وي . ماته دزړګونودغه رازاندېښنواوتسلیت ناموچورت را ولوېد او په دې هم پوه وم چي ماله ده سره څه وکړل؟ عسکروچي دده دبرخلیك په باب اټکل کاوه، هغه ناشوني نه ښکارېدی .

دافغانانوله عقایدوسره سم دانسان له روح سره دښخېدوپه هماغه لومړۍ ورخ حساب وکتاب کېږي له دې امله به نوعسکرودده دلومړۍ شپې حساب وکتاب په باب خپله خوښي څرګنده کړې وي.

دهروارتم کېدلوکمپ ډېرپرتمین ښکارېدی اودیوې ستري غونډي په شان ایسېدی . خکه دشهزاده اودهغه دملازمینواړخو ته عسکرو، د بارونو او غاړیو مسئولینو، چي هغه پخپله یوه لویه ډله وه او یوازي داوښانومسئولین یې پنځه سوه کسه کېدل، دغه رازخېمو، اسانواواوښانویوه پراخه سیمه نیولې وه. ترماښام وروسته هرځای اورونه بل وو اوخلکوخپل خواړه پخول هراورتاکلې اندازه سري لرل چي عموما دلوښوپه برابرولواودپخلي په تنظیمولوبوخت وو. خیني نوروبه شاوخواځنګونه اچولي یابه ولاړ وو او دهغي شیبې په انتظاربه وو، چي کله به هرڅه تیارسي اودوی به نورخملي.

په کمپ کي ډېرشخول نه و او په زوره چیغي خوکورت نه وې، خکه افغاني ډله دنړۍ ترټولومنظمه اوخاموشه ډله ده ، خودافسرانوداوامروږغونه دغه رازله نابلده اسونوسره دنوراسونودجنګ شیشني (هره شپه به ورك آس لیدل کېدی ) ، د اوښانو بړهار، په پښتو ژبه دګزمه عسکرو د خبرداري اوازونـــه او د وخت د

شهزاده له کندهاره کابل ته دتللو په حال کي ( دمولف رسامي )

اعلامولو له امله د نغارو ږغونه اوربدل کېدل. زماپه ياددي يوه شپه، اصلا يو سهار په خړه دنغاروساتونکي خوب وړی و اوناڅاپه راويښ سو. ژرژربې پرله پسې شپاړس واره نغاره ووبوله ، په داسي حال کي چي هغه صرف دشپې يوه نيمه بجه وه! زه نه سم ويلای چي دابه دشوګيرۍ نتيجه وه اوکه به هغه سړي فکرکاوه چي يوڅه زيات فعاليت به دده زياته بيداري وښيي.

موږکندهارته په څلورو ورځو ورسېدو، يوازي يوه ورځ موښه اوږد مزل وکړ. نوري ورځي موددوی په اصطلاح "شاهي مارش" کاوه چي د "کاروان له مارش" سره بيخي ډېرتوپيرلري، شاهي مارشونه دخلکواونوروشيانودشمېرپه لحاظ لنډ مزلونه وي.له يوه کمپ څخه تربل پوري واټن معمولا ديوځوساعتوسفردئ . اسان په سفرکي په يوه متحده الشکله سرعت سره ځي، چي دچټک تګ اوډوبلي (Jog trot) ترمنځ وي .دوی همداسي روزل سوي دي. په ځيني حالاتوکي کولای سي په يوه ورځ کي پنځوس شپېته ميله لارووهي - که څه هم رواجي تګ داسي نه وي اوبې له ضرورته يې په دومره چټکي نه څغلوي . که دلاري غرونه، دمنظم سړک نښته والی اوداسانواندازه (په منځنی توګه ديارلس ترڅورلسوپوري ) په پام کي ونيول سي . نودايوه مناسب واټن دئ چي موږ وواهه.

په افغانستان کي دوی دواټن (فاصلې ) يوواحدلري چي(کروه ) يې بولي او ويل کيږي چي يونيم انګريزي ميل سره برابردئ .خوځرنګه چي د «ګز» يعني (Yard) ټاکلي شمېرنسته څکه نوله فردي سليقې سره سم بېلابېل اوږدوالي ورته ټاکل کيږي. ماته يووخت دشهزاده پرلاس دامېرفرمان راغی چي په هغه کي يې په ګزه اوکروه سره دسړکونودفاصلې ښوولوله پاره ديوې ګرځنده وسيلې دجوړولوغوښتنه کړې وه اوماشهزاده ته وليکل چي په کروه کي دګزونودشمېرپه باب معلومات راکړي چي زه بيا دهغه له مخي لازم څرخ ترتيب کړم. ده ځواب راکړ،چي معلومات يې وکړل اوبېلابېلوخلکودومره متفاوت شمېرورکړی دئ، چي دی مجبور سوامیرته ديوې معياري اندازې دټاکلوپه باب ليک ولېږي خوپه دې ترڅ کي اميرناروغ سواوموضوع همداسي معلقه پاته سوه اوهماغه ناڅرګندولي تراوسه لاسته . اوسني اميرفاصلې په يارډ اوميل سره اندازه کوي.

یووخت له کابله پېښورته تلم له اوو، اتوساعتوسپارلی وروسته مي له خپل ملګري(سوار ) څخه دهغه کلي دفاصلې پوښتنه وکړه چي زموږخيال و، پکښي واړوو. څوک چي پرآس څوساعته مزل وکړي معمولاً يې تلوسه وي چي پوه سي څومره به لاوړاندي خي ـ ده راته وويل یویادوه کروه وړاندي دئ خومورله دري ساعته مزله وروسته کمپ ته ورسېدو. له دې وروسته به مي نودواتن پوښتنه دساعتوپه حساب کوله اوهغه ډېره مایوسوونکې نه وه.

کندهارته چي لاڅومیله پاته وه، دشهزاده مخي ته دسیمي عمومي آمراومهم افسران چي یوڅه لیري لاله اسونوراکښته سوي وو، سرتورسرونه راغلل. کله چي ورته راورسېدل، ښني يې ورمچ کړې اووروسته يې دده لاس پخپلولاسوکي ونیو، پرسترګويې کښېښنواومچ يې هم کړ. داخپل مشرته دهرکلي ویلو او وفاداری څرګندولوافغاني دوددئ. ښارته نژدي دقشلې عسکرله توپخانې سره یوځای لیکه ولاړوو. اووروسته يې په داسي حال کي چي شهزاده تېرېدی، دډزوشاهي سلامي وکړه. وربسې شهزاده عسکرمعاينه کړل اویوڅوخبري يې هم وکړې چي دټولوافسرانواوماموریڼوله خواورسره تکرارسوې، شهزاده چي مسجدته دلمانځه له پاره روان سو، زه ښارته ولاړم چي دخان له پاره ټاکل سوې مېنه(کور ) پيداکړم.

دکندهاردلاري سړك داسي نه دئ لکه څوك چي له هندوستانه کابل ته خي. له پېښور څخه دخیبردلاري سړك یوسیده خط السیردئ چي په پوځي مارش باندي له لږڅوري سره نژدي اته ورځي نیسي، په داسي حال کي چي دکندهاروغزني لاردرې څلوراووني وخت غواړي. نه دارابه لرونکوګاډوله پاره سړك سته او نه اورګاډی. څوك بايدداًس په سپارلي سفروکړي يادتخت روان په شان یول ډول چوکۍ (کجاوه ) کي، چي ددوواسانوپه شاپوري تړل سوې وي. افغاني واکمنان له اورګاډي سره سخت تعصب لري. که یوڅوك دغه رازیوه پلان یا نقشې ته اشاره وکړي، سمدلاسه پرې بدګومانه کیږي. په داسي حال کي چي داورګاډي یوه خانګړې نقشه به هیواد شتمن اونېکمرغه کړي اواوسنی بېوزلي او بدمرغي به پای ته ورسوي.

شهزاده چي له کابله انګلستان ته تلی، امیرمرحوم د پېښورله لاري ولېږی

اودراستنبدلوانتظام يې دکندهارله لاري تړل سوی و دا ددې له پاره چي دی بایدخومره چي ممکنه وي، خپل هیواد ووېني . هغه وخت چي دی له روسیې څخه راغی ، نهه کلن هلك و او ترکابل دباندي څومیله زیات نه و وتلی ، څکه امیردخپلي کورني غړوته اجازه نه ورکوله چي بې له ضرورته دي سفروکړي.
امیردغه رازغوښتل چي شهزاده له سفرڅخه دراستنېدلوپروخت په کندهارکي تم سي اودهغوموضوعگانوپه باب معلومات راغونډکړي چي دحکومت داندېښنې وړوو. داځکه چي له ډېروکلونوراهیسي خلکودوالیانوله ظلمه اودعدالت له نشته والي څخه شکایت کاوه.
ماته په کندهارکي ویل سوي وچي امیرپه پخوانیو والیانوباندي دوظیفې دتسلیمولوپه وخت کي لیکلی سند لاسلیك کړئ وچي که دوی بډي واخلي یاپرېډای یابې وزلي باندي ظلم وکړي، په داربه سي اوداډېره مهمه خبره وه چي درې څلورورستني والیان ټول په دارسوي وو. هغه شخص چي دشهزاده دورتگ په وخت کي والي و، ناڅاپه ناروغه اوڅوورځي وروسته مړسو. هیچا دانه غوښتل چي له ناوړه پېښو څخه دتېښتي له امله دي ځان بربادکړي .
کندهاردښنوکروندوپه منځ کي پروت دئ اوکه یې داوبولگولواوکرني کارپراخ سي ، چي بایدوسي، نورهم شین کېدلای سي. خوکله چي زه هورې وم دکرني علایم لېرښکارېدل که څه هم په رودوکي پرېمانه اوبه بهېدلې. په افغانستان کي دبارانودلږوالي په پام کي نیولوسره دمځکودخړوبولوله پاره داوبولگولوانتظام ضروري دئ . په ځینوحالاتوکي دهغومځکوله پاره چي غواړي خړوبه یې کړي . څاهان دنړیوکانالو (چود ) له لاري سره وصل سوي وي . له وروستي ځای څخه اوبه دمځکي سطحي ته په ایراني څرخونوباندي راخېژي. دایوستونزمن جریان دئ ، څکه نري کانالونوته نه شیشکان وهل سوي اونه په بل رازسره محافظه سوي وي اواوبه زیاتره وخت دمځکي د ښوییدلو یا گروېدلو له امله بندیږي اوترڅوچي کانالونه ترمیمیږي، حاصلات بیاتباه سوي وي.
زماڅخه وغوښتل سوه داوبولگولوبوه داسي طرحه جوړه کړم چي دهغې په واسطه شاوخواټوله مځکه دکرني وړ سي اوخپله نظریه ورته وړاندي کړم . سره

له دې چي داکارکېدونکي وخودخزانې زياتي پيسې پرې لګېدلې، خکه نو موضوع پسې پاته سوه .

ښار (مراديې کندهاردئ . ژباړونکی) دېرستړنه دئ اوډوجګ دېوال پرراتـاوسـوی چـي دزيـاتـرونـورودانـيـوپـه ګـډون لـه خـټـواوډبـرويـالـه خټواوامو خښتوڅخه(sundried brick) څخه جوړسوی دئ . ټول ښارپه ښخي وران حالت کي دئ اود وروستيوشلوکالو په جګړوکي خوقسماڅوواره نړېدلی اوبيـاودان سوی نه دئ چي سړي ته ددغه ځای داوسېدونکودډېري بې وزلی فکرورپيداکوي . سره له دې چي ځيني ښه کوروونه اومسجدونه په پخو خښتو او اهاکوجوړسوي دي، خوپه مجموع کي دوراني اثرات پکښې څرګنددي اوسړی فکرکوي چي خلك دخپل ښارپه ودانولوکي زړه ماتي اوبې وسه دي . ځيني کوڅې اوبـازارونـه تـرشـاوخـوامـخـکـي لـړلـوړپـراتـه دي اودمـسـو، حـلـبـو، څرمنواونوروشيانودکاروباردغه نړېدلي دوکانونه ځوك سم ليدلای نه سي .

يوشی ته چي په بازارکي زماځانګړې پاملرنه واوښتله ،هغه کوچني خره وو ، ترماستيف Mastiff سپيولړڅه غټ. دوی د بارونو چلولوته استخدام سوي وو اوډېرمي د وښولـه دومره لويوبارونوسره وليدل چي يوازي به يې دپښوسوې (hoofs) اودسريوه برخه ښکارېدله، نوربه پټ وو. چي دا له ځارويوسره دخشونت د مخنيوي د ټولني دمداخلې له پاره تيارکېسونه دي .

ماپه يوه کوچني کورکي ژوندکاوه چي دصليب په شکل جوړسوی و. يوازي يوه خونه يې درلوده چي څلورو خواوو ته سره غزېدلې وه . زمايقين دئ، چي له روسانوڅخه به کاپي سوی و. داکوردهغه باغچې پرڅنګ پروت ولچي شهزاده پکښې اوسېدی اوځنګه چي هوامخ پرسړېدووه نوترڅېمې راته غوره ايسېدئ ، که څه هم له معمارڅخه هېرسوي وه؛چي داورځای هم ورسره جوړکړي. دکورله بام څخه مادښارزياتره برخي ليدلای سوې اودغه رازمي دهغه مسجدمنارې هم کتلای سوې چي پناه ځای(بست ) دئ .کله چي چاهرڅومره جنايت کړی وي او يو وار ورننوزي ، بيانومحفوظ دئ . داځای دځينو زړو انګرېزي کليساووله پناه ځايونوسره ورته دئ.

اميرمرحوم ماتـه يوروخت دکندهارديوه ملاکيسه وکړه چي پرده يې د «کافر»

حکم کړی و، اوخلك یې دده پرضدپاڅون ته پارول . که څه هم دادمذهب پر خلاف کاردئ، چي خلك د پاچاپرضد، چي په حقیقت کي ددوی روحاني مشرهم دئ، وپارول سي . خودوی باید «کافر» له منځه وړی وای .کله چي نوموړی بغاوت خاموش کړه سو، امیرته وویل سوه چي دغه سړي(بست ) ته پناه وړې ده. امیرخلکوته مخ واړاوه او ورته وېویل چي (بست) یوازي دمسلمانانوله پاره دئ ، نه ددغسي کافرانوله پاره چي خلك دخپل پاچاپرضدپاروي . وروسته یې خپله توره واخیستله ، مسجدته ورغی اوسړئ یې ځای پرځای ووواژه .( ۲ ) داسي لړ پېښه سوې وه چي عبدالرحمن دي ترغېچ اخیستلوتېرسوی وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دلومړي څپرکي لمنليکونه

( ۱ ) سردارنصرالله خان ( ۱۸۷۵ ـ ۱۹۲۰ ع ) دامير عبدالرحمان دوهم زوی و، چې د ۱۸۷۵ ع کال داپريل پر اوومه په سمرقند کې زيږېدلی و . مور يې دبدخشان دميرجهانداد شاه لورکېده . د پلار په ژند کې يو وخت د کابل د لښکرو عمومي قوماندان اوپه کابل کې د دولتي شورا مشر و. دنايب السلطنه دولتي لقب يې درلود . په ۱۸۹۵ ع کال يې انګلستان ته سفر وکړ. په نظر اوعمل کې دانګرېزانو ضد او ډېر زيات مذهبي سړی و . د آزادوقبايلوپه مشرانوکې يې ډېر نفوذ درلود . سردارنصرالله خان د۱۹۱۹ ع کال په فبروري کې د سراج الملت والدين اميرحبيب الله خان تر وژل کېدو وروسته په جلال آباد کې پاچهي اعلان کړه خو څو ورځې وروسته د امان الله خان په ګټه تر پاچهۍ تېر سو او امان الله خان ته يې بيعت ورکړ . امان الله خان کابل ته راوغوښت او په ارګ کې يې بندي کړ . يو کال وروسته په بنديخانه کې مړ اوپه قول ابچکان کې ښخ سو . د سردارنصرالله خان پنځه زامن پاته سول : نوراحمد خان ، عزيزالله خان ، عبدالروف خان ، عبدالغفارخان او عطاوالله ناصرضياء .

( ۲ ) داشخص شهيد مولوي عبدالرحيم اخونزاده کاکړ و، چې دعلامه حبيب الله کندهاري زوی او دميوند د زمري سردار محمدايوب خان له ملګرو پلويانو څخه و. ( دزيات تفصيل لپاره وګورئ : درنه کورنی ـ دمحمدمعصوم هوتك ليکنه ـ ناچاپ )

# دوهم څپرکی

**په رودوکي دکب نیولوطریقه ـ دکلات اومقرله لاري دغزني سړك اوله کندهاره یې فاصله ـ دسفریخني اوواوره ـ غزنی ـ دامیرعبدالرحمن تروخت دمخه په لاروکي غلاوي اووژني ـ دسړك دغاړي کلي اوکرنه ـ کابل ته رسېدل اودامیرله خواسردارنصرالله ته هرکلی**

---

شهزاده دکندهارپه ښارکي تریوڅوورخوتېرېدووروسته درودپرغاړه څومیله لوړیوباغ ته ولاړچي څوورځي په کب نیولوتېري کړي. زموږدورتګ په ورځ مازیګرشهزاده خپلوملازمینوته ویل چي سباته به ټول په افغاني جاموکي راوزي اوکه چاانګرېزي جامې اغوستې وې رودته به وغورځول سي. د رود اوبه پی وې اوورغورځول ګویایوه کوچنی غوټه وه . له خلکوڅخه یوه تن پېشنهاد وکړ، چي زه ( فرانك . ژباړونکی ) هم بایدپه دغه لوبه کي شامل واوسم خو فیصله وسوه چي زه دي دخپل هیوادجامې واغوندم .یودووتنودشهزاده د خوشالی اوسرګرمی له پاره په دابلمه ورځ انګرېزی جامې اغوستي وې اوپه رودکي غوټې ورکول سوې چي ټولوډېرپروخندل.

دغرمې په شاوخواکي هوامخ پر ښه کېدوسوه اوشهزاده اونوري عملې یې مخ پرلوړه درودپرغاړه په داسي حال کي تګ پیل کړچي اسان درود دناڵوپاکله هم پخپله د رود داوبو دپی وهلوله پاره مخکي روان وو. دوه کب نیوونکي د رود په منځ کي رهي وو اوخپل ګردي تورونه یې رود ته اچول . نورجمعیت درود پرڅنډوښه وروسته په پسې و، داځکه چي کبان ترتوراچولودمخه ونه توربږي. درودپه تل کي رېګ وډبري اوښوي کاڼي ښکارېدل اواوبه ترڅلوروفوټوزیاتي نه وې . داوخت داوبودلږوالي موسم وځکه نوډېري صافي وې . ښه په پېخرکبان ونیول سول چي ( trout)(۱) ته ډېرورته وو ، ځینویې څلورپنځه پونډه وزن درلود خودخوند مزه یې نه وه.

دکب نیوونکوتورونه دهندوستانیانوتورونوته ورته وو قطریې له لسوڅخه ترڅورلسوفوټوپوري و اوپرګرداورد یې په لنډو فاصلوکي دسرپوګولی ځوړندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوي اوپه دروندسوی وي. دګوليوترمنځ کښوري وي اوکبان چي ترتورلاندي . ګرزي اوغواړي وتښتي ، سريټول بدن يې، که دېرغټ نه وي، په کښورکي بنديږي اوبياخني وتلای نه سي، دتورپه منځکي يوه اورده رسی تړل سوې وي .

ددغه توردا چولوترتيب داسي دئ : درسی پای په راسته څېړپوري غوټه سوی اونوره رسی سره حلقه سوې اوپه ښي لاس کي نيول سوې وي . تورپه رسی پوري تړلی وي .دتورنيمه تا (نيمايي برخه ) پرکيڼ لاس اونيمه يې پرښی لاس غوړېدلې وي ، لاسونه داسي نيول سوي وي چي دتورتاوي سره جړنه سي . په لاسوباندي تاوي سره نزدې اوتريوه يادوومقدماتي څرخولوروسته يې وړاندي ارتاوکړي. تورداوبودمخ پريوه لويه ساحه وغوړيږي .پراوبوباندي له ښتلوسره سم ددرنوزنونودوره يودم په اوبوننوزي اوپه دغه برخه کي ټول کبان پکښې بندسي. پرمځکه باندي دنيول سووکبانوداچولوترتيب داسي دی : فرض يې کړئ يوګردی ټوکرچي پرګرداوردېې په لنډوفاصلوکي وزنونه خوړندوي، پرمېزباندي غوړېدلی وي. که دټوکرمنځ ورو ورو پورته کړه سي ،ګرداورد ټوکرپه دمېزمرکزته راکش سي اووړيسې به پرمېزټول کوټه سي . دتورپه موردکي هم دشاوخواوزنونه يوپربل فشارراولي اودکبانودلوېدلو مخه نيسي خوله اوبوڅخه څنډی ته په اساني سره راپورته کېدلای سي.

دتوراستعمالول اسانه کارنه دئ اوښه دېرتمرين غواړي . پرلاسوباندي دتاووسره راغونډول اوبياغورځول دېرستونزمن کاردئ اوپه لومړي سرکي سړي ته داسي ايسي چي بايدلږترلږه دري لاسونه ورته په کاروي. افغاني ماهيګيران دتورپه اچولوکي دېرمهارت لري . دوی کولای سي دروديادابوجريان له اړتياووسره سم تورپه دايروي شکل يادمستطيل په ډول ياهم په دري کونجه توګه واچوي . دکب نيولوپه وخت کي ضرورده چي تورله ګارواونورموانعوڅخه بچ سي اودايوظريف کاردئ ، چي څوکلنه تجربه غواړي.

دلويوکبانودنيولوپه تورپوري ترکوچنيوهغې درانه وزنونه خړيږي خوپه يوه سپک توړباندي دوه ساعته کب نيول به هغه چاته چي ورسره عادت نه وي ، ښه پوره اندازه ورزش ښکاره سي . هغه چاته به دغه رازتوروونه ښايي ګټورروي. چي ماهيګيری دسپورټ په خاطرنه، بلکي صرف دکب نيولوله پاره کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهزاده په باغ کې تردوو ورځوتېرولو وروسته ښارته راستون سوخوهغه کوربې خوښ نه و، چې پخواپکښې اوسېدی. په دابله ورځ منزلباغ ته ولاړ، هغې مانۍ ته، چې امیردښارترکلادباندې یوکال یاڅه مخکې ودانه کړې وه . ماته یوه خېمه راکړه سوه چې دباغچې ترڅنګ ولاړه وه څکه دمانۍ خونې غټې اومحدودې وې اوبوازې یې دشهزاده دپذیرایۍاوشخصي خدمتګارانوله پاره کفایت کاوه .

په دغه ځای کې زه ناروغ سوم، تبه اوپېچش راته پېښ سو.انګرېزي دارو درمل راسره نه و. ښایې بدخواړه مې خوړلي وه . شهزاده چې زماپه ناروغۍ خبرسو، خپل شخصي حکیم یاډاکتریې زماکتوته راولېږه . دغه سړي خپل کوښښ وکړ او ډېره پاملرنه یې راته وکړه . په هغه وخت کې زه لکه څنګه چې بایدوای ، ممنون نه وم څکه دورځې یې درې واره دیوې ترخې دوا دوه تر څوکو پوري ډک ګیلاسه راباندې څښل اودی به دڅښلوترپایه راته ناست و. دعلاج پرڅنګ یې دناروغۍ ترتېرېدوپورې ورۍ هم ساتلم . زماروغېدوته ډېرتلوارو. دناروغۍ ترپایه پوري به مې هرکله دی هڅاوه ، چې پخپل لاس د دوا د راوړلوله امله ځان په تکلیف نه کړي . وروسته مې ترخپل کټ لاندې په وچه مځکه کې یومناسب سوری پیداکړ،چې مایع درمل یې ترماښه جذبول. زماپه فکرپه افغاني طریقه باندې درمل خوړل څه ناڅه عادت غواړي . کله چې زه د نقاهت په دوره کې وم، حکیم به ماته هررازخواړه ښه په پرېمانه اندازه انتخابول. ډېرهېزترماتېدووروسته زه له نوروڵاروڅخه دناروغه کېدوترخطرلاندې سوم . زه بایدپه رشتیاسره دده ډېرممنون وای څکه دی ډېروظیفه پېژندونکی ، باوجدانه اوآزادخیاله سړی هم و او زماپه ناروغۍ کې یې ډېره زیاته خواري وکښه.

کله چې زه بیاروغ سوم پرشاوخواسیمه باندې پرآس باندې خوراډېروګرځېدم اودزرکواوکرکانو (مېزانو ) ښه ښکارمې وکړ. ماواورېدل چې لږڅه لیري هوسۍ هم موندل کېدای سي خوڅرنګه چې هغه ښکاردیوې یادووشپوله پاره دکمپ لګولوخواري غوښتله ، نومې فکروکړ ، چې بخت ازمویل په دې خواریو نه ارزي. له بلې خوا مور. له لېساتونکو سره تر ښار بهرکمپ لګولوڅخه سخت منع

سوي وو.

يوه ورځ زه دسروزروپريوه متروك كان پښن سوم. دځلمكوله خولې مې اوربدلي وو، چې دغه كان پخپل وخت كې ډېره اندازه سره زرږدرلودل . دغره په ډډه كي يې يوغټه كنده چاودول سوې وه اود debris كوټې شاوخوا پرتې اوپه ځينوبرخوكې پخواني كندي په بشپړه توګه ډكي سوي وې. د غرنيو بلورو (Quartz) رګونه په چارچاپېركې ښكاربدل خوسره زرېې ظاهرا «جيبونو» ته تللي و او نورنوهيڅ نه و پاته . زه زيات هيله من وم چې په دغه ځاى كې مې پخپله دزياړايستلووخت موندلى واى.خومادخپلوسپاروساتوونكوپه واسطه د كوارتز ډبري ماتې كړې، چې وګورم څه شي به ومومم . سره زرزياتره ځلمك ځان ته وركشوي.

له هغې ورځې څخه چې زه ترسرحد وروابنتم اووه تنه سپاره ساتوونكي له خپل مشر ( دافع دار ) سره راته ګومارل سوي وو، چې هرځاى زمامراقبت وكړي اوكه چاپه مذهبي جذبه زمادمړينې تلاښ كړى واى ، سزايې ددوى خپل مرګ و. ساتونكي به زماسره ډېرنژدې روان وو. چاته يې دبريدموقع نه وركوله.

شهزاده په كندهاركې نژدې يوه مياشت تېره كړه اودژمي دپاته كېدلوفكرېه ډېرزړه تنګى كړ . څكه دنومبرمياشت پاى ته رسېدونكې وه . يومازيګرزه احوال پوښتنې يادده سلام ته ورغلم (دوى يې همداسي بولي ) او د دربارخونې ته دراتلوپه حال كې مې ورسره وكتل ډېرخوشاله ښكارېدى . ماته يې وويل "How do you do?" (دغه نودده ټوله انګريزي وه ، چې په پوهېدى ) ، دلاس روغبړېې، چې په ندرت سره يې له چاسره كاوه راسره وكړ بيايې نوراته وويل داميرفرمان ورته رسېدلى دئ اوبايدسمدلاسه كابل ته ولاړسي.

ماورته په هغه يخنې كې دسفركولوپه باب يادونه وكړه اوده په ټوكوسره اطمنان راكړچې دمارش په وخت كې تركندهارشل چنده زياته يخني وي.څرنګه چې زماپه خېمه كې اوبه هره شپه كنګل كېدې ـ نوبه مې خپل زړه په څه شي ښه كاوه ـ په هرصورت دبياروانېدلوخبره راته خوندوره وه.

په هغه ماښام شهزاده څوښندرغاړې راغوښتي وو. دوى يورازنل يا (bamboo)(۲) ، برغاوه ، چې فلوټ ته ډېر ورته و.كه څه هم پرغربي غوږباندي

افغاني سازښنه نه لګېږي ، خو بیا هم ماته د دغو خلکو سازښنه او په زړه پوري ښکاره سو. دسازدغه وسیلې چي دوی ږغولې ، خاص دکندهاروې.
ماته وویل سوه ،چي شهزاده د دغو خلکو له یوتن څخه وغوښتل چي کابل ته ورسره ملګری سي، خودسړي خوښه نه سوه اوتریلني تېرسو.
شهزاده په دابله اوونی له کندهاره وخوځېد . دسفرله پاره په تیاریوباندي دېروخت ونیول سو په داسي حال کي چي دغه رازتیاری ښایي ترهغه په نیمایي وخت کي بشپړي سوي وای، خو خلك په کارکي دتلوارعادت نه لري او دهغه پرځای بېاداغوره بولي چي ټول کارونه سبایاوربلسې ورځي ته وځنډوي .
دلوړی ورځي کمپ صرف دوولس میله له کندهاره بهرو. دلوړی ورځي مارش څخه تل لنډوي چي اسان اوباري ځاروي دراتلونکي سفرله پاره آماده کړي اوپه عمومي توګه دادمارش دترتیباتودازموېلویوه وسیله وي.
دکابل تګ لوری دکلات ، غزني اومقرپه استقامت پروت دئ . ترکلات پوري لارځلور ورځي نیسي او شمال ختیځ لوري ته غزېدلې ده چي زیاتره یې دهغه رودپرغاړه پرته ده چي دشاوخواغرونوڅخه دکندهارپرلوربهیږي(٣) .
لارورو ورو یوه اواردښت ته ورخېژي خودلاري دواړوخواووته لبرڅه لیري دغرولړی ستنه .ترهغوپه هاخوابیاترمقرپوري، چي نوري څلورورځي نیسي ، لاردځینوغرونودلړیوپه لمن کي تېره سوې ده چي دسفرله پاره ښه لارده اوسخت کوتلونه نلري.
له مقرڅخه ترغزني پوري لاردیوې لوړي جلګې دپاسه تېرېږي چي دواړوخواووته یې دغرونولړی چي دلاري له استقامت سره سمي غزېدلي دي ، ستنه اولاري ته یې دیوه سړك ښه ورکړې ده . دالارغزني ته تررسېدوپوري دڅلورورځومزل واوزمورسفرډېره سره برخه همداوه. څکه بادډېرسوړاودومره توندوچي زماپنډي جامې یې لاخیري کړې . دورځي له خوابنه لمرو. خوتودوخه یې نه درلوده . شاوخواغرونه په واوروپټ وو. غزني ته تررسېدویوه ورځ دمخه یې په اوربدلوپیل وکړ اوپه خېمه کي یې زمورخوب راناارامه کړ. واوره دشپې پیل سوه اوزه چي سهارراپاڅېدم ، په خېمه کي دننه بکسونه اوکټ مي په واوره پټ وو. څکه باد د خېمې پېڅول پورته کـــړی او واوره یې دننه راوړې وه . تر

لمرختو پوري مي جامې لکه يخې داسي وې . خکه کالي مي چې پرچوکۍ اچولي وو. تراواري لاندي سوي وو ترڅومي نورله بکسه راايستل هماغه دشپې نازکي جامې اوخپلې مي اغوستي وې.

غزني ته دهماغې ورځي مارش يوله سختومارشونوڅخه و. ترهغه دمخه ورځي لمريني اوهواوچه وه اودواوري لنډبل بادلازيات سوړکړ. موږکله کله مجبوروو له اسانوراکښته سو، لاسونه وپښې وغوړوو، پزي وغوړونه وموږواوپه دې ډول ديخ وهلومخه ونيسو. زياتروافغانانودBalaklava ( ۴ ) په شان خولۍ پرسرکړي وې چې يوازي به يې سترګي پکښې ښکارېدلې اومافکرکاوه ددغه رازسختي يخنۍ په مقابل کي ډېره ښه محافظه وه چې کاشکي ماهم درلوداى.

واوري ، مخکه ډېره ښوى کړي وه اوډېراسان پکښې غوزارسول. داوښانوحال تراسانولابترو.څکه ددوى پلني پښې چې پرلنده لارهري خواته ښوييږي ، په واوره کي له سفرسره ډېرلږتطابق کولاى سي . دوى درانه بارسوي هم و او هرګړي به چوخېدل . دخينوخوپښې لاهم ماتي سوې اوبايدحلال سوي واى. څرنګه چې داوښ غوښه دخوړلووړده ، خکه نومړنه يې دڅښتنانوله پاره جدي تاوان نه و.

شهزاده ترغزني دباندي دهغه ځاى له افسرانواومامورينوسره وکتل اوهغوى ورته کالي ، اسونه اوپيسې دسوغات په توګه ورکړې اوکله چې ښارته را ورسېدى، دتوپونوپه ډزوباندي شاهي سلامي پرځاى سوه اودآس دسپروڅوټولۍ دده دهرکلي له پاره ليکه ولاړي وې . ترهغه وروسته دى ښارته ننووت اودمخه تردې چې د ښارترکلادباندي خپل کمپ ته بيرته راستون سي ، ددوساعتوله پاره يې درباروکړ.

غزني په داسي يوه کوچني ناوه کي پروت دئ چې ټيټې غونډۍ پرراڅرخېدلي دي. دايوډېرکوچنى ځاى دئ اودافغانستان د نورو کليو او ښار ګوټو په شان يوه جګه کلا لري چې يو وخت دامپراتورانوکورو. ښې ودانۍ پکښې نسته اوکوڅې يې ډېري تنګي اوچټلي دي، دبازارېې هم مزه نسته . يوبالاحصارېې ديادوني وړدئ چې پرښاروخواسيمه باندي حاکميت لري خوهغه پخپله دنن ورځي په توپکوباندي له ورڅرمه غونډيوڅخه ترکنټرول لاندي راتلاى

(c) ketabton.com: The Digital Library

سردارمحمد عمرخان اوعمله يې

سي .

ترغزني لوړنورمارش کوونکي مجبورو، چي دخپل سفرډېرسخته برخه د ډيسمبرترنيمايي مخکي ووهي. په دغه وخت کي معمولا زوروري واوري پيل کيږي . غزني ته نارسيده اواردښت هغه چاته ښه معلوم دئ ، چي پرهغه لاريې سفرکړی وي. زياتره يې په واوروکي گيرسوي اوهوري له منخه تللي دي، په نتيجه کي مودهري ورخي مارش ښه ډېراوږدواويوه ورخ خومونږدي څلوېښت ميلوته ورساوه، چي ديوه شهزاده له پاره ښه ډېره فاصله ده . زه خوځوميا شتي مخکي له سپارلي سره بيخي عادت نه وم اوپه لومړيوورخوکي مي ورنونه په زين باندي سوليدل خوډېرژرکلك سول.

په يوه ډېراوږدمارش کي ، شهزاده زياتره لاړېراوښانوووهله اوپه هغه وخت کي به زه وړاندي روان وم اوپه دې ډول مي له دوړواونوروناراحيتوڅخه ځان ژغوره . څکه داوښ سپور، چي هرځومره کوښښ وکړي دآس په سپورېسې نه سي رسېدلای. وړاندي والي ماته ددې موقع راکوله چي څه لاړېه بېړه ووهم ، څه په ډوبله (منخنی سرعت ) اوڅه پلې. خودچتهکی تاوان بيادااوچي دکمپ وهلوځای ته به ژرورسېدم اومجبوربه وم چي دباري څارويو او خېمو و نوکرانو تررسېدلوپوري درې څلورساعته انتظارو باسم اوترهغه وروسته بيايوساعت ياڅه کم دخوړوتربرابرولوپوري وگورم. مامعمولا ډوډی د مازيگر د څلورو بجو او د ماخستن دنهوبجوترمنځ خوړله . خوبې له خېمې اوډوډی په هغه توندبادکي څو ساعته انتظارډېرسخت کارو. په تېره بياچي داوږده مزله ستړی به هم وم . د سپارلی په وخت کي به مي پښې معمولا ديخنی له لاسه داسي کرخت سوي وې چي حس به يې کورتې نه درلود اوپه کمپ کي خوبه دشپې يخني دومره زياته سوه چي اوبه به پرمځکه باندي تړپاشلوورسته سمدلاسه کنگل کېدې اوزمانوکر (خانه سامان ) چاره راښکاره کړه چي په اوبوکي ترغوټه کولووروسته ديخي ورغ پرنښتی و. دشپې به، چي بادتېزېدی اودتودوخي درجه به ورسره سمه ټيټېدله اوټيټېدله .هرځومره چي به خوك ژربه بسترننووت اوځان به يې تودکړ هغومره به بختورو.

يوه شپه مي دننه په خېمه کي غاروکينده اوارو مي پکښې بل کړ، خو په

دوودقیقوکي یې بیادیاندي راوتلی وم ، تږوخل مې ، له سترګومې اوښکي بهېدلې اومجبوروم ترهغه وختـه دباندي وساړوته ودرېږم چي باددښمې فضاله دوده پاکه کړي. له هغه وروسته مې یومنقل (داوسپني غاب چي پر څلورو پښو ولاړوي ) پیداکړاواورمې ترخپمې دباندي پکښېږ بل کړچي سرې سکروټې سو،بیامي نودننه کړاوخای یې خوراډېرراته مستریح کړ. دمخه تردي چي بیده سم منقل به مي ، چي له پوروندوپرته بل څه پکښېږ پاته نوه، ترکټ لاندي کښېښواوخای به مي په توداوه، نیالي مي نه درلوده اوبه ېرستن کي به ببدېدلم چي دهغه یخ بادپه وړاندي یې سرترنوکه نه سوای پټولای چي دخپمې ددېوالوله بېخه به راتلی اوترکټ لاندي به چلېدی .

موږېه لارکي ترڅوکلیوراتېرسولو، چي خیني به یې لوړدغره په نیمایي کي اوخیني به کبنته په دره کي پراته وو. پرټولوباندي دساتني له پاره جګي کلاوي راتاوسوي وې . باغونه اودکرني مځکي یې ترکلیودباندي وې اوکله چي به مورتېرېدلوخیني غټ افغاني سپي به چي St.Bernard ته ډېرورته وو، راپسې څغستل ، راته غپل به یې اوخوراغټ اوخروري ښکارېدل. دومره غټ، چي څوك له دوی څخه اصولاً درمودساتلوکاراخلي اوخیني وخت خو پر لېوانو لا بریدکوي اووژني یې.

دبیابان خلك زیاتره لاري وهونکي دي اوداميرعبدالرحمن ترزمانې دمخه یې ټول شاوخوا په لاس کي وو. مسافرېه که ډېرش یاترهغه زیات په ډله نه تلل، سخت به ډارېدل . ځکه غریبب خلك ، چي یوازي به یې سفرکاوه، داغوستو جامو په خاطروژل سوي وو.

له مسافروسره ترکلیودباندي دکلیوالودچلندپه باب ډېري کیسې کېدلې. یوه یې داوه ، چي یوغریبب سړی پرلارتېرېدی اویوه غوټه یې پراوړواخیستې وه، دیوتن لاري وهونکي په سترګه سوی و اوفکرېې کاوه چي په غوټه کي به کوم ارزښتناکه شی وي . ځکه یې پرسړي ټك وکړاو ویې واژه . خوکله چي غله د نومړوي سړي غوټه وشنډله ، وچ خوشایي یې پکښېږ ومونډله(خوشایي دغریبوخلکوله خوادسون دموادوپه توګه کارېدله )، مړی یې ځکه په لغته هیسته وواهه چي خپل کارتوس یې ارمان و! ماته یـوه بله کیسه هم وسوه اوهغه

دا، چي دژمي په موسم کي يوځاى ديارلس تنه مسافردغلوله خواودرول سول اوهرڅه چي يې درلودل ، ترې واخيستل سول. حتى دتن جامې يې هم ترې وايستلې اولوغ ليږيې خوشي کړل ، چي په يخنى کي مړه سول .

ددغه رازغلاوواوژنودشمېردلږوالوله پاره داميرچلندساده خواغېزمن و. که به يوځاى څوك لوټ ياووژل سو، دهماغه ځاى دلسوميلوپه شعاع به ټول کلي له شلو زروڅخه ترپنځوسوزرورو پيسوپوري جريمه کېدل. اوکه په خلکوددغه شمېرروپوپه ورکولوځنډوکړ، دوې يادرې ټولى عسکربه وروليږل سول اوترهغوبه پرناست وو، چي دجريمې روپۍ به يې ترلاسه کولې . يوافغان عسکرچي پريوچاواړوي، دنوموري دکورډېربنه شيان ځني غواړي . ښې بسترې، ښه کوټه ، ښه خواړه . که په کورکي دچرگ يا پسه غوښه نه وي، ښښتن يې بايد سمدلاسه ورته برابره کړي که څه هم دهغه دبرابرولوله پاره دکورهرڅه خرڅولوته مجبورسي،خرڅوي به يې .که داونه کړي نودتوپك كونداغ به پرنرى ملابانديي وخوري اوياتردې لاسخت وهل. کليوال چاته شکايت هم نه سي کولاى ځکه دادحکومت عسکردىٔ اوخپله وظيفه سرته رسوي . په دغه ډول دحکومت جرمانه څومره چي ممکنه وي ، هغومره ژرترلاسه کېږي ځکه دهري ورځي ځنډ دکلي هرکورته ددرانه تاوان په بيه تماميږي.

داميردسياست اغېزه داوه ، چي هرکليوال احتياط کاوه پخپله سيمه کي د مسافرمزاحم نه سي . ځکه ديوه سړي جنايت ټولوته غم جوړاوه . په هغه وخت کي چي زه پردغه لارتېرېدم ان يکېرسړي لاکولاى سواى ، چي له کندهاره ترکابله پوري بې له دې ، چي په ټوله لارکي دي يې څوك په ناحقه مزاحم سي، سفروکړي. په دې شرط چي بهرنى نه واى. ايرانى اوهندوستانى هم په دغه کتېگوري کي راځي . ځکه دوى داسي کوم څوك نه لري چي حکومت ته دي ددوى عرض اوشکايت ورسوي اوله همدې امله نودوى ته دښه ښکارپه توگه کتل کېدل.

له کلات څخه دغزني ترشاوخواپوري لاربنه هواره ده، وروسته ترغزني پوري مخ پرکښته اودغزني شاته بيادغزني کوتل تردروازې(٥) پوري مخ پرلوړه اوترهغه وروسته بياترکابله پوري بيامخ پرخوړ ځي.

دغزني اوکابل ترمنځ دښت په ډېره ټيټه سطحه کي ورروسته تقريبالوړ سوی و. هوا ډېره نرمه وه خوشاوخوا پرغرونوواوره پرته وه اودشپې له خوادتودوخي درجه ترصفرټيټه وه. موږ دلاري پرد غه برخه باندي پنځه ورځي مزل وکړ اودغه سيمه چي موږ پکښې تېرسولو، زياتره يې غونډۍ وې خووادې په ښه ډول کرل سوې وه اوشاوخوايې زيات شمېر کوچني کلي پراته وو.

له چمن څخه ترکندهاره اوبيا ترکابل پوري لارکېدلای سي چي دعراده لرونکي ټرافيك له پاره جوړه سي اوهاورګاډي دخط جوړولوله پاره هم ستونزي پيښي نه سي . داحقيقت چي اميرته دهند دحکومت له خوادوه سوغاتي توپونه پرهمدغه لارباندي دجرثقيلو (Traction Engines) په واسطه رسېدلي وو، په ښرګند ډول ښيي، چي ديوه ښه سړك جوړېدل به اسانه کاروي.

کله چي موږ دراني کلا ته ورسېدو، له کابل څخه صرف لس دوولس ميله ليري .البته که څوك دکارګه په شان ورالوزي ، يعني دهواله لاري ورسي . خوموږمجبوروچي پرکوتل باندي راتاوسواونژدې شل ميله نورووړاندي ولاړسو. دغه کلي ته نزدې موږ دهغه ډګرترڅنګ تېرسو، چي له انګرېزي لښکر سره جګړه پکښې سوې وه اوپرهغوکسانوباندي دډېروکوټنی جوړي سوي وې چي په جګړه کي وژل سوي و .کله چي زه ددغوډېروپريوه کوټني ناست وم يوزوړ سړی مي په سترګه سوچي کله مخ ته اوکله شاته ځي اوله ځانه سره غړومبېږي کله چي زه يوڅوګامه ولاړم ، ترشامي ديوعسکرچيغه واورېده، مخ مي وروااړاوه . که مي کتل دزاړه سړي په لاس کي دومره غټه ډېره ده چي په سختی سره يې ورلای سي اوپه ماپسې راروان دئ. زماسپاره ملګري په خنداورته وويل ، چي که دي دده دمرګ تلاښ وکړ، اميرصاحب به دي بندي کړي. خو زاړه سړي وويل، چي انګرېزانو دده زوی ورووژلی دئ اودی بايد په بدل کي يوانګرېزووژني . داخبره د خندا وړنه بلکه دزيات تاثروړوه چي يوزوړغريب سړی څوکاله مخکي دخپل زوی له لاسه ورکولوترله ايستلی دئ اودومره غټه ډېره يې ، چي دغورخولوتوان يې نه لري، رااخيستېده او خپل غچ اخلي. په هرصورت دا د خلکو د جذباتو ښکارندويي کوي.

کلاقاضي ته چي له کابله اته ميله ليري ده ، ورسېدو، هلته مود درو ورځو له

(c) webdoc.com: The Digital Library

پاره کمپ وواهه : که شهزاده بایدکابل ته په راتلونکې یکشنبې ننوزي.داورځ دنجومګرویه نظرچي په داسې حالاتوکې ورسره هرومرومشوره کېږي ، یوه نېکمرغه ورځ وه.

مورچې په کومه ورځ کمپ ته ورسېدو ، سردارحبیب الله خان(اوسنی امیر ) هم دخپل وروولیدوته راورسېد . یوه شپه یې ورسره تېره کړه اوپه داسبابیرته کابل ته ستون سو . سردارمحمدعمرهم دده لیدوته راغی اوځرنګه چې نوموړي دملکې سلطانې زوی اوپه هغه وخت کې تقریبالس کلن و ، شهزاده په هماغه شپه دده دخوښې له پاره داورلوبي (آتش بازي ) حکم وکړ . سردارهغه لقب دئ، چې دPrince معادل اوپوازې دامیرزامنوته ورکول کیږي . که څه هم خلک دشاهي کورنۍ نورغړي هم ددرناوی له امله په دغه نامه یادوي.

دیکشنبې په ورځ شهزاده اوعمله یې کابل ته رهي سول . ددغې ورځې له پاره یې ترټولوښه کالي اغوستي وو اوټول خکه خوشاله ووچې بالاخره کورته رسېدل . تقریبا په نیمایي لارکې یوه ستره مابنامنی ورته جوړه سوې وه اوهلته دشهزاده دوه کلن ماشوم زوی دسردارحبیب الله خان له زامنوسره یوځای دملاقات له پاره منتظروو. شهزاده دخپل زوی په لېدوبیخي ډېرمتاثرښکارېدی، چې ماته دحیرانتیاوړو. خکه ماتل فکرکاوه ،چې دی یوښې عاطفې سړی دئ . موږ یوساعت لاځه زیات پرمابنامنۍ باندي تېرکړ.چای اونوردخورک وچښنګ شیان راکول سړل اووروسته نوسپاره سولو.

دکابل ترښاردباندي ورکشاپ ته نژدي په یوه پراخ ځای کې ځوټولی عسکراودوه دري توپونه درول سوي وو اودعسکرویه منځ کي دکابل له نورولښکري قوماندانانوسره یوځای سردارحبیب الله اونورمامورین دشهزاده دهرکلي اوترسلامځانې پوري دهغه ملګرتیاپه خاطرمنتظروو. دشهزاده په رسېدوسره دتوپونه ډزوشاهي سلامي پرځای سوه اووروسته بیلابیل افسران راوړاندي سول اوشهزاده ته یې سلامي وکړه . دوی ټول په ګډه د ښار پر لور وخوځېدل . پرسړکونوباندي په زرګونوخلک دتماشې له پاره ولاړوو. عسکردديې له پاره ځای پرځای سوي ووچې دخلکودوړاندي تګ مخه ونیسي اوشهزاده داونورملګروته یې لارخلاصه کړي.



PROPERTY OF ACKU
11883

امیرخپل زوی ته دهرکلي اوله ډېرلیري سفرڅخه دروغ رمټ راستنېدوپه خاطرعمومي دربارجوړکړی و . شهزاده دسلامخانې دروازې ته له رسېدوسره سم له آس څخه راکښته اودسلامخانې پرلوررهي سو .امیرته هم خبرورکړه سو. شهزاده دربارته وخوت ، پرزنګنوکښېنوست په داسي حال کي چي دوعاوي اوسلامونه يې کول ، دپلارلاس يې په خپلودواړولاسوکي ونیو او پر دواړو سترګو يې په وارسره کښېښواومچ يې کړ. امیرشهزاده راپورته کړ اوپرچوکۍ باندي دکښېنستلوامريې ورته وکړ اوبیانوټوله ورځ خوشالي وې اوټول مامورین اوافسران دامیردسلام اودهغه دزوی دصحیح وسلامت رسېدلودشکرانې له پاره په وارسره دربارته راتلل.

## ددوهم څپرکي لمنليکونه

( ۱ ) یورازماهی دئ

( ۲ ) یوډول هندی نل دئ .

( ۳ ) دا رود دترنك په نامه یادېږي او سرچینه یې په مقر کې ده .

( ۴ ) سیمه ییز خلك دې خولی ته « باران کلاه » وایې .

(۵ ) ذغه خای (کوتل تخت ) نومیږي .

# دریم څپرکی

# کابل

مهمانخانه ـ دحمامو (ترکي غسل خانو) بیان ـ په کوخواوجادوکي له خلکوسره دلیدني کتني بیان ـ امیرعبدالرحمن ، دقصر و انتظارخاني (Audience Chamber ) اوماته دده دهرکلي بیان ـ دکابل حالت اودشاوخواسیمي بیان ـ کابل ښار ـ بازارونه ، کوڅي اوکثافت ـ داوبوتهیه اودبدرفت سیستمونه ـ روغتیایي ترتیبات ـ ایله سپي اوکارګان ـ د امبارو( ډېرانو ) ښار.

---

زه کابل ته له رسېدووروسته په دابل سهارپه باغ کي ګرزېدم ـ ددربارترجمان راغی ـ راته وېویل : امیرصاحب امرکړی، چي ماته به له غرمي وروسته دلیدني کتني وياړرابخښي.کابل ته دازمادوهم سفرواوامیرزه پېژندلم . نوموړی دااستعدادلري چي یوځوك یووارووینيبیایې نه هېرېږي .

امیرامرکړی و، چي زماسره بایدپه ډېره درناوي چلندوسي اوزماداستوګنې ځای یې نوی مېلمستون (مهمانخانه) چي امیر پخپله له څو روخوراهیسي پکښې اوسېدی ، ټاکلی و. دایوه پراخه څلورکونجه ودانۍ ده . لویې خوني لري اصلا دامیردوبي له ماڼیوڅخه یوه ګڼله کیږي اوترنوی ښاردباندي پرته ده . پرکورونوباندي یوپراخ باغ راتاوسوی اودهغه پرشاوخواچګ دېوال دئ . ددېوال په یوه برخه کي یوه سرپټه دروازه ده چي دواړوخواووته یې دستونکوخوني دي . ددېوال په دننه برخه کي دنوکرانوله پاره پیاده خاني (outhouses) جوړي سوي چي پای ته یې پخلنځي اودهغه څنګ ته حمام (تورکي غسلخانه) دئ . دکابل غټ کورونه بې له حمامه ګوپاښېږنه دي .ماتېره ورځ په همدغه حمام کي ښه خوندور غسل وکړ ،چي له کندهاره د راوتلو راهیسي مي دالومړی وارلمبېدل و.

په حمام کي دوې خوني وي او ترمنځ یې لارخلاصه وي . چتونه یې ګومبټي ، منځونه یې په غټوډبرو (تخته سنګو ) فرش سوي ، چتونه اودېوالونه یې په سمنټوپلسترسوي وي .خوني په هغوتاوخانوتوديږي ،چي دهمدې له پاره دباندي

جوړي سوي دي . تاوخانې داورتودوخه دخونولاندنۍ برخې اودېوالوته رسوي . دتاوخانې اودخونوترمنځ دېوال پربېړ (ډبل ) وي چې په منځ کې یې داوبودوه ځایونه جوړسوي وي، یودتودواوبوله پاره بل دسړو. دتودواوبوځای تاوخانې ته څرمه اودسړواوبودالږځه ځنې لیري وي.خونوته اوبه دشیردهن لرونکونلانوله لاري ورځي . دننه خونه یې توده وي اودغسل له پاره کارتړې اخیستل کیږي اودباندې خونه سړه اودکالیواغوستلوله پاره وي . په دغه رازحماموکي ډېره موده پاته کېدل ښه نه دي ځکه هوایې زیاته ناوړه وي . دفرش دغتوډبروترمنځ درزونه یې هم یومخیزیندنه وي اوخونوته داورګازترې راځي.ډېروخت پکي پاته کېدل دسرشدیددردونه پېښوي.بیاهم، داحمامونه په ساړه موسم کي چې دانګلستان ترژمي ځوچنده سوړوي ، ډېرښه اومستریح دي . ددې له پاره چې دغه حمامونه ښه تادوه سي ، دوې ورځي بایداورترلاندي بل وي اوکه منظمه استفاده ترې کېدله نواوریې بایدهره ورځ بل پاته وي . یووارچې حمام تودسي ، بیایې نوپه لږاورتودوخه لوړه ساتله کیږي.

له غرمې وروسته زه له ترجمانه سره یوځای دهغې کتني له پاره وخوځېدم چې دامیرله خوایې امرسوی و، خومانۍ ته تررسېدووړاندي په نیمه لارکي یوواستازی په مخه راغی، چې زماله پاره لیك ورځخه و. لیك دامیرله خواوپکښې لیکل سوي وو څرنګه چې دی ناوخته پاځېدلی دئ، ځکه نوپرهغه ټاکلي وخت له ماسره کتلای نه سي اوماته یې دیوساعت وروسته ورتګ سپارښتنه کړې وه . یوچاته دلیدني کتني دیوساعت ځنډېدوله بابته دلیك ورلېږل دفوق العاده درناوي نخښه ده . معمولا چې چاته دکتني له پاره پریوه ټاکلي وخت امرکېږي اوامیرپرهماغه وخت کتني ته تیاری ونه لري ، نوموړی شخص بایدکښېني او انتظار وباسي . مادایوساعت وقفه دښارپه شاوخوا کوڅو او سړکانوکي په چکرتېره کړه . په دغه ځای کي دامیراوشاهزاده ګانومانۍ اودلوړوماموريښواودرباریانوکوروڼه اوباغچې پرتې دي.دغه برخه چې دژاړه ښارپه شمال لوېدیځ کي پرته ده ، ده افغانانو نومیږي داپه دې خاطرچې دپښتنویوکوچنی کلی پردغه امتدادپروت دئ. ددغه ځای سړکان هم پراخ دي اوهم اوار، خو په هغه وخت کي فرش سوي نه وو او تـــــرباران یا واوري وروسته

داسانوپښې ځوانچه په ښتواوچکړکي ښخېدلې . يلې کسان خومجبوروويه احتياط تګ وکړي . اوس دکابل شاوخوا اساسي سړکونه په خښتوفرش سوي دي اولکه پخواچي وو، اوس داس سپارلي اوپلې تګ پکښې په ښتوکي ختل نه دي .

خلك چي په مخه راتلل خيرن پيرن ښکارېدل . ان د لوړو رتبوخلك، چي پراسانوپه سپاره وواوپنځه شپږنوکران به يې پريغل ورسره روان وو ، هم داسي به ايسېدل لکه تازه، چي يې مخ پرېولی اوخټ وغاړه يې په پرېولوکي ځنې هېرسوي وي. داسي تروتازه خلك بيخي نه ليدل کېدل چي په منظمه توګه دي غسل کوي .زه وروسته پوه سوم چي ان دلوړي طبقې خلك لاپه اوونۍ کي يووارلمبېږي اونورخوپه ځوميا شتوکي يووار. ښايي همدادليل به و،چي ددوی غاړه اوخټ ناپرېولي ښکارېدل .د خلکو جامې هم يوځه انګرېزي اويوځه افغاني وې. اويه اوونۍ کي يوواردپاك کميس اغوستلوعادت ددوی پر خيرنو ځېرو يو سرباری دئ. په داسي حال کي چي سرترنوکه خان کيسه کول(موبنل ) به دوی ښه وايسوي.

اميرپه بوستان سرای کي و(١) . دايوه کوچنۍ ماڼۍ وه چي تر باغچو دباندي جوړه سوې اوپرشاوخوايې دارګ مستحکمه ماڼۍ راتاوسوې وه . څنګ ته يې دملکې سلطانې ماڼۍ وه چي ګلستان سرای (٢) نومېدله . بوستان اوګلستان دواړه دباغ معنااورکوي اودپخواني "ورم ځای" او"وروستنۍ "ګلځای" ژباړه ده . کابل بايد پخپله په بل عبارت "بوستان" وای اوکه ځوك يوځل دهغه په بازاروکي تېرسي داخبره ورته ځرګندېدلای سي.

دماڼۍ دروازې ته زمااوزمادترجمان له رسېدوسره سم، د ساتونکو مشر (کپتان ) موږدننه درباره ته رهنمايي کړو . موږ هورې تم سولواواميرته دوظيفه لرونکي افسرپه لاس زموږ د رسېدلو خبر ورکړه سو.داميرتراجازې وروسته يې دده حضورته زمالاربښوونه وکړه .انتظارخانې ته په رسېدلوسره، مااميرپه هغه اوږده ځوکۍ کي ناست وليدچي ده دکټ کارهم ترې اخيست. ده ځرې انګرېزي جامې اغوستي وې اوپرسريې وربښمينه افغاني خولۍ(Fez)(٣) وه ، چي پرېوه څنډه يې دالماسوشاهي ستوري ټومبلی و. امير، چي له اوږدي مودې راهيسي

د نقرس په ناروغی اخته و، دناستي له پاره یې دخپل بستریوا ړخ غوره کړی و
څکه چي په هغه کي ترچوکی زیات مستریح و اودناارامی په وخت کي یې
کولای سوای بې له دې چي له چوکی څخه دراولاړېدوتکلیف ووینيٍ‌په کټ کي
څان وغزوي اودمه وکړي .

امیرپنځه څلوېښت کلن ښکارېدی.که څه هم شپېتوته نزدې واوداځکه چي
دسراوږیري وریښتان یې توریاته سوي وو اودی یې ترخپل عمرځوان ایساوه. په
جسمي لحاظ مزی، پلن لېرڅه جګ خوپونډی یې لنډي وې . سترګې تکې
توري وې اوترګنهوروخولاندي یې چاته په تېزاودقیق نظرکتل. که څه هم په بڼه
ژیربخون وخوتریوه متوسط پرتګالي یې پوست تورنه ښکارېدی.دامیرغاښونه
ټول مصنوعي وو اودخبروپه بهیرکي به یې راوایستل اودلاس په دسمال به یې
پاك کړل چي په دغه وخت کي به یې په خبروکي توپیرراغی اوتعقیب به یې
مشکل سو. ده یوځل خپل غاښونه ماته دکتلوله پاره راکړل اوڅرګنده یې کړه
چي دادده خپل سړی جوړکړي دي. هغه دافن له یوه انګرېزي غاښ جوړوونکي
څخه زده کړی و. ( ۴ )

پرامیرباند غلام بچه ګان راتاوسوي اودده هرامرته تیاروو. مخي ته یې
دخوني پرشاوخواباندي افسران اومامورین اوپه دروازه کي دشاهي ګارډ دوه تنه
برچه پك سپاهیان اودګارډکپتان دهغوی په مخ کي توره له تېکي راایستلې
ولاړو.

دانتظارخونه ښه لوېه اوپه ښوایرانیو غالیوفرش وه خوله یو څو باز و
لرونکوچوکیو،چي شین پوښ یې درلود. له څوکوچنیوګردي مېزوپرته، چي
دېوال ته ایښوول سوي وه نورفرنیچرپکښي نه وه .پردېوالوباندي روغني رسامی
سوي وې اوېوازي یې طبیعي منظرې درلودې، څکه دسړیوتصویرونوته په
هغوخونوکي، چي لمونځونه کیږي ، اجازه نسته اوپه دې حکم کي ټولي خوني
راځي .دمسلمانانوپه نظرلمونځ په هرځای کي چي برابرسوکېدلای سي اوپه
تصویرلرونکې خونه کي لمونځ کول، ددوی په نظردبت پرستی نخښه ده .

زه ددرباریه خونه کي لوړورتېرسوم اودامیرمخي ته ودرېدم سرمي ورته ټیټ
کړ. ده د سترېې مه سې له معمول سره سم پوښتنه وکړه ، چي ښه یې ؟ خپلي

دست کشي يې دلاس دروغجنې په نيامت وايستلې ( په ښي لاس کي دنقرس ناروغي، دي په ساړه موسم کي دست کشو اغوستلو ته مجبور کړی و ) او وېويل چي په انګرېزانو کي دستکشي په لاس روغېړ باب نه دی . وروسته يې په فارسي ژبه تراوږدي ستړي مه سي وروسته راته وويل،چي کښېښنه طوبيا يې نوخوساعته خبري راسره وکړې . په روسيه کي يې دخپل ژوندا و مسلك لنډي کيسې وکړې اوپه مجموع کي يې په لوړه درباري سويه زما درناوی وکړ . دا درناوی هغه چاته کېږي چي دی ترې خوښ وي .

تر کښېښنستلو وروسته يې ماته يو کوچنی مېز کښېښود چي چای مېوه اوسګرېټ پر پراته وو . ماته يې په روسي پياله کي چای راکړې او هغه يو ګيلاس وچي دسروزرو لاستی يې درلود او دسروزرو په غاب کي پروت و . دا فېښن امير له روسانو څخه اخيستی و .

په دغه رازناستو کي داضرورنه وه چي څوك پخپله ورغبړي تولي خبري امير کولې او څه چي يې غوښتل هغه دده خبرو ته غوږ نيول اولنډ ځواب ورکول و . البته که به يوې موضوع اوږده څرګندونه غوښتله نو به بياده په ډېر دقت سره غوږ نيولی و . دخنداوږ خبرو په وخت کي به يې دزړه له کومي خندل اوکله خولا په کټ کي ورسره رغړېدی . دجديت اوخندا په دواړو حالاتو کي امير تل ديوپاچا په شان واوهمدغه علت وچي دده په وړاندي هرچادده د ټوکو ويلو په وخت کي له خنداڅخه ځان ژغوره . کله چي به په خښم سو ، مغ به يې سره کش سو ، غابښونه به يې ښکاره سول . تردي اندازې چي لېوه وزمه به ښکارېدئ . په دغه وخت کي به نوده دخبروپرځای دکلماتو يوراز پوښهار کاوه اوداسي څوك لږپيداکېدی ، چي دده په دغه حالت کي دي ونه لړزيږي . په دغه وخت کي يوه کوچنی خطاډېري سختي سزاسبب کېدله . په دغسي حالاتو کي به اميرته دهغو کسانو پخواني جرمونه هم وړيه يادېدل چي ده به دجزاوړ کولو وړ کڼلي وو . ده به له وظيفي څخه ديوې کوچنی سرغړوني په خاطرډېره درنه سزاورکوله . تاسي نوپه دغه رازحالاتو کي دحاضروکسانو داحساس تصور کولای سئ . څکه هيڅوك نه پوهېدل ، چي ددوی دپخوانيو خطاګانو په حساب دامير په فکر کي څه دي؟

امیرعبدالرحمان په ورځني دربار کي - سردار حبیب الله هم ورسره ناست دئ .

( د مولف رسامي )

دامیرپه حضورکي دخبري کولوجرات هیڅوك نه کوي. بې له کومي پوښتني ، که به یې درلوده یاداچي دامیرپه سترګوکي یې دکوم شي دغوښتلونخښه ولیدله یایې دسرهغه اشاره ولیدله چي امیریې دپوښتني په وخت کي کوي. غلام بچه ګان دخپلودندودسرته رسولوپه وخت کي پټه خوله په آرامی سره شاوخواګرزي اوکه وغواړي وزي اوننوزي . تل یې په پام کي وي چي یوڅوتنه بایدامیرته نزدې پاته وي.

کله چي زه له امیرسره وم، سردارنصرالله خان چي له لندن څخه زه ورسره ملګری وم ، دربارته راغی. وروسته له هغه چي پلارته یې سلام وکړ، په چوکی کي دناستي اجازه ورکړه سوه .دده مشرانوزامنوته تل دچوکی تعارف کیږي که څه هم دلنډي شېبې له پاره دربارته حاضرسي . بې له هغوحالاتو، چي دوی پخپله له حیاڅخه نه کښېني، یاامیرپه غوسه کي وي. په دغسي حالاتوکي دوی ته په چوکی کي دکښېنستلوست نه کېږي اوولاړوي. کوچني شهزاده ګان چي دده لیدلوته راسي، بایدده دچوکی یاکټ ترشاودریږي اودعادي غلام بچه ګانوپه شان عمل وکړي . ده ته هرهغه شي چي غواړي ، بایدوریې کړي اوتل ورته منتظرواوسي .

شهزاده چي دتګ خیال ولري ، پلارته یوځل بیاسلام وکړي اورهي سي. که څوك له اجازي پرته ووزي، پوښتنه تري کیږي.

دامیرپه حضورکي دکښېنستلواجازه ورکول دډېري مهربانی اوعزت نخښه ده چي یوڅوتنوته ورکول کیږي. مشرانواولوړرتبه مامورینوته چي دکښېنستلوبلنه ورکړه سي، بایدپرمخکه باندي داسي کښېني چي شا یې دېوال ته وي اوکه زیات شمېرحاضروي نودامیردواړوخواوته ددېوال له اوږدوسره سم پریوه لیکه باید کښېني . دلوړي رتبې یاعزت څښتنان امیرته ورڅرمه ناست وي.

له امیرسره ترڅوساعتوتېرولووروسته مي دتګ اجازه خني وغوښتله اوکله چي دتګ په نیت ولاړسوم ، راته یې وویل چي سباته به وګوروواوترهغه وروسته به هم زیاتره سره وګورو. ده غوښتل، چي ماډېر ووینی. دزیاتولیدنوکتنوله پاره دده غوښتنه زمادزیاتي درناوی یوه بله نخښه وه اوویې ښودل چي زه دده ډېري مهربانی وړګرځېدلی یم . په دغه هیوادکي د یـــوه جاه طلبه سړي له پاره تردې

لوړه ارزوبله نسته چي اميردي ورته دبيابياليدني كتني اجازه وركړي .داليدني چاته ددې پوره وس وركوي چي خپلي نخشې ترسره كړي. له يوې څوا؛ داديوې زياتې مهربانی اوډاډ نخښه ده خوله بلې خوابياهرڅوك دغه شخص ته ديوه غوره مال اوپيشوبازسړي په سترګه ګوري اوښايي دحاسدانوله نفرت سره دي مخامخ سي . ددې ببره لاهم سته چي دغه سړي بدعواقب په مخ كي ولري.

راتلونكي دوې مياشتي ، لاځه زياته موده مايه مېلمستون (مهمانخانه) كي تېره كړه اوخان مي دهيواددزړرمودپرمختياله پاره ديوپلان په برابرولوبوخت كړی و. اميرددغه رازپلان دليكلوغوښتنه راڅخه كړې وه. ده زمادغه كارپه پوره اندازه وستايه خوپه پلان كي له راغلوړانديزوڅخه ډېرلږيې واخيستل سول. زه په شاوخواسيمه او دښارپه بازاروكي ښه پوره اندازه وګرزېدم ځكه چي ددمي سمبدو بله وسيله نه وه .

كابل ديوې لويې ناوې په منځ كي پروت دئ چي شاوخوايې دپنځلسو، شلوميلوپه واټن غرونه راتاوسوي دي. دغونډيوورولړيوچي دلته اوهلته له مخكي څخه راوتلي دي، سيمي ته داسي ماته وګوډه بڼه وركړې ده چي له كومي لوړي څخه پرته دتشخيصولوړنه ده . له دغولړيوڅخه يوه يې (شېردروازه ) دښارجنوب ته څرمه پرته ده اوداسمائي غونډی (٥) يې لويديځ ته واقع دي. ددوی دوو په منځ كي دكابل سيندبهيږي چي له جنوب لويديځ څخه راځي . دغونډيوپرسرونويوزوړدېوال سته چي زياتره وران دئ. په معموله توګه له ختېاوډېروڅخه جوړسوی دئ او له سيندڅخه بيرته پورته ختلی اودمقابل لوري څوكي يې پسې اخيستي دي. پخوا ، دېوال له سيندڅخه دښتوپريوه پله باندي تېرسوی و خواوس دهغه پله له تاداووپرته بله نښانه پاته نه ده . دادېوال ډېركلونه پخوادهغوروحشي قبيلوديرغل دمخنيوی له پاره جوړسوی و،چي دكابل په جنوب لويديځه سيمه كي اوسېدلې اوكله ناكله به يې يوزيات شمېرپركابل رااوښتلي ، پرخلكوبه يې توري كښلي وې اودښخووځاروپوبه ګډون به يې چي په افغانستان كي ورته په يوه سترګه كتل كيږي ، دوړلوهرڅه لوټول.

دكابل شاوخواسيمه دكرني له پاره په ښه توګه سمباله سوې ده اوله لرپاران څخه د غلودانو د اوبولوله پاره كاراخيستل كېدلای سي. پـه ورروستيوكلونوكي

وني دهغولاروپردواړوخواووايښوول سوي دي، چي ښارته راځي. دلته وهلته خال خال وني په باغوکي چي دېوالونه پرراتاوسوي دي، هم ليدل کيږي . خو شاوخوا غونډۍ دونواوکرنې دنشتوالي له امله بېخي لوڅي اوپه مقايسوي توګه ويجاړي ښکاري.

ښارديولك وېنځوس ياپولك شپېتوزروپه شاوخواکي اوسېدونکي لري اودهيوادنوروښاروپه شان کلاپرراتاوسوې ده . په لوېديځه برخه کي ښارسره پېرسېدلي اوپه دغه برخه کي داميراوشهزاده ګانوماڼۍ اودرسمي مامورينواوشتمنوخلکوکورونه جوړسوي دي.ده افغانان چي دښارديوې نوي برخي نوم دئ ، هم په دغه برخه کي پروت دئ اوکال په کال پسې پراخيږي خکه ټول هغه کسان چي دښارله زړې برخي څخه وکوچيږي ياغواړي دښارپه ښکلې برخه کي کورونه جوړکړي ، همدغه ځای ته ځي.

دښارکوڅې تنګي دي اودوړي پکښې باديږي اوزياتره په غټو و کوچنيو ګرديوکاڼوچي سم ايښوول سوي هم نه دي ، فرش سوي دي .دکاڼوپه درزوکي کله کله دآس سوه بنده سي اوخان ګوډ کړي. سړکونه دکوروله دواړو بغلونوڅخه داوبودوتلوپه خاطرمرکزته شيوه کيږي .کثافات له کوروڅخه سړك ته غورځول کيږي اوپرهمدغه ځای ترهغوپراته وي، چي وراسته سي او لرشمال چي ولګيږي ډيري بدي خوړسکي يې ولاړيږي.

کورونه اودوکانونه له اوموخښتواوختوڅخه جوړسوي دي. چتونه يې اواراوله يوه دېواله تربل پوري په چارتراشوپوښل سوي ، پرهغوباندي يې بورياوي اووابنه اچولي اودپاسه يې پنډه اخېړ (کاګل ) پراچولی وي . دخوني تل له همدغومموادوڅخه دئ. کورونه کوچني اوپېپلې ته خرمه دي . په پراخو بازارونوکي دکورونودوهم پوړونه له کوڅوسره سم نښتي دي او د لرګيو پرستنوباندي ولاړ دي.په تنګوکوڅوکي خوېې ددوهم پوړله پاره ټوله کوڅه بېخي پوښلې وي اوبوتياره اوکړووړېوېناکه سوپ (راهرو ) ترې جوړسوي وي چي دتېربدلوپه وخت کي که څوك ځراغ ولري ، ښه به وي . دېرپراخ بازاريې نژدي پنځلس فوټه ارت وي اوتنګ يې څلورفوټه . څرنګه چي په ټول ښارکي له باروړونکو اسانواواوښانوسره هروخت څوك مخامخ کيږي، دآس سپورته ناشونې

ده ،چي له زين څخه دي د ښوييدلومخنيوى وکړي . په دې برخه کي تربارې اسانو داوښانو واښونه سترمصيبت وي، څکه اوښ په نوروکي رى نه وهي . دجادې منځ ته يې اخيستي وي اوبارونه يې تردواړوبغلونوراوتلي اودآس سپاره ته لازمه ده، چي له دغوارښانوڅخه دتېرېدلوپه وخت کي خان پرزين نېغ ټينگ کړي . په تنگوبازاروکي داوبوروياليې له پاسه مخ پرکښته د اوسپدونكو د استفادې له پاره بهيږي . اوبه چي ښارته داخليږي ، ډېري ښې وي ، خوچي هرڅومره په ښاركي تېريږي اوهررازچټلې په گډيږي هغومره يې مزه خي. دکوروكثافات ورته لارمومي، خلك پكښې خانونه مينځي اومړه جسدونه هم په دغوروياكي پريولل كيږي بې له دې چي دهغو ناروغيو په فكركي دي واوسي چي دمړيني سبب كېږي .هغه وخت چي دغه اوبه دښاردبالاحصارڅنډې ته رسيږي ، نودهغو كيفيت څوك تصوركولاى سي. خوبياهم دښاراوسپدونكي مجبوردي له همدغو اوبو څخه دچښنگ اوپخلنگ له پاره كاراخلي.
كولرااونوري ساري ناروغۍ دښارپه هغوبرخوكي زياتي وي چي داوبودمسيرپه پاى كي پرتې وي. شك نسته چي داله هغومړيوڅخه راپيداسوي ناروغۍ دي چي په همدې اوبوكي پريولل كيږي اونورخلك يې دڅښلوله پاره كاروي. همدغه علت دئ چي دغه ساري ناروغۍ هروخت په كابل كي پيښيږي، ډېره موده دوام كوي اوپه زرگونواوسپدونكي پكښې تلف كيږي.
اميرعبدالرحمن ترمرگ لږوراندي ، په ښاركي دفضله موادوله پاره يوسيستم جوړكړاوهغه داچي پرخرونوباندي يې دښارفضله مواد ايستل اوپركروندگروبې خرڅول(۶) دې كاردښاردصفايي له پاره ډېره مرسته وكړه خوټول شخصي كورونه په دې پروژه كي نه راتلل څكه يوازي غټوكورونوسپاره مكانونه درلودل چي تردېوال دباندي يې دامباردايستلوامكان و. كورونوته دننه چي ښځي پكښې وي ، پردى سړى دننوتو اجازه نلري.څكه نوزياته اندازه امبارپه كورونوكي دننه پاته كېدى . اوسنى امير (اميرحبيب الله خان . م . هـ ) دكولرا ناورغۍ دشيوع په كال(۱۹۰۳ ) دښارټولي كوڅې هره ورځ د جاروكښانو په يوه لښكرجاروكولې. خرختيخوال دښاردچټليودليري كولوله اړتياسره، ډېرژر بيرته خپل دبې پروايبو عادتونه پيل كړي .

له د پرشوو زروکورونوڅخه هره ورځ دغورځول سوي پوفضله موادواندازه که په پام کي ونيول سي، نودکابل ښاربه دپرژر له استوګني ووزي. دسپيواوکارګانوله خوا دچټلميودغونډولوکارچي دناروغيو اوغيرشعوري درمل دئ، دښار دنااستوګن کېدلومخه نيسي . ماته ويل سوي و چي ديوپخواني اميرپه امر دښارټول سپي ووژل سول او داپېښه دخلکوپه يادده چي سمدلاسه ورسره دکولرا يوه سخته ناروغي په ښارکښې سوه . اوسني اميرهم د ښارد سپيو د وژلو امرونه ورکړي وو اولاښونه يې له ښاره وايستل سول، خويوه مياشت وروسته د۱۹۰۳ کال کولراخپره سوه ، چي دسرايت له مخي د يادوني وړ وه .

# ددریم څپرکي لمنلیکونه

( ۱ ) ( ۲ ) بوستان سرای او گلستان سرای لکه بل ځای چې مي هم اشاره ورته کړېده . دکابل ښار داوسني زرنگار پارك سیمه وه . دامیرعبدالرحمانخان قبر هم په بوستان سرای کي راځي . خودا ټوله سیمه اوس د زرنگار پارك په نامه یادېږي .

( ۳ ) فزFez یو ډول خولی ده . چې دترکیې خلك یې اوس هم پر سر کوي . معمولا تور یا سور رنگ لري اویوځه جګه وي . دخولی د ارتفاع په ټول امتداد یو اوږد زومبك ( خوندی ) پر ځړېږي . وایي پخوا دغه راز خولی د کوټي په پښتنو کي بلاوښانو پرسر کولي . د بلاوڼ کلمه د انګرېزي ژبي د کمیشن ایجنټ لپاره کارېدله . زما ( هوتك ) دکندهار ښارد جارچي پر سر دغه راز خولی په یاد ده .

( ۴ ) دغه ډاکتر دانګلستان تبعه و او ډاکتر لومېرا نومېدی په ۱۸۸۶ ع کال دامیر عبدالرحمان خان په امر کابل ته ددې لپاره راوغوښتل سو . چې امیر ته یوه جوړه غاښونه جوړ کړي . ډاکتر اومېرا په کابل کي د صوفي عبدالحق په نامه یو شاګرد وروزه . چې وایي پخپل فن کي ماهر و . ډاکتراومېرا په ۱۸۸۷ ع کال هند ته ستون سو او هوري یې د امیر دشخصیت . استعداد او اداري په باب لیکني وکړې . ( دتفصیل لپاره وګورئ : شین سترګي مستخدمین په افغانستان کي ـ دمحمدمعصوم هوتك لیکنه ـ ناچاپ )

( ۵ ) داغر داسمایي غردئ . چې فرانك مارټین یې په نامه کي تېروتلی او Asman یې بللی دئ .

( ۶ ) پخوا به له کورونو څخه کثافات د یو ښهر کسانولخوا د خاوري په بدل کي ایستل کېدل او دکرني په مځکو کي به یې د پارو ( سري ) په توګه کار ځني اخیست . دا زمادیاد خبره ده . چې په کندهارکي به ځاینت مهال امبارکښ دکور په دروازه کي ناره وکړه « امبارلرئ په خاوره » که به چا درلود . د « هو » جواب به یې ورکړ او خاوره به یې ځني تسلیم کړه . دغه خاوره د سبا ورځي له کثافاتو سره ګډېدله . ( ژباړونکی )

# ثلرم څپرکی

# کابل

## ( په دوام یې )

کوڅې څه رازاداره کېږي .. دښاراجرايېوي قوه .. لوټماران اوقاتلين — دبازاردوکانونه — دماڼيواوښوکورونوسبك ـ دکابل هوا.

په کابل کي هره کوڅه یابازار ( جادې ، که دوکانونه پکښې وي که نه، بازاربلل کیږي ) یوکلانتریامشرلري، چې دنده یې کوتوال(دښارمشر ) ته دکوڅې دټولوزیږېدنواومړینوخبرورکول، دکوڅه والوپه منځ کي نظم ټینګول، دکوڅودپاکی څارل اوپه مجموع کي دکوڅې اداره کول دي . دی دهرډول بې قانونیو، که چیري پیښې سي ، مسئول دئ.

دمرحوم امیرترمړینې وروسته سمدلاسه دښارپه بېلابېلوبرخوکي ډېري غلاوي پیل سوې اودغلودنیولوله پاره ټولي هڅي ناکامي سوې . په ځینوپېښوکي به یوسړي، چې دوکان یاکوروتاړه اودی به دشپې دتېرله پاره له خپل یوه دوست کره ولاړ. په سهارکي ، چې به کورته راتلی ، کتل به یې چې ددوکان ټوله شتمني یې لوټ سوې ده . ډېرووړته پېښوښودله چې غله د کور د څښتنانو د حالاتو په هره شېبه باندي ښه پوره خبردي. په نوروپېښوکي دکوروڅښتنان دغلوپه کړپ وکړوپ راوېښ سوي اودخپلومالونودساتني په هڅه کي دغلوله خوا ټپیان سوي یاوژل سوي وو. په پای کي خلك دومره دبېري اوډارپه حالت کي سول چې په بازاروکي له غلااووژني پرته نوري خبري نه کېدلې. امیرته عرضونه وسول اوده هرهغه چاته چې دغلوپه باب معلومات ورکړي ، دډېرغټ انعام ورکولوحکم ورکړ، خودې کارهم نتیجه ونه ښندله .

په پای کي ، یودوکاندارچې له خپل یودوست سره ددوکان پربام بیده دئ ، چې داکارمعمولا په ښه هواکي کیږي .دوی دواړوله ډاره توري له ځانوسره اېښي دي . ناڅاپه د دوو غلوپه برغ ، چې له دباندي څخه بام تـــه ورختلي وو،



مهمانخانه ـ کابل

د مولف استوګنځي ته خرمه باغچه ـ د باغچې په کونج کې زيارت

راوينسيږي .دی راغورځي ، چيغي وهي اودوست يې هم راوينسيږي . دوی په غلوپسي توري رااخلي خوغله ورباندي دتمانچوډزي کوي اوتښتي . دوکاندار چي ټپي هم دئ ، ورپسي څغلي اوديوه غله پرپازودتوري واری کوي اوټينگوي يې . په دې اخ وډب کي، چي دمرستي له پاره چيغي هم ورسره ملگري دي، ځيني گاونډيان رارسيږي اوغل نيسي .

ددوکانداردوست، چي پرزړه باندي ويشتل سوی و، ځای پرځای مري. په سهاريي غل کوټوال ته بوت اوهغه ته يې داميرله حکم سره سم دځپلو ملگرو دنومونوښودلو له امله ډول ډول شکنجې ورکړې. په پای کي نزدې دېرش نومونه ترلاسه سول چي په هغوکي دکلانتر (دکوڅې دمشر ) اودکوټوالی د يودوو سپايانو (پوليسو ) نومونه هم وو. دغوسپايانوهره شپه غلوته دشپې دنامه په ورکولوسره، هغوی ته په کوڅوکي له گزمې څخه دبې پوښتني تېرېدلو، زمينه برابروله. اودې کارغلوته دهرکور، چي زړه به يې غوښت دورتگ اوبيرته دورځي تررونامخکي ځپلوځايونوته دستنېدلواسانتياوي پېښولې . هغه کورونه هم معلوم سول چي لوټ سوي مالونه پکښې پټ سوي وو اويوه زياته اندازه گېڼې، غالی ، شالونه، مسينه لوښي اونورشيان ترلاسه سول اوهرهغه چاچي کوريې لوټ سوی و، اجازه وموندله، چي دملکيت له ثبوت ورروسته ځپل مالونه ترلاسه کړي . له غلوڅخه يې پنځه تنه په توپ کي والوزول. دځينويې سترگي وايستلې اونورپاته دعمربنديان سول.

په کابل کي دشپې له اتونهوبجوترمنځ دپوليسوله هري تانې څخه د «وردی» ( ۱ ) تروم ږغيږي اوسهاردلمرختوپروخت بياتکراريږي.

ددغوساعتونوترمنځ هيچاته اجازه نسته چي په کوڅوکي دشپې دنامه له ورکولوپرته وگرځي اودهرچاچي دشپې نوم زده نه وي ، دساتونکوپه خونه کي ساتل کيږي اوکله چي کوټوال ته ورروستل سي، هغه يې يالنه وړاندي سوي عذرسره سم خوشي کوي ، يايې جريمه کوي.

دبازاردوکانونه ډېرکوچني دي ـ يوزيات شمېريې په لويواله کي دگرځنده پلورونکودغرفې (Huckster's stall) په اندازه وي. ددوکان مخ خلاص وي اودشپې تړلی اوکلپ وي. ... دروازې ... کړکی نلري، ځکه ښينښې نه موندل

کیږي اوګراني هم دي. دامیرماڼۍ له دې امره مستثنی ده . ددوکان مخ د بازار خواته وي او دديوال په بيخ کي ددوکاندارد کښېنستلو ځای وي . مالونه يې شاوخوا پرفرش ورته اوډلي يايې په خونه کي پرږواقوباندي ايښي وي. دخرڅلاوشيان عموما غلې دانې ، ميوه، ترکارۍ، بوره اونورداړتياوړشيان ، ټوکران اونخي مالونه ، شالونه، موزې اونورداغوستلوشيان ، دڅرمني مالونه مسي اوروهي لوښي اوداوسپني سامانونه اونورروي. دچايودوکانونه (سماوارونه ـ م .هـ ) هم سته چي يوه کوچنۍ پياله چای ترنيم پنس(۲) ارزانه ورکوي .که څوك بوره ورسره وغواړي نوبايديوڅه نوري پيسې هم ورکړي.

په بازارکي مکتوب ليکونکي (عريضه نويس ـ م. هـ ) دهغوکسانوپه خدمت کي وي چي ليك لوست يې زده نه وي . پرهرمکتوب باندي نيم پنس ياپوره پنس غواړي . دټکټونولپاره البته نوري پيسې بايدورکړه سي . اساسي بازارونه دخرڅلاودشياونوپه نامه نومول سوي دي. لکه ګندم فروشي (دغنموبازار ) اونور. دتوپکواوتمانچودکارتوسودوکانونه هم سته خوډېرګران دي. دوه درې کارتوسه په يوه شلينګ(۳) وي . البته په سايزاوتقاضااړه لري.

دمعتبروکورونه عموما له اومو خښتواوختوڅخه جوړوي چي ښه پوره اندازاه د لرګيوکارپکښې سوي وي .کله خولادکوړټول مخکينی برخه له لرګيوڅخه جوړه وي . کورونه دوې برخي لري . دننه کورحرمسرای وي چي ښځي پکښې اوسي . په دغه برخه کي خوني دسرای پرغولي شاوخواجوړي سوي وي .دباندي يوکوچنوټی سرای ،چي دحرم ددروازې اوکوڅې ترمنځ پروت وي. په دې سرای کي يوسړی اوسي ، چي دنارينه ميلمنوخدمت کوي . غټوکورونوته څرمه باغچې هم وي چي جګ ديوالونه پرراتاوسوي وي اودادې له پاره چي که کله ښځمني پکښې ګرځېدې، ستريه يې خوندي وي . ښځوته اجازه نسته چي له نزدې خپلوانوپرته بل نارينه ته مخ ښکاره کړي . دټولوکورونو د ښځمنو د سرايونو دروازې هرومرويوقابچي (ددروازې ساتونکی ) لري . هيچاته داحق نسته ، چي دکوردښښتن له اجازې پرته کورته ننوزي اوهيڅ ښځي ته داحق نسته چي له کوره ووزي مګرهغه وخت چي قاپچي ته يې دڅښتن له خوادوتلواجازه ورکړه سوې وي.

دامیراوشهزادګانوماڼۍ دکابل یوازني کورونه دي چي ښه جوړسوي دي.
دامیراصلي ماڼۍ ارګ دئ . ارګ په ترکي ژبه "کلا" ته اوپه فارسي کي "ماڼۍ" ته وایي . دایوغټ مستحکم ځای دئ، چي نژدې پنځه سوه مربع ګزه کیږي اویوژوراوپراخ خندق پرراتاوسوی دئ (۴) دباندي دېوالونه یې دتوپونوله پاره تیرکښان لري په داسي حال کي چي دوه دېوالونه یې په خاورینورهرو ونو؟ سره،چي پرشیشکانو ( طاقونو ) ولاړدي وصل سوي دي اومخ پرشیوه ددننني دېوال تیرکښانوته رسیږي. دد‌ېوال سرېې دتوپك والوله پاره ژورسوی دئ تردغورهرو ونولاندي دتوپونوله پاره ځایونه جوړسوي دي. په کلاکي دننه وروستني دېوال ته مخامخ دفترونه اودزېرموخوني اوځنګ ته یې دګارنېزون دسړیوله پاره کوټې جوړي سوي دي. داخلك دامیرباډیګارډان دي، چي په ځانګړې توګه ټاکل کیږي او تنخواورکول کیږي. دارګ په کلاکي دغه رازشخصي اوعامه خزانې اوټول عصري توپك اوکارتوس چي شمېرېې زرګونوته رسیږي، په تحویلخانوکي ساتل سوي دي. دننه په ارك کي دامیرپرماڼۍ اودده دښځوپرحرمسرای دواړو باندي جګ دېوالونه را تاو سوي دي، چي داړتیاپه وخت کي یوه داخلي دفاع جوړوي . ددې پرځنګ دامیرداستفادې له پاره دشمال برج په اوردو او دکلاپه نوروځایوکي په دې راوژوسته وختوکي نوري خوني جوړي سوي دي .ترارك دباندي دبوستان اوګلستان ماڼۍ(۵) پرتې دي.
ددوبي ماڼۍ ، شهرآرا (دښارسینګار ) نژدې یومیل لیري دشمال لورته اوددوه میله وړاندي باغ بالا (برین ) پروت دئ ،چي دمرحوم امیرددوبي په زړه پوري ماڼۍ وه . نوموړی هورې مړسو. لویدیځ ته ترښاروتلې تقریبا اتلس میله لیري په پغمان کي چي دهندوکش غرونوپه بېخ کي یوه زرغونه سیمه ده، ددوبي ماڼۍ سته . دکابل په جنوب کي له ښارڅخه تقریبا یونیم میل لیري بابردئ . دبابرشاه دقبرځنګ ته ددوبي یو بل استوګنځی جوړسوی دئ . بابرلومړنی مغول امپراتوږو، چي په ۱۵۳۰ کي هلته ښخ سوی دئ .( ۶ ) پرهمدې لوري شپږ میله لري هندکي hindeki پرته ده چي داوسني امیرددوبي ماڼۍ پکښې ده اوتخت ته تررسېدومخکي به پکښې اوسېدی . ترهندکي لږڅه جنوب لویدیځ خراته دهاشم خان کلا پرته ده ، چي دمرحوم امیرد ملکې سلطانې د دوبي ماڼۍ

پکښې ده .
دارك ترباغچودباندي دوې لویی سلام خانې (audience chambers) سته ، چي دمرحوم امیرله خوادغتهوعامه درباروله پاره جوړي سوي وې. ددغوسلام خانواودغه رازدمخصوصي سلامخانې سره جوخت کوچنۍ خوني پرتې دي اوامیرمرحوم عادت درلودپه نوې سلامخانه کي چي یوه ښکلې ودانۍ ده ، ډېري ورځي تېري کړي.
دکابل هواډېره ښه اوخوك پکښې تندرسته وي. څرنگه چي دسمندرله سطحي څخه نږدي اووه زره فوټه لوړپروت دئ ، څکه یې هوانرمه اوترنوروهغوسیموچي په عین عرض البلدکي پرتې دي، ډېره سړه ده . په لوړو سرکي، چي څوك ورسره بلدنه وي ، دتنفس لړځه ستونزي په تېره بیاپه مخ پرلوړه تگ کي پېښوي اوسړی دخپلوسږوپراغېزمنتوب باندي شکمن کوي. خوورروسته بیاله منځه ځي. زه یووخت په دوبي کي هندوکش ته دواوروترځایه ورروختم، هورې مي هواډېره په زړه پوري اوتازه وموندله .خوزه مجبوروم، چي ځای ځای دنفس شړلوله پاره دمه وکړم اوکومه هواچي به مي تنفس کوله په مجموع کي راته ترکښتنی سیمي غیرډېرمنه اوناکافي ښکارېدله .
له دې سره سره په دوبي کي باران معمولا لږوي . په دوواورپوکي چي ماپه کابل کي تېرکړل دتالندي توپانونه اوتوندبارانونه ببخي لږوو. په ځینودغوتوپانوکي برېښناوي ببخي قطع کېدلې نه اودتالندي پرله پسې غړومبي خوځوك کوناوه . مگربرېښناوي ښارته ترځرموغونډیوپوري رسېدلې اوپرکورونوباندي دټکي لوېدلوریکارډخوببخي محدوددئ .
په ژمي کي عموما درنې واوري اوبارانونه کیږي اوکله چي بادراوالوزي ، کوچنې کورونه کله کله ببخي پټ سي . کله چي واوره وسي . هزاره گان اونورکاریگرله خپلولرگینوراشپېلونوسره دبامونودپاکولوناري وهي که پر واوره لمرپراوځیږي ، ویلیږي . دبام ختمه ننوي اوکښته خوني له استوگنی وزي . دواوري وزن اکثره دچتونودلوېدوسبب کیږي. واوره له بامونوڅخه کوڅوته غورځول کیږي ، چي غونډۍ تري جوړي سي اوترویلي کېدوپوري میاشتي پر تېري سي.کوڅوته نږدي سړکونه تل چکړوي ، خو افغانان په ختواوچکړکي ری

نه وهي او هيڅوک د دغو وا ورو د پاکېدلو تکليف خان ته نه ورکوي او وايي ، يو وخت به پخپله ويلي سي .داپه رشتياسره دکار ضياع گڼي.

کله چي دوبی وچ وي، ددوړو توپانونه تقريباهره ورځ پيښيږي اوچي څوک دباندي گرزي ياسپرلوکوي، ډېربدلگيږي. ان، چي په کورکي لابدلگيږي . څکه ټولي دروازې اوکړکی بايدوتړل سي، چي له دې سره بيااخوږني ډېري گرميږي اوهرشی ته چي لاس ورووړه سي يوډول لغوړن احساس سړي ته پېښيږي . دتودوخي په موسم کي دماپښين تردريوبجوپوري معمولاً هواتپه بنده وي. وروسته له شمال لوري څخه يوڅه بادپيداسي . په لږوخت کي دد وړوڅرخنده ستونونه پورته سي اودومره توندسي چي ليدل پکښې مشکل سي. دغه باد دوه ساعته بنه په زورکي وي . خوترلمرلوېدووروسته له زوره ولويږي اووريسې چوپه چوپتياسي ، چي دهغې له امله دشپې ړغونه ډېراوچت کېږي.

د ۰۲ ـ ۱۹۰۱ کال ژمي استثنايي و. په ټول ژمي کي واوره ونه سوه . ويل کېدله چي دغه رازژمي تقريبا دوولس کاله وړاندي هم پېښ سوی وچي دکولرانارو غی وريسې وه . په دغه کال تاريخ تکرارسوڅکه په پسرلي کي رودونه اوويالې وچي سوې حاصلات داوبوله نېستی وران سول اووچکالي راغله . وريسې په دوبي کي خواړه هم لږوو. کولراپېښه سوه اوډېرې مياشتې يې دوام وکړ. دخلکوبې سپکه بدنونه يې تروښول اومړينه په استثنايي توگه ډېره زياته وه.

په ژمي کي ورځي زياتره روښانه وي اولمرپرواوره باندي ځليږي اوبلي کوي يې، خوپه مازيگرکي بيايخی سي اوسړکونه دښيښې په شان ښوی کړي. سړي، اسونه اواوښان پرغوځاړېږي اودخاروړواکثره پښې ورماتي کړي اوڅوک مجبورسي چي حلال يې کړي . پرواوروباندي دلمرځلېدل دغه رازدړندېدلوسبب کيږي ، په ژمي ډېرخوروونکی وخت هغه وي چي اسمان اوريځ وي، سخت بادراوالوزي اوهيڅوک له کوره نسي راوتلای. دلمرلوېدوپروخت دتودوخي درجه ترصفرکښته کيږي اوڅومره چي شپه پخيږي ، هغومره پسې ټيټيږي . تردې اندازې چي که په خونه کي ډېراورهم واچول سي، يوازي يې هغه اړخ تودوي چي اورته ورڅرمه وي نـوراړخونه يې دهغو بادوله امله، چي دخوني تردرزو راځي،

دیخي په شان ساړه وي . هغه کسان چي په دغه شان باد کي د باندي وي، د پرسخت زیان وررسیږي .اکثره یې پښې، لاسونه اوپزه یخ خني سوځي. دګزمې عسکرکله کله دیخني له امله مري. خکه هغوی په دغه رازهواکي د درېدوله پاره په بشپړه توګه خوندي جامې نه لري. په دغه وخت کي شرمښان هم دشپې له خواله غرونوڅخه راکښته کیږي ، لوږي پسې رااخیستي وي اوښارته نږدې دخوړلوشیان لټوي .که دیخنی دستړیاله امله پربې مرستوکسانوپېښ سي، بریدپرکوي اووژني یې. ماشومان، پسونه اووزې چي په ګیرورسي، وړي یې.

دغه رازهوایوه بله ځانګړتیاهم لري اوهغه په هرشی کي دیوې اندازې برېښناشته والی دئ. که څوک په تیاره خونه کي ګرزي اوپښې پرغالی وموږي، له پښوڅخه یې بخري راپورته کیږي، دغه رازکه څوک دپیښو پرشاورولاس تېرکړي عین حادثه پېښیږي ،که دکمیس کښلوپروخت پرسرلاس تېرکړي دبرېښنابخرکي تولیدیږي .که ښځمني خپلي اوږدې کوڅی ږمونځوي ، وربښتان یې برېښناپیداکوي اودږمونځولوپروخت یوله بله لري درېږي.

شین اسمان بیا ، چي نادرپېښیږي، دفاصلې په معلومولوکي ستړګي تېرباسي. دپرلیري غرونه چاته ببخي نږدې ښکاري. یووخت زه دصحراپه یوډېراوږده ورخني سفرکي وم. ماته په سهارکي ویل سوي و چي کمپ بایددیوه مخروطي شکله غره په بیخ کي ووهو چي یوڅه واټن لیري د غرونو د دوو سلسلو ترمنځ لیدل کېدی . مادغه واټن شل یاپنځه ویشت میله اټکل کړی و. په دغه ورځ غرمه مي درسېدلوخیال کاوه، خوچي موږدکمپ ځای ته رسېدلو، ښه تیاره مانښام و اوموږټوله ورځ په غټوګاموسفروکړ.

په شنه اسمان کي، سپوږمی هم ډېره خلانده وي. په دغه وخت کي دشپې له خوادکورله بام څخه دویده ښارچي دسپوږمی په سپینوړانګوکي غوټه وي ، دکورونواوغرونوپرتمین کړه وړه چي سیوري یې اچولي وي او د ماڼیو او زیارتونو منارې چي ترودانیوجګي راوتلي وي، ډېره ښکلې تماشه جوړوي . ورځ چاته عجیبه تصورپېښوي خکه صاف اتموسفیراودبخارنشته والی دمځکي دمنظرورنګونه ډېرپیکه کړي .دخورو ورو ونوله تك شنه رنګ څخه خو ببخي ستړګي نه خېژي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دځلرم څپرکي لمنليکونه

( ۱ ) وردی ته يې په ظفراللغات کي « فوجی لباس » معنا کښلې .خوما د پهرې يا وظيفې په معنا اورېدلې ده . ( ژباړونکی )

( ۲ ) يوانګرېزي پونډ شل شيلنګه او يو شيلينګ دوولس پنسه دئ . ( ژباړونکی )

( ۳ ) شيلنګ پولې واحد او دانګرېزي پونډ شلمه برخه ده . (ژباړونکی )

(۴ ) ارک اوس خندق نه لري اوډک کړی يې دئ. ( ژباړونکی )

( ۵ ) دبوستان او ګلستان مانۍ دکابل په اوسنې زرنګارپارک کې واقع وې . اصلې نوم يې بوستان سرای او ګلستان سرای و. ( ژباړونکی )

( ۶ ) داسنه له مولف څخه لږخه مغشوشه سوې ده . مغولی بابر ( ظهيرالدين محمد ) په ۱۵۳۰ م کال ( ۶ جمادی الاول ۹۳۷ ق ) دهند په اګره کې مړ او دجمنا پر غاړه په چهارباغ کې ښخ سو. تابوت يې لس کاله وروسته په ۱۵۴۰ م کې دده دماندينې بې بې مبارکې يوسفزی په لارښوونه له اګرې څخه کابل ته را انتقال او په بابر باغ کې ښخ سو . ( دافغانستان پېښليک ــ ۱۲۱ ـ ۱۲۳ مخونه )

# پنځم څپرکی

# دودونه اورواجونه

پرماوراې طبيعي شيانوعقيده، دنارينه وجامې، دخلکوګړه وړه اواخلاق، دبېلابېلوقبيلوبيان . ژبې اوښوونځي، دکورنيوپه منځ کې ترېګني، خلک رخصتي څرنګه تېروي، سندري اودسندروآلات، لوبې اوساتېرې

---

که عمومي خبري وسي ، نودافغانانودورځني ژوندزياتره دودونه ، ددوی خرافاتي عقيدې، په دلاکانو (ډمانو) جتهانواوژوررو (۱) باندي ددوی دنارورغانوجراحي تداوي ، پرمادورزميو، شيشکو، شيطانانواوشاپېريانو، پرهغوخلکوچي دشيطان سترګي لري (خلک نظرکوي. م هـ) پرفالبينانوچي ددوی فالونه ګوري اوپه مجموع کي پرماوراې طبيعت باندي ددوی کلکي عقيدې سړي تهٔ دروسووکالوپخواانګرېزي رواجونه چي په کتابواوتاريخونوکي درج دي، وريه يادوي. په ځينونوروځانګړتياووکي هم دوی زړوانګرېزانوته ورته دي خوددوی کرکټرېياله هغوی سره بشپړ توپيرلري .

دهيوادخلکوجامې البته افغاني دي چي له څوګزونځي ټوکرانوڅخه جوړسوي اوپرپښوباندي ول ول راتاوسوي پرتوګونه چي په پرتوګانښ باندي تړل کيږي ، پرپرتوګونودپاسه يوساده کميس اوپرهغه برسېره يوبې لستوڼوکوټ (واسکټ ته ډېرورته ) چي معمولا يې تڼۍ تړلي نه وي اوپرغاړه باندي تاوسوي دشال په شان يوغټ نځي ټوکرچي بل سرېې پراوړه باندي بې نظمه ځوړندوي. پرسرونوباندي بګړۍ تړي ، چي مخروطي خوليوباندي له ټينګي تاوسوي لونګۍ څخه عبارت ده . بوټونه يې په شکل کي سلېپرته ورته دي خوډېردرانه اوپرتليوباندي يې ميخونه وهلي وي .دبوټونوڅوکي (نوک ) يې دپښي دپاسه راتاوسوي وي ( ۲ ). جوراپې يوازي شتمن (ماړهٔ ) خلک اغوندي.

دمامورينو ،دربارته دنژدې کسانواوپوځي افسرانوجامې انګرېزي ډوله وي . درباري کسان اوردو توركي ډوله بالاپوښونهاغوندي. توره جګه خولۍ پـــــرسرکوي

خودتورکي خوليوپه شان پيتي نه وي. پوځي افسران انګرېزي ډوله يونيفورم له جرمن ډوله پيك داره خوليوسره اغوندي.

دعسکروجامې ډول ډول وي. ځينوېې افغاني پرتوګونه اوځينونوروېې انګرېزي پتلونونه اغوستي وي . ياېې سپين نخي پتلونونه اغوستي وي چي په عين ډول روغ سوي وي . خوټولو يې انګرېزي ډوله کورتۍ ياکوټونه اغوستي اودځرمني په کمربند يې ملاوي تړلي وي. دځينوبګړۍ اودځينوپيك داره خولۍ پرسروي . عسکر دتمرين له ورځوپرته ، چي يونيفورم بايدولري، هررازچي يې زړه غواړي، هغسي جامې اغوستلای سي .دامېرساتونکي عسکردهري ورځي له پاره خپل بېل يونيفورم لري اوډټولوجامې اوسلې يوشان وي.

زياتره هغه خلك چي پراسانوسپرېږي ، دجګوپوندواوږدې روسی موزې اغوندي چي پښې يې پکښې ښې جګي ښکاري. دخلکوجامې چي هررازوي ، خوملاېې دځرمني په کمربندهرومروتړلې وي اوپه هغه کي چاړه اوتمانچه له ځان سره ګرزوي . هغه ځوك ډېربختورروي چي له تمانچې سره ګرزي. دکابل اوهندوستان ترمنځ تلونکي راتلونکي سوداګردزړوجاموزېرمي رانيسي . دغه جامې په بې وزلوکابليانوکي ښه بازارلري .ځکه هم ارزانه دي اوهم په اغوستلو کي ښې وي . همدغه علت دئ، چي اوږده انګرېزي کوټونه اودغه راز دپوليسو اوداورګاډي دکارکوونکوجامې ډېري په سترګه کيږي اوداډېره عجيبه ښکاري چي ځوك په بازارکي يوسړی ويني چي د"S,E,Ry" توري ياداورګاډي دبلي کمپنۍ نخښي تر خپل اصلي ځای ډېر ليري دبازارديوه سړي پر کالر کښلي ويني .

کابليان عموما انګرېزي ډوله جامې اغوندي اوځوك چي دخپلوجاموله پاره دښه ټوکردرانيولوروس نه لري ، زياترباسي له افغاني پرتوګ اوبوټونوسره انګرېزی ياانګرېزي ډوله روغه سوې کرتۍ واغوندي. له افغاني بوټونوسره جرابې نه په پښوکوي. کله چي زه دانګرېزي کوټ ياپتلون خبره کوم، مرادمي هغه جامې نه دي چي په انګلستان کي جوړي سوي وي. دبازارګنډونکي ډېرخيرك(ماهر ) دي اوانګرېزي ډوله جامې ډېري ښې ګنډي . دغه رازګنډونکي ډېرمراجعين لري اوډېرژرمشهورسړي سي.

دخلکوځېري دېرتوپېرلري، دځېنوپوستکي دېرسپېن (توروشمه ) ·
خونوربیااروپایي دوله وي . سپېن پوستکي والاخلك معمولا کابلیان وي ، چي
ددود له مخي ذجنوبي قومونوله ښځوسره په واده کولوکي کوم اعتراض نه لري،
خودغرونوواقعي افغانان دېرښکلي دي .زیاتره یې روښانه وربښتان لري .
دنوروقومونوله ښځوځخه ځان پېچي اوپه ندرت سره له خپلوخلکوپرته له
نوروسره واده کوي. په زیاتروافغانانوکي سره باړخوګان دښایست ستره نخښه
ده.ددوی وربښتان معمولاتورصاف اونري دي. هغه نارینه چي دسراوریري
وربښتان یې دزرتابه یانوروعلتونوله امله سپین وي اوپه ځانوکي
دنوروماندینوبیچ ویني (دوی هرڅومره ودونه چي ساتلای سي، کوي یې ) (۳)
خپلوسرونواوریروته تك توررنګ ورکوي. څرنګه چي رنګ یې دایمي نه وي که
یې وخت په وخت نوي نه کړي ، پیکه (تت ) کیږي اوسروریره یې خیرن سره
سي اودېربدرنګه ښکاري. دغه حالت زیاتره په هغونارینه ووکي لیدل کیږي ،
چي تل لیروخایوته په سفریاداسي وظیفه کي وي ، چي دخپلو وربښتانو رنګولو
تهوخت نلري . دوربښتانو رنګول معمولادکورنی دښځوپرغاړه وي . په کابل
کي یوازي دېرزاړه خلك سپین وربښتان اوریري لري څکه پرځان نه ګرزېدل
دافغانانوعمومي خانګړتیاده اوداکارددوی پرجامواغوستلواوښکلي
ښکارېدولوباندي ، ددوی اوددوی دکورنیودخواړودشمېرپرکمالی باندي، چي
کله دلوړي ترپولي رسیږي ، بده اغېزه کوي.ما دښوجامواغوستونکي معتبره
خلك پېژندل چي په وچه ډوډۍ یې ژوندکاوه اوداځکه چي دنویوجاموله پاره
یوڅه پیسي وسپموي.

ویل کیږي چي افغانان دورکوسویواسراییلي قبېلواولاده ده . اودواقعي
افغانانوڅېرې، عادتونه اونومونه ددغي تیوري ملاتړکوي. ددوی جګي پزي،
ژوري تېزبینه سترګي اوعمومي بڼې (څېرې ) په څرګنددول یهودوته ورته دي .
دابه هغه څوك تاییدکړي، چي له افغانانوسره اړیکي ولري. ددوی کرکټراودغه
رازنومونه (سلیمان، یعقوب، یوسف، داود (سله مان، جېکب، جوزف، ډېوید )
اونورعام نومونه دي. دهیراددځینوغرونونومونه هم یهودي دي لکه کوه سلیمان
.دانومونه چاته دافکروراچوي، چي که هغوی د اسراییلوورکي سوي قبیلې هم نه

وي ، له يهودي منشا څخه خوبايد هرومرووي(۴).

کابليان دورگه (Hybrid) اوله د پرونژادوڅخه ګډسوي خلك دي . په عمومي توګه يې دهرنژاد بدترين خاصيت اخيستی دئ (۵). په ځېروکي يې دغه توپيرله ورايه ښکاري خوپه مجموع کي ترهندوستانيوښکلي دي . ځيني يې ځېري اوشنې سترګي اوروښانه وربېښتان لري. په دوی کي ځيني بدرنګه جولې لري اونوري په رنګ وڅواره دواړه ښکلي دي. ددوی قدونه که په عمومي توګه له افغانانو (مراد يې پښتانه دي. م.هـ) سره چي په ونه دنګ اوښکلي دي، پرتله سي . ټيټ دي. خودغرونودخلکوپه منځ کي دژوندشرايط داسي دي چي ددوی کمزوری مرګي حاله ځوان لا له نوروونژادوسره په سيالی کي ميدان وړي .داله ژوندي پاته کېدوسره دچمتووالي يوه مساله ده چي پرنژادباندي يې فزيکي اغېزه ښندلې ده .

کندهاريان هم خوش قواره افغانان اوزياتره پياوړي اوښکلي خلك دي . په دوی کي دکابليوپه شان ځېري اوشنې سترګي عامي دي .خوداځرګنده نه ده، چي دسترګودغه رنګونه به دختيي موضوع وي اوکه دزياتوکلونوله پاره په دوو پراوونوکي دانګرېزانوله خوادهيواددا شغال نتيجه .

دترکستان خلك اوازبکان زياتره مغولي قواري لري.هزاره چي امير عبدالرحمن تابع کړل، په رنګوکي دېرزيات مغولي دي . دوی زياتره لنډي ، يرغلګراوغښتلي خلك دي.

بل نژادچي مرحوم اميرتابع کړل، کافران دي. ( ۶ ) دوی په بشپړه توګه دسيمي دنوروژادوڅرګندوېي کوي. عموماً ډېرښکلي اوروښي سترګي لري. قدونه يې جګ نه ، خونري اومتناسب دي . قواري يې په زياتروبرخوکي يونانيانو ته ورته دي. داخبره ډېره عامه ده چي دوی دسترسکندردهغه لښکرواولاده ده چي هندوستان ته دده دتاريخي مارش په ترڅ کي دلته پاته سوي دي. دوی بت پرسته وو ، اميرلاندي کړل اوپه جګړه وتوره يې راواړول. دوی له خپلونويوبادارانوسره ډېره لږمينه لري. چالاکه ، ځيرك اوښه کاريګر خلك دي.

دهيوادژبه پښتوده چي په عمومي توګه له پېښوره ترکندهاره خلك په ګړېږي .

ترکستانیان تورکي ژبه وايي اوکافران خپله ژبه لري چي وروسته به د هغو کسانو دخېړني له پاره په زړه پوري موضوع وي چي سروکاريې له زړې يوناني ژبي سره وي . ټول خلك په هره درجه کي چي وي، په فارسي خبري کوي چي ددربارژبه اوپخپله دکابل ژبه ده . دېرلږکابليان سته ،چي په پښتوخبري کولای سي. دفارسي په زده کړه سره څوك دهيوادپه هرځای کي خپل کارچلولای سي. خوپه سرحدي قبايلواونورخايوکي لږعموميت لري.

فارسي په ښوونځيوکي دتدريس ژبه ده . په دغوښوونځيوکي ماشومان دسهارله شنې خړې څخه ترنزدې لسوبجوپوري اووروسته بيا په ماپښين کي ديودووساعتوله پاره درس لولي(٧). په دغوښوونځيوکي ښوونکي ، چي معمولاًملاوي ،دخوني په منځ کي پرغاليچه ناست اوشاوخواماشومان پر راګرزېدلي اوپلتی(چارزانو ) يې وهلي وي. کتابونه يې پرزنګنونوپراته وي اوپه داسي حال کي چي بدنونه مخ وشاته ښوروي ، په لوړآوازيې دسندروپه لحن لولي. دلوستلوپه وخت کي دبدن دغه رازښوروول داسي يوعادت ګرځېدلی دئ، چي په وروسته ژوندکي ډېرلږکسان بې له دغه عمل څخه کوم څه لوستلای سي. اودلوستلوپه وخت کي يې اوازونه هرومرود ښوونځی غزل وشمه آهنګونه لري. ښوونکی ماشومانوته دشوخي اوحماقت پهخاطردجزاورکولوله پاره له ځان سره لښته لري. دماشومانوپه وهلوکي لښته نه دربغول کيږي .هروخت چي ښوونکی وغواړي يوه ماشوم ته جزاورکړي ، دوروکي مجرم پښې پورته کيږي اوپرشاڅملول کيږي اودپښوپرتلوباندي زيات شمېرواري خوري . کله چي جزاپای ته ورسيږي ، ماشوم چغاري وهي اودزړه سوي وړ وي. کله چي به زه د يوه ښوونځي څنګ ته تېرېدلم وبه درېدم اوپه يقين سره به مي فکرکاوه چي هلته يوماشوم وژل کيږي ، څووروسته به دماشوم دچيغاروپه سبب پوه سوم. زما درېدل اوتماشا به عموما دماشوم دچيغودبنديدوسبب وګرزېده څکه "پرنګی" يوله هغونومونوڅخه دئ چي ماشومان په ېېرول کيږي. دښوونځي دخوني يوسرديوال نه لري اومخ يې کوڅې ته خلاص وي، له دې امله دښوونځي دماشومانودکارپه تماشاکولوکي هيڅ خنډ نسته .

په ښوونځي کي ماشومانوته دپخواني عربي ژبي تدريس هم کيږي او داددې له

پاره چي قرآن په ولوستلای سي. خولکه څرنګه چي خلك عربي لوستلای سي، ډېرلږيې په معناپوهيږي اوهغه کسان خوښخي دګوتوپه شماردي چي په عربي دي خبري وکولای سي. ډېرکسان دتوتي په شان دقرآن تلاوت کوي اوهغوی چي حافظان بلل کيږي ، بيادقرآن تلاوت له پيل څخه ترپايه پوري په يادکولای سي .

خلك دکرکټرله مخي تنبل، عياش اوله شهوته ډك دي .داخاصيتونه هغه وخت هېشني سي چي يوڅوك قدرت اوپيسې دواړه ومومي (قدرت.اوپيسې په افغانستان کي مترادف مفاهيم دي ) دوی فکراوښتونکي(Capricious) اوناشکره دي ، په اسانی سره خپل خوښ وناخوښ ته اوښتلای سي او د هغو کسانو په وړاندي دربدلوته تيار دي چي دمننې پورووړي يې وي. معمولاچي دوی يوڅه غواړي، نوسمدلاسه يې غواړي اوکه يې په غوښتنه کي ځنډ راسي ، بيايې نه غواړي . دوی دروغجن ، تېګماراوغچ اخيستونکي دي اوڅوك چي له يوچاسره دښمني يالانجه ولري، څرګندوي يې نه، بلکي خپل احساسات پټوي اوځان دوست ورته ښيي. په داسي حال کي چي دغچ اخيستلوموقع ته انتظارباسي. په غچ اخيستنه کي بې رحمی ته تياردي اوچاته غوړنه ږدي . دوی چمتودي ،چي ډاړپرواکمن سي. خوتريووخته د کوچنيو خواشينيو د زغملو استعداد لري اوکله چي ډاډه سول چي دبې رحمی سلوك ورسره سوی دئ بيايې نواحساسات دومره هيجاني سي چي دځان کنټرول له لاسه ورکړي اوپه خشونت سره غچ اخلي . زياتره خوخپل حريف ترمړيني وروسته لاهم وهي اوډبوي يې . ددوی دنوروپه خوربدلواودردکي خشن دي اوکه يې له خپلوانوڅخه نه وي زياتره پرخاندي . خودخپلوی په صورت کي يې بيا د درد په تسکينبدلو کي عقل له سره وزي .دوی خپل ماشومان ډېرنازوي اوپه کوچنيوالي يې له ښې وباسي . څه چي غواړي ترممکني اندازې نټه نه ورته کوي ، جلبل کالي په اغوندي په داسي حال کي چي پخپله په ګودړيوکي راوزي. دبدوکارونوپه اصلاح کولوکي يې هيڅ رازهڅه نکوي .دلويانوپه خېرورسره خاندي اوپه کابليانوکي داعام کاردئ، چي يوماشوم په رواني سره ښکنځل وکړي اوښکنځل يې زياتره خپلوالدينوته متوجه وي . د ماشومانوپه روزنه کي دغه رازبې پروايي په خاصه

توګه دخلکوپه کرکترکي دډېراعتراض وړکارګڼل کیږي . دماشوم اصلاح کول بایدداسي نه وي چي تراووه، اته کلنی وروسته یې څوك پیل کړي. څکه په دغه سن کي دده دکرکتر بنه ډېره برخه تقریبا جوړه سوې وي.

افغانان تل یود بل په وړاندي دسیسې کوي، کورنی دکورنی په مقابل کي ، ماموردماموریه مقابل کي ، بزګردبزګرپه مقابل کي ، کارګردکارګرپه مقابل کي، ماندینه دماندینې په مقابل کي ، چي داوروستی یې یودهغوناوړه کارو څخه دئ، چي دماندینودتعدد له رواجه رازیږېدلی دئ. ددغوټولودسیسونتیجې اکثره دخولې جنګ وي، چي وروسته په جګړه پای ته ورسیږي اویوه یابله خواپکښې بنایي ووژل سي. ددغه مقصدله پاره دوی تل چړې یاګولی نه استعمالوي . دوی له دښمن څخه دځان بچولوله پاره نوري لاري هم لري .

په ښاروکي چي څوك قتل وکړي ، دمقاماتوله خوامحاکمه اوسزاوروکول کیږي، خوپه اطرافوکي اکثره ددووکورنیوترمنځ په داسي دښمنی بدلیږي چي نسلونوته پاته سي . قاتل دهغه چاخپلوانوته ځارو وي چي ده وژلي وي اوورپسې وژل سوی وي. کله کله قاتل پخپله دمقابل لوري دغړوله خواووژل سي اودښمني دډېروکلونوله پاره پسې اوږده سي .

دخلکودغچ اخیستونکي کرکتردتشریح له پاره به زه د یو چا کیسه وکړم چي بل څوك یې وژلی اوخپل کوریاکلاته ، چي دوی یې په همدې نامه یادوي، تښتېدلی و. اصلا هرکوریوکلك مورچل وي. نوموړی په دغه ځای کي دېرش کاله بې له دې ، چي پښه دي یې ترکوردباندي ایستلې وي ، واوسېدی ، په پای کي یوه ورځ په دې فکر، چي اوس به یې نوددښمن ځارنه نوره ختمه سوې وي ، له کوره ووت .خوکورته یې بیرته مړی راوړ. دهغه سړي دخپلوانوچي ده وژلی و ،دغچ اخیستنې ورځیه اوځارنه ویده سوې نه وه . ویل کیږي، چي کسات خوړدئ، خودې خلکوته یې شیریني ببخي زیاته ده .

دخلکوپه منځ کي یوقانون سته چي که یوڅوك دمقاماتوله خوادقتل له امله نیول سوی وي، دمقتول له خپلوانوڅخه یې که دوی وغواړي ، د بخښنې غوښتنه کېدلای سي. خپلوان یې بنایي دخون بها یوځه پیسې دتاوان په توګه ومني یاېنایي په یوډول چي ددوی خوښه وي ، ویې وژني . کله کله دخپلوانو په

منځ کي د هغو پيسو پر سرچنې وهل، چي قاتل يا د هغه دوستان يې بايد ورکړي
ان د دار ترتمبې پوري دوام کوي . ځيني د پيسو اخستلو پلوي وي او ځيني نور د
وژلو پرخواوي. محکوم په داسي حال کي چي رسی يې په غاړه کي وي اوښايي
له يو ساعت مناقشې وروسته فيصله پردې وسيږ چي بايد مړ سي ، په دغه وخت
کي رسی ټينګيږي اوسړی کشيږي. د دغسي حالاتو د شخړي په دوران کي
بايد د محکوم سړي احساس د زړه سوي وړ وي .

بله کيسه چي د خلکو د کسات اخيستني روحيه نوره هم روښانه کوي داوه ،
چي سړي يو هلك وژلی او د مقتول خپلوانو ته يې د بخښلو له پاره ورتسليم کړی و.
د هلك مورد هغو کسانو مخه ونيوله چي د خونبها پيسو پلويان وو او ټينګاريې
وکړچي د سړي غاړه دي د دې د زوی په شان پرې سي . دې داکاروکړ او د خپل
انتقام په هيجان کي يې هغه وينې په ريښتيا و څښلې چي د سړي له غاړي
بهېدلې .

د خلکو ساتېري ګاني ډېري بسيطي دي او که څوك دوی ونه پېژني، د خورا
ساده ګانو خيال به پرو کړي. د مثال په توګه وختي ماښام چي کاربشپړ سي، خلك
په ډوبي کي په عمومي باغو کي راغونډيږي . د لته د ګلانو ګلداني اينښوول سوي
وي ، هره ګلداني يوازي يوراز ګلان لري. خلك له خنانو سره په قفسو کي
د رېزمرغان راوړي او د ګلداني په رشا وخوا د تياري خپرېدلو ترو ختـه کښېني
د ګلانو ورمونه او د ساړه ماښام له سوړوالي څخه خوند اخلي . دوی هلته ارام
ناست وي اوزياتره پـټـه خولـه وي ان تـردې چـي پـه بـاغ کـي
د تلونکو راتلونکو د پښو کړپالاهم نه اورېدل کيږي . د باغ په يوه ياد وو کونجو کي
چای پلورونکي ( سماوارچيان ـ م . هـ ) وي چي څوتنه شاوخواورته پردوو ګوتو
ناست وي . په بې لاستو پيالو کي چای چښي اويو آن بل آن چلم څکوي.

د جمعې ( د مسلمانانو يکشنبې ) اود رخصتيو په ورځو کي خلك پرخرو يا
اسانو باندي شاوخوا باغو ته په چکروزي چي زياتره دوه تنه او کله لادرې تنه
پريوه څاروي سپاره وي . خواره او د بګونه ورسره اخلي اوهلته ترغرمې پوري
خوښ خوشاله د باغو د ګلانو په منځ کي چکرونه وهي . بيانو خواړه پخوي
اوترخورك وروسته څنګونه اچوي او ګپ شپ کوي ، يا تــــرماښينه يوه سترګه

خوب کوي . مازیکرخپلي توري (کالي مالي) راغونډوي اومخ . پرکوررونورروانیږي اوددوی په ویناوایی چي دېره ښه ورځ موتېره کړه . په دې ډول دوی په لړځه راضي کېږي . دوی ته چي تازه هوا ، پېتاوی، ګلان ، وابنه یادرختي ورسیږي اودکارووظیفې اندېښنه ورسره نه وي ، یوځه خوراك وڅښاك هم برابر وي، دانودمزې اوتماشا هغه ورځ وي چي کیسې یې یواوبل ته کیږي اودبلي دغه رازموقع هیله په زړه کي لري.

چي دساتیري نوري وسیلې ونه مومي، دکوردبام پرسریاپه یوه بل ګوښه اوارام ځای کي زیاتره دوني ترسیوري لاندي سره

راغونډیږي اویوېکې رباب (۸) وهي اودمیني ومحبت فارسي سندري وایی. رباب دمندولین (Madoline) په شان دسازیوه آله ده . په پنځوشپږووتنوکي معمولا یوتن سندري وېلای سي .ددوی دسندرورغ له یوځه لیري ځخه ښه لګیږي ځو پرنزدې ناستوخلکودپېزي لحن په زړه پوري اغېزه نه کوي . دلړزوونکواوجګواوازونودراایستولو په وخت کي دخولې اومخ سره کړول او سره پېچل دېرجالب ښکاري اوددوی دتماشااووقفې ته دانتظارپه خاطرسندره ببخي هېره سي .البته داحالت ژرتېرېدونکی وي . دوی دسازنورتاري آلات هم لري، چي په شکل بنجو (Banjo) ته ورته دي خوپولوته "رباب" وایی. ددوی موزیك زموړله هغې سره لړځه توپیر لري البته توپیرېې دېبلابیلوطرزوپه کمپوزکي نه دئ بلکي دځلورو، پنځویاشپږو تالونوپه شته والي کي دئ، چي بیابیاتکراریږي . داړغونه دېریکنواخته ښکاري اویوځه وخت غواړي چي ځوك ورسره عادي سي . وروسته بیاددوبې په مازیګرکي درباب ږغ دېرخوندوراوزړه راکښوونکی وي . په تېره بیاکه ځوك دمابنام ترډوډۍ وروسته په یوه آرامه چوکۍ کي استراحت وي اوسګریټ هم دودوي . خوکه ځوك بیاپه لیکنه، حساب وکتاب اویاله دغه قسم ځخه په نورومصروفیتونو بوخت وي، نودغه یکنواخت ږغ دېر ستومانوونکي لګیږي اوسړي ته یې په هره بیه دبندولوارادہ وریپداکیږي آن ترد‌ې، چي وایي دتوپك ډزمي پرکړی وای.

خلك دنوروختیځ والوپه شان سپورټ اوتمرین ته دساتیري په سترګه نه ګوري اوهمدغه علت دئ ، چي د خوښی او تفریح د یوې وسیلې په توګه درقص

اونڅاعادت نلري اوددغه کارله پاره خانګړي روزل سوي نڅاګري نجوني لري. دنڅاګرونجونوخدمات يوازي په جشنونو، ودونواودشتمنوخلکوله خواد دشهزاده ګانواونورولوړرتبه کسانوپه مېلمستياووکي مطرح وي.

له نڅاګرونجونوسره سازيان ملګري اوېوه ارکستراېي جوړه کړي وي . دسازېه سامانوکي يوراز ډول هرومرووي چي په لاس اوګوتوو وهل کيږي، نه ډول په لرګيو(۹). دنڅاګرونجونوژوندله کړاوه ډك وي خکه نڅا ستومانه تمرين دئ. نڅاګره ښه پوره اندازه خولې توېوي اودنجلۍ جامې ډېري نازکي خوشېې ان په دوبي کي لاسرې وي . دروازې اوکړکۍ ټولي خلاصي وي، په نتيجه کي نڅاګره زکام سي ، تبه يې ونيسي اوناروغي پسې اوږده سي .خوهروخت چي نڅاته وروغوښتل سي، بايدخپله مسلکي دنده سرته ورسوي . نودادحيرانتياخبره نه ده ، چي دغه نجوني زياتره په نري رنځ (Consumption) مري. دکابل نڅاګري نـجـونــي هـنـدوسـتـانـي اودپـېـښـوراودهـلـي دسـيـمـودي. خـيـنـي يـې بياد پخوانيونڅاګرواودسيمه ييزونارينه وو زوزات دي. که څه هم دشرقي نڅاګرونجونودشاعرانه حرکاتوپه باب ډېرڅه ويل سوي دي اومادهندوستان په بېلابېلو سيموکي ډېري زياتي ليدلي هم دي، دنڅاپه وخت کي ددوی حرکتونه اونزاکت دډېري خپرني اوپاملرني وړدئ اوان تر ټولوښه لاهم. ترکومه خايه، چي ماليدلي دي، زموږدخپلوباليټ نڅاګرو (ballet-dancers) سره دحرکاتوپه نزاکت کي پرتله کېدلای نه سي .

دغرنيوافغاني قبيلو(۱۰) په منځ کي، لکه خدراڼ اونور.دتورو نڅا دود ده . نژدې پنخوس تنه پريوه دايره سره راغونډيږي چي څلورپنځه تنه يې په مرکزکي ډولونه، تمبوروونه اونورتاري وسايل ږغوي . دنڅاپه پيل کي خلك دداېري دمرکزپرلورمخ ته ټوپ راوهي اوبيرته شاته څي . خپلي توري اوچړې پرسرونوباندي څلوي اوله موزيك سره سم په ټيټ آوازسندري وايي خورورو- وروموزيك، سندري اونڅالوړيږي اوچټکيږي، بګړۍ اوکمربندونه ددې له پاره غورځول کيږي چي په حرکاتوکي زياته آزادي ولري.توري په ډېرچټکۍ سره څلوي ان تردې چي په پای کي خلك ببخي هيجاني ښکاري اونڅاپه يولړوحشي ټوپونوبدله سي. توري هـــــواته غورځوي اوبيرته يې نيسي اوسندري دوحشي

چیغوبه یوه کورس بدلي سي. کله چي نڅا خپلي هیجاني ټکي ته ورسیږي ، ناڅاپه بندیږي اووروسته نودنڅاګرودلاسودیږکولوپه لوړآوازسره پای ته رسیږي.

دوی یوه بله وحشي نڅاهم لري چي دیوه طلسم پرشاوخوابانديدعبادت کوونکومذهبي دودته ورته ده . دوه یادرېي تنه له ډولونو سره یوځای کښېني او نڅاګر په یوه پراخه دایره کي پراغونډیږي. دخلکومخونه یوبل ته مخامخ وي . کله چي ډول شروع سي دوی وړاندي راټوپ وهي اودلږوخت دپاره دریږي او وروسته بیاپردابله ږښه مخي ته ټوپ وهي اوپه دي ډول دوام کوي، خودهرټوپ په جریان کي دېښې له هرواړوړاندي کولوسره مغ ښی خوایاکیڼ لوړته په شدت سره اړوي اوخپلوبدنونوته په دغه ناڅاپي څرخ سره خپلي بګړی اوخولی په هماغه لومړیو قدموکي هواته غورځوي . لږڅه وروسته چي نڅاتوده سي، دوی دهرټوپ سره یوبشپړ څرخ خوري اوځومره چي نڅادوام کوي ، هغومره نڅاګرزیات انرژي اخلي، تردي اندازې چي له اوروسره برابراوړده غچي سوي وربښتان یې دمپ (Map) (۱۱) په شان شخ دریږي . خلك په عین وخت کي دلاس موټي هم ارتوي اوکله چي دوی په ډېري چټکی اوشدت سره تاویږي،ډول ورسره سم چټکیږي او بې اندازې ښه تماشه جوړوي.

په ځینوخلکوپه تېره بیاعسکروکي دلرګیوپه توروباندي شمشېربازی رواج لري. دلرګیوتوري انګرېزي تورو ته ورته دي اوژورشاني موټي لري .شمشېربازان دڅرمني کوچني ګردي سپرونه هم لري چي په کیڼ لاس نیول کیږي اولکه په لویو سپرونوکي چي معمول دئ ،دبازویوه برخه نه پټوي . ځیني کسان په دغه تمرین کي ډېرمهارت لري خوپه توروباندي لږ مدافعه کوي اوزیاتره واري په سپراګرزوي اوله دي امله ډېرچټك تاودبدلوته اړتیاسته. دوی دغه رازپرپښوباندي واري په شاته غورځېدو سره مدافعه کوي اوپرسرباندي له واروڅخه بیا خان په ټیټولوسره ژغوري.

هرکال دپسرلي په پای کي «جوبه» جوړیږي . په«جوبه» کي رازرازلوبي کیږي اوځای یې داسمایي غونډیوپه لمنوکي په یوه هوارمیدان کي وي. (۱۲) دغه میدان دښارپه جنوب لویدیځ کي پروت دئ . دلته دوی دآس مسابقې لري خودامسابقې ددوو تنوترمنځ وي اونه غواړي، چي ځوډېرښه اسونه دیوې بشپړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دورې له پاره پکې برخه واخلي. دغونډيو په لمنوکې دخړواوناوکيو (نانخکو) غرفې درول شوې وي. دغې درې ورځنۍ مېلې ته ټول کابل (کابليان) اوماشومان راوزي . په دغوورځوکې خلك ډېرې ښې جامې اغوندي اوپه تېره بياماشومان په خپلورنګه واسکټونواوخولیوډېرخوشاله وي. د ماشومانو ناوکي (نانخکي) ډېرې عجيبې ښکارې. له زړوټوکرانوڅخه يې جوړې کړې اوافغاني جامې يې په اغوستې وي. دنراوښځې دواړوڅرګندونه کوي خودماشومانودا، نه کوي . اوځيني يې دشيطان څېره څرګندوي . دمېلې په يوه څنډه کې ووړوکي ځرخونه (چخېلك) دلرګيوشپېلۍ اونوروډول ډول شيان موندل کيږي، چې دماشومانودخوښې ووړنګونه يې ورکړي وي.

دغه رازپررسۍ باندې دتګ ترکستانۍ لوبې هم کيږي . لوبغاړي يې په زړه پورې رنګه جامې اغوستې وي . ددې لوبې له پاره يې دوې اوږدې پايې درولې وي اويوسروبل سرېې په رسۍ سره وصل سوی وي. رسۍ اوپايې دواړې ډېرې کلکې اومظبو ې وي چې لوبغاړي وربا ندې دپاسه تګ وکولای سي.

په جوېه کې دغه رازدښاردغټوپهلوانانوترمنځ غېږ (کشتي) هم ايستل کيږي.دغېږ ايستلولوبه معمولا داميراوشاهزاده ګانوپه وړاندې کيږي . دهغوی له پاره يې دغونډيوپه لمن کې خېمې درولې وي .اميردلوبې ګټونکوته دپيسوجايزې ورکوي . له غېږايستلوسره ټول خلك دزړه له کومې مينه لري اودمسابقې بايلونکي ته خپله ماته کله کله دومره درنه تمامه سي چې په ټول عمرله غېږايستلوڅخه لاس واخلي (توبه وکاږي) . ځيني خويې لادومره زړه ماتي سي چې په انتحار (خان وژلو) لاس پورې کړي.

داسونوپه مسابقه کې د برخه والوسپرليوله پاره لازخالي نه وي اوسپرلي مجبوردي چې دخلکواونورواسونواوخروپه منځ کې څومره چې کولای سي خپله خان يوې خوااوبلې خواته کړي اولارپکښې وکړي. زياتره خوسپرې اواس ته دزړه دوك ورواچوي په تېره بياکله چې غواړې دخروپه منځ کې لارومومي خکه خره چې پورې نه وهې ترهغوله لارې نه ګوښه کيږي . يووخت دووتنودميدان له دوو مخالفوڅنډوڅخه دآس دسپرلي مسابقه درلوده اودميدان په منځ کې چې سره مخامخ سول يوبل ته يې نه غوښتل لارورکړي ، آخرسره ټکرسول اوپه نتيجه کې

يوسړی اوآس يې ځای پرځای مړه سول اوبل يې په داسې ډول مړسو.

نکلچيان دخلکو دپرځوښيري او ښه نکلچي ډاډه وي، چې د اوريدونکو او ننداريانو پاملرنه خان ته اړولای سي. د بازارنکلچيانو دعام سړك په کنډه گوښه کي خان ته ځای جوړکړی اوکيسې وايي. په لرغونې وخت کي زيات شميرخلك پړاتول سي دی دکيسې په منځ کي په مزه مزه چای چښي، په داسې حال کي چي پلي اوسواره ،چي غواړي له لاري څخه تيرسي ، په تکليف سره لارمومي اوخلك بايدتيله کړي. خولاروبان نکلچي ته هيڅ هم نه وايي او نه غواړي دپښتوانيو وختونو د پيريانيانو، شاپيريانواوشيطانانوپه منځ کي دشهزاده ياشهزادگی دماجراوو دبيان خندوگرزي.نکلچيان داميراودهغه دشهزادگانواونورو معتبرينو په ډله کي هم وي. په حقيقت کي خوداميرتول ملگري اوسرکاري کسان په يوډول نه بل ډول نکلچيان دي، خودغه نکلچيان چې پورته مي اشاره ورته وکړه ، مخصوص خلك دي اودهغوی وظيفه داوي چي خپلوآمرينواوبادارانوته کله چي هغوی په شپه کي بيديږي ، نکلونه ووايي. هغوی په بسترکي پراته وي اونکلچي ترهغه وخته نکلونه ورته وايي ، چي په خوب کښيوزي .

په کابل کي چي څوك دشپې ډوډی ته دعوت سي، معناي داده چي شپه به هم دکوربه په کورکي تيروي . په دغه رازمېلمستياوکي، کله چي ډوډۍ وخوړله سي، مېلمانه پرکوربه راغونډ سي ، پرغاليواونياليوباندي يې په داسي حال څنگونه اچولي ياغزيدلي وي چي چلمونه څکوي اوهريوپه خپل وارسره يوه کيسه وايي. دکبسوله اوريدوسره دومره زياته مينه سته چي هغوی زياتره ترنيمي شپې پوري ويښ ناست وي اوکيسوته يې غوږنيولی وي اوپه دا سبا کار ته آماده نه وي.

هلکان اوماشومان دانگريزي ماشومانوپه شان ساتيری کوي. په هلکانوکي عامه لوبه" توپ بازي" ده چي په لرگي اوتوپ سره تر سره کيږي داولوبه ترډيري اندازې (Rouders) ته ورته ده . دوی غيږي هم باسي اودلرگيوغشي هم ولي چي زياتره پکښې ماهروي . خيني غټ هلکان دختيوپه گوليوباندي چي د يوه اوږده نل له منځه وارکيږي(۱۳) چوغکي اوکوچني مرغان ولي. ددې له پاره چي مرغان خانونوته رانژدې کړي، تردرختولاندي درېږي اودچوغکو يورازږغونه

ترخولې راباسي . په دې ډول چوغکي ورته رانژدې کيږي اوله لاندي څخه واري پرکيږي.

وړوکي ماشومان په پنډوسکي (ګيند) ، بجلو، مردکواوجوز (غوزانو) لوبي کوي. په جوزباندي د مردکوپه شان لوبي کوي اويوه ټاکلي اندازه جوزپه منځ کي ږدي . هرچاچي لوبه وګټله، جوز دهغه مال سي

ډېري وړوکي نجوني په کوځوکي ليدل کيږي خوچي اته کلني سوې، نور نو دوی په "پرده" کي سي اوله خپلوانوپرته يې بايدبل نارينه ونه ويني . دوی دکورپه بنځمنوکي شامليږي اوله "برقع" يانخي چادري پرته بهروتلای نه سي په چادري باندي له سرڅخه ترنوکه پوري پټه وي اودسترګوله پاره يې يوسوري سوري ټوټه ورکړې وي، چي لارپه وليدلای سي. وړوکي نجونې کله کله دکورپربامونوليدل کيږي چي Ring of roses ته ورته لوبي کوي ياپه ناوکيو (نانځکو) سات تېروي ، ياېې خاننه دلوبوکور يا دوکان يا بل هغه شي جوړکړي وي ، چي ددوې له جنس سره مناسب وي . ددوی ډېره لوبه ارزوداده چي انګريزي ناوکی (نانځکه) چي انګريزي جامې يې په تن وي، ولري . څکه ددوی ناوکياني له زړوګودړانوڅخه جوړي سوي وي اوددوی په شان يې زړې ګودړی په اغوستي وي.

# د پنځم څپرکي لمنليکونه

( ۱ ) دلته مولف د Leech Wives اصطلاح راوړې ده . مطلب یې هغه ښځې دي ، چې "ژورې" ورسره وي . ژوره ( Leech ) چې په پارسي یې « زالو » بولي . یو راز چنجی دئ . دناروغ تنې ته یې دنواوزوب دزیښنلوله پاره وراچوي . ( م.ه )

( ۲ ) مولف دلته « مرجنې » د بوټونو په نامه بللي دي . مرجنه یا پنه ، چې په پارسي یې « پیزار » بولي ، له څرمنې څخه جوړیږي . په جوړولو کې یې مبخ نه کاروي ، بلکې په غښتلي سڼسي یې ګنډي . « چاراشه » او « دوبیلی » یې دانواعو نومونه دي . په کندهار کې دمرجندوزۍ صنعت پخوانی سابقه لري . دملتان مرجنې ډېرې ظریفې او قیمتي دي ( م.ه )

( ۳ ) افغانان په ودونو کې شرعي حد ( څلورښځې ) مراعاتوي . ښاري نارینه زیاتره په یوه واده اکتفاه کوي - خوخانان اوسرداران له دې امره مستثنی دي اوترڅلوروزیاتې ښځې هم کوي اوشرعي حیله ورته برابروي ( م.ه )

(۴) داتیوري اوس دعلمي څیړنوپربنیادیوه مردوده تیوري ده . افغانان په مجموع کي اریایان دي.(م.ه)

(۵) دادفرانك مارتین خپل برداشت دئ. واقیعت داسي نه دئ (م.ه)

( ۶ ) له کافرانو څخه دمولف مراد نورستانیان دي . نورستان چي پخواني نوم یې کافرستان و . په ۱۸۹۵ م کال ( ۱۳۱۳ ق ) دامیر عبدالرحمان خان په فرمان دسپه سالار غلام حیدر خان لخوا فتحه او اوسېدونکي یې داسلام په مقدس دین مشرف سول (م.ه)

(۷) دلته له بنوونځیوڅخه مرادجوماتونه اومدرسي دي .

(۸) په متن کي(Rubarb)راغلی دئ چي دمولف ناسمه اوربدنه څرګندوني .

(۹) له دغوآلاتوڅخه دمولف مرادطبله یازېربغلي ده.

(۱۰) مولف په دغسي مواردوکي د(Wild Afghan Tribes)ترکیب راوړي چي ماد "غرنیوافغاني قبیلو" زیاره ورته مناسبه ویلله .

( ۱۱ ) یورازجاروته ورته آله ده چي له سپنسیوڅخه جوړه سوي اودخونوغولي په پاکیږي.

( ۱۲ ) ما ( هوتك ) اوربدلي دي . چي جوبه دسیاسنګ په شاوخوا کي هم جوړېده .

( ۱۳ ) دغي آلي ته دکندهار پښتانه پوك یا پوپکه وايي ( م.ه )

# شپږم څپرکی

## دودونه او رواجونه

### (ادامه)

خرافات. شاپیرۍ اوپیریانیان . یوه نادره افسانه. فالبینان . داقلیم بدلولو له پاره دکورپریامونو باندې دماشومانو سندریزه دوعا. بېلابېل خواړه اودتمباکواستعمال . دامیرلوی طبیب. نصوار. په ژمي کي دتودولوطریقه. وخت څه رازتېرېږي؟ . دېېلاېېلوطبقو ودونه . جنازې .

داخلك ډېرخرافاتي دي اوپررويو، ارواوو، شاپېريواو پېريانيانو باندي کلکه عقيده لري. زياتره نکلونه يې ( ددوی خبره ) دهمدغو بنو اوبدو ارواوو په باب دي . پردغوکيسوباندي زيات باورلري ان تردې چي نارينه لادشپې لخوا يوازي کوم ځای ته ځي، احتياط کوي. که يوسړی دشپې له خوا په يکړسر (يوازی) روان وي، عموما به يې لوړېږغ واوري بيا به يې ويني . ځکه دتگ په وخت بنه په لوړاواز سندري وايي ياپه خوله شپېلکی کوي.

زه چي کله په مهمانخانه کي اوسېدلم، يوه شپه ناوخته ځای ته راغلم ځکه له اميرسره مي ځوساعته تېرکړي وو . کله چي له دروازې څخه کورته راتلم ومي ليدل چي يومهتر (دآسونو روزونکی ) له سرای څخه زماخواته راروان دئ اوغيرعادي ږغونه اوشپېلکی له خولې باسي . زه چي يې وليدلم، شپېلکی يې بندکړ. زه په تعجب کي وم، چي ولي يې دعادت پرخلاف شپېلکی کاوه خوچي خوني (کوټې) ته راغلم په علت يې پوه سوم، چي داکاريې ديوه عصبي شاك(ېېري) له امله کاوه اوراته څرگنده سوه، چي زمايوه هندوستاني نوکرپه ټوکو کي مغ توږکړی يايې خپل‌طبيعي رنگ يې زيات تورکړی و ، شونډوته يې سپين رنگ ورکړی ، پرسترگو يې هم دسپين رنگ کړی کښلي وې . دوې پوستينچې (۱) يې پرچپه مخ اړولي وې داسي چي دپوستکي ببره خوايې برسېره سوي وي، لاسونه يې ديوې اوبښي يې دبلي پوستينچې په لستونو منډلي وو او د پوستينچې تنی يې کلکي پرملاباندي غوټه کړي وې. د پسه د

پوست ببره خولی يې پرسر کړې وه . ده وروسته ماته هماغه شان جامه واغوسته چې په زړه پوري نه ښکارېدله . زما دکوټو ددهلېز په دروازه کې داووتنو محافظ گارډخای پرخاى و، هندوستانې نوکرپه داسې حال کې چې پرلاسو اوزنگنو يې تک کاوه، ددغه گارډ خواته ډېرنږدې ورغلی و اوپه ډېرلوړاواز يې ورباندې رمباړې وهلې وې. سرې په دې فکر،چې واقعې پېرى ورته راغلی دئ، خپل توپك وغورځاوه اوپوستينچه وال دگارډ دخونو اوبهرنۍ دروازې پرلورپه منډه ولاړ. له ساتونکو څخه يوتن په دغه حال کې چې نورپه تېښته کې وو، بيده و اوکله چې دنورو په غالمغال راويښ سو، راپاڅېد، سترگې يې بلا (پېريان) ته موښلې اوچې سدېې په ورسېد، دی هم په منډه سو. پېرى وروسته دبرنډې په څنگ کې يوې بلې کوچنۍ کوټې ته ولاړ. داکوټه دچايدارانو وه (هغه کسان چې چاى برابروي) . چايدارېوازې پخپلو چوړتونو کې ډوب پريوه ووکې ټغرناست او کړکۍ ته يې څنگ لگولی و (ډډه يې وهلې وه) . کله چې دغه بلا ددروازې له لارې ورته راننوته ، بې له دې چې په خوربېدويا ټېپې کېدوکې دې رهې ووهې ، خان يې له کړکۍ څخه لاندې وغورځاوه اوله خونې څخه سملاسې و.ت. نورخلك چې له دغې بلا سره مخامخ سول، داميرنوکران وو، چې دخدمت له پاره ټاکل سوې وو اوتل به زما دناستې په کوټه کې تيارحاضروو. کله چې يې دغه بلا په يوه دروازه کې په سترگه سوه ، دوى په منده تربلې دروازې په تېښته سوه اوپه تېښته کې يې مېزونه اوچوکۍ ټولې سره گډوډې کړې وې . بلاپه بله کوټه کې له نورونوکرانو سره مخامخ سوې اوبيا نوترى تم سوې وه . وروسته ټول نوکران سره راغونډ سول اوخپل تاثرات اوليدلی حال يې سره بيا ناوه . په دغه حال کې زه هم ورورسېدم اوټوله کيسه يې راته بيان کړه . ډارېدلې کسان ډېرخجالت اوشرمېدلې و اوهريوه غوښتل ثابته کړي، چې دی په تېښته کې لومړی تن نه و. دی څکه وتښتېدچې نورپه تېښته کې سول . په هرصورت دېېرې اوډار اغېزه ان پخپله پربلا (هندوستانې نوکر ) لاهم دومره وه ، چې څوشپې پرله پسې په تنهايی سره بهرته نه ووت اوان په يکړ سردباغ په هابل سرکې خپلې کوټې ته نه تلی .

په عمومې توگه داسې تصورموجودو، چې شاپېرى په شاوخـــــــواغرونوکې

د مولف په کورکي دافغاني ساتونکو او نوکرانوډله ـ پخلنځی يې شاته دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسي. سره له دې چي ددوی په عقيده شاپېرۍ په مجموع کي بې ازاره وي، خو خلکو دشاپېريو له استوګنځايو څخه ځان ليري ساته . شاپېرۍ داسي ښوول کېدي چي له دوولس څخه تر اتلسو انچو پوري يې قدونه دي، ډېري ښکلي جامې اغوندي اوشانه ورانه پخپلي مشري پسې وي . دتګ په وخت کي نڅاوي کوي . خلکو باوردرلود، چي شاپېرۍ له انسانانو څخه ډارېږي اوځانونه څني پټوي . يوازې يې هغه کسان ليدلای سي، چي له لاري څخه په ګوښه ځايونو کي بيده يا پټ وي . ويل کېده چي شاپېرۍ په ماشومانو کارنه لري خودا عاقلانه نه ده چي ماشوم دي دشاپېريو استوګنځايو ته پرېښوول سي ځکه هغوی به يې ترخپل افسون (جادو ) لاندي راولي اوښايي دغلاسوي ماشوم مخ اوښه دخپلو ماشومانو په شکل ور واړوي ، چي داکاربيا دماشوم موروپلار ته دبدي طالع (نحسيت ) سبب کيږي.

په ماوراالطبيعه موجوداتو کي چي خلك ډېرځني بېرېږي اودټولونه توضيح کېدونکو پېښو پړه پرهغه باندي اچوي ، يوهم شيطان دئ. شيطانان هغه ارواوي دي، چي دهغوکسانو دډارونکو يامبالغه آمېزه بيانونو له مخي چي فکرکوي شيطان يې ليدلی دئ . په بېلابېلو څېروځرګندېږي . ددوی په فکرشيطانان ترلمرلوېدووروسته دهريوټي ياګاري ترشاپټ وي . دوی په دې باورهم دي، چي شيطانان په شپه کي دانسانانو دډارولو اودخپلو بدشکله څېرو دښوولو له امله دهغوی دخوب خونو ته هم ورځي . همدغه علت دئ چي خلك دخوب پروخت سراوټول بدن په تلتك يا روجايي کي پيچي . دوی په خونه کي يوازې نه بيديږي . هرومروبه څوتنه يوځای وي اوکله چي به مي ورته وويل زموږ په هيوادکي هرڅوك دخوب جلاکوټه لري اوکه ممکنه سي، ماشومان لاهم دشپې په جلاکوټه کي يوازې بيدوي ،زياتره به هك پك راته پاته سول . دوی وايي چي په جلا کوټه کي يوازې دشيطان له بېري څخه نه څملي ، ځکه ... ځوك ساتي ، بلکی وايي چي په موږکي دتنهابيدېدلو رواج نسته اودا عاقلانه هم نه ده ، ځکه که په شپه کي څوك يوازې بيده وي ښايي روې دي ورته راسي . زمايوه نوکر يوسهارپه ډېريقين سره راته وويل چي برايي شپه يې چارپايي (کټ ) له مخکي پورته اوله ده سره يوځای په هواخرېدله . تـردې اندازې، چي

په پای کي ورسره سربداله سو اوپه همدې وخت کي يې ډېرعجيب وغريب رغونه اورېدل . کله چي ماورځخه نوري پوښتني وکړې ، راته يې وويل، چي ده ستركي پټې نيولي وې اونورځه يې ونه ليدل . شك نه وچي ده خپل سرپه تلتك كي پېچلى و. په هرصورت ، ده دبلې کوټې غوښتنه وکړه اوپه هماغه کوټه کي يې له بياالستوګني څخه نټه وکړه . داراته څرګنده نسوه چي ده ته نورو نوکرانو د ساتېري په مقصد داچل جوړکړى و اوکه دهاضمې دخرابوالي حمله پرراغلې وه اودغه تکليف يې ورته پېښ کړى و . له هغه کوټې څخه چي دى پکښې بيده و، وروسته دنورو نوکرانو له خوادګدام کاراخيستل کېدى . هغه نوم چي دې کوټې ګټلى و، ددې سبب سوچي نورنوکران پکښې له بېدېدلو څخه ډډه وکړي .

بل وخت دشپې له خوازما ددفتردکوټې دچت ټوکرراشيوه سوى و. دايوه عادي پېښه وه خکه هغه خاوره چي دختو له بام څخه دچت پرمسطح ټوکر راتوييږي ، څه موده وروسته دومره وزن پيداکړي، چي دټوکره يوسرياېل سر، ژرياپه خنډ راخطاسي اوټوكړمخکي ته راولوېږي. اوکله چي زه دخرابى دكتلو له پاره ورغلم ، خلکو راته وويل چي داېبله شکه دشيطان کاردئ خکه په تړلو کړکيو اوقلف دروازه کي داکاربېله شيطانه بل څوك کولاى سي؟ ددغه رازمنطق په مقابل کي دلايل ويل بې فايدې وه.

دشيطان په باب يوافغان يوه بله کيسه هم راته وکړه اوهغه داسي چي يومابنام له ملګرو سره تربانډاروروسته کورته راروان و. کورته دتګ لارېې په هديره کي تېره سوې وه (دلته هديرې دانګلستان په شان دېوالونه نه لري ) دشپې ناوخته و چي دى قبرونو ته ورسېد. په هديره کي ديوازې تګ تصورېې غېږي وتښتول خوبياېې هم تګ ته دوام ورکړ. کله چي قبرونو ته ورنزدې سو، ويې ليدل، چي مخې ته يې له مخکې څخه كوچنى لمبې راپورته سي اوبيرته ورکي سي . دې پېښې سخت وبېراوه اوګامونه يې چټك کړل چي ژرترقبرونو ووزي . خوچي ګوري ،مخې ته يې لو اشا (۲) ودرېده. دبل انسان په ليدوسره دده ژبه بنده سوه اوکله چي ورنزدې سو، ګوري چي دسړي سرپه شال کي پېچلى دي( ديخنې په موسم کي دشپې له خواعموما شال پرسراچول کېږي ) اوستركي يې دستورويه شان خليږي. هرڅومره چي و اشاته ورنژدې کېږي په هماغه اندازه

هغه جګبېږي ترڅوچي ډده ترسراوړي اوتری تم کيږي . دی مخ څني رااړوي اوشاته په منډه ځغلي خوهغه کورچي دی څني راوتلی و دپيښي له ځای څخه دده ترکورډېرليري و، څکه نوده له خانه سره وپتيله چي بيرته پرهديره ورغبرګ سي. کله چي هديري ته رسيږي بيا هماغه اشا پرپيښيږي خوداځل ډېره عصباني وه . ده وغوښتل څني راوګرزي چي په دغه وخت کي بيهوښه کيږي اوترسهاره پوري بياپرهوښ نه راځي . سهارګوري چي هديري ته بيخي ورځرمه پرلارپروت دئ . په دې ډول دی وژغورل سو.

يوبل افغان راته ووېل چي يوه شپه دی په ګندمك(۳) کي په يوه سرای کي بيده و اوبېله دې چي دوېښېدلوبه علت دې پوه سي، له خوبه راوېښ سو اوپرځای کښېنوست . په دغه وخت کي دهغی کوټې يودېوال چي دی پکښې و، له مخه ليري سواوددېوال ترشاده وليدل چي دګوره والاوو (انګرېزي عسکرو ) يوه ټولی راروانه ده . دعسکروهيڅ ږغ ورږغ وکړپ وکړوپ نه و اومخونه يې دسپورمۍ په شان تك سپين او هيبتناکه ښکارېدل. داسړی هم دده په قول ترسهاره پوره بېهوښه و.

خلك دسفنج په باب عجيبه وغريبه افسانه لري . دوی وايي چي انګرېزانو لويي خاورېني مرتباني واخيستلې اودغرو په لوړو څوکو کي يې کښېښولې . شاوخوا يې ډېري پرراوګرزولي اومرتباني يې داسي پټي کړې، چي يوازي خولې يې ښکارېدلې . وروسته نودوی(انګرېزانو ) دغټوکاروترشاخانونه پټ کړل اوتر هغو ورته پټ ناست وو، چي اوريځي دغروسرونو ته راورسېدلې او ورو ورو مرتبانوته ورشيوه سوې . کله چي داوريځي يوه کوچنی ټوټه مرتباني ته دننه سوه له خلکو څخه يوتن ورو ورو وخوځېد اوژر يې دمرتباني سر په سرپوښ پټ کړ. مرتباني يې د درو ورځو له پاره هماغسي سرپټي پرېښوولې اوپه دغه کي اوريځ مړه سوه . کله چي يې مرتباني ماتي کړې ، وريځي يې ټوټې ټوټې څني راواخيستلې اوبازارته يې داسفنج په توګه خرڅلاوته وړاندي کړې. «سفنج» او«اوريځي» فارسي نوم يوراز دئ اوشايد هماغه دافساني دمنځ ته راتګ عامل وي(۴)

دخلکوپه منځ کي د فال کتونکو (Astrologers ) بازارښه تود دئ . ديوه

سفرياكوم بل نوى كاردپيلامې له پاره دبختوري ورځې دښوولو په باب ددوى پرېشګويي باندي كلكه عقيده ستـه .اميراودشاهي كورنۍ غړي هريوځانته فال كتونكي لري چي دهري مهمي چاري دپيل كولو له پاره دبختوري ورځي په باب مشوره وركوي اوپرځنګ يې دراتلونكو پېښو اټكل هم ورته كوي. خوددوى پېشګويي تركومه ځايه چي مااوربدلي دي، مبهمي اوناځرګندي غوندي دي . البته دوى داميردراتلونكو پېښو حالاتو دلوستلو لازم مهارت لري . فال كتونكي دخوبونو تعبير هم كوي ځكه خوبونو ته دخبرداري وركولو دعلايمو اودخلكو دلاربښونو په سترګه كتل كيږي . داچي اميرترځلوروښځوزياتي چي قرآن اجازه وركړې ده، نوري ټولي ښځي طلاقي كړې، دهمدغه شان يوه خوب نتيجه وه . حتمي نه ده چي دراتلونكو حالاتو دپېشګويي كولو له امله دي هرڅوك هرومرو عزت اوثروت ته ورسيږي . ماد هيواد ديوې ليري سيمي درې تنه وليدل، چي پريوه ټاكلي نېټه باندي يې په هيواد كي ديوې ستري فاجعې پېشګويي كوله اودهمدې له پاره څومياشتي وړاندي داميرحضورته راوستل سوي وو . داميرحالت چي ټل پريوه قرار نه وي . ددغو خلكو دوړاندي كېدو پروخت دبدشګون لورته مايل نه و اوحكم يې وكړ چي پېشګويي كوونكي دي ترهغه وخته په زندان كي وساتل سي چي دوى دفاجعې دپېښېدو له پاره ټاكلې دڼ . كه يې اټكل سم وخوت ، مكافات دي وركړه سي اوكه نه ، مړه دي سي . پېشګويي سمه ونه ختله اوداميرحكم پرځاى سو.

فال كتونكي دخلكو تالې ګوري اوپه ورقوباندي دراتلونكي په باب خبري كوي . دوى دغه راز دراتلونكوپېښو دپېشګويي له پاره دجادو (Black art ) له نورو وسايلو څخه هم كاراخلي . دوى په ډېري تېزۍ سره نومونه اوبختونه بيانوي اوكه يووخت ددوى له پېشګوييو څخه يوه رښتياوختله ، نوبيا ددوى هري وېناته په هروخت كي دحقيقت په سترګه كتل كيږي اوكه يې پېشګويي دراتلونكو واقعي پېښو پرخلاف ثابتي سوې ، بياهم خلك پېشګويي كوونكو نه ملامتوي . اوپرځاى يې پېره پرخپلو ځانواچوي ځكه پېشګويي ګاني ټل لږياډېري مبهمي اوناځرګندي غوندي وي او خلك فكركوي چي دوى دفال كتونكو الفاظ سم تعبيركړي نه دي اوداكار دحادثې دسم پوهېدلو خنډګرځېدلى

دئ . دخوش باوری دغه راز سفسطه یوازي دافغانانو په منځ کي نسته نورهم په اخته دي.

خرافات اومذهبي عقایددنورو هیوادو په شان سره ګډ سوي دي اوکه دیوه ماشوم ذهن اوجسم په هر نسبت وستایل سي ، سمدلاسه باید (نام خدا ) وویل سي اوله شیطانه وژغورل سي اونظرنه سي . شیطان نظر (بدنظر ) ددوی په فکر په ځینوکسانو کي هم سته اوددې له پاره چي له ناوړه اغېزې څخه نجات ومومي ، دخدای نوم باید وویل سي . دحیرانتیاوړ داده چي دغه دشیطاني نظرڅښتنان بیاملامتیږي هم نه، خوبدبخته (نحس ) ګڼل کیږي خو دهغوکسانو په باب چي دناروغانو اوشل وشوټو دعلاج مهارت لري ، ویل کیږي چي لاس یې بختوردئ.

دوی یودود (رواج ) لري چي ترنوروزیات بایدوستایل سي ، اوهغه داچي ماشومان دکولرا، زلزلو اونورفاجعودمخنیوی له پاره دبېلابېلو کوروپریاموباندي سره راغونډوي او په ګډه دوعاوي په کوي داځکه چي ماشومان ترلویانوبې ګناه دي اوددوی دوعاوي سملاسي قبلیږي . دکوروبامونه سره نښتي دي اوداچي ماشومان پربېلابېلو باموپریوه لیکه ولاړ وي اوپخپلو نازکو اوتنکیو اوازونو سره دوعاوي کوي، پرهرچاباندي اغېزه کوي . په تېره بیاچي فاجعه دي کولرا وي هرڅوك ددوی ددوعاوو قبلېدوته ډېرهیله من وي . په کابل کي چي دکولرا ناروغي راسي. څومیاشتي دوام کوي اوداوخت تربل هروخت زیات داندېښني وړدئ .

دکابل داکثریت خلکوخواړه ډېربسیط اوساده دي . اوهغه له وچي ډوډۍ څخه عبارت دي . وچه ډوډۍ بیضوي ډوله اوتقریبا دوولس انچه اوږده اونیم انچ پنډه وي . هغوی چي وس یې رسیږي له وچي ډوډۍ سره مستې اوپنیرهم خوري اوکله کله غوښي ، ترکاري هم پخوي .چینایي شین چای هرکله له خوړو سره یوځای چښل کیږي . دابه ډېرغریب اوبې وزله سړی وي چي دیوې چاینکي چای له پاره دي دري پیسې (نیم پنس ) تادیه نه کړای سي اوکه پنیر څښي وباسي خونوبیخي یې باید وس ولري . په دوبي کي مېوه پریوانه اوارزانه وي. ترکاري هم دغه راز. کاهو په پراخه پیمانه کرل کیږي . دوې پیسې یوه سړي ته

دپوره اندازې میوې اوترکاری درانیولو له پاره سم کفایت کوي اودمېوې په موسم کي اکثره خلك په کوځوکي لیدل کیږي چي مېوې، کاهو او رواش خوري . رواش په غروکي خودرویه شنه کیږي.

دېرغریب خلك زیاتره په توتو پایي(ژوندکوي ) اودژمي دمصرف له پاره یې وچوي . هزارګان چي ډېرسپماکوونکي خلك دي، دذوبې په میاشتو کي له ونو څخه له رالوېدلو توتوپرته بل څه نه لري، چي ژوند په وکړي . توت ټولول عام دي . دتوت خورك چاته تبه پېښوي په تېره بیاهغوکسانو ته چي ورسره عادت نه وي ، تبه یې ډېره سخته وي چي زیاتره خني مري .

کوچیان چي له جېسي(چتې ) توکم څخه دي (۵) کوررونه نه لري په هیوادکي له خپلورمو اواوښانو سره تل سفرکوي . په تجارت بوخت وي ، له یوه ځایه بل ځای ته مالونه اوسامانونه لېږدوي . دوی ډېرسرسخته توکم دی . دجوارویه ډوډۍ(سوږسك ) دمېږواوبزو په شیدو ، پنیراووښو چي اومه یې خوري ،ژوند کوي. دوی دهیواد دنورو خلکوپه نسبت سابه چي خودرویه شنه کیږي، په زیاته اندازه خوري.

دکلیوالو افغانانو خواړه اصلا ښورروا و ډوډۍ ، مستې ، شلومبې ، دپېروي شیدې اومېوه ده . دپېروي شیدې ددوی دخوښي خواړه دي اویوافغان کولای سي په یوه ناسته کي ښه کافي اندازه وڅښي .

که یواوښ ، غوایانورخاروي ناروغ سي اومړینه یې حتمي وي، غاړه یې وربرې کوي (حلالوي یې ) اومروجه دوعا وربراندي واي چي حلال( خوړلوته قانوني ) سي. غوښه یې یاپلورل کیږي یادښتنانو له خواخوړل کیږي . مایووخت یومرګي حاله اوښ ولید چي ببخي هډوپوست و، د رود پرغاړه یې دښارخواته راپه مخه کړی و اوغوښتل یې مارکېټ ته نږدې یې ووژني چي غوښه یې ښه ترابسماله سي . داسي ښکارېده چي غریب حیوان بایدپه هره لحظه کي چي یې ښښتن وغواړي ، راچپه اومړسي.

دلوړي طبقې خلك اومعتبره کسان ډېرخوندورخواړه خوري چي سرېې پلواوکباب دئ . دارروستی یې غوښه په مرچ اومالګه کي ښه اخته کوي اوپه سیخانوکي یې پراوربراندي کړوي .(د پسه ورون چي پراور وکړول سي،هم یوراز

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغریبانو د واده مراسم ـ زوم او ناوې ـ ترشایې نجلۍ دناوي جامې پسې وړي

(دمولف رسامي)

کباب دئ ) پلمو ډول ډول قسمونه لري اوله وریجو ، مسالواوغوړینو ښخه جوړیږي . وریجي اوغوړیني جلا جلا ایشول کیږي اووروسته بیاپه غاپ کي سره گډیږي . ترشي باب ، اچار ، شیریني باب ، میوه اوډوډۍ هم خوړل کیږي . دغه رازترغذاوروسته چای هروخت تیاري اوله چایوسره چلم هم په دوره کي وي . پتول باید دغه تمباکو وخکوي . کابلیان هره ورځ زیاته اندازه چای مصرفوي اوهروخت چي وروړسیږي ، چښي یې .

ښځي دنارینه وو په شان چلم څکوي . چلم(Hookah ) ته ورته دئ خونل یې دغبرګېدوونه بلکي سیده وي. تمباکودوی دخپلي مځکي وي اوډېرتوندبوی لري ترزیاتي اندازې دسوځېدونکي گوډېبوی ته ورته وي.

افغانان هرغټ، چاغ سړی غښتلی اوقوي سړی بولي . اوچاغښت دروغتیا اوښکمرغی دواړونځښه دي. پتول خلك چي وس یې ورسیږي، ترپزي پوري خورك کوي اوبه نتیجه کي یې زیاتره نارینه اوښځي تراندازې زیات چاغ(پنډ ) دي. داروانباد امیرلوی‌طبیب(۶ ) دومره خپټورو، چي پرلاري تللای نسوای اوپراوړو به یې وړی . یوبل سړی دومره پنډ و چي دخپل خان کاریې لاهم نسوکولای . مینخیانو به دکوچني ماشوم په شان لمباوه . ددغه سړي به باب ماته وویل سوه چي یووخت یې دخپل بدن ډېرکرغېړن بوی احساس کړاوهرڅه چي یې وکړل ، بوی ورك نسو . په پای کي بوی دومره ناوړه سو، چي مینخیانو ته یې حمام ته دېولو اوغسل کولوسپارښت وکړ. کله چي یې له حکم سره سم لمباوه . مینخیانوته څرگنده چي دتعفن(بدبویي ) سبب هغه مره چونگښه وه چي دده دخېټي په یوه درزکي بنده سوې وه . هیڅ شك نه و چي دادي دسړي وروستی غسل وای اومرگ ته دي یې رسولی وای.

نصوارکول په شتمنو خلکو کي عام دي. غریب خلك محلي تمباکو کاروي، په ناسمه توگه یې میدوي اوبه خولو کي یې اچوي . نورکسان بیاداسي هم سته چي له هندوستانه دراوړل سوو نصوارو دکولو وس لري . دوی دېزي نصوار غوره کني .

یوازې په لویو کوروکي بخاری سته هغه هم دهغو محدودوشتمنوکسانو په کوروکي، چي دژمي په میاشت کي دخونو دتودولوله پاره دزیاتي اندازې لرگیو

د رانیولو وس ولري . دټولو کوروددروازې اوکړکۍ سمې اېښوول سوي نه وي اودبادچلېدل هغه خوني لاپه نه زغمېدونکي توګه سړوي چي غټ اوړېکښې بل وي . يوازي هغه کسان مستریح وي چي په پوستينونو کي ناست وي .

دسونګ موادو دلګښت لږولواوشپې وورځي له خوادخانونو تودولو له پاره خلك مجبوردي«صندلی» ولري . دايوډول مربع شکله لرګين مېزدئ چي دخوني په منځ کي اېښوول کيږي . ترمېز لاندي يوکوچنی سوری لرونکی اوسپنيز بکس (منقل ) پروت يا پرېښوولاړوي اوسکاره پکښې سوځي پرمېزدپاسه يوغټ تلتك غوړېدلی وي چي مېزاوداورمنقل دواړه يې پټ کړي وي اوټولو اړخونو ته دومره غزېدلي وي چي دخوني دفرش زياته برخه يې نيولې وي. په اوسپنيز منقل کي سکاره تازه کيږي اوکله چي ښې سکروټې سي ترمېزلاندي يې ږدي. داورتودوخه دتلتك ټولوبرخوته خپريږي اوډېرزيات يې ګرموي . تردغه رازپوښ لاندي ، سکاره ورو ورو بليږي اواوږدوساعته دوام کوي . دتلتك پرشاوخوانری نيالی اوبالښتونه اېښوول سوي وي . دخوب پروخت يا د ورځي له خوادناستي په وخت کي کارترې اخيستل کيږي . تردغه تلتك لاندي ټوله کورنی ، پلار، مور،زامن اوماندينې ګاني يې، لوڼي ، ماشومان . عمه ګاني وخاله ګاني او نورخپلوان دشپې له خوا بيدېږي اودڅوپېسو سکروټه بيه ډېري سړې شپې تودوي . دصندلی يوتاوان دادئ چي داورپه لوګړی سرکي دسکرو دودزيات وي اودNausea ، سردرد اوکله کله دخپه کيدلو سبب کيږي. کوم کسان چي دورځي له خواهم له صندلی څخه کاراخلي اودباندي سړې هواته وزي اوراوزي، زياتره دروماټېزم په ناروغی اخته کيږي . صندلي بل اخلاقي تاوان هم لري اوهغه داچي ټوله کورنی ، نراوښځي په يوه کوچني چاپېريال کي تريوه تلتك لاندي بيدېږي . همدغه علت دئ چي ځيني کسان صندلي«دشيطان بازی ډګر » بولي . عسکرهم په خپلوکوټوکي له صندلی څخه کاراخلي . دوی په تلتك کي داسي ناست وي چي پښې يې قات، سراونوربدن يې په بېروکوټونوباندي پټ کړی وي . په دي ډول ډېرسخت ساړه بادپه مقابل کي دځان مدافعه کوي . کله کله هغه ساتونکي عسکر، چي پيره کوي ، ديخنی له لاسه ترمرګه ورسيږي .

په کابل اونوررولويوښارونوکي وخت د «لمريزګړی» Sundial (۷) په واسطه

تاکل کیږي خو بیا هم دوخت دورځني توپیر د معلومولو له پاره په فارس کي چاپ سوي جدولونه موندل کیږي . د دغو ګړیو په واسطه دوخت معلومول په تخمیني ډول دي ځکه ګړی دنور وعرض البلدو له پاره جوړي سوي او هغه دواقعي وخت پرځای دمقناطیسي شمال پر لور عیار سوي وي . یوه ورځ مادواقعي وخت تر معلومولو وروسته امیرته وویل چي دغرمي توپ(۸) ترخپل وخت شل دقیقي وړاندي وویشتل سو، خوامیر وویل چي دا ښه کار وسو ځکه پر خلکو به دماپښین لمونځ نه قضا کیږي . هره ورځ خلکو ته دغرمي وخت دتوپ ویشتلو په واسطه اعلامیږي او هغوی چي ساعتونه او ګړی لري ، وړاندي عیاروي یې . په نسبتي توګه ډېر لږ خلك دساعت وخت ویلای سي . زیاتره یې دیو ساعت یا نیم ساعت وخت په توپیر چندانې پروانه کوي. دغه بې پروایي دعدودنو په برخه کي هم سته .خلك په عمومي ډول تر شلو پوري حساب کولای سي او تر هغه لوړ عدد په «تومن» سره ښوول کیږي . له تومن سره نور اضافي شمېر عددونه هم بیانیږي . ځیني خلك حتی داوونی ورځي نه پېژني او باید ورته وویل سي چي پلانی ورځ ترنن دومره ورځي وروسته ده .

په افغانستان کي مینه او واده کول داروپایي هیوادو له جالبو پېښو سره دزیاتوالي خونو له مخي توپیر لري . یوغټ توپیر یې ذادئ چي نارینه دواده تر ورځي وړاندي خپله نجلی لیدلای نه سي په داسي حال کي چي هغه به یې ماندینه وي.په افغانستان کي نارینه دخپلو مېرمنو او دکورنیو دښځو په باب خبري نه کوي اوله سړي ځخه دهغه دماندینې په باب پوښتنه یوراز سپکاوي ته ورته عمل دئ اوله هغې سره دیوراز اشنایي څرګندونه ده . په دغه رازشرایطو کي په دې باب دیوه نارینه احساس دمستقیم پوښتلو له لاري څرګندېدلای نه سي چي دی له څه راز نجلی سره غواړي واده وکړي . په دې برخه کي چي راتلونکې مېرمن به یې څه ډول ښځه وي ، دنارینه دتشویش ، هیجان اواندېښني تصور ځوك کولای سي . ځکه ښځي دنارینه وو په څېر درنګ اوبڼې له مخي توپیر لري . یوه ډېره بدعمله ښځه به دحوري په شان ښکلې وي خویوه ډېره بدرنګه به بیا په افکاروکي ډېره ناولې نه وي .

دمعتبرو خلکو په منځ کي دهلك ونجلی دکوزدوېښي مستثنی دي ځکه

هغه دکورنیو دمشرانو له خواتنظمیږي . کله کله خوانان هم له هغې ښخي سره داړیکو ټینګولو چاري پخپله تنظیموي چي بایدواده ورسره وکړي. معمولا نارینه دبلي ښخي دغوښتلو ارزوله خپلوملګرو سره مطرح کوي چي دغه اراده یې دېرژردخلکو په منځ کي تیته سي . بیانوده ته دخلکوله خوادنجونو پېشنیهادونه کیږي اودیوې یابلي په باب مباحثه څه اسانه کارنه دئ څکه راتلونکی خسردخپلي لوردښکلا اوباکفایتی په بې ساري اندازه لوړوي اودهغې په بدل کي دپیسو یانوري مبادلي غوښتنه کوي . دنارینه په باب مهمه نه ده چي ازادخیاله وي که تندخویه .

په هرصورت ، کله چي جریان دې حدته ورسېد ،چي نارینه دنجلی دکورنی ددریغ اودهغې دراتلونکوغوښتنو په باب ډاډه سو اوزړه ته یې ولوېدل چي دنجلی پلارخپلي غوښتني وروستی اندازې ته راکمې کړي دي ، بیانوښځینه خپلواني ورلېږي چي نوري ستونزي وخېږي . ددوی پرېکړه دنورومسایلود ډاډمن حل سبب کیږي اومعامله سرته رسیږي . کله چي تړون بشپړسو ، بیانو دکوزدې محفل اوژرياوروسته دواده مراسم جوړیږي .

د واده مراسم او په هغه کي دلګښت اومېلمستیا موضوع د تړون کوونکوکورنیو په بډایي اودریغ اړه لري . دشاهي کورنی دغړو اونورولوړرتبه خلکوپه نظرواده د درو ورخوتماشه ده چي یوزیات شمېر خپلوانواودوستانو ته بایدپکښې مېلمستیاورکړه سي . دغه راز په نڅاګرونجونو ، موزیك اونوروشیانوباندي زیاتي پیسې ولګېږي . که څه هم لګښتونه داشخاصودثروت اوبډایي له لحاظه توپیر سره لري خوبیه ټولوحالاتو کي هدف داوی، چي داړوندوخواوو ډېرزیات عزت اودرناوي وسي .حتی که په پوروي که په دار، باید ډېره ښه تماشه جوړه سي . په دې برخه کي دوی دلندن دښاوخواخلکو سره دومره زیات توپیرنه لري .

کله چي دواده مراسم پای ته ورسیږي ، ناوې په یوراډولی( جوپان ) کي دزوم کورته بېول کیږي . پخپله زوم له خپلوزیاتو خپلوانو اودوستانو سره چي پراسونو سپاره وي ، له ناوي سره بدرګه روان وي اودلاري په اوږدوکي دتوپکو ډزي کوي. ددوی په مخ کي ډډول اوسورناډله رهي وي اودهغوی په مخ کې نڅاګرنڅاوي کوي . دتوپك ډزي دپخوانیوختویادګاردئ. پخوا چي به یوسړي

دخپلوملګرو په مرسته غوښتل خپله ناوې دوسلې په زورياپه کوم بل چل ترلاسه کړي نوبه يې دآس پرځين خپل مخ ته کښېنوله اووبه يې تښتوله . خپلوان به يې په تعقيب وريسې روان وو.

دغريبوخلکو ودونه دغه رازننداريې نه لري اوناوې وزوم دواده مراسمو ته په پښوځي اوراځي ، ځکه دوی دملاراوستلو وس نه لري اودوی پخپل نکاح ځای ته ورځي(۹) . دوی په کوڅه کي کله کله ليدل کيږي ، زوم دمخه اوناوې په پسې وي(ښځه ترنارينه وراندي اوحتی څنګ پرڅنګ تلای نسي ) اوپه هغې پسې يې يوې نجلی ملګري ياله دوستانو څخه يوې نجلی کالي چي په يوه بوغچه کي تړلي اوپرسريې ايښي وي ، ورسره اخيستي وي . دوی په مخ کي يوسړی له ډولك (محلي ډول ) سره اويوبل له نری تولکي سره روان وي . دواړه خپلي هڅي کوي چي له خپلوسايلو څخه په ممکنه اندازه اوازونه وباسي اوپه دي ډول دواده جريان ژوندی اومست وساتي . په دې ډول هغوی دزوم دغريبانه کورپرلورلاروهي .

ماته په کابل کي وويل سول چي په خينوافغاني قبيلوکي دواده يوپخوانی رواج سته چي ددوی له رواجونوسره توپيرلري. په هغوی کي که کوم نارينه وغواړي له يوې نجلی سره واده وکړي ، ده ته اجازه ورکول کيږي چي دنجلی له پلارکره دځه موديې له پاره ژوند وکړي اوله نجلی څخه دماندينې کارواخلي. که په نجلی کي دموركېدلونښانې ځرګندي سوې ، نوبيا ودوی اوکه ځرګندي نه سوې ، سړی آزاد دئ چي واده ورسره کوي اوکه تړې جلاکيږي اوبل ځای دکومي بلي داسي ماندينې تلاښ کوي چي دکورنی جوړولو وړتياولري (۱۰) په افغانانو کي دزوی پيداکېدوهيله ډېره قوي ده . په داسي حال کي چي دزوی زېږېدل له ستري خوشالی سره يوځای وي ، خودنجلی داېه خاموشی سره تېرېږي. دنجلی پلارډېره ناخوښي ځرګندوي اوپه دغه وخت کي نه غواړي خپله ښځه ووېني اوکله چي يې دوخت په تېرېدو سره قهرسوړسو، بياورسره کوري.

دمړي ترښخولووړاندي مراسم داروپايانو مراسموته ورته دي ، يوازي دومره توپيرلري چي مړي بايد په هماغه ورځ چي مړسوی دئ. ښخ سي اوکه يوڅوك په شپه کي مړسو. بايد په سبا سهارخاوروتـه وسپارل سي .کله چي څوك مړسي،

د بډايانو د واده مراسم ـ ناوې په ډولۍ کې ( دمؤلف رسامي )

ملایان ورته راوستل کیږي. هغوی مړي ته غسل ورکوي (داکارمعمولاد ورځرمه وبالې پرغاړه سرته رسیږي) ، دښځېدلو په ټوکرکي یې پېچي اوښځېدلو ته یې تیاروي . دغه ټوکرته «کفن» وایي چي زموږ «Coffin» (۱۱) ته ورته لغت دئ . له تابوت څخه کارنه اخیستل کیږي . کله چي مړی ښخېدلوته تیارسي، ملایان مړي ته دوعاوي کوي چي په هغه کي دمړي ټول خپلوان اونورحاضرکسان ورسره یوځای برخه اخلي.خپلوان یې مړی ددې له پاره گوري چي شخص رشتیاهم مړدئ کنه ؟ وروسته دمړي جسد پرچارپایي ږدي اودهدېرې پرلارنزدې مسجدته یې وړي . هورې مړي ته لمونځ ورکوي اونوریې نودښځېدلوځای ( هدېرې ) ته وړي . په هدېره کي یې قبرمخکي له مخکي تیارکړی وي . مخکه یې ددریو فوټوپه اندازه کینلې ،په منځ کي یې دمړي دجسدله پاره لحدجوړکړی وي . ددې له پاره چي دقبرډکولو په وخت کي خاوره پرمړي ونه ولوېږي ، پرلحد باندي دډبروغټې ټوټې ږدي . مړی په لحدکي پرېوه بغل پربباسي ، داسي چي مخ یې دمکې پرلوروي چي په دې ډول دقیامت ورځ په اسانی سره ورېښي . وروسته قبرډکوي . دمسلمانانوپه عقیده دقیامت ورځ له مکې څخه پیل کیږي . د قبر پر سرباندي ددرو فوټو په اندازه هواره ډبره جگه دروي . دغه ډبره زیاتره زیږه اوناتوږلې وي مقصد هره ډبره چي شکل یې ددغه ځای له پاره مناسب وي ، ورباندي دروي . دمهمو کسانو پرقبرونوباندي منظمي توږل سوي ډبري چي دمړي نوم پکښې کینل سوی وي، دروي . داکارددې له پاره کیږي چي دخلکوقبرونه په نخښه سي. خیني دغه ډبري دامیرمرحوم له خواخپل تعمیرته نقل سوې څکه یوخوبې کیفیت ډېرښه اوبل یې رنگ ښکلی سپین و . په دې ډول دادود په عمل کي له منځه ولاړ(۱۲)

ترښځېدو وروسته دمړي خپلوان اودوستان دمتوفي شخص په کورکي سره راغونډیږي اوهورې یې دکورنی له خواعزت کیږي. ټولو هغوکسانو ته چي دتسلیت له پاره راغلي اوفاتحه (مړي ته دوعا کول ) یې ورکړې وي ، چای اوخواړه تهیه کوي. فاتحه کورته دراتگ په وخت کي دودده . دمړي دمراسمو اودغه رازد واده دمراسمولگښتونه خورازیات وي اوډېرکسان یې نبستمن کړي دي .که یې په وس پوره وي که نه ، هڅه کوي چي تر نــــورو کسانو یــا خپلو

ګاونډیو زیات او بنه لګښتونه وکړي ، څکه نواوسني امیردتولو دغه رازلګښتونو دبندېدو قانون راویوست اوحکم یې وکړ،چې ددغوعمومي مراسموپرځای دي،خصوصي مراسم جوړسي اویوازې دې دمړي خپلوان پکښې مبلمانه سي.

کله کله داسې هم پېښیږي چې مړی شخص دومره غریب وي چې دکفن رانیولو له پاره یې کافي اندازه پیسې چې صرف یوشلینګ یازیات وکم کیږي . موجود نه وي . خپلوان یې مجبورسي بازارته ولاړسي اودرانیولو پیسې یې له بل چاڅخه وغواړي . داحالت اوس زیات پېښیږي څکه خلک کال په کال نېستمن کیږي .

# دشپږم څپرکي لمنليکونه

( ۱ ) پوستينچه يوراز ژمنی واسکټ دئ ، چي داستر پرخای يې د پسه يا اوزګړي پوست ګنډلی وي . دغزني پوستينچې مشهوري دي . ( پښتو ژباړونکی )

( ۲ ) د « اشا » کلمه په کندهار کې د ( بلا ، ګړ حيوان ) لپاره کارېږي . جمع يې « اشاوي » دي . شاعر وايي :

پورته که هرخونه پرسبدلي ماجراوي يو

پټ ترلباسولاندي مرږدغسي اشاوي يو

(۳ ) ګندمك کابل ته نږدې دير کلي نوم دئ . امير محمديعقوب خان په همدغه ځای کې له انګريزانو سره ملي ضد تړون وکړ ( ۱۸۷۹ ع ــ ۴ جمادی الثانيه ۱۲۹۶ ق ) . دغه تړون د ګندمکتړون په نامه يادېږي . ( پښتوژباړونکی )

(۴ ) دغه خبره ماته معلومه نه سوه ـ اوريخي ته څوپه پارسي«ابر » وايي؟ (تحقيق غواړي )

(۵ ) افغاني کرچيان له جېسي توکم سره نژادي اړيکي نلري .( م . هوتك )

( ۶ ) دغه طبيب حکيم عبدالرشيد نومېدئ (م.هوتك )وګورئ : At the court of the Amir) دوهم چاپ ۲۶۴ لندن ۱۹۰۱م کال ) (م.ه)

( ۷ ) دغه انګرېزي لغت ته يې په انګليسي ـ پښتو قاموس کې کښلي دي « لمريزه ګړی ( چي دسيوري له مخه د درجو په اساس وخت ښيي ) ، دلمر ساعت . »

( ۸ ) دغرمې توپ دافغانستان په زياتره ولايتو کې ويشتل کېدی . په کابل کې دتوپ ويشتلو ځای اوسني باغ وحش ته مخامخ دګذرګاه سرك وخنګ ته د غره پر سر جوړ سوی و . ( ژباړونکی )

(۹ ) دا رواج مادچاله خولې نه دئ اورېدلی . (م.هوتك )

( ۱۰ ) دادودهم مادبل چاله خولې نه دئ اورېدلئ . ښايي مقصديې«ګردني» وي اوګردني ترواده دمخه له ناوې سره يوځای کېدلو ته وايي . البته دګردنو په وخت کې دهلك ونجلی نکاح تړل سوې اوپه اصطلاح مېره وماندينه سوي وي(م.هوتك )

( ۱۱ ) Coffin دمړي تابوت ته وايي ( ژباړونکی )

(۱۲ ) دا دود له منځه نه دئ تللئ اواوس هم دقبرو دسرشنختي خورا ښکلي جوړوي او په خوشخطه ...ك باندي دمړي لنډه پېژندګلوي پکښې کينل سوې وي (ژباړونکی )

# اووم څپرکی

## امیرعبدالرحمان

دحکومت جوړول ـ له قدرت څخه ناوړه استفاده ـ دامیرخواړه ـ دچینلو اوبه اوTaster ـ دجګړې له پاره تیارعسکراواسونه ـ دامیرعادتونه ـ دامیرمشغولا ـ ملګري اونور ـ دانګریزانوپه نسبت د امیر احساسات ـ داپرېدوپاخون اودBoer دجګړې په باب دامیر نظریات ـ دامیرجګړه ییزه چلبازي

---

په افغانستان کي دحکومت سیستم مطلقه شاهي دئ . له بنه مرغه دنړۍ یوازي په یوڅوبرخوکي دغه رازحکومتونه سته ، خکه دغه رازحکومت دبربنه شیان دېرو خلکوته نه ورکوي .

په افغانستان کي له امیرپرته بل څوک داعدام حکم نسي ورکولای . له ده پرته بل څوک دهیواد دکورنیو چارو اوله نوروهیوادو سره دسیاسي اړیکو په ارتباط هیڅ رازمهمه مسئله نه حل کولای اونه پکښې ګوتې وهلای سي . له بېلابېلووزارتو اودفترو څخه ټولي مهمي راولاړي سوي مسالې دوروستي قضاوت له پاره باید ده ته وروړل سي . دهیواد په بېلابېلو سیمو کي ددولتي خدمت له پاره ټول افسران اوسرکاري مامورین دده له خوا ټاکل کیږي اومقرریږي . ټول بندیان په هرتورچي تورن سوي وي باید دده له خوامحاکمه اوبندورته وټاکل سي . ددغووظایفو پرڅنګ یوزیات شمېرنوري مسالې هم سته، چي دی بایدپاملرنه ورته وکړي . په هغوکي یوازي دجاسوسانو دړپوټونولوستلو خوساعته وخت نیسي . له دي څخه څرګندیږي یوڅوک چي دغه ټول وظایف مخ ته وړي ، هري مسالې ته پاملرنه کوي اودهیواد دګټو په ارتباط هیڅ یوه مهمه موضوع له نظره نه اچوي ، باید دهري مسالې داساسي ټکو په درکولو کي دزیات سرعت اودبېسارو کاروله پاره دپوره مهارت خښتن وي.

امیرعبدالرحمان یواستثنایي لایق سړی اوداسي شخص و، چي خپل ټول

وخت اوښاملرنه يې هغه کارته چي سرته يې بايد رسولى واى ، په خوښى سره وقف کړې وه ، هغه کارچي له بستر څخه دراپاڅېدو بياتربېرته څملاستلوتروخته پوري يې دوام کاوه . له دې سره سره يې بياهم ټولوکاروته پخپله رسېدگي نسواى کولاى . دبامسوليته مامورينو نسته والى دامير ډېروخت ضايع کاوه . هغه وخت چي دهيواد په خيراوښېگڼه پوري تړلومسالو ته بايدوقف سوى واى. هغوى دموضوعاتو دتحقيق اوفيصلې په باب نه صلاحيت درلود اونه کفايت .په هرصورت دادحيرانتيا خبره نه ده چي اميرخپلومامورينو ته ډېرصلاحيت ورکولو په برخه کي محتاط و. څکه هغوکسانو چي دکوچنيو مسالو په باب دقضاوت واك درلود ، له خپل واك څخه يې په سپين سترگى سره ناوړه استفاده کوله اوزيانمن سويوخلکو دمامورينو له ډېرې څخه اميرته عرض نسواى کولاى . په عمومي توگه دوى حق په جانب هم وو. يوه موضوع چي غواړم اشاره ورته وکړم داوه چي داوښ يوڅښتن دښارقاضي ته دسرکاري محصول دنه ورکولوپه ارتباط وړاندي سوى و. پرسړي حکم وسوچي محصول بايدورکړي خوپه څنگ کي يې داوښ دڅښتن دوه نوراوښان هم ضبط سول څکه قاضي پخپله داوښانو تجارت کاوه .طبيعي وه چي داوښ څښتن دغه ټول جريان اوښې عدالتى لمسولى و اويوه مامورته يې رشوت ورکړ،چي اميرته ددې عرض ليکلى ورسوي . په داسي پېښوکي چي يوسرکاري مامورمنځگړيتوب کوي درشوت ورکولو هڅه بايد هرومرو په منځ کي وي . قاضي ته دا ټول جريان پرخپل وخت ټکي په ټکي رسېدلى و. دى سمدلاسه دربارته ولاړ اوموضوع يې د اميرمخي ته کښېښول اوورته څرگنده يې کړه چي دايوېخوانى مجرم دئ اوددې له پاره چي داعليحضرت ترفيصلې اوجزا دمخه ونه تښتي ، څکه يې دوه اوښان دضمانت په توگه څني واخيستل سول . اميرته دعارض ليك تردې لېږورسته ورسېد خوداميرذهن اړول سوى اواميرپه قهرسوى و. ده ته دسړي په ړوټ کي داسي وبرېښېدل، چي غواړي دمحصول تحويلولو په انتقام کي دقاضي حشيت اوشخصيت زيانمن کړي څکه يوافغان تل دموضوع په باب مبالغه کوي . سړى بنديخانې ته واستول سو اوټوله شتمني يې ضبط سول . ددوو اوښانو دبېرته ترلاسه کولوپرځاى يې خپل هرڅه بايلول .

امیرته که هرڅا لومړی بیان اوشکایت وکړهغه یې ګټي . دافغان مغزاوذهن لومړی وارانطباع اخیستلو اوبې ځایه پلویتوب ته بیخي چمتو دئ ، په دې کي بیا ری نه وهي چې ددغه سړي په وینا کي څومره حقیقت پروت دئ . په دغه رازمواردوکي چې دلوړ قدرت دخاوندانو پرخلاف عرض وسي، وعرض کوونکي ته زیاتره ستري فاجعې پېښیږي . دغه سبب دئ، چې خلک دمامورینو پرخلاف عمل کولو کي زیات احتیاط کوي . که په رشوت ورکولو اوکه په کومه دسیسه اوچل وي هرراز فیصله چې ترلاسه کولای سي ، ترلاسه کوي یې اونور خان غلی نیسي .په داسي حال کي چې مامورین سره پرسیږي اوبدایان کیږي اوپه پرله پسې دسیسه بازیو سره دومره په خان غره سي، چې په لوبه کې تراندازې زیات ټوپ ووهي .آخرله مځکي وریشتل سي اوهرڅه له لاسه ورکړي اودژوند وروستی شپې په زندان یادجلاد په پنجو کي تېري کړي.

امیرمرحوم یوه ورځ ماته وویل چې دی پرهیڅاباورنه لري اودومره بدګومانه دئ چې خپل بنی لاس دکیڼ لاس په کړو نه خبروي . دادحیرانتیا خبره هم نه ده ځکه داسي کسان چې پرڅاشاوخوا راغونډوي، هرومرو باید همداسي احساس ولري .

بل شی چې هیواد ته ډېرزیان رسوونکی دئ ، دادئ، چې دخلکو دښېګڼې په ټولو چاروکي له همدغومامورینو سره سلا مشوره کیږي . امیرپخپله دخلکودنظریاتو اوغوښتنو دمعلومولوبله هیڅ راز وسیله په لاس کي نلري اومجبوردئ هغه څه ومني، چې مامورین یې ورته وایي . داکار مامورینوته ددې موقع برابروي، چې هرڅه دخپلو ګټو اودلچسپیو له مخي وکړي اودهمدغه خاني ګټو اوشخصي منافعود په پام کي نیولو اغېزه ده، چې زیات شمېرخلک دمامورینو ددغه شان سلوک له امله کال په کال دخپلي مځکي له کرني اوزراعت څخه خواتوري کیږي اوکوم بل ځای دکومي بلي دندې په تلاښ ګرزي.

خلک وایي چې دافغانستان امیراوخلک سره بېل دي . هلته عامه اوشخصي خزانې سته چې دواړه دامیرپه واک کي دي خوپخپله یې خصوصي لګښتونه اوهغه لګښتونه چې حکومت یې باید تادیه کړي ، سره بېل کړي دي . مګردغه سره بېلوالی بس پرهمدې ځای پای ته رسیږي اوسخته ده چې څـــــوک دي یې

توپیرولیدلای سي. ماته ویل سوي وو، چي امیردحکومت سر دئ . خوزه چي اوس گورم نوویلای سم چي دی هم سرهم بدن واوهم نورهرخه و. یوازي دولایتونو مامورینو اووالیانو دهغومسایلو دتعقیب تکلیف نه ورکاوه چي دهغوی خپلي شخصي گټي پکښې وي . دحکومت په گوداموکي په عمده توگه وسلې اومهمات دي، چي پخپله په هیوادکي جوړسوي یاله کوم بل ځای څخه پیرودل سوي دي . پردې سربیره دورځنی اړتیاوړمالونه هم پکښې خوندي دي. دغه راز هغه ارزښتناك سوغاتونه پکښې زېرمه دي، چي دهیواد دبېلا بېلو برخومشرانو له امیرسره دکتنې په وخت کي راوړي یادئوروحکومتو له خواورسپدلي دي . له دې ټولو څخه ستره زېرمه جوړه سوې ده . په شخصي گوداموکي ټول هغه نادر سامانونه غونډ دي، چي له هندوستانه رالېږل سوي اویوځه یې داسي سامانونه دي چي هوري هم نه پیداکیږي . داړتیاوړورځنیو سامانوپرته نورډېرلږمواد گوداموته ځي اوبیرته ترې راوزي . زیاتره شیان چي اینبوول سوي دي، وریسې هېرسوي دي . دگودامونو موادنه امیرته معلوم دي اونه یې گودامدارانو ته. څکه دموادو لیکلی ثبت په منځ کي نسته . یوازي هغه مواد کاغذ ته رسیږي چي واقعا ارزښتناك وي.

امیرمرحوم له ماڼیو سره خاصه مینه درلوده . دده داستوگنې ماڼۍ چي دخان له پاره یې جوړي کړي وې ، دهیواد لومړۍ درجه ودانۍ دي چي په ډېرلوکس اروپایي ډول سمبال سوي وې . ډېرښه مېزونه وچوکۍ اونورټول فرش ولوازم یې په هند کي ورته موندلي اوپایې پخپل هیوادکي ورته جوړکړي دي. ده ډېرتېنگارکاوه، چي ټول شیان پاك وستره ومنظم وساتل سي . «وا» دهغه بدبخته غلام بچه په خان، چي په دې برخه کي به یې لټې کړې وه .

دده خواړه په حکومتي پخلنځیو کي پخېدل. دغه پخلنځي دومره زیات څارل کېدل ،چي بې له مسوله کسانو څخه نورهیڅوك ورننوتلای نه سوای . کله چي به یې ډډوډۍ غابونه له پخلنځي څخه قصرته وړل اومشراشپز اوخوتنه نورو عسکربه بدرگه ورسره مل وو (ټول غابونه په یوه پلا وړل کېدل ، نه په خوپلا ) اوکله چي به غابونه دامیرمخي ته کښېښوول سول . داداشپز وظیفه وه چي له هرغاب څخه څکه وکړي او وښيي چي خواړه له زهرو څخه خالي دي . له

امیرسره تل څولوررتبه مامورین په ډوډۍ خوړلوکي ملګري اوډیوکوچني مېزشاته چي سپین ټوکرپرهواروي ، ناست وي . ددغه مېزمخ ته پرمخکه باندي پواورږد ټوکرغوړېدلی اودپاسه وربانديبل سپین ټوکر هواروي . دټوکره (دسترخوان ) پردواړو خواوو باندي مامورین چارزانو یاپردوو ګوتو ناست وي (پلتۍ یې وهلي وي ) دامیرپه ګډون ټول کسان په بنۍ لاس ډوډۍ خوري، لاسونه تر ډوډۍ دمخه اوروسته پرېولل کېږي . دپلوونو اوکبابونو په شان ډېرښه اوګټورخواړه پاخه وي، چي پرټولو باندي یې مساله باب دوړولي وي . وچه ډوډۍ معمولاً افغاني (نان ) وي (هوارکېک ) . امیرسپینه ډوډۍ خوښوي . داډوډۍ دکوچنۍ ټیکلي په اندازه پخه سوې اوانګرېزي هغې ته ورته وي .

که یوانګرېز له امیرسره مېزخوري ، بېل مېز ورته ږدي اویوهندوستاني اشپزاومرستیالان یې په انګرېزۍ طریقه خدمت ته تیاروي . دچښلو له پاره نوموړی اختیارلري شراب انتخابوي اوکه نورمشروبات، چي امیرېې دهمدغه وخت له پاره په ګدامونوکي زېرمه ساتي . که څه هم دی پخپله هروخت له خپلي مذهبي عقیدې سره سم اوبه چښي .

دامیردچښنګ اوبه دده دنورو خوړو په شان په ډېره جدي توګه مراقبت کیږي . یوتن خاص ددغه کارله پاره ګومارل سوی وي اودهغې خوني کلي یې په واك کي وي چي دغه شیان پکښې خوندي وي . دچایومراقبت هم دغه رازوي اویوبل تن مسول لري . یوبل حکیم(ډاکټر ) دټولو درملو دګډولواوامیرته پخپله دراوړلو مسولیت پرغاړه لري . ددغه خلکو مقامونه دپیسو موندلو اومعتبرۍ مقامونه نه دي ، بلکي ډېرکړاونه ورسره مل دي. که امیرپه بدن کي کوم نوی درد احساس کړي، بیانودغه کسان ډېراندېښمن وي اوترڅو چي دامیردرد ارامېږي اواخبره ثابتېږي چي دایو طبیعي درد دئ اوپه خوراك وچښاك کي دغفلت کولو نتیجه نه ده ، ترهغوپوري ددغوکسانو رنګونه الوتي وي اونه پوهېږي، چي امیرپه ددوی دله منځه وړلوله پاره کوم کوم چورتونه وهي .

اوسنی امیرهماغه جریان تعقیبوي چي پلاریې تعقیباوه خوپه یوه یادوو برخوکي دهغه پرخلاف دئ اوهغه هم له نیکه مرغه پرته څه شمار دي . دمحافظت ټول تدابیر په زیات شدت سره ترسره کیږي اودامیر دخوراك اوچښاك

امیرعبدالرحمان او مامورین يې د ماښامنۍ ډوډۍ پرمهال (دمولف رسامي )

مسول کسان ډېره سخته څارنه کوي .

امیرمرحوم له احتیاطي تدبیرونو څخه یوداو چي دخپلي پاچهی دقلمرو په هره څنډه کي یاکه لازمه وي ترهغه بهردجګړي یاسفرله پاره په هره شپبه کي تیارو . ددغه مقصد له پاره څواسونه ( چي په هروخوساعتوکي بدلېدل ) شپه وورځ دقصر دروازې ته په څرمه طبیله کي زین کړي ولاړ وو اودسپرېدلو له پاره یې یوازي دتانګ تړلو ته اړتیاوه . په نوروطبیلو کي یوشمېر چټکي غاتري (کچري ) دسفریه وخت کي دخزانې دچلولو له پاره تیاري ساتل کېدلې. دامیردبستر (کټ ) سرته یوه الماری، چي دښیښې دروازې یې وې، ولاړه وه . په هغې کي دده ډېرښه توپك دکارتوسوله قطیو سره خوړندوو اوتربالښت لاندي یې دوې دري ډکي تمانچې پرتې وې . په دې ډول امیرهروخت داضطراري حالاتو له پاره امادګي درلوده . پردې برسېره دسواره وو څوکیداره ټولی چي د «حاضرباش» ګارډنومېده، دتل له پاره شپه وورځ ترقصردباندي له امیرسره دملګرتیاپه مقصد تیاره حاضره وه . دغه ګارډامیر دخوورخو له پاره موقتي ساته ، دوی باید دسفرله پاره هره لحظه آماده وای څکه یې نوپه وظیفه کي ولاړو کسانوته په روڼ سره هوسایي زمینه ورکوله . دامیرژوند له ماجراوو څخه ډك ژوند تېرسوی و . دې ژوند ورته ښوولي وه اوپرخلکو باندي دده دواکمنی تجربې هم تایید کړې وه، چي په هروخت کي دهرراز پېښې له پاره تیاراوسېدل دهوښیاری کاردئ.

دادامیرعادت و چي دشپې زیاتره برخه یې په کارتېرولـه اودسهار ترڅلوروبجوورواندي یې استراحت نه کاوه . وروسته به نودورځي ددولسو اودووبجو ترمنځ وېښېدئ .. ترکالیو اغوستلو اومړی خوړولو وروسته یې دربارکاوه . دشپې له څوازیاته بیداري یې ښایي دپاڅون یادکوم خیانت له ېږي عادت سوی وي. څکه په دغه راز حرکتونو باندي تروړخي ، چي ټول خلك ویښ وي،په شپه کي زیات لاس پوري کیږي . کله کله یې عام دربار په سلام خانه کي کاوه چي ترارګ دباندي په باغچه کي دحاضرینو له پاره دیولوی مخصوص دالان په شکل جوړه سوې ده . په دغه وخت کي هرچاچي غوښتلای ، دورواندي کېدو اجازه لرله اوهرڅه چي یې ویلای ، اورېدل کېدله . کوم کسان، چي

غوښتل یې امیرته شخصا عریضه وړاندې کړي . دشاغاسي(۱) په واسطه چې وظیفه یې امیرته دخلکو حاضرول و ، رهنمایي کېدله .خودمخه تردې چې اجازه ورکړه سي لومړی باید دوی په دروازه کي دګارډ دکپتان اودغه راز دنورو اړوندو کسانو موافقه ترلاسه کړي وای . امیر ډېرپرکاره سړی و. ټول لیکونه به ، چې ورورسېدل ، کتل به یې اوترڅوچي بېدېدئ خواب به یې ورکاوه . په دې کي به یې ری نه واهه، چې نورڅه کارونه یې ترلاس لاندې دي . هره ورځ چې به یې جامې اغوستې ، خلك به ورته راسرسول . یابه یې خپل شکایتونه ورته اوورول ، یاپه دمحاکمې له پاره ورته راوستل کېدل . دغه راز به یې دهیواد له ښېلاښېلو برخو څخه دقومونو اوقبایلو استازي منل اوخبرو ته بې غوږ نیوه . ترڅوچي به یې یوکارسرته ونه رساوه ، بل یې نه پیل کاوه . کوښښ یې کاوه دهرې ورځې کارپه هماغه ورځ پای ته ورسوي .

امیرپه حرامسرای کي له خپلو ښخوسره ډېرلږوخت تېراوه اودایې عادت ګرځېدلی و . کله کله به یې یومانښام هغوی ته

ورویوست . په مجموع کي یې دښځو په باب نظرډېراوچت نه و.کله کله خوبه په څرګنده توګه دښځې دژبې ، درواغوویلوته دهغې دمیلان ، په هر ارزښتمن کارکي دهغې دنه قابلیت اوددروغجنې مینې په باب رغېده .( دلته دوې کربنې له ترجمې پاته دي . م . ه )

دامیرمشغولیتونه اوساتېری محدود اوساده وو .دی به په پسرلي اوددوبي په سرکي څواوونی په خپلودوبنیو (تابستاني) مانیو کي اوسېدئ اود ازادي هوا اودګلانو له ورمه به یې چې دی یې زیات لېوال و،خوند اخیست . باغ بالا ته به چې دپغمان پرلورله ښارڅخه څلورمیله واټن لري ، زیاتره تلی . دامانۍ په دوبي کي دده دزړه دخوښې مانۍ وه اودژمي ترراتګ پوري به پکښې اوسېدی کله چې به ژمی سو، بیرته به دښارګرمومانیو ته کډه سو . امیرپه هره خونه کي چې و، زیات ګلان به یې درلودل . په ژمي اوپسرلي کي چې په کابل کي ګلان نه وي، ده ته به یې له جلال آباد اونورو هغو سیمو څخه ګلان راوړل ، چې

ترکابل به ښېښې پرتې وې اوتوده آب وهوابه يې وه . يوه ورځ زه له اميرسره ناست وم اودي دخپلو ګلانو په باب رغېدی . يوګل يې دبوټېدو له پاره وشکاوه خوهغه ښه بوی نه درلود . سملاسي يې باغوان راوغوښت . هغه په داسي حال کي راغی چي رنګ يې الوتی اوزنګنونه يې رپېدل خکه دخپلوورغوښتلو په سبب نه پوهېدی . بې له شکه چي هغه ډېرېږېدی اوغالبا به يې دنوروپه شان زيات احتياط کاوه، چي اميرېي په بېړه باندي پوه نسي . کله چي اميرسراپورته کړ اوباغوان يې وليد . دګلانو دنه بوی کولو پوښتنه يې تېرې وکړه .باغوان خواب نه درلود يوازي يې پروچوشونډو ژبه تېره کړه اوبخښنه يې وغوښته . وروسته اميرډېاکلو لاروچارو په باب چي بايد کارترې واخلي ، ورته ورغېدی اوخبرداری يې ورکړ،چي که راتلونکي کال ګلان ښه ورم ونلري بيانو «زه پوه سه اوته» . وروسته يې رخصت ورکړ، چي خپل کارته ولاړسي .

کله کله اميرهغه چمن ته پرآس تلی يابېول کېدی، چي دهيليو ښکارخای دئ . خودده دپاچهي په وروستيو څوکلونو کي به يې دغه تفريح ډېره لږکونه خکه په دوامداره توګه دنقرس په ناروغی اونورومريضيو اخته و. دده کورنی تفريح شطرنج و اوپه هغه کي يې دومره مهارت درلود چي په دربارکي ډېرولږوکسانو ورسره سيالي کولای سولای . بل ساتېری يې دکيسو اورېدل اوکول و. دغه راز يې په خينو فارغوموختوکي دشپې تېرولی.وروسته ، دمخه تردې چي بيرته دې ددولت دمشروظايف پيل کړي، له يوه يابل سرکاري مامورسره ټوکي ټکالي کولې . په دغه وخت کي به دوی پرامير راتاوسوي اوده به پخپله په ټوکو اوحاضرو جوابی کي برخه اخيستله .

ددربارټوکمارداميرپه نوکرانو کي يو په رسميت پېژندل سوی غړی و اودنورو په شان به ملبس ګرزېد . کله چي به داميرطبيعت خپه و دده وظيفه اميرته ټوکي کول اودهغه خوشاله کول و . دهغوکسانو له پاره چي طبعه يې سمه نه وي، ټوکي اوکيسې اودنکل دبيان په ترڅ کي دلاس حرکتونه ډېراغېزمن وي. دابه ښايي دهغوهڅوتنيجه وه چي په ژوند کي دښخوداغېزمنتوب دراټېټولو په مقصد کېدلې ، خکه ښځي هيڅکله په دغه راز ناستوکي حاضري نه وي . نارينه له نارينه وو سره يو خای ناست وي اوله خپل کورڅخه بل خای ښځي نه

ويني . ټوکماران دشهزاده ګانو په ټولی کي هم وي دغوکسانو ته داميرله خاطره چاخه نه ويله ، کنه دهغوی ټوکي دعسکرو په يوه بارک کي لاهم مناسبي نه وې . داميرملګري مجلسيان ياغلام بچه ګان زياتره دخانانومشرانو زامن دي. دغه هلکان اميرته بخښل سوي اودده دخدمت له پاره روزل کيږي . کله چي لوی سي ، بيانو ملکي ونظامي منصبونه ورکول کيږي . دغه کسان اميرته تل حاضروي ، نوري بېلابېلي دندې هم لري . ځيني دڅراغونو ومشالونو دخای پرځای کولو مسول وي. ځيني دغالي، ځيني بيادکتابوکاغذونو اوځيني نوربيا دوسلو اونورو شيانو چاري پرمخ بيايي. هريو يې په خپله خانګړې برخه کي دموادو دساتني اوصفايي مسول وي . په وظيفه کي غفلت اونورجرمونه سملاسي مجازات کيږي اواکثره ډېرسخت . په يوه پېښه کي له يوشمېرهلکانو څخه جامې وايستل سوې ، دونو پرتنو وتړل سول اودژمي دشپې زياته برخه يې هورې تېره کړه . په بله پېښه کي ديوګدامدار پزه دځينو شيانو دغلا په تورپرې سوه . ټولو هلکانو بايد پاکي جامې اغوستي وي اوداميرپه حضورکي بايد پټه خوله وي يابې له ږغ ورروغه تېرسي. دهغوی جامې ځل وبل اوزياتره يې رنګه بخمل وي، چي دسروزرو ښايسته پټې اودپردوپه شان اشې درلودې . خولی اوبګړی يې ډېري قيمت بهاوې . اوسنی اميرچي ساده جامې اوپيکه رنګونه يې خوښيږي، پخپلو نوکرانو توري جامې اغوندي، چي دپادريانو چوخې ته ورته دي . دغه چوخې يې دترکي افسرانو دچوخې په ډول اوترهغولږځه اوږدې ګنډلي وي . رسمي مامورين زياتره دغه رازجامې اغوندي البته پرته له هغوکسانو چي ديونيفورم اغوستلو مقام ولري . هغوی پرجامو باندي په طلايي پټو ډېرخوشاله کيږي . داميرعبدالرحمن په درباركي ډېرو زياتو سرکاري مامورينو اودغه رازغلام بچه ګانو بخملي جامې اغوستلې، چي ددرباريه ورغ به يې دوی ته مردانه ښه ورکړې وه.

له ۹۷ وروسته( مطلب ۱۸۹۷ دی . م.هوتك ) انګلستان اوانګريزانو ته داميراحساسات بدل سول اوچاچي په درباركي دغه حالت کوت، خانونه يې له دغي وضعي سره سمبالول . په دغه وخت کي سردارمحمدعمرخپل ميرېزی وروروسردارامين الله ته وويل، چي دپلار حضور ته دي له انګريزي پاپېچو سره نه

خي اواحتياط دي کوي، چي په دغه راز مواقعو کي هيڅ رازانګريزي جامې وانه غوندي . اميرانګلستان ته دسردارنصرالله خان دهيت د۹۵ کال دسفرله ناکامی څخه ډېرزيات مايوسه و . دغه سفراصلا په لندن کي ديوافغاني استازي دټاکلو په نيامت سوی و. څرنګه چي داکار دهند دحکومت دمشرپرسردمعامله کولو معنادرلوده ، څکه نودانګرېزي مقاماتوله خوا رد سو. اميردغه رازدهند دحکومت هغوليکونو هم ډردولی و، چي په سرحدکي داپرېديو د۹۷ کال داګست په بغاوت کي دده دلاس لرلو په ارتباط ورته لېږل سوي وو . ده له دغوليکونو څخه يوليك په عام دربارکي چي له همدې امله دټولو مخوروکسانو په ګډون جوړسوی و،ولوست . په هغه کي په څرګنده اشاره سوې وه، چي ددغي رازپېښوبيا تکرار به دده دتاج وتخت دبايللو په بيه تمام سي . ددغه ليك ترلوستلو وروسته يې خپل خلك په دې وغندل ، چي دی يې وخپل متحدته شرمولی دئ . په دغه وخت کي يې زه ورغوښتم اوداپرېديو بغاوت اودغه رازدهغوستونزو په باب څو ساعته راته ورغبد ،چي سرحدي قبايلوده ته پېښ کړي دي. په خاص ډول دهډې ملا، مولوي نجم الدين اخندزاده (۲) ته ډېرپه قهروخکه چي دبغاوت اصلي لمسونکی و. ده وويل تخت ته دده له رسېدلو راهيسي بغاوتونه لړسوي دي اوهرپاڅون دموټ په زورکښېنول سوی دئ ( هغه کسان چي اميرپېژني، په دې ښه پوهيږي چي د «موټ زور» څه معنا؟ ) اوددې معنا دانه وه، چي نورنو دبغاوتونو مخه ونيول سوه .داخلك نه يوازي داچي ډېرسرکښ دي، بلکي ټول ډېرمتعصيب هم دي . اميرپه دې باب چي نوموړي دپاڅونونو په لمسولو کي برخه لري، زياته کړه ، کله چي خلك يووار وپاڅېدل اولږڅه بريالیتوب ته هم ورسېدل، بيانو دهرچاترکنترول وزي . دافغانانواوسرحدي قبايلو ترمنځ پخوانی شخړي اوبدی هم سته چي بايد حل سي . نوپه دې ډول هرپاڅون ده ته پخپله يوه خطره ده . پردې سربېره ، دهيواد په يوه برخه کي چي يوپاڅون منځ ته راسي ، هغه به بې له شکه په نورو برخوکي ورته پاڅونونه اوبغاوتونه زېږوي . داده دهېڼګي اداري اودهغو خلکو په وړاندي، چي دخلکو دلمسون په تلاښ کي دي ، دسختو روښونه نتيجه ده، چي هيواد يې ارام ساتلی دئ .

اميرووېل دهغې ملاهيڅوك نه پېژني، چي دکوم هيواد دئ څکه دده اړيکي ناڅرګندي دي . دشېرعلي په پاچهي کي ملا ته اجازه ورکول سوې وه چي له خلکو سره دخپل زړه دخوښي کارونه وکړي اوپخپله خوښه بغاوتونه اوپاڅونونه ولمسوي . په هرصورت ده (امير ) پخپله څېړني وکړې دملا دفعاليتو لاري چاري يې کشف کړې اودهغه دنيولو ترتيبات يې برابرکړل .خوملاته پرخپل وخت ټول طلاعات ورسېدل اوسرحد ته وتښتېدی . هورې يې سمدلاسه شينواري اونورقبايل دده پرضد وپاڅول اوڅومياشتي يې ښه تکليف ورکړ. هغه و، چي دڅلورو زروتنوپه وژني سره قبايل آرام سول . ددغو ټولو عملياتو مسول همدغه شخص و.

اميرووېل دهغې ملا په قبايلوکي سترنفوذ لري .ده دجلال آباد اولغمان سيموته خپل استازي لېږلي، هورې يې ددريو زروتنو په شاوخوا کي خلك لمسولي اوله خان سره يوځای کړی وو .خودجلال آباد والي په ځبرسو اودخلکو مخه يې ونيوله . کله چي له خلکو څخه پوښتنه وسوه : تاسي دچاپه اجازه دغه جهاد (مذهبي جګړې ) ته روان ياست؟ هغوی په ځواب کي ووېل دوی ته دملااستازو ويلي وو چي اميردغه اجازه ورکړې ده . اميرووېل چي دهغوی په مشرانو کي څلورتنه شيخان اودوه تنه ملايان، چي دجهادزرغون بيرغ يې له خان سره ګرزاوه . دکابل په زندان کي دي اودی پوهيږي چي څه بايد وسره وسي؟ نورمشران يې تښتېدلي دي.

په همدغه وخت کي و،چي اميرته له هندوستانه دوه تنه مهاجرراوستل سول اودوی داميردعفوی دهغه فرمان له امله بيرته هيواد ته راستانه سوي وه ، چي څوکاله مخکي دټولو هغوکسانو له پاره صادرسوی و چي له هيواده وتلي وو. خواميرووېل هغو دووتنو درواغ ويل او ده ته په ډاګه سوې وه، چي هغوی دايوب خان مخبران وو اوغوښتل يې دده ددرباړټول رپوټ هغه ته ورسوي. ده ووېل ايوب خان اويعقوب خان دواړه هرکال خورا ډېري پيسي دده دکارو په باب داطلاعاتو دترلاسه کولو په لارکي لګوي . خواميرووېل «که دوی دغه پيسي ماته راکړي زه به هره اووني اوهره مياشت خپل رپوټ چي رشتيا به هم وي ، ورلېږم .څکه له ماپرته بل هيڅوك خبرنه دي، چي زه څه کوم . ان زماډېرباوري

مامورین لا پہ مہمو اسرارو خبرنه دي »

دامیرغته هیله چي زیاتره یې په دربارکي زماپه مخ کي څرګندوله ، داوه چي خپل هیواد دټولومنابعو دپرمختیا له لاري شتمن کړي اودنورو هیوداو سطحي ته یې ورسوي . ښېله شکه که دده روغتیایي حالت سم وای ، په دې لارکي به یې دېرڅه کړي وای. دی زیاتره پخپله خونه کي ایسارو اومجبورو دخپلو مامورینو پراطلاعاتو تکیه وکړي خوهغوی ثابته کړې وه، چي دتکیې وړخلك نه دي .

ده ماته وویل دهند له حکومت څخه په یوه رارسېدلي لیك کي ورته لیکل سوي دي، چي زه دشلموکالو راهیسي ورته وفاداریم خوپه هماغه لیك کي بیازیاته سوې چي زه زیاتي وسلې اوجنګي مهمات رانیسم (پېرم ) اودانګلستان پارلمان به بنایي پردې کاربدګومانه سي . ده وویل زه دغه دوې خبري تعبیرولای نه سم اوترمنځ یې فیصله نسم کولای . زه دې هیواد ته دپاچا په توګه بې له وسلو راغلم اودانګلستان له خوادامیرپه حیث ومنل سوم اودیوه واکمن په توګه مي لومړی کارداو، چي جنرال رابرټس(General Roberts ) سره له کابله وکندهارته دده په مارش کي مرسته وکړم ، وسلې ورته برابري کړم ، دلاري په اوږدو کي ټولوملکانو اونورمخورو ته امرونه ورکړم، چي انګرېزي لښکرته دکمپ لګولو اجازه ورکړي اوپه هیڅ ډول ددوی مزاحم نسي . که دانه وای ، انګرېزان بې له کومي ستونزي په دومره چټکۍ سره کندهارته رسېدلای نه سوای.له انګرېزانو سره دده دترون پراساس ، داضروري وه ، چي هغوی ده ته عصري وسلې برابري کړي وای اودیوه متحد په توګه یې دهغوی اوروسیې ترمنځ ددرېدلو توان موندلی وای . خودهغوی له خوادوسلو ورکولو پرځای ده پخپله جنګي مهمات پېرودلي دي اواوس ورته ویل کیږي، چي داکاربايد ونکړي . کله چي روسانو کشك ته خپله داورګاډي پټلۍ راوغزوله اوله ده څخه یې وغوښتل چي له دې لاري څخه تجارتي ګټه ترلاسه کړي . ده دهماغه لیك کاپي دهندحکومت ته ولېږله اوپوښتنه یې ترې وکړله چي څه رازجواب ورکړي . هغوی ورته وویل «هیڅ جواب دي نه ورکوي» خودی په جواب ورکولو کي مجبوروو ، کنه ده ته ستونزي یاجګړه پېښېدله . ځکه یې نوروسانو ته جواب

ورکړ چي دوی داورګاډي پټلی دده له مشورې پرته غزولې ده که دوی دامشوره پرخپل وخت کړې وای ، ده به هم له خپلوسوداګرو اوخلکو څخه دهغوی نظریې اوغوښتني پوښتلي وای.اوس چي دوی اورګاډې پخپل سراودخپلي هوساینې له پاره غزولې ده .دده هیواد یې نه غواړې څکه ددوی اوښان اویابوګان ددوی د خپلو اړتیاوو له پاره کافي دي . ده وویل ددغه جواب کاپي یې د هندحکومت ته ولېږل چي په جواب کي ورته ولیکل سول، چي ښه کاردي کړی دئ . ده وویل دی انګرېزي مقامات ددغولیکنو له امله نه ملامتوي څکه دوی دپارلمان تراثرلاندي دي اودده په نظرپارلمان لکه دکابل عمومي حمام داسې څای دی چي پکښې دېرخلك په یوارګډي خبري کوي اویه یوه غټه خونه کي د اوازونو انعکاسات دیوه سړي خبره دبل سړي له هغې سره ګډوي اود اوازونو په تخریشېدو سره دوېناوو مطلب له منځه ورکیږي .

د (Boer) (۳) لویه جګړه په دغه وخت کي پیل سوې وه . امیروویل ده څوشپې په دغه باب فکرونه وهل اواندېښمن دئ چي روسان ښایې له دغې جګړې څخه ګټه واخلي اوډهندپرلور راوړاندي سي .څوکله چي به ده خپل څان دهغوی پرڅای تصورکړ، (څکه ده په روسیه کي دتبعیدډېرکلونه تېرکړي وواودوې په چلند اوپالیسی پوهیده )، له افغانستانه به ډېره واهمه ورته پیداسوه . څکه له دوی(افغانانو) سره جګړې دعالم اسلام دعمومي پاڅون معنا درلوده، چي هرومرو به اسیایي روسیې ته ورغځیږي . دوی ددې کارله پاره کافي لښکرنه درلود . هغه مسلمان هیوادونه چي دوی نیولي وو، په بې امنی کي وو، خلکو یې له فتح کوونکو څخه کرکه درلوده اولکه افغانان داسي وو، چي څان مرګ ته ورکوي خودبل غلامي نه مني ، نه غواړي چي ددوی ښځي اوماشومان دي څني واخیستل سي .دابه ډېرسخته وي، چي په یوه وخت کي دي هم دغه شان پاڅونونه مات سي هم دي له افغانستان وهند سره وجنګیږي.

دBoers جګړې په باب ده وویل کله چي یې دلښکرودتلفاتو شمېرواورېد ،ډېرغمجن سو. ده په جګړه کي ډېري تجربې درلودې اودهغو ببلابېلو تصویرو او نخښنوله مخي، چي ده لیدلي وې،فکرکاوه ، چي دجګړې

ترتيبات ښه نه ووځکه بايران په شيوه کي وو اوپښ وو خوانګرېزان پرهواره مخکه ورباندي ورتلل . څرنګه چي دانسانانو بدنونه له پولادوځخه جوړسوي نه دي ، نودامکنه نه ده چي دعصري وسلودګوليو دباران په وړاندي دي چي په هره دقيقه کي ورباندي اوري، ودرېږي. ده وويل دی دانګرېزانو مرستي ته پنځوس زره لښکري استولای سي خودده خلك له بېړيو سره نابلد دي، که يې په هغوکي وليږي مورال يې کمېږي (وارخطاکيږي ) .انګلستان بايد تل په دې پوه سي چي دی(امير ) تياردئ ، چي له دوی ياهندسره اوږه پراوږه وجنګېږي . ده يووخت ماته کيسه وکړه چي دی په روسيه کي و اودروس وترکانو جګړه دتودېدو په حال کي وه . له ده څخه وغوښتل سوه چي له خپلو پلويانو سره يوځای دروس په لښکرکي جګړي ته داخل سي . راته يې وويل چي اورېدلي مودي ته يولوی جنرال وې اوموږ غواړو چي ستاقوتونه وازمويو .خودی دروسانو له پاره جنګېدو ته مايل نه و په تېره بياچي دده دهم دينه اوهم مذهبه سره جګړه وي. نو يې جواب ورکړچي ستاسي پرخوا دجنګېدوپه وخت کي به زما دزړه ورتوب اواستعداد معلومولو موقع برابره نه سي ځکه ټول روسان زړه ور اوښه جنګيالي دي اودی به دډېرو زړه ورو په منځ کي يو وي . دابه ښه وي چي تاسي ماته ددښمن په خواکي دجنګېدو اجازه راکړئ اوهغه وخت به ماپخپل وړاندي دجنګېدلوپه حالت کي وويني ، زمالياقت به درته څرګندسي اوښه تراقضاوت به وکړئ. ده وويل چي هغوی بياهيڅکله ترې دغه شان غوښتنه ونه کړه .

اميردتېرو حالاتو په باب دخبروپه ترځ کي وويل چي يوڅوته ددغه راز تشويشونو زغمل سخته ده . ددې له پاره چي دی له روسانو سره هم دخپل هيوادپه ګټه اوهم له انګليسانو سره دترون په اساس جنګېږي ، بايدکافي اندازه پياوړي وي .خوله دې سره سره ورته ويل کيږي چي تازيات مهمات پېرودلي دي. ده هځه کړې ده له خپل متحدسره ډېرښه چلندوکړي خوورته ويل کيږي چي تاقبايل دهغوی پرضد وجګړې ته لمسولي دي. بياهم ده دخپل هيواد په ګټه په زړه کي ډېراصلاحات اوريفورمونه درلودل خومامورين يې صادق خلك نه وو اووه نه سوای کولای دخلکو واقعي غوښتني اونظريې خان ته څرګندي کړي . ددې له پاره بايد ده قوانين بدل کړي وای ، پرهـــــــغوی يې فشار راوړي وای

اومرسته یې ورسره کړې وای چې خانونه اصلاح کړي او پرځنګ یې باید بیاهم زیارایستلی وای چې خلك یې په سوله ، امن اونیکمرغۍ کې ژوند وکړي .

سره له دې، امیرعبدالرحمن یواستثنایي لایق سړی و. ده ډېرلږ حتی هیڅ تعلیم نه وکړی یوازې دخپلو سرګردانیو په سخته مدرسه اودخپلو ماجراوو په تاریخ کې روزل سوی و. چې بیاوروسته امیرسوی اوهیجان آوره داستان یې جوړکړی و. دی بې له شکه دافغانستان ډېرپیاوړی واکمن و . خکه کله چې دی پرتخت کښېنوست په هیوادکې تربل هروخت زیاتې خپل سری او بې قانونی وې . دچاسرپه امان کې نه و . هیچاخان خوندي کولای نه سوای .خوچې دی مړسو، یوه مسافرپه یکړسرکولای سودهیواد له یوه سره تربل پورې په امن کې سفروکړي . دغه راز دی په شخصي لحاظ هم ډېرزړه وراوباجراته سړی و اوهغه ځوك چې دده پرخلاف جنګېدلي وو، پوهېدل چې که له ده سره چابدکړي وای په ډېري بې رحمۍ سره یې غچ اخیست .

ماته یې کیسه کوله چې یووخت دی دخپلې کورنۍ له نورو غړو سره په جګړه کې و اوپرته له ځوملګرو نورڅه ورپاته نه وو . په یوه کلي کې یې یوې کلاته پناه وړې وه اودده یوه ملګري په نامردۍ سره خیانت وکړ اودده دپناه ځای خبرېې دښمن ته ورکړ . دښمن دشپې له یوزیات شمېرلښکرسره راغی اوکلایې محاصره کړه. په دروازه کې یې دده دتسلمېدو له پاره چیغې پورته کړې . ده دخپل سړیو اواسانو له پاره زړېرمه نه درلوده اودسړیو شمېرهم بیخي زیات وو، خکه نوجګړه کول بې فایدې وه . ده پتیېلې وه چې له دغې ستونزې څخه په هره وسیله چې وي، باید ووزي خکه دده نیولو دمرګ معنا درلوده . نوېې یولوی پوستین واغوست چې سرترنوکه پکښې پټ و . دغه رازپوستینونه معمولا دشپې لخوااغوستل کیږي اوسروبدن ټول په پټوي . دی دکلاپه بغل کې تریوې کوچنۍ دروازې ورووت ، تمانچه یې په لاس کې ترپوستین لاندې نیولې وه اودباندې په لښکرو ورګډ سو هغوی فکرکاوه ، چې داد دوی له خپلو خلکو څخه یو تن دی .په پای کې ده هغه ځای ته ځان ورساوه چې دښمن یې ولاړو اودده دنیولو انتظارېې کیښ . ځوك نژدې ورسره نه وو. دی دشا لخواورغی اوټینګ یې کړ .تمانچه یې پرځټ ورونیوله اوامرېې ورته وکړ، چې ښوروونه خورې،که نه ځای

پرخای یې وژني . یرغمل سوی دښمن یې دهماغي کوچنی دروازې له لاري کلاته بوت، چي دی تورراوتلی و. دلته یې دده دژوندي پرېښوولو شرط داکښېښود ، چي دکلاله دېواله خپل لښکرته امروکړي چي له کلاڅخه کافي اندازه ليري سي . په دې ډول ده ته دتېښتي زمينه برابره سوه روغ رمټ له خپلو ملګرو سره راووت (۴) اميردکرکترپېژندني مهارت هم درلود اوداسي چاله فوټو (تصوير ) څخه دهغه کرکترپيانولای سوای ، چي ده به هيڅکله ليدلی نه و. اوکوم قضاوتونه چي يې زماپه مغ کي دخلکو دتصويرونو له مخي کړي دي ، زياتره يې صحيح هم وو.ده دGladstones (۵) ، Bismark (۶) اومك موهن (۷)Mc Mahon ډېره ستاينه کوله اوويل يې چي دوی دخپل وخت سترخلك وو . يوڅوتنه جنرال دده دستاينې وړ وو ، نوريې زياتره غندل . خودجنرال وايټ General White له خوايې دليډي سميت Lady Smith دفاع د بويرجګړې يوه ډېره ځلانده کارنامه ګڼله

## داووم څپرکي لمنليکونه

( ۱ ) په متن کي يې Shagrasi ليکلی دئ چي سم نه دی . شاغاسي يا ايشك اقاسي يو دولتي لقب و ، چي د دربار دوزير معادل يې بللای سو . شاغاسيان دبارکزو له قومه ټاکل سوي وو .

( ۲ ) مشهور مجاهد ، عالم او مرشد ملانجم الدين اخوند دجلال آباد د هډې اوسېدونکی و خکه نو ( دهډې ملا ) باله کېده . علامه حبيبي مرحوم يې « کاکړ » بولي ( پښتليك ـ ۲۱۹ مخ ) په کابل کي د هغه وخت دبرتانوي استازي دخولي خبره ده ، چي ملانجم الدين اخوند له ډېرو سترو متنفذو انګرېزي ضد روحانيونو څخه و اوتر يولك زيات پيروان يې درلودل . په ۱۸۸۷ ع کال چي د مشهور مجاهد ملامشك عالم د زوی ملاعبدالکريم اندړ په مشري دغلجيو پاخون دتکوين په حال کي و ، نوموړي ملانجم الدين ته هم بلنه ورکړه سوه ، چي له دغه پاخون سره يوځای سي . په ۱۸۹۷ ع کال کي د انګرېزانو پر ضد د خپلواکی غوښتني يو لو ی پاخون د ډيورنډ دکرښي په شاوخوا کي د ميشتو قبايلو لخوا پيل سو . ددغه پاخون مشري د داخوندملانجم الدين(دهډې ملا ) ، د سوات داخوند او د ملا پونده ( دده نوم محی الدين و ) په لاس کي وه . ملانجم الدين اخوند شينوارو د « پاچا » په توګه اعلان کړ خو ده ته وکړه . اميرعبدالرحمان خان دده له نفوذه ېېرېدی . ده ته يې دهډې او نورو ګاونډيو کليو دبخښلو پېشنهادوکړ خو ده د « رد » جواب ورکړ . ملانجم الدين اخونددژوندپه وروستيو کلونوکي سوات ته کډه سو خو دوفات پروخت په هډه کي و او هوري ښخ سو ( ۱۳۱۸ ق دروژي يوويشتمه ) .(م.ح)

( ۳ ) بوير (Boer ) دهغوهالينډي بزګرانونوم و ، چي په اوولسمه پېړی کي يې دجنوبي افريقادGood hope راس ونيوه . هغوی افريقايي مريبان پخپلوکروندوکي وګومارل . انګليسانودغه ځای دناپليوني جګړو په دوران کي اشغال اوتربشپړکنټرول لاندي يې راووست . په ۱۸۳۳م کي دانګليسانوپه امپراتوري کي مرييتوب منعه سو اوزياترو بويرانو (Boers ) دبرتانوي واکمنی څخه سرغړاوه . دوی شمال ته ولېږدېدل اوهوري يې دوه خپلواك دولتونه جوړ کړل . بويرانو په ۱۸۹۹م کي دانګرېزانوپردووهستعمرو (Natal ) او (Cope ) باندي بريدوکړ . انګرېزي لښکرو ته له کاناډا ،استراليا اونيوزلينډ څخه ملاتړي قواوي ورسېدي . دوی دبويرملکي تاسيسات اوفارمونه وسوځول اوډېره مرګ ژوبله يې وکړه . داجګړه د۱۹۰۲ کال په مې کي پای ته ورسېده . (پښتوژباړونکی )

( ۴ ) داپېښه په تاج التواريخ کي راغلې ده . (ژباړونکی )

( ۵ ) ګلېډ ستون ( ۱۸۰۹ ـ ۱۸۹۸ ) دانګلستان مشهورسياستمدارو ، چي څلورواره دهغه هيواد دمشر په توګه ټاکل سوی و . (م. هوتك )

( ۶ ) بسمارك ( ۱۸۹۸ـ۱۹۱۵م ) دجرمن امپراتوري لومړی صدراعظم و (م. هوتك )

( ۷ ) دادجنوبي افريقا په Natal کي يوښارګوټی و ، چي دسرهاري سميت دمېرمني په نامه نومول سوی و . انګرېزانو ته دبوير په جګړه کي ددغه ښاردفاع د درو زرو تنويه قرباني تمامه سوه .جنرال وايټ ددغه محاذ مشري پرغاړه درلوده . ( م. هوتك )

# اتم څپرکی

## امیرعبدالرحمن (ادامه)

دامیرزامن اوله هغوسره دده سلوک ـ شهزاده ګان . وظایف یې اودرباروته یې ـ دشاهي کورنۍ غړوته دحکومت لخوا ډېرډېرې تهیه کول ـ مامورینوته تنخواوي څه ډول ورکول کېدې؟ ـ دملکي اونظامي القاب ـ ددربارژوند اومامورین ، دقانون محکمې ـ دامیردوامداره ناروغي ـ مېرنه اوښځول یې ـ دپاځونونو اوازې ـ دوګړو واهمې ـ دکورنیو خزانو ښځول ؟ دامیرحبیب الله تاجپوښي ـ دنوي امیرلخوا دریفورمونو ژمنې ـ ساتېرې

---

دامیرپنځه زامن ژوندي دي، حبیب الله (اوسنی امیر )، نصرالله(لندن ته چې استول سوی و ) دوی دواړه دیوې موردي ، امین الله ، دچترالي ښځې زوی ، محمدعلي دترکستانی ماندینې زوی چې زیاتره په ترکستان کي اوسي اودده په باب لږڅه اورېدل کیږي اومحمد عمردملکې سلطانې زوی . امیرکه څه هم له زامنو سره دمهربانی سلوک کاوه خوله هغوی سره هیڅکله نزدې نه و .له هغو سره یې چلند دپاچاپه شان و ، نه دپلار وزوی . که به دوی کومه ګناه یاپه وظایفوکي غفلت وکړ ، په سزا کي به امرورته وسو،چې دربارته دي نه راځي اوله دوی څخه به دلږیاډېروخت له پاره خپه و. وروسته به یې خوک پسې ولېږه اودبیرته راتګ امربه یې ورته وکړ . بیابه نودغه مجرم راغی ، دپلار په پښوکې به ورولوېد اودبخښني له امله به هغه ته دده دلاس مچولو اجازه ورکړه سوه.

امیرخپلوزامنو ته لوړدولتي منصبونه له مناسبو تنخواوو سره ورکړي ووخوپه هیڅصورت ورته اجازه نه وه، چې دنفوذ خاوند یادنامحدودو اختیاراتوڅښتن سي . ډېرو سرکاري مامورینو دامیرترزامنو زیات قدرت درلود اوله شهزاګانو سره یې سلوک ډېرمودبانه نه و، په تېره بیا دامیردپاچهی په وروستیو شپوکي . سردارحبیب الله تش په نامه دلښکرمشراودټولوورکشاپونو عمومي امرو، سردارنصرالله دټولو دفترواو میرزایانو مشرو اونوروهم کوچني مقامونه اشغال کړي وو.

شهزاده گانو خپل خانته دربارونه جوړول ،چي زیاترو مامورینو اوافسرانو به یادخپلو وظایفو په ارتباط یاشهزاده گانو ته د «سلام» له امله برخه پکښي اخیسته .دوی ټولوجلا جلا کورونه درلودل چي دښارپه نوي برخه کي یې موقعیت درلود . دوومشرانو شهزادگانو یې ترښاردباندي هم کورونه درلودل چي ددوبي یوه برخه به یې پکښي تېروله . سردارنصرالله چي له لندن څخه تړراستنېدلووروسته یې تنخواه ډېره سوه ، دځان له پاره دهغه کورپه شان نوی کورجوړکړ، چي په لندن کي دده داستوگني په وخت کي پکښي اوسېدی( په پارك لین کي ډورچسټرهاوس ) (۱) داکور دنظم وترتیب اوسامان ولوازمو له مخي دکابل ترټولو ښه کورو . کله چي بشپړسو ، امیرخوورخي دشهزاده دمېلمه په توگه پکښي تېري کړې اوډېرپه خوشاله وڅکه امیرښه معماري خوراډېره خوښوي اودده خپلي ماڼی هم دختو اوخښتو په ودانیو کي چي په هیواد کي مروجي دي، یوازنی ابتکاري ماڼی وي

دشاهي کورنی ټولو غړوته چي په مجموع کي دمحمدزوکورنی ده، دحکومت له خوامعاش مقرر و . څلورسوه روپی (تقریبا۱۲ پونډه ولس شلنگ ) دهرهلك پرسراودرې سوه هري نجلۍ ته دکاله ورکول کېدې . زیات شمېرته یې له شاهي پخلنځي څخه خواړه هم رسېدل خودغه کارداوسني امیرپه رژیم کي بندسوی اوپرځای یې پیسې ورته منظوري سوي دي . ددغه کاراساسي علت دخوراکي موادو قلت اوپه نتیجه کي دهغوگراني وه .

دحکومت مامورین اوله امیرسره نورمربوط کسان دکاله له دوو سوو څخه ترشپږو زرو روپیوپوري تنخواوي لري . که څه هم زیاتروته یې له خپلوشخصو مځکو څخه عایدهم رسیږي . دوی ټول ترخپل څرگندعاید دزیاتو پیسو ژوند کوي اوبالابود یې له هغولارو څخه برابروي، چي دوی پخپله ښه په پوهیږي . معمولا هرڅومره چي څوك پست (Rascal ) کیږي هغومره یې عاید ډېریږي . پخوا دمامورینو معاشونه په هیوادکي له بېلابېلو مځکو څخه ، مالیو دبراتونو په واسطه ورکول کېدل اومقامات مجبورو چي دغه مالیې پخپله راغونډې کړي . په دې ډول به حکومت ته دمالیې دافسرانو لگښتونه سپمېدل . مگرپه نتیجه کي به ترټولو لوی مقام دغه ټول براتونه رانیول په خورا لــــــږ فیصدي به یې

تخفیف پکښې راووست ، چې ټول به دده پخپله ګټه اودهیواد دمنفعت پرخلاف وو .دده اجتهانو به کروندګروته دژوند له پاره هیڅ هم نه پرېښوول . داکاربه ددې سبب سوچې هغوی خپله یوه ټوټه مځکه خوشې کړي اودبلې دندې په تلاښ کې سي . مالیې دراغونډونکو له خوادعمده پلورنې دغه لوټ اوتالان دخزانې داوسنې ټیټ حالت یوسترعامل دئ .

مامورینو نه دهغوی له کارپاڅانګې سره سم لقبونه ورکول سوي دي خوبرسبېره پردې زیاتره یې بې له دې چې له یوې پوځي قطعې سره دې ارتباط ولري دکلونل یابریګېډیرلقب هم لري . دغه کسان ملکي افسران نومیږي . دلښکرټولوافسرانواورسمي مامورینو ته په کال کې یوواردجشن پروخت یاامیرته د «سراج الملت والدین» دلقب ورکولودکالیزي پرموقع یوه مېلمستیا ورکوله کېږي . پردغه موقع ټول نارینه درېارته حاضرېږي اووروسته دمانښام ډوډۍ ورکوله کېږي . څرنګه چې په ماڼۍ کې هغوی ټول نسي ځایېدلای، یوه ډله یې په څرمه باغچوکې کښېني اوهورې دماښام ډوډۍ ورته ایښوولہ کېږي .

په کابل کې له اوسېدونکو انګلسیانو سره دمامورینو چلند دامیرطبیعت اودانګرېزي حکومت په نسبت دهغه برخورد منعکسوي . که داسي ښېښه سي چې امیردهند دحکومت په مقابل کې متعصب ښکاره سي ، معنا یې داده چې دهغوی لخوا دده دتوقع پرخلاف زیات ټینګاروړسره کېږي . په کابل کې که له اوسېدونکو انګرېزانو سره هم دده خوابدي محسوسه سي ، اوورسره ټول مامورین بیادخپل مشرپه تعقیب دګستاخۍ ترحده بې نزاکته سي .بل وخت چې بیادانګرېزانو قدرت زیات سي ، مامورین هم دخدمت په وړاندې کولوکې له افراطه کاراخلي . ددوی په خپلو منځوکې هم، که یوتن دامیرپه نزد په لوړمقام وعزت کې و، دوی ټول یې پخپل نوبت په درناوي کې برخه اخلي خکه هیڅ یوله دوی څخه دزیاتي مودې له پاره دعزت څښتن نه وي . هریو یې دعزت له څښتن سره غوړه مالي کوي خوپه زړه کې بیاکرکه ورسره لري . دعین غوړه مالۍ په وخت کې دهغه دنسکورېدو له پاره دسیسې کوي .

دهیواددقانون محکمې،که دانوم ورته مناسب وي ، پردوو ډلوویشل سوي دي . ددوی د مذهب په ارتباط دعوې او سرغړونې په لومړي سرکې دخان ملا (۲) په

محکمه کي فیصله کیږي ، که دهغه تړواك تېره وه بیاومشرسردارته محول کیږي اوترهغه وروسته امیرته وړاندي کیږي . له قانون څخه سرغړوني دکوتوال په محکمه کي فیصله کیږي اودده ترقدرت تېرموضوعات بیاهم مشرسردار ته حواله کیږي اوکه دده ترصلاحیت هم لوړه وه ، بیادده په واسطه امیرته وړاندي کیږي . داشخاصو ټولنیزي دعوې ددوی دسیالانو په واسطه حل وفصل کیږي .
دعوامو داپه عوامو اودخانانو اومشرانو داپه خانانو . اوسني امیردغه رازمحاکمو ته مخصوص حکم هیات (جوري ) ټاکلی دئ. دغه هیات پرهغو دعوو غورکوي، چي پخوا به ده ته (امیرته ) وړاندي کېدلې.هیات ته ځانګړی صلاحیت ورکړه سوی دی اوخپل برداشتونه اونظریات بایددتایید له پاره امیرته وړاندي کړي . اوسني امیردغه رازیوه شورا ( پارلمان ) هم جوړه کړې ده، چي تقریباًددېرشودېپارتمنټونو مشران پکښې غړيتوب لري . هغوی دریفورم اړوندقوانین څېړي،له څېړني اوخبرواترو وروسته، چي داکثریت په رایه هربدلون پکښې راغی ، هغه لیکل کیږي اوامیرته دمنظورۍ له پاره وړاندي کیږي . امیربیاهغه تصدیقوي . شورا پرهغو دعوو هم غورکوي چي داثبات له پاره یې دېرغوراوپلټنه په کاروي . دشورا اجراآت دنورو دعوو په شان امیرته دمنظورۍ په مقصد وړاندي کیږي . یوبل حکم هیات(جوري ) دهغوبندیانو ددعوو له پاره ټاکل سوی دئ، چي بې له محاکمې بندیان سوي وي . په کابل کي دغه راز بندیان زښته دېردي اودهرراز بندیانو مجموعي شمېردشلو دېرشو زرو په شاوخوا کي دئ . هیات ته امرسوی، چي دهرکېس بشپړبوټ امیرته ورکړي .
دامیردنفرس ناروغي دده دژوند په وروستیو لسوکلونوکي ورو ورو زیاتېدله اودېرلېږتګ یې کولای سوای . هرځای چي به تلی باید وړل سوی وای . په وروستیو دوودروکلونو کي خوبېخي پرپښودربدلای نه سوای او ان په خونه کي لا په شاوړل کېدی . ورو ورو ورسره کمزوری کېدی هم، اودناروغی حملې به دېرژر ژر ورباندي راتلې . ناروغي یې ورو ورو مغزهم ونیو اوداسي حالت ته ورسېدچي کله کله به یې مغزسم کارکاوه . په دغسي شرایطوکي دی مجبوروچي پرخپلو مامورینو نورهم زیاته تکیه وکړي ، چي په نتیجه کي دحکومت اختیار په تېره بیا دهغو دووتنو په لاس کي ولوېد ،چي دامیردناروغی

په وخت کي يې دده زيات باورترلاسه کړی و . دوی کولای سوای دامیرذهن هرهغه لورته واړوي، چي ددوی خوښه وي . دې خلکو دومره قدرت وموند ، یایې غصب کړ، چي هرڅه گویادوی وو. تردې اندازې چي په پای کي دومره په ځان غره سول ، چي بېخي له خلکو بېل سول . له دوی څخه یوتن خودومره زړه ورسوچي دسردارحبیب الله دنوي کور ترکاڼان يې له خپلو گاډیو سره په زور له کارڅخه بوتلل اوداکاريې دامیرپه نامه وکړ. په داسي حال کي چي، امیرهم په داسي حالت کي نه و، چي دخپل زوی شکایت دې واوري . هغه هم که په زوی کي يې دومره جرات وای، چي دخپل پلارپه وړاندي دغه شان مسایل طرحه کړي . دغه سړی وروسته له هغه چي سردارحبیب الله امیرسو، دېرژرله کاره وایستل سو. ( ۲ )

په نتیجه کي د ۱۹۰۱ کال په پسرلي کي پرامیرعبدالرحمن باندي ناڅاپي دزړه حمله راغله اوداسي فکرکېده چي نوريې نوآن تمام سو.خو دی شپږمیاشتي لانورهم ژوندی و اوداکتوبر پرلومړۍ نېټه مړ سو. داسي ویل کېده چي پښې يې څورخي وړاندي لامړې سوي وې اوداسي بدبوی يې کاوه چي په خونه کي يې چاځان نسوورته نېنگولای . دامیرترمړیني یوه ورځ دمخه چي نورنو دده دجوړېدو هیلمه پاتمه نه سوه، سردارحبیب الله اوسردارنصرالله له یوشمېرنورو لوړرتبه ماموریندو سره جرگه سول ، چي دامیر له مرگ سره سملاسي دیوگام اخیستلو په باب فیصله وکړي . څکه کله چي په خلکو کي دامیردمرگ خبردیوه واقعیت په توگه خپورسوی وای ، دبغاوت اوستونزو پېښېدل حتمي وه اوداسي اټکل کېدی، چي ملکه سلطانه به اردودخان ملگري کړي اوخپل زوی محمد عمربه دامیرپرځای پرتخت کښېنوي . دې زیات نفوذ درلود اوپه خلکوکي دمحبوبیت څښتنه وه . په دغه جرگه کي فیصله وسوه، چي سردارحبیب الله به د خپل پلارجانشین وي اوکله چي امیرمړسي ، دی به سملاسي دارگ مستحکمه ماڼۍ، چي خزانه اودعصري وسلو گودامونه پکښې دي، اشغالوي . څکه دهغې نیول به عملا دی پرحالاتو کابوکړي اوکه احیانا عسکر بغاوت هم وکړي . لکه څرنگه چي يې خطراحساس کېده ، دهغه دمخنیوي امکانات به ترهغه وخته وي، چي حالات سمیږي اونظم ټینگیږي .

دامیردمرگ پروخت چي دشپې پېښ سو ، ټول شهزاده گان اومخور مامورين دباغ بالا ماڼۍ په انتظارخانه کي حاضروو . دوی هورې دخپلي شورا په بلنه له ماپښين څخه لاحاضرسوي وو ، څکه شورا ته څرگنده سوې وه ، چي اميرنورژوندی پاته پدلای نسي . کله چي رابلل سوي کسان حاضرسول اودامیرمرگ ورته اعلان سو ، له حاضرومامورينو څخه يوه تن دفقيدامیرخولی دسردارحبيب الله پرسرکښېښوله اودامیرپه توگه يې وټاکه . ټولو حاضروکسانو په رونې سره لاس ورکړ ، خپل بيعت يې ورسره اعلان کړ اواميرېې وباله . يوبل مامورڅرمه خوني ته چي سردارمحمدعمرپکښې ناست و ، ولاړاونوموړی يې ورسره راووست ، ورته يې وويل چي نوی اميرته بيعت ورکړي اوده همداسي وکړه . خپل بيعت يې دنورو په شان ورته اعلام کړ . دغه مامورپخپل دغه کارسره دملکې سلطانې سخته دښمني اونفرت وگاټه .

نوي اميرورسته له خپلواکثرومامورينو اوپلويانو سره ښارته ولاړ ، ارگ يې اشغال کړ اودهغه ځای دلښکروله برگېټ (دگرمن) سره يې کارونه سمبال کړل . دغه برگېټ دبرژردډگروالی (کلونل) رتبې ته لوړسو . سردارنصرالله خان هماغه شپه په باغ بالاکي تېره کړه ،چي ارگ ته دټول فرنيچر ، غالیواوگېڼو اونوروسامانو دلېږدولو څارنه وکړي . ده په هماغه شپه ټول شيان په گاډيوکي رانقل کړل اوپه سهارېې دامیرجسدهم ارگ ته راووړ اوددې له پاره چي دامیردمړيني دخبرپه خپرېدو اودهغه دجسدپه ليدو سره دکوم احتمالي پاڅون مخه نيوله سوې وي ، له مړي سره يې دسپرو يوه پياوړې قوه بدرگه کړې وه .

په دابله ورځ دملکې سلطانې مېزوچوکۍ اونورسامانونه دارگ له حرامسرای څخه ددې خپلي ماڼۍ ، گلستان سرای ته چي دارگ دېوالوته څرمه وه ، نقل سول اوپرځای يې دنوی اميرمېرمنې په ارگ کي ځای پرځای سوې . وروسته نودامیردمړيني په ورځ له هراروپايې سره چي کوم اووه کسيزگارډ و ، هغه دممکنواضطراري حالاتو په پام کي نيولو سره دوه چنده سواوداردل ټولی يوبل گارډ هم وټاکل سو . اردل گارډ دشاهي ماڼيو اوحرم سرايونو بهرني ساتونکي دي اودمهمو کسانو څارنه هم کوي .

په کابل کي د ټولوطبقو خلکو دا انتظاردرلود ، چي دامیرمړينه به دعمومي

(c) ketabton.com: The Digital Library

امیر عبدالرحمان

اړودوړ له پاره چي اردو به يې په مخ کي وي ، يوه اشاره وي اوپه دې کي شک نه و، چي دټولو خلکو داانتظار، هسي يوګومان هم نه و .خلکو د دغسي اړودوړ په مقابل کي دخان دساتني په غرض خپل جواهرات اوګڼې دکورو په چتونوکي ښخي کړي وې اوڅومره چي يې وس درلود ، د اوړو، خوراکي موادو اوتېلو کافي اندازه يې زېرمه کړي وه . چاچي په کورونوکي وسلې درلودې ، داړودوړ په وخت کي يې دکوردمحافظې په غرض آماده کړي وې . له شاوخوا غرونو څخه يوزيات شمېرخلك دکابل شاوخوا سرکونو ته راشيوه سول . وحشي څېرې يې وې ، عجيب وغريبي جامې يې اغوستي ، تېرونه اوزړې پلتنه يې وسلې ورسره وې . څکه دامېردمړينې خبرېردوى هغه شان اغېزه کړې وه لکه پرتپوسانو باندي چي دمړه سوي حيوان دلاښ ليدلو له امله کيږي . دوى له ډېروليرو فاصلو څخه په لږوخت کي خانونه دچوراوتالان له پاره رارسولي وو . داهغه خلك دي، چي دکابل اوسېدونکي هرکله داله ګولي دپښېدو په وخت کي ، له هغوڅخه په واهمه کي وي . څکه هغوى په زرګونوتنه لغ لغړخلك دي ، بې له ژونده بل هيڅ شى له لاسه نه ورکوي اوژوندهم هغوى ته ډېرلږ اززښت لري . بداى اونېستمن ته يې دکابل غريب اوسېدونکي په ثروت اوشتمي کي شهزاده ګان ښکاري . دوى آن کورونه په دې خاطرچپه کوي چي له لرګيو څخه يې پخپلو ودانيو کي کاروا خلي . دغه کورچي زه پکښې اوسېدلم ، يوخل ددغوخلکو له خواله خاورو سره برابرسوى اوحکومت له سره بيا ودان کړى و .

ماته وويل سوه، چي دامېردمړي دتښتولو له پاره هم يوه دسيسه جوړه سوې وه اوهغه داسي، چي دامېرمړى قبرته دوړلو په لارکي چي ترکابل دباندي په هاشم خان کلا کي جوړسوى و، وتښتول سي ، ټوټه ټوټه سي اوسپوته وغورخول سي. ( داديوه مسلمان له مړي سره ډېره ستره شيطاني معامله ګڼل کيږي ) . له کابل څخه دکلاى هاشم خان پرلورسړك اودلاري شاوخوا غونډۍ په دغه ورځ ددوبجو په شاوخواکي دزياتوسړيو دراغونډېدوله امله توري ښکارېدې، دوى دجنازې تېرېدلو ته منتظروو اوکله چي دجنازې وخت رانږدې کېدى پرټولوخلکو باندي ديوه پټ هيجان عمومي فضاخپره سوه، چي په يوه څغلند نظرددوى له چابکو چابکو حرکاتو اوڅېروڅخه چي ددوى دسرې سينې له عمومي روش څخه

يې توپير درلود ، معلومېدلای سوای . په هرصورت ، مقاماتو ددغوښولو خبرونو له رسېدو وروسته دفقيدامير مړی دهاشم خان کلا پرخای دبوستان سرای مانۍ په ختيځه څنډه کي فقط ترارگ دباندي دملکي سلطاني دمانۍ په څنگ کي ښخ کړاوورځ بې له دې، چي کومه ناوړه واقعه دي پېښه سي، تېره سوه .

دامیر د مرګ پروخت په کابل کي شپږتنه اروپایان اوسېدل مېرمن ډالای (Mrs. Daly )، ښځینه ډاکتره ، یوجرمنی مستر فلیشر Mr.Fleischer( په ۱۹۰۴ کي هلته ووژل سو ) دده مېرمن ، ماشوم اونرس یې اوزه پخپله . موږ پخپلو منځوکي پردې مساله خبري وکړې، چي دکوم اړودوړ په صورت کي بایدڅه وسي؟ که څه هم دمسلې په باب په بشپړه توګه وړغېږدو خوله ښاراوهیواد څخه مو دتېښتي هیڅ راز وسیله نه درلوده اوداسي ښکارېده چي دخپلو خانو دساتني له پاره مو ، بې له دې چي داړودوړ دپیل په صورت کي ټول یوځای په یوه کورکي راغونډ سو، بل هیڅ نسو کولای . که مو ددغه کارله پاره کافي وخت درلود نوترڅوچي ممکنه وي باید هغه کورخپل مورچل وګرزوو اودفاع وکړو. څکه پراروپایي اوسېدونکو باندي به په دغسي حالاتوکي ترټولو لومړی برید کیږي اوکله چي نظم له منځه ولاړسي بیانو محافظین هم دپردیو دساتني له پاره له خپلو خلکو سره جنګېدلو ته نه چمتوکیږي. موږ پوهېدو چي که لښکرامیرته وفاداړپاته سي ، بغاوت په اسانی سره ارامېدلای سي. خوکه لښکردامیرپرضدراوپاڅېد ، نوداروپایانو محافظین به بې له شکه دکافرانو په ویشتلو پیل وکړي اوچي رشتیا سي یومحافظ دمېرمن ډالای یوه نوکرته ګواښ هم کړی و ،چي دجګړې له شروع کېدوسره سم به واردواره داروپایانو نوکران ووژل سي، بیااروپایان پخپله. ما دمارتیني هینري توپك یوه اندازه کارتوس له ورکشاپ څخه دګارډ له پاره اخیستي وو اوله خان سره مي لرل، چي که خلکو پردوی برید وکړ، کاربه ترې واخلم اودجنازې پروخت دوی (محافظین ) ډېرتلولي وو ،چي زه باید سملاسي هغه کارتوس ورته ورکړم . خومااغوره وګڼل دمخه تردې چي دوی ته هغه وسایل ورکړم اودخان اوخپلونوروملګرو له پاره یې په لوی لاس خطرناك وګرزوم، باید دحوادثو مسیرته وګورم اودوی ته ووایم چي ببغمه اوسئ،هروخت چي وغواړئ، کارتوس به پرخپل وخت درته ووېشل سي. بې له شکه چي عسکرپاځرن ته تیاروو اودې کارته یې په هغه صورت کي زړه ښه کاوه، چي یوچایې لاربښوونه پرغاړه اخیستې اومخکښ سوی وای . هري ټولي انتظاردرلودچي پاڅون به نوري ټولی پیل کړي اودوی ورسره یوځای کېدوته تیاروو .خو ددوی ترمنځ یووالي نه و او په هیڅا کي دا جرات هم نه و،

چي مخکښ دي سي. دجنازې په ورځ زماپرکوردګارډافسران ددې له پاره راتاو سول، چي وګوري آيا ټول حفاظتي تدبيرونه نيول سوي دي ؟ او يو څو ساتونګي يې پرېيام باندي دګاونډيو کورونو دځارلو په غرض ځاى پرځاى کړل. دوى راته وويل چي هرراز ناځاپي پيښنو ته بايد تياروا وسم. ځکه له ټولو هغو اوازو څخه چي ددوى غوږونه رسېدلي وې، ځرګندېده چي زه اوددوى يوزيات شمېر به ترشپې دمخه ووژل سو. دغه راز پراروپايانو باندي دحملې په صورت کي دناځاپي ستونزودمخنيوي له امله ماا ونورو اروپايانو ته وويل سوه، چي په کورکي پاته سو اوپه هيڅ صورت بازارته ونه وزو.

دامير دښځېدو د ورځي په داسېاچي د ۱۹۰۱ کال داکتوبر دريمه وه، د اميرعبدالرحمن مشرزوى سردارحبيب الله، چي په دغه وخت کي ۳۲ کلن و، په رسمي توګه اميرسو. مراسم دارګ ماڼى ترډېرلوبهرپه سلامخانه کي دټولو شهزاده، ګانو مامورينو ، داردو لوړو افسرانو، مخورواوخانانو په ګډون سرته ورسېدل.رنګه جامې نه په سترګه کېدې . شهزاده ګانو، مامورينو اونورټولو توري جامې اغوستي وې . يوازي ديوځوتنوسپيني اويوځوتنوبوري جامې په تن وې . افغانان دپاچا دمرګ په وخت کي دتوروجامو اغوستلو دودلري اودرې ورځي يې اغوستي وې. مراسمو دوې برخي درلودې ، مذهبي اوملکي.

مذهبي مراسم دمسجد جامع دمشرملاله خوا ترتيب سوي وو. ټولوحاضرو کسانو په دوعاوو کي برخه واخيستله اوپه دې ډول مراسم پيل سول . وروسته نوملادسپين ململ (ډاګې) لونګۍ دسردارپرسروتړله، په داسي حال کي چي قرآن اودپيغمبر ( ص ) متبرکات (چوخه اووريښته ) اودکوم زيارت جنډه يې ورته ورکړه ، دى يې دافغانستان دمستحق اومنتخب اميرپه توګه اعلام کړ. دغه جنډه فقيدامير ( اميرعبدالرحمن ـ م.هـ ) دترکستان له يوه متبرك قبر څخه راوړې وه. دټولودغه شان قبرونوسرته خادې ښخي اوبيرغونه اوربنګې باندي خوړندي وي. فقيد اميرچي له روسيې څخه کابل ته راروان و پرلارې يې دغسي يوځاى ته نزدې کمپ وهلى و. دشپې يې خوب ليدلى و چي دافغانستان دتخت ګټلو په هڅه کي به برېالى سي، ځکه يې دزيارت جنډه ديادګار اوتعويذ په توګه ورسره رااخيستې وه.

ملکي ( غير پوځي ) مراسم دسردارنصرالله له خوا (دنوی امیرسکه ورور ) جوړسوي وو اونوي امیرته یې دفقید امیرخولی ورپرسرکړه . دغه خولی له تورقره قل پوست څخه جوړسوې اوپریوه خوایې دالماسو ستوزي نښتي و. کله چې فقيد اميرته د «ضیاالملت والدین» لقب ورکول کېدی. دغه خولی دشاهي کورنۍ د غړولـه خواورتـه دتحفې پـه توګـه وراندي سوې وه. بيـاد فـقيد امیرکمربندترملاوروتاړه اودهغه توره یې ورته تقدیم کړه . دنوی امیر پخوانی خولی، توره اوکمربند سردارنصرالله ته اودسردارنصرالله پخوانی خولی ، توره اوکمربند سردارمحمدعمرته چې دفقيد اميرکشرزوی و ورکړه سول . وروسته نو امیروښاوکړه اوپه هغې کې یې ورېل، چې غواړي هیواد یوموټی وساتي، د بهرني تېري مخه ونیسي اوداسي ریفورمونه پیل کړي چې دهیواد خلک یې نېکمرغه سي. دی به دغه راز هغه منفوراستخباراتي سیستم له منځه یوسي چې تردغي ورځي پوري جاري و اوهیڅوك په امان نه وو .وروسته ټولو حاضرو کسانو له امیرسره دبیعت لوړه پرقرآن باندي وکړه اومراسم له معمول دود سره سم په ډوډۍ خوړولو سره پای ته ورسېدل . دځواوونو له پاره ښاردهېواد دبیلابیلو سیمو په خلکوډك و . دقومونو خانان ، دښارو واليان ، دکليو ملکان اونورټول اميرته دبيعت ورکولوله پاره راغلي وو اوهغوکسانوته ، چې بيعت ورکاوه له معمول رواج سره سم «خلات» يا ددرناوي چپنه ورکول کېده . دایورازچوخې دي چې له نصواري ، شنو یازرغونو ټوکرانو څخه روغي سوي اودپاسه ورباندي دطلايي تارخامك سوي وي . په راغلوکسانوکي ځيني خلك دومره بې وزلي اوغریبان وو چې کالي یې ترګودړیولبرڅه ښه اوددغه غونډي له پاره يې پرپولي اودبوټونو پرځای يې دابتدایي څرمني چاروغي په پښووې . دوی چې به په بازاروکي له ځپلوخلاتونه سرګرزېدل، ټول به شرمندوکي اویوڅه مغروربښکارېدل . په کابل کې زیاتره ګنډونکي په پرله پسې توګه دهغو خلاتونو په ګنډولو بوخت وو چې دامیرپه غوښتنه خلکوته دعزت لپاره ورکول کېدل. ځيني خلاتونه ډېرازرښتناك دي اوله سنګينو کشميري ټوکرانو څخه چې په لاس ګنډل سوي وي ، خوراګې خامکونه اوګلابتوني اووربښمیني پټې باندي کار سوي وي. دغه راز خلاتونه په سلګونو روپۍ بیه لري.

دهیواد ټول غټ ملایان په کابل کي راغونډ سوي اوټولو ته خلاټونه ورکول سوي وو. نوي امیردوی ته ډېره پاملرنه کوله. ملایان دټولني یوه ډېره اغېزمنه برخه ده اوکولای سي دخلکو ذهنونه هرهغه لوري ته کش کړي چي ددوی خوښ وي. دري څلورتنه ډېرسپین ږیري اوبزرګوار ملایان وګومارل سول، چي دفقید امیر قبرته ددوعا اوختم له پاره پاته سي . وروسته دځینو خلکو له خولې واورېدل سول چي له قبرڅخه شنې لمبې راوتلې اوداده دروح دعذاب څرګند ثبوت و. په هرصورت ، قبرته دنامعلوموکسانو له خوادري څلورځله دبې حرمتی په خاطر اوروورته سو اوپه خلکو کي اوازه سوه ، چي دامیردروح تودوخه د اورونو سبب سوې ده . دفقید امیرپه شان دیوه لایق واکمن له پاره داممکنه نه ده، چي خپلسري خلک دي په زورسره سمي لاري ته راواړوي اودخان په مقابل کي دي دهغوی کرکه اونفرت ونه پاروي .هغه کسان چي له ده څخه په ژوند داربېدلي وو، دده دنامه په سپکاوي کي يې هيڅ نه سپمول . څکه دی مړ و اودغچ اخیستلو واك يې نه درلود .
عسکربیاهم مطمین اوارام نه وو. په هماغه ورځ چي سردارحبیب الله دټول لښکرپه مخ کي دامیرپه توګه اعلام سو، دمومندزیوټولی جګه سوه اودجنګ چیغي يې وکړې خونوروټولیو يې ملاتړ ونه کړ اوخه ترڅې جوړه نسوه . داردل ټولی خلکو ته چي دهرراز ناآرامیو اوپاڅون پرخلاف وو ، څوڅوواره دنورو ټولیو له خوا بلنه ورکړه سوه چي له پاڅون سره یوځای سي اوورته ویل کېده چي که دوی داکارونکړي ، نورڅوك هیڅ هم نسي کولای. څکه دوی غواړي چي پاڅون باید عمومي وي اونه غواړي چي یودبل پرضد وجنګیږي بلکي هدف يې داوسني واکمني کورنی لیري کېده اودبل حکومت جوړېده دي. مګراردل ټولی خپل پاچاته وفاداره پاته سوه اوپه پاڅون کي يې له ګډون څخه انکاروکړ.خوله دې سره سره زیاتره يې ناراض اودنورولښکرو خواته يې میلان درلود . زیاترو يې په ډاګه ویل چي که انګریزهیواد ته راسي، دوی به داوسني واکمن له پاره ونه جنګیږي بلکي وسلې به کښیږدي .
نوي امیردلښکرداراموله له پاره خپله توجه ددوی ټولو دمعاش زیاتولو ته واړوله او زه پـــــه ورکشاپوکي غوربېدلم، چي ځیني عسکر په دې باب مشوري

کوي، چي که اميرخپله ژمنه پرخای نه کړه اوکه دمعاش زياتوب کافي نه و دوی بايد څه وکړي؟. په دې کي هيڅ شك نه وچي داغوښتنه دټول لښکر وه . ددوی معاش دمياشتي اته کابلی روپی و (پنځه شلنگه و اته پنسه ) اويوه سړي راته وويل، چي دی دمياشتي تردوولس روپيو په کمه قانع نه دئ . اوکه دغه اندازه معاش ورنه کړه سي، دی به له نورو کسانو سره يوځای سي. دعسکرو معاش دبرژردمياشتي لسوکابليو روپيو ته جگ سو خودمعاش دازياتونه کافي ونه بلل سوه اوناراضيودوام وموند . په راتلونکي اخترکي، چي سردارنصرالله داميردناروغی له امله دهغه پرځای لښکر معاينه کاوه اوخلکو ته يې له معمول سره سم داميرسلامونه وويل ، هيچايې عليك ونه وايه. دخوشيبو له پاره حالات نازك سول خوسردارنصرالله خپلي معايني ته ادامه ورکړه، ځکه هيڅ چي گويانه وي پيښ سوي . مراسم بې له دې چي کومه بله ناوړتيا دي پېښه سي ، پای ته ورسېدل.

نوي امير دريفورم دېري ژمني وکړې خوپرځای يې نه کړې . تخت ته دده درسېدو په دابل کال وچکالي راغله ، واوره ونه اورېده . داکار د هغو اوبو دکمښت سبب سو، چي په غروکي دواورو له ويلېدو څخه راځي اوپه پسرلي کي دکرني له پاره ضروري دي . په نتيجه کي حاصلات لږسول . وچکالی دوام وکړ اويوزيات شمېر خلك له لوږي مړه سول . وروسته بيادخوراکي موادو دکمښت پرځنگ دکولراناروغي هم راغله اوپه يوځواوونيو کي يې په زرگونو تنه ووژل . په خلکو کي عمومي ناراضيتی زياتي سولې. ځکه داټول آفتونه يې داميرله بدشامته گڼل . داميردوژلو له پاره دسيسې کشف سوې اواميرخان په ارگ کي خوندي وساته . کله کله به يې خان ښکاره کاوه . زيات وخت يې په حرم سرای کي تېراوه اودمخبرانو رپوټونه يې پخپله لوستل . حکومت يې خوشي کړی و چي خپل کارونه پخپله وکړي .دې کارنارضايتی نوري هم پسې زياتي کړې. دغه راز له دې ېېري چي څوك خيانت ورسره ونه کړي ، له مخصوصوکسانو پرته يې بل چاته اجازه نه ورکوله چي ده ته حاضرسي .دهغوخلکو له پاره يې چي کوم شکايت يې درلود ، يوسيستم جوړکړ چي شکايت کوونکي بايدله کوټوالی څخه يوټاپه سوی کاغذ يا د عرض پاڼه رانيسي ، خپل عرض پروليکي

اوژمنه سوې وه چي دغه راز عریضو ته به پاملرنه کیږي . دغه رازعریضې به په هغه بکس کي اچول کېدې چي دکوتوالی مخ ته به دهمدې مقصد له پاره ایښوول سوی و. کوتوال به هره ورځ هغه را غونډولې اوامیرته به یې وړاندي کولې . خوخلکوشکایت کاوه چي دغه رازعریضوته دسملاسي جواب ورکولوله ژمني سره سره ، بیاهم دوی پرتاپه سوي کاغذ پیسې ورکړي. خوجواب ترلاسه نه کړي ،که جواب ترلاسه هم کړي هغه داسي گونگ وي، چي نه دمنظوری معناورکوي نه دنامنظورۍ . په نتیجه کي داسیستم هم بې اعتباره سو. خلکو استدلال کاوه ، چي ولي پرداسي یوه ټکټ پیسې ورکړي چي په غالب گومان سره یې ستونزه نه په حل کیږي.

دفقید امیردوخت داکاردېرگټوروچي هغو خلکو ته په اجازه ورکول کېده له امیرسره وگوري چي پرسړك یادجمعې په ورځ (دمسلمانانویکشنبې) له مسجد څخه دراتگ پروخت به له امیرسره مخامخ کېدل .دې کاربه خلکو ته جرات ورکاوه . فقید امیردخپلي پاچهۍ په لومړي سرکي دومره وړاندي ولاړچي ټولو خلکو ان جاروکښانو ته یې د «ورور» خطاب کاوه . نوی امیر دااجازه نه ورکوله اوبیااعلان یې وکړچي که هرچا پرسړك باندي ده ته عریضه وړاندي کړه ، بندي کیږي به . اوله خینوهغوکسانوسره چي له دغه امرڅخه یې سرغړونه کړې وه ، همداسي و هم سول . په نتیجه کي خلکو خانونه له خپل پاچا څخه بېل احساس کړل خکه له هغه سره یې خبري نسوای کولای ، لیکلي عریضې یې مستردیدلې اودوی باید بې له دې چي دغورکولو امیدډي ولري ،هرهغه څه زغملي وای چي وربېښېدل، زړونه یې وختل .خکه امیرصاحب دوی هېرکړي وو اوددوی په غم کي نه و . افغانان په دېروشیانوکي دېرزیارکښ خلك دي اوبې له شکه ددوی دیني عقایدو له دوی سره مرسته کړې چي له حالاتو سره خان سم کړي. ددوی په عقیده امیر روحاني مشردئ اودوی دهغه احترام په هرډول چي وي ، باید وکړي . نورخلك به دغسي شرایطوکي مسایل پخپلولاسوکي نیسي خوافغانان دېرقبېلوي خلك هم دي . دوی دخپلو خانانو له لاسه خکه خوریږي ، چي یودبل پرضد یې پاروي .

اوسنی امیرله سپورت سره هم مینه لري اودخپل غټوالي په تناسب چي قدیې

ترپنځه نیم فوټو یوځه زیات پنډ (پریړ) چارشانه سړی اوښښ یې لږځه لنډي دي، خوبیاهم ښه تمرین کولای سي. دده اصلي مشغولتیا اشپزي ده اودامشغولیت دهیواد په زیاترو خلکو کي عام دئ. ویل کیږي چي دی ترڅپلو اشپزانو لاهم ښه اشپزي کوي. دجمعې ورځ په خانګړې توګه دغه مشغولیت ته وقف سوې ده. دده ټول ملګري دخوړو په تهیه کولوکي مرسته کوي اوکله، چي خواړه پاخه سول، ټول یو ځای سره کښېني اوپه ګډه یې خوري. امیردغه راز کله کله خپله دسپوګاډۍ چلوي اوکله لاچکراوښکارته هم ځي. پخوا چي میلې زیاتي وې، دی به هرکله دڅو ورځو له پاره بهرته ووت. خرله کومه وخته چي پاچاسوی دی، دپرلږ ښکارکوي اویوازي کوم مازیګر ووزي.

یووخت چي دکولرانا روغي پای ته رسېدونکې وه، دی په پل بګرامي کي خپل ښکارځای ته ووت چي کابل دشمال ختیځ په شپږمیلي کي پروت دئ. هورې به یې څاوونی تېري کړې. ملګرو افسرانواومحافظینو یې شپې په شپږو کي تېرولي څکه هواسړه وه اوژمی راتلونکی و. په دغه وخت کي یوسرکاري پیل مست (لېونی) سو اوخپل خاوند (Mahout)یې ووژه، مخ یې پرکمپ ونیو ټول خلك چي په مخه ورتلل ځني تښتېدل. دامیرشاغاسي، چي دده له خپلوانو څخه و، اوپخپله هم یوځه بدمغزه شانته سړی و، امیرته ووېل چي دی به پیل ووژني. توره یې کش کړه اوآس ته یې ورټوپ کړه. پرنورشلوتنوسپرو یې ږغ وکړچي په ده پسې سي اوپه ګډه پرپیل باندي برید وکړي. پیل هم ددوی پرخوا حمله پیل کړ. افغاني اسونه دپیلانو په مقابل کي درېدلای نه سي اوکله چي یې ولیدل، پیل ورباندي دبرید په حال کي دئ، هري خواته سره تیت سول اوپه یوڅو دقیقو کي میدان خالي پاته سو. پیل به کله په یوه اوکله په بل پسې منډي وهلې. په داسي حال کي چي دتېښتي دلاري موندلو په غرض دسړیو اواسونو قهرجن اوعصباني تلاښونو، له ویالوڅخه ټوپونووهلو، له کوچنیو بوټواونیالګیو سره ټکرېدلو دتماشا کوونکو له پاره له خطرسره سره، یوڅندوونکې صحنه جوړه کړې وه. په پای کي پیل یوې ژوري کنډي ته وروښوېدی او هورې پکښې بند سو. دپاس له خواپه ښاخونواوبښوکي پټ سو اوپه دې ډول په دام کي ولوېد. له څه مشورو وروسته فیصله وسوه، چي پیل ته

بایدځلورپونډه کافور، ځلورپونډه تریاك اوځلور پونډه چرس ورکول سي چې مستي یې ورآرامه کړي اوهمداسي وسوه. په دابل سهارپیل مړو. دداسي نتیجې انتظار چانه درلود. که څه هم له دغي اندازې درمل سره دانتیجه طبیعي وه .افغانان دواقعي علاج له پاره پرزیات مقدار درمل باورلري.

امیرحبیب الله خان له ټینس اوکرکیټ سره هم مینه لري په تېره بیا له کرکیټ سره خکه ددوی ملي لوبي (توپ بازی) ته ورته ده . توپ بازي هم په توپ اولرګي سره کیږي . داشپزی پرځنګ دامیر بل ساتېری Magic Lantern (۴) دئ . دهغه په زرګونوسلایډونه لري، چي ختي یې دنړی دډېرو جالبو ځایونو عکسونه دي. ماامیرته دسینما یوماشین ورکړ چي دوې شپې پرله پسې یې دارګ ددربارپه یوه خونه کي ایښی و . دسینماماشین په انتظارخانه کي ایښوول سوی و اوتماشاچیان ددربار په یوه بله لویه خونه کي ناست وو. ددې دووخونو ترمنځ دهلېز باندي یې لنډه پرده ځړولې وه چي تصویرونه وربانديلوېدل. په اول مابنام چي هرڅه آماده سول ، امیر هغې خوني ته راوبلل سو چي مامځګي سامانونه پکښې سمبال کړي وو. امیرله ماڅخه وغوښتل ، چي خپل کار ور وښیم . ماهمداسي وکړه. وروسته دی بلي غټې خوني ته ولاړ، چي نمایش وګوري اودمخه تردې چي تماشې ته دشروع کڼولواجازه ورکړه سي ، پرداخلېدو باندي یې فیس کښېښود. پرچوکی باندي ناستو کسانو باید لس روپۍ اوپرېښوولاړ باید پنځه روپۍ ورکړي وای . کله چي مادغه خبره واورېده . فکرمې کاوه چي ماته به هم ددغه ساتېري جوړولو په عوض کي خپله ونډه راورسیږي ، خوامیرهغه ټولي پیسې خپله واخیستې اودادده دهغو خاصیتونو یوه بېلګه وه چي خلکویې په باب خبري کولې .

## داتم څېرکي لمنليکونه

( ۱ ) دډورچستر په نامه يوه سيمه دلندن په لويديځ کې پرته ده . چې د Lord Dorchester نامه ته منسوبه ده .لارډ ډورچستر ( ۱۷۲۴ ـ ۱۸۰۸ م )دانګلستان يو زوړ جنرال و چې د کاناډا د کيوبيک ايالت په نيولو کې يې ميړانه ښوولې وه او د همدغې سوبې له امله دجنرالی رتبې ته رسېدلی و . نوموړي پر نورو دندو سربېره . دوه واره دکاناډا د ګورنر جنرال په توګه کار کړی و ( م.ځ )

( ۲ ) «خان ملا» د قاضي عبدالرحمن بارکزي کندهاري لقب و ، چې د اميرعبدالرحمان خان په اداره کې يې د قاضي القضات مقام درلود. خان ملاقاضي عبدالرحمن د قاضي محمد سعيد « خان علوم » زوی د قاضي محمد اسمعيل ( ژړي نيکه ) لمسی او د قاضي نصرالله خان کړوسی کېدی . قاضي نصرالله خان د لوی احمدشاه بابا د عصر فاضل او علمي شخصيت و.دکابل په زاړه ښار کې د « خان ملا يا خان علوم » په نامه يوه کوڅه سته . چې دقاضي محمد سعيد نامه ته منسوبه ده .

( ددغې درنې او علمي کورنۍ په باب وګورئ: کانديد اکادميسن محمد اعظم سيستانی ـ دونابغهٔ سياسی و نظامی افغانستان در نيمهٔ اول قرن نزدهٔ ميلادی ـ صفحات ۶۸ ـ ۷۸ ـ چاپ ۱۳۷۱ ش )

( ۳ ) دغه حالت د دې کتاب تر ليکلو نژدې يوه نيمه پېړۍ وروسته بيا تکرار سو. د کابل ښکلی ، ودان او تر زياتې اندازې عصري ښار چور او له خاورو سره برابر سو . داسې ښکاري چې ددې خلکو عادت په دې يو نيم سل کاله کې دومره زيات بدل سوی نه دئ ( م.ځ )

(۴ ) مېجک لانتېرن دلومړني پروجکتورنوم دئ. چې د ۱۶۵۰ م کال په شاوخوکې اختراع سوی و. داوولسمې پېړۍ په پای کې دغه راز پرجکترونه په هوټلونواومايوکې دکوچنيوسينماګانو په شکل ايښوول سوي و اودالکين څراغ اويوه کمزوري شمع په واسطه چلېدل .زياتره يې دپېرياناتو، دېباتو او شيطاناتو ننداري ښوولې ( م.ځ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم څپرکی

## زندانونه اوبندیان

کوتوال اوکوتوالي ـ پولیس دغلوپه توګه ـ دزندانونو بیان ـ له بندیانو سره دچال چلند اودهغوی دزولنوبیان ـ دبالاحصارزوړځاه ـ استخباراتي سیستم ـ دسرپوغاړي پریکول ـ دروغ ربوتونه ـ فانه اوشکنجې.

---

په ختیځ کي دکوتوال مقام له لرغونو وختونو څخه یولوړ مقام دئ. په ځینو هیوادوکي ،کوتوال داعدام امرهم ورکولای سي خوپه افغانستان کي یوازي امیردسترو سزاګانوواک لري . دکوتوال یوه وظیفه دټولوعمومي اوخصوصي اعدامونو دسرته رسولوڅارنه ده .دغه راز دهغوشکنجو اداره کول دي، چي خلکو ته دهغوی پرجرمونو باندي داقرارکولو اودهغوی دملګرو دنومونو ښوولولپاره ورکول کیږي .همداشان دټولوسزاګانو اوجریمودسم عملي کېدو څارنه ده . پردې سربېره دده وظیفه دټول ښاردانتظاماتو تعقیبول ،دپولیسو اداره کول ، خان ته دټول ملکي اوجنایي قضیو (دعوو) ورغوښتل ، دکوڅو د کلانترانو (ملکانو ) درپوټونواخیستل اوڅېړل اودزېرېدنو اومرګونو دریکارډ ثبتول دي.

دکوتوالی دفتردارګ بازار دګومبتي په څنګ کي جوړسوی دئ . دغه بازار دښارترټولو نوی بازار اودارګ مانۍ ته نزدې بازاردئ . په کابل کي که څوک دېرښه مالونه غواړي رانیسي ، همدلته مونډل کیږي . دکوتوالی دلوی دفترپرڅنګ دکابل په بېلابېلو کوڅوکي دکوتوالی (پولیسو ) یوشمېر مرکزونه هم سته چي په اصل کي دتښتوونو دمخنیوی په مقصد اوهیواد ته دټولو واردسوو مالونو دګمرکي محصول دټولولپاره دګاونډیو ولایتونو دپولو پرټولو اصلي لارو باندي جوړسوي دي. په دې ډول پولیس کولای سي هیواد ته دهرراتلونکي اووتونکي شخص څارنه وکړي . په کابل کي ګمرکي محصول د یــــوې مخصوصي ادارې له خوا، چي د همدغه مقصد له پاره جوړه سوې ده،

راغونډيږي. دپوليسو په هرمركز كي پرحوالدار (Sergeant) سربېره دكوټوالى دسپاهيانو اووه كسيزګارډ ستنه . حوالداران بايدليك لوست وكولاى سي. خوډېر لږيې باسواده وي اوخپل دوست يا ملګرى يې ورسره وي اوټول رپورټونه ليكي . ترحوالدارپه رتبه كي يوشمېر نورلوړ افسران هم ستنه خو دوى ټول ، افسران اوسپاهيان له چوكى څخه دګټې اخيستلو اودفترته له حاضرسويو كسانوڅخه دپيسو اومالونو تروبنولو (اخيستلو ) اودخان حق په جانب ښودلو معمول دودپالي. ديرچاله پاره چي په يوه پېښه كي ګيرسوى ياله قانون څخه په سركښى متهم سوى وي ، دكوټوالى سپاهيانوته دخان خلاصولو په مقصد بډي وركول عام كاردئ اوهر سپاهي يې په هغه صورت كي كوي، چي لوړو مقامونو ته دخبرور كرلوكوم شاهد نه وي اوده ته ستونزي پېښي نسي.

په كابل كي پوليس پخپله ترټولو غټ غله دي اوهرڅه لوى وي كه وړو، چي په ګوتو ورسي، اخلي يې . خو كه بل څوك پرغلا ووينې ، يايې شك پرراسي ، ډېرزيات خښمېږي. ښايي پرخپلو امتيازونو باندي به يې تېري ګڼي. پوليس به په بازاركي دتېرېدلو په وخت كي له دوكان څخه ډك موټ مېوه ياكوم بل څه اخلي اوخوري بـه يـې خـودوكـانـدار بـايـدهـيـڅ هـم ونـه وايـي. كـه كـوم دوكانداردپوليسو ددغه شان عمل په وړاندي غالمغال وكړي، ډېرژربه يې پرضد كومه دوسيه جوړه سي اودى به پكښې راګيرسي . كه يې داتهام له پاره بل څه نه وي ، په دې تور يې متهموي چي كاڼي (وزنونه ) يې كم وو. څرنګه چي په كابل كي دقيق فلزي وزنونه (كاڼي )، چي دحكومت په وركشاپونو كي دي جوړسوي وي ، ډېرمحدوددي اودوكانداران په سوداګي دوزن كولو له پاره بېلابېل كاڼي دسړك دغاړي له كاڼو سره اليش كړي وي، نودوكاندار په همدغه دوسيه باندي كوټوال ته دمحاكمې له پاره بوزي. كله چي دغسي باوري اسناد وړاندي سي ،څرګنده ده، چي دوكاندار ته درنه جريمه وركول كيږي او د كوټوالى سپاهي ته په راتلونكي كي نورهم درناوى كيږي . په كابل كي، چي زياتره غلاوي سوي دي، دكوټوالى د سپاهيانو لاس پكښې وي. دپوليس په توګه ددوى موقف ، دوى ته داامكانات برابروي چي ډېرډك دوكان ياكورپه نخښه كړي او دڅښتنانو دتګ اوراتګ ډېردقيق معلومات ترلاسه كړي.

دکوټوالی گارډ باید په هرودوو اوونیو کې دبهلابیلو سټیشنونو ترمنځ سره الیش سي. خوکه ځوك وغواړي په هغه سټیشن کې پاتـه سي چې کاريې لږاوعوایدیې زیات وي ، پاتېدلای سي. داکارونه هغه کسان سره تنظیموي چې دکوټوال دباور وړ وي . دغه سپاهیان دکوټوال له خوا دسزاګانو اومجازاتو دعملي کولو اودګزموکولو له پاره مقرر سوي او ټاکل سوي کسان دي. ځیني خوان سپاهیان په وحشتناکوسزاورکولو کې له ګډون وروسته ډېرناروغ سي مګرورو ورو ورسره عادي او زړه يې سخت سي او څه موده وروستهيې دنورو پرکړاو،ان دکوم بدمرغه پرمرګ او شکنجو ورکولولا هم زړه نه خوږيږي .

ترښاردباندي هم دبېلابیلو قطعو دعسکروګارډونه وي .دغه شان ګارډونه زیاتره دارګ پرشاوخوا اودښارپه نوې برخه کې ځای پرځای وي . داوسني امیرپه وخت کې دغه ګارډونه اودکوټوالی دا، دواړه په شمېرکي زيات سوي دي اوپه ځینو ځایو کې خودشپې له خوا پرهروسلومتروباندي یوولاړوي .دکوټوالی سټېشنونه هم په دې وروستیو وختوکي پرټولو سړکونو باندي اوترښاربهرترتقریبا څلورومیلو پوري ددې لپاره جوړسوي دي چې دبې اجازې وتونکو مخه ونیسي . ګویا اوس ځوك ترښاربهران پنځه یاشپږمیلمه لاهم له اجازې پرته سفرنسي کولای. په لیري سټېشنونوکي کله کله دکوټوالی پرسپاهیانو باندي دشپې له خوا دپیرې پروخت دتوپك اخیستلو په مقصد برید کیږي . دیوتن وژل سوي سپاهي مړی خوپه بابر کې (له ښارڅخه صرف دوه میله جنوب لورته ) ټوټه ټوټه سوی هم و اوغالبا به له دې امله و، چې د ژوندي پاتـه کېدلو له پاره يې ښه جګړه کړې وه اوځیني يرغلګريې ټپيان کړي وو.

دکابل زندانونه دهمدې مقصد له پاره جوړي سوي ودانی نه دي بلکی له هرحکومتي کورڅخه چې مناسب موقعیت ولري، دزندان کاراخیستل کیږي اوجیلخانه ځني جوړیږي . کرکیوته يې کلکي میلې ورکړې وي چې دبندیانو دتېښتي مخه په ونیول سي اود بهردروازه يې ډېرټینګه اوقلف وي . دکوټوالی یو سپاهي دننه پیره ولاړ وي . په دغه راز کوروتو کې دبندیانو دشمېر په نسبت ځای ډېرخي نامناسب وي خومقامات هغه ته نه پاملرنه کوي اونه يې د پاك او سوتره ساتلو له پاره مرسته کوي . ان ددغو بندیانو څارويو دسم استوګن کولو

پرمفکوره دلاسه لاخاندي هم . دناروغيو دمخنيوی فکرخوپه مطلق ډول وجودنه لري اوبنديان په يوه داسي کورکي د رمې په شان سره راغونډ سوي وي، چي بنايي دشلو يادپرشوکالورا هيسي ترې زندان کاراخيستل سوی دئ خو هيڅکله هم پاك سوی نه دئ . په نتيجه کي بنديان هرکله په لويه تبه اونورو ناروغيو اخته کيږي . يوازي همداتبه دبنديانو په سلوکي اويا ـ اتيا له منځه وړي اوعجيبه داده، چي ولي ټول نه مري.

يوچاچي څوکاله يې په بنديخانه کي تېرکړي وو، ماته بيان کاوه، چي دی ، پلاراويوشمېر نورخپلوان يې په خنځيرونوسره تړلي اوله يوې ليري فاصلې څخه يې کابل ته په کوم سياسي تور راوستلي اودلته يې زندان ته اچولي وو . دا ډېره نادره خبره ده، چي ددغه راز اتهام بنديانو غوردي سملاسي وسي. دوی څوکاله همداسي پراته وواودخوشي کېدو اميدخويې کوم نه درلود . خپلوانو اودوستانو يې اميرته له دې ډېري عرض نه کاوه، چي دوی پخپله په بلا کښېنوزي . هغه خونه چي دوی پکښې اچول سوي وو ، ډېخي وړه وه اوله نورو بنديانوسره ددوی شمېر تقريبا دېرش تنه و .دشپې چي به بيدېدل ، په هغه صورت کي خايېدلای سوای چي څنګ څنګ يوه ليکه غزېدلي وای . دبيت الخلا انتظام بيخي و، نه . په دغه وخت کي لويه تبه هم په ګډه سوه چي يوپه بل پسې يې له پښو اچول. دده پلار اويوشمېر ورونه و دتره زامن يې له نوروسره يوځای ښخولوته يووړل. دی پخپله له تبي څخه څو اوونۍ ناروغ و، خو روغ سو اوکله چي ناروغي پای ته ورسېده، ددوی له راغليو کسانو څخه يوازي پنځه تنه پاته وو. ډېرژرېې نوربنديان ورته راوستل اوخونه بيا ډکه سوه چي له دغوبنديانو څخه ځني په تبه اخته کېدل اومړه کېدل.

په هغه وخت کي يو شمېر بنديان په پټه توګه ايستل کېدل اوتقريبا هره شپه به يو سړی غوښتل کېدی اوله خپلو بنديانو سره به تلی اوبيايې هيڅ درك نه معلومېدی . دې کارنوربنديان په وحشت کي واچول خکه هيڅوك نه پوهېدئ چي څه پيښېږي اوښايي دده نوبت به هم دابله شپه راسي. په پای کي فشار دومره زيات سو چي هغوی بغاوت اوتېښتي ته چمتو سول . خکه دتېښتي په تلاش کي مــــــــــــړ کېدل هيڅکله تردې بدترنه و، چي څوك دې دمرګ ورسېدو ته

منتظر ناست وي . څکه نویوه شپه ددروبجو په شاوخواکي کله چي پیره دار کهاله ورته معلوم سو اونورعسکر زیاتره بیده وو ، دوی ترکوټي راووتل اومخ پردروازه رهي سول . په دغه وخت کي یوبل پیره دار ولیدل اوډزیې پروکړ ، یوتن یې وویشت خومخکي له دې چي توپك دي بیادك کړي ، یوغټ پښتون چي دبندیانو لاربښوونه یې کوله ، پرزینګي پورته کړ ، دمخکي یې راوویشت اوملایې ورماته کړه . بیا یې توپك څني واخیست اوبه برچه یې وواهه. په غالمغال باندي نورپیره داران راویښ سول اویوه کوچني جګړه ونښته . څوتنه پیره داران ووژل سول اونوروتښتېدل . خوخیني بندیان هم په دغه اخ وډب کي ژوبل سول .دزندان دروازه اوس بې پیرې وه اوبندیانوفراروکړ. خوتښتېدلوپیره دارانو نورکسان خبرکړل اوبندیان لاپه کوڅوکي زیات لیري تللي نه وو، چي پیره داران ورورسېدل ، مخ وشایې ورته ونیول اوله لنډ اخ وډب وروسته له زوره ولوېدل اوبیرته زندان ته راوستل سول . له دې امله څوتنه چي هغه غټ پښتون هم پکښې و ، په دارسول. پرنورو یې دومره درانه څنځیرونه واچول، چي ترلاندي تلای نسوای. سړي راته وویل چي څوکلونه همداسي تېرسول . په پای کي دده دوستانو امیرته عرض ورساوه .څرنګه چي دده پرخلاف کوم ثبوت نه واوهغه والي چي دی یې بندي کړی و ، پخپله په دارسوی و، څکه نو دی خوشي سو. مګرصحت یې بېخي خراب سوی و اویوڅوکاله وروسته مړ سو.

بندیانوته دحکومت له خوادورخي دوې وچي ډوډۍ ورکولي کیږي (هره یوه یې نیم پونډ وزن لري ) ، یوه سهاریله په شپه کي . داډوډۍ هیڅکله کفایت نه کوي اوکوم بندي ته چي ددوستانو یاخپلوانو له خواخواړه اوپیسې ونه رسیږي، حال یې بېخي خراب وي. په هرصورت بندیان پخپلو منځوکي په تېره بیاغریب خلك ټول ډبربنه وي اویو څوك چي دڅورك له پاره څواړه ولري ، که څه هم لږ وي له هغه چاسره یې شریکوي چي هیڅ ونه لري . بندیانوته یې په پښوکي زولنې اچولي، چي پرښګرو (بجلکو ) یې تړلي سوي وي ، ددوی دحرکت مخه نیسي اودتېښتي له پاره هرراز تلاښ یې شنډوي .لاسونه یې یوازي هغه وخت ولچك وي، چي یو سړی اعدام ته بیايي، یا کومه مخصوصه سزاورکول سوې وي . نور وخت لاسونه ازادوي. په ټولو حالاتوکي له بندیانو سره دهغوی د پیره

دارانو سلوك ډېرخشن وي .كه كوم بندي دپيره دارامرسملاسي پرځاى نه كړي دتوپك په تېره څوكه يې پرنازكه ملاباندي دخبرداري په مقصد وهي. تركومه ځايه چي ماليدلي دي، فكركوم چي دكوڅې دسپي ژوند دبنديانو په مقايسه ډېرخوشاله ژونددئ .

په ټولو زندانوكي ترټولوبد اوترټولووحشتناك يې په بالاحصاركي يوزوړڅاه دئ . دايوپخوانى څاه دئ ،چي په ډېره كي كيندل سوى دئ. دبېخ خواته يوڅه پراخ دئ اوپسور يې پنځلس ، شل فوټه كيږي . دڅاه پرخوله باندي يوه كوډله ده چي دسپاهيانو يوه پيره پكښې ساتله كيږي . په دغه ترمځكي لاندي غاركي هغه انسانان د تل له پاره اچول كيږي، چي ډېرغټ جرمونه يې كړي وي (البته دمقامااتو په نظرغټ جرمونه ) اوهورې پسې مري. دمړو جسدونه چي له ژونديوسره يوځاى پراته وي ، ترې راايستل كيږي. البته په څاه كي د روغتيا ساتني انتظام نسته ، بنديان ورشيوه كيږي اوهغوى چي وروولوېدل هورې پسې پاتيږي . دورځي يوځل خواړه (وچه ډوډۍ اواوبه ) په رسۍ ورځړول كيږي . ډېرلږكسان داسي پكښې وي چي په لنډه موده كي دي يې مغزوصحت له لاسه نه وي وركړي. زياتره بندي سوي كسان ډېرژرخپل ژوندته له دې لاري خاتمه وركړي، چي خپل ځانونه له ډېرو سره ترهغه وختـه وهي ، چي بې هوښه اوپسې مړسي. ځكه يوازيتوب اوبېرې دوى ټول ليونيان كړي وي .دڅاه بېخ تياره دئ اويوازني روښادڅاله خولې څخه ورځي.هلته هيڅ بندي دبهرنى دنياږغ نه اوري . تعفن اودهوا چټلتيا تراندازې زياته وي اودا پخپله كفايت كوي چي دمرگ سبب دي سي. دلته يو سړى سته چي ويل كيږي چي په دغه څاه كي يې پنځلس كاله ياتردې زيات تېركړي دي . خوهغه بېخي چورلېونى دئ اوپه خپل ماحول خبرنه دئ . كله چي اميرمړسو (مراد يې اميرعبدالرحمن دئ ـ م.مـ )، اوسني اميرامروكړ هغه كسان، چي په دغه څاه كي دي، راودي ايستل سي اوده ته دي حاضركړه سي. درې تنه پكښې ژوندي پاته وو . دهغوى څېرې دكتلونه وې ځكه مخونه يې دمړوپه شان تك سپين اوښتي وو . سترگي يې په روښاكي ديدنه كاوه ، دسرونو ږيرو وريښتان يې اوږده اوجېرسوي اوپرمخونويې راځوړند سوي وو . دوحشيانواوځناور په شان ښكارېدل .دگوتو نوكان يې دومره اوږده سوي وه چي

دبانبې هغې ته ورته ایسېدل . امیر یې دخوښې کېدو امرورکړ خودوې دري اونی وروسته یې بیرته امروکړچې ودي نیول سي اوښاه ته دي واچول سي.امیر دنوروکسانو شهادتونو په دې خبره قانع کړی و ، چې ددغو بندیانو په دغه شان بندي کولوکي یې دېلار عمل عادلانه و.

کله چې فقید امیرله روسیې څخه هیوادته راستون سو ، له څان سره یې دروسیې له استخباراتي سیستم سره علاقمندي راوړې وه اودخپل حکومت له سیستم سره یې ملګرې کړه .په نتیجه کې له هروځلورو تنوڅخه یوتن یې رپوټچي (مخبر ) و ، او امیر ته یې مخصوص رپوټونه لېږل .دا مخبران په ټولو طبقاتواورتبوکي موجود وو. دهرغټ کور په نوکرانوکي یویادوه مخبران وو اوهرڅه چې یې لیدل یا اورېدل ،رپوټ به یې کاوه . څرنګه چې دهیواد رسم ورواج داسي دئ چې نوکران له بادارسره په یوه خونه کې ناست وي .دوی دروازې ته نزدې دذې له پاره کښېني چې دخپل مقام ټیټوالی په وښیي ، نورنو دوی ته اجازه سته چې دخپل بادار اودهغه دملګرو په خبروکي خپله نظریه څرګنده کړي. څرګنده ده ، چې دوی هرڅه په هروخت کي اوري اوکه یې بادار له کوم مېلمه سره خصوصي خبري کوي ، دی باید ترخوني دباندي ږوزي ، چې داپخپله غیرمعمول ودبدګوماني کاردئ او باید امیرته یې رپوټ ورکړه سي . امیردخپلو زامنو په کوروکي مخبران لري ، دغه راز دهغوی دحرم په ښځوکي یې لري اوان دخپل حرم په ښخواودخپلو ماندینوپه منځ کي مخبران لري. دده زامن اوماندینې یې بیاپخپل روڼ سره دده په نوکرانوکي مخبران لري اودټولو هغوکارونو خبرورکوي ، چې ددوی په ارتباط کیږي. دایوډېرپرمصرف سیستم و داسي سیستم چې مخبرانوترې په ټګی سره ناوړه استفاده کوله اودهغو کسانوپرخلاف به یې دروغجن رپوټونه جوړول ، چې ددوی به ورسره جوړه نه وه یابه ترې ډارېدل اوبه یوډول به یې له لاري ایستل.دغه راز به دوی دقضاوت په وخت کي دبل چاله دښمن سره ورته چلندکاوه.

دفقید امیرپه نظر ترټولوسخت اونه بخښونکی جرم داوچې یوڅوک دده یادده دهیواد په باب دهندحکومت ته لیکلی رپوټ ورکړي . دانودده هغو مخبرانو ته تیاره میله وه ، چې غوښتل به یې خپل کوم دښمن له لاري لیري کړي . دوی به

کندي ته دخپل حریف دورغورخولو له پاره ددسیسې جوړولو په مقصد بې له دې، چې دامیر له غچ اخیستي څخه دي بچ سي، ښه پوره اندازه چالاکي ښودله اوبردې کارېې ښه پوره غوراووخت لګاوه . ددغه راز دسیسوپلان به معمولاً داسي جوړېدئ، چې امیرته به يې سرپرسر رپوټونه لېږل . داچي څه راز دوی انګرېزي حکومت ته دپلاني سړی رپوټونه درك کړل اوپه ثبوت کي به يې جعلي لیکونه اورپوټونه چي ګویا دوی موندلي وو، وړاندې کول اوداسي به يې ښوول چي تورنو کسانو دالیکونه په هندوستان یا کوم بل خای کي خپلو دوستانو ته لېږل. ددغو لیکونو مسودې به يې له لازمو لاربښوونو سره کاپي کولې اوامیرته به يې څواوونی وروسته استولې . په دې وسیلو به دوی امیرته له بېلابېلو خایونو څخه دلیکونو لېږل تنظیمول اوهاکلی شخص به يې دانګرېزي جاسوس په توګه متهم کاوه . کله چي به یولیك په بل پسې امیرته رسېدی اوپوه به دهابل تایید اوتصدیق کاوه، طبیعي وه، چي امیربه هم وخنبمېدی اوډېره موده به تېره سوې نه وه، چي متهم به زندان ته ولاړ اوهورې به پسې ورك سو اوپته به يې بیا په ندرت سره لګېده . معمول داسي و، چي دغه راز خلك به دشپې له خوا یاپه زهرو یاپه برچو یاهم دغاړي په پرې کېدو له منخه وړل کېدل.

دسړی دحلالولو (دغاړي پرې کولو ) طریقه ډېره ساده خو تاثرآوره وه . دووتنو به دسړي لاسونه ټینګ کړل او سربه يې دشاخواته کش کړ .بل تن يې پښې نیولې ، که به دقربانی سړی غښتلی و دووتنو يې پښې نیولې . هاکلي افسر به خپله توره دسړي پرغاړه مخ وشاته تېره کړه اوترهغوبه يې تېروله چي پرهاربه ښه ژورسو. وروسته به سړی پرمخکه وغورځول سو اوهغه شان تړپکي به يې پیل کړې له چرګ، چي يې په عین شرایطو کي کوي. وروسته به مړسو . په خینو حالاتو کي به يې که امیرحکم کړی وای سرله تن څخه ورېرې کړ.

په نوروکېسونو کي چي پرسړي باندي دغاړي پرې کېدو حکم سوی وي قبرېې مخکي له مخکي لاتیاروي .کله چي دچړې کارخلاص سي، سملاسي يې قبرته ور غورځوي او په یوم سره خاوري پرواړوي . ګویا ترمړینې دمخه يې ښخ کړي.

دامیر ـــــــه نظرجعلي رپوټ سترجنایت دئ اودکشفېدو په صورت کي يې

عاملين سملاسي اعدامیږي . په څينو حالاتوکي چي يو څوک په غلطی سره ووژل سي، مجرمين يې زاړه ښاه ته په اچولوسره په خپله جزارسيږي . زه يووخت داميرپه دربارکي ناست وم چي پنځلس شپاړس تنه بنديان اونورکسان راوستل سول. بنديان په جعلي رپوټ وركولو تورن وو . نورکسان يې هغه خلك وو، چي رپوټ يې په باب تهيه سوی و. شپږ اووه تنه بنديان د «فانی» ورکولو په شكنجه محکوم سول . « فانه» داسي وركول كيږي: دلرگي يوه پايه (ستن) چي تقريبا شپږانچه پسوررولري ، په اوږدو باندي پردوو برخو باندي چول كيږي . دواړي برخي يې بيرته سره يو ځای اينښوول كيږي اوپه اوږدو باندي يې نيمايي برخه په رسی تړل کيږي چي وروسته داسي ايسي لکه دټوکرانو غټ موړی . دپايې تړل سوی سرپه مځکه کي ښه مضبوط ټينگيږي .سره جلا سوې برخه يې دسطحي و خواته وي.د هغه چاپښه چي غواړي شكنجه يې كړي ، دپايې په لوړ سرپوري په ټريو رسيو داسي تړي چي پرپښه اوپايه دواړو راوپېچل سي اودV په شان يولرگی دسرله خوا په درزكي ايږدي . کله چي دغه لرگی دکښتې خواته په سوټك ووهل سي. دپايې دواړه پلې سره پراخيږي اونری رسی په قوت سره کشيږي اودشخص پښه له پايې سره کلکه ننبلوی . کله چي غواړي دشكنجې دغه آله استعمال کړي ، V شكله لرگی ترهغه وخته كښته ټك وهل كيږي، چي نری رسی پرپښه باندي يوڅه فشار راوړي . په دغه وخت کي هغه څه پوښتل کيږي چي دقضيې په ارتباط يې دتورن شخص له خولې ځخه ويل مراد وي .که تورن له خبرو کولو څخه ډډه وکړي، V شكله لرگی يوڅه نورهم ټك وهي او پرپښه باندي دنری رسی فشارلاپسي زياتيږي. لرگی ترهغو پوري په سوټك ټك وهي چي تورن ټول هغه څه رسواکړي چي پرې خبروي (زياتره خوله زياتي شكنجي ځخه دخلاصون په مقصد هغه څه وايي، چي دی په خبر نه وي ) اوکه دپښې پنجه عملا.له پښې ځخه پرې سي ، بيا يې دابلي پښې ته شكنجه ورکوي . ډيرداسي کسان سته چي خپلي پنجې يې له لاسه ورکړي اوپه راتلونکي ژوند يې په كړاو وي ، خو پرهغه څه يې اقرار نه وي کړی چي په خبروي . له دې ځخه ديوافغان دزغم اندازه لگېدلای سي. ديوه ربنتيني افغان غوره توب دادئ چي دمرگ تريولي درد وزغمي . او لـــــه خولې سپوڼ ونه باسي .اوخيني همداسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډوي.دشکنجې بل ډول داسې دئ چې دسړي سر په لندو اوړوکې وړوښې اود اوړو څنډې داسې سره راغونډې کړي چې پیاله غونډې شی جوړسي . په دغه پیاله کې ایشېدلې غوړي تویوي. کله چې ماغزه په ایشېدو پیل وکړي ، ددرد اوکړاو تصور یې کېدلای سي ! دشکنجو نورډولونه هم سته خوتشریح کېدلای نسي.

کوم کسان چې یې امیرته راوستلي وو، د «فاني» له شکنجې ورکولو وروسته په سختۍ سره پرپښو درېدلای سول . پښې یې په گودډانو وربېچلې وې. یو یې دازموېنې په وخت بېهوښه سو، خوامیرووېل چې خجالت دئ اوپرېږه دارانو یې امروکړ، بیرته یې پرپښو ودروي. هغوی دتوپکانو په تېره څوکه په سختۍ سره وواهه ، لغتې یې ورکړې اوهغه بیرته پرهوښ راغی خومرگي حاله ناروغ ښکارېدی اوددرېدلو په وخت به زنگېدی . په پای کې دیوشمېر زیاتومتناقضو شهادتونو تراورېدلو وروسته حکم وسو، چې یوڅوتنه دي په دار خوړند اونورياته دي بندیان سي . دانو دمجازاتو له پاره یو مبهم تصمیم و . نه محکومینو څخه یوتن دتېرېدلو په وخت کې امیرته ښکنځل وکړل اوورته وېې وېل، په داسې غضب اخته سې چې فکرېې نسي کولای. پیره دارانو پرخوله بادي څوواره په سوك وواهه اوکش یې کړ. امیروژته په وحشتناکه توگه غاښونه چیچل چې داکارنل دقهرپه وخت کې کوي . خوله څو شېبو وروسته یې زمسل ، ماته یې مخ راواړاوه اودنورو موضوعگانو په باب ورږغېد .گویا غوښتل یې هرهغه څه له دماغه وباسي چې پېښ سوي وو . خوڅوتنه په مرگ محکومول اوددکشولو په وخت کي دهغوی خبروته غوږنیول ، امیرته کومه نوې خبره نه وه . زیاترو خلکوبه داعدامېدو په وخت کې ښکنځل ورته کول څکه انتقام اوغچ اخیستنه دهغوی دکرکتر یوه ملي خانگړتیا ده.

# لسم څپرکی

## شکنجې اوداعدام ډولونه

دامیراوسپنیزه واکمني ـ په وربښتانو څړول اوپه ژوندپوستول ـ په لرګیوباندې ترمرګه وهل ـ سري ټوټه ټوټه کول ـ له غره څخه لاندي راغورځول اوپه قفس کي له لوږي وژل ـ له ښځو څخه ښوروا پخول اوپه نارینه ووباندي ترإعدام دمخه څښل ـ دلوغ لیږکولو اولوږې سزاورکول ـ Saffold Scenes ـ په ژوندوني ښخول ـ دصابون دېګ ته اچول ـ لاسونه پرې کول ـ ړندول ـ ددرختو پرکږو سوو ښاخونو تړل اوسره شلول ـ په توپ کي الوزول ـ په دارځړول اونور.

---

امیریووخت دخپلو خلکو دسرکښه کرکتر اوله دي بابته دستونزوپېښولو په باب خبري کولې . ویل یې هغه کسان چي سزاورکول سوې ده ، ارام سوي اوقانون ته یې غاړه ایښې ده . نوموړي زیاته کړه چي دخپلي واکمنی په دوره کي یې تریولك تنوزیات اعدام کړي دي.خوبیاهم یوڅو نورکسان لاسته، چي فکرکوي دده قوانین ماتولای سي . امیرخکه پرخپلو خلکو باندي ددوی له کرکتر سره سم لکه څنګه چي لازمه وه اوسپنیزه واکمني کړې ده ، چي نظم ټینګ سي . یوه ورځ په باغ بالاماڼی کي دربارجوړو. پرېنوعسکرباندي، چي کوم جرم یې کړی و ، امروسو ، دامیرحضورته راوستل سي. امیردحالاتو تحقیق وکړ او یوه افسرته یې لارښوونه وکړه چي نوموړی شخص ماڼی ته ورځرمه غونډۍته بوزي اوسریې وربرې کړي . داکاروسو اوکوم دوه تنه کوچني غلام بچه ګان چي ددغي تماشا له پاره ورسره تللي وو، په داسي حال کي بیرته راستانه سول، چي دمخ بڼې یې سپیني الوتي اوغړي یې رېږدېدل . دالوموړی وار و، چي دغه راز یوه پېښه یې کتله . کوموکسانو چي دامیر په خدمت کي زیاته موده تېره کړې نه وي، له دغه رار پېښو سره عادي نه وي.

په هرصورت امیرډېرو کوچنیوجرمونوته دمرګ سزا ورکوي . که به یوچاکوم بل څوك وواژه ، امیر به پردې خبره هروخت نه خښمبدی ، چي یو چاکوم بل څوك وژلی دئ . غضب به یې هغه وخت ترکنترول ووت، چي وژل سوی شخص به ده پېژاندی او پرګسران به و. په داسي حالاتو کي به عموما حکم وسو، چي

قاتل دي په کومه خاصه وحشتناکه توګه ووژل سي . له غلام بچه ګانو څخه یوتن پرامیر د هرګران اوقدرت واختیار له مخي یې ترفیع ورکړې وه او په دې توګه دنورو په وړاندې مغرور اوکبرجن سوی و اوخان ته یې دښمنان ښه ډېرکړي وو ، یوماز یګر دیوعسکرله خواپه داسي حال کي ووېشتل سو چي د شیرپور چوڼۍ په شاوخوا کي یې پرآس چکرواهه. کله چي یې عسکرامیرته راووست ، امیرفکروکړ، چي دی به له غلام بچه سره دښمني ښلري اوضرور به کوم بل چا لمسولي وي. څکه یې نو تحقیق څني شروع کړ، چي چادغه عمل ته لمسولی یې؟ عسکرله جواب ورکولوڅخه انکاروکړ. دې کارامیرلاپه غضب کړامریې وکړچي سړی دي دماڼۍ په باغچه کي دسرپه وربښتانو وځړول سي اوهره ورځ دي څومربع انچه پوستکی څني شکول کیږي ترڅو اقرار کوي.

سړی په دریمه ورځ بې له دې، چي دبل چالخوا دي یې پرلمسونه اقرار کړی وي، مړ سو. خو دخلکوپه منځ کي دیوه جنرال نوم اخیستل کېدلی، چي په دغه وژنه کي یې دلمسوونکي رول څکه لوبولی و، چي نوموړی غلام بچه دامیرپه مخ کي ورته په سپکه کتلي و اوده یې په انتقام کي داکارکړی و.

یوه بله پېښه دهغوکسانو له خپلوانو سره دامیردسخت چلند نمایندګي کوي چي دامیرله غځ اخیستې څخه تښتېدلی وو. یوبوډا سړی یې امیرته راووست. زوی یې له ملکه تښتېدلی و . دبوډازوی اودوه درې تنه نورپه دې تورن وو،چي خزانه یې وهلې ده اوهندوستان ته یې دتېښتې عزم کړی و. کوتوال ددوی په نیت غورېدلی و اودتېښتي په ټاکلې شپه له نورو شلوتنو سره دهغه کورپه دروازه کي ورته ناست و،چي اوسېدونکوته یې زین کړي اسونه دتېښتي له پاره تیارولاړوو. دبوډا زوی اونورملګرو ته څرګنده سوه ، چي کوتوال له خپلو سړیوسره ورته لارنیولې ده ، نویې دناڅاپي راوتلو فیصله وکړه . نابېرمړیې دروازه پرخلاصه اوله تورو اوتوپانچو سره یې برید پروکړ . کوتوال زره ورسړی نه واودکوتوالي سپایان هم عموما بې زړه کسان وي. بنایي علت یې دا وي ، چي دبېلابېلو توکمونو خلک سره راغونډ سوي دي . په هرصورت سپایانو له هغه ورروسته چي یودوه تنه یې ځپه سول ، بریدکوونکو ته لارورکړه اوخوانان خپلو اسونو ته وروغورځېدل، چاچي یې مخه نیولې وه ، هغه یې رانسکورکړل .

اسانوته يې پونده ورکړل او بيايې درك معلوم نسو. دهلك پلار چي په كوركي پاته و، دكوټوال لخوا نيول سوى اواميرته وړاندي سوى و. خوهغه په دي هډو خبرنه و، چي زوى يې تښتېدلى دئ. امير ته يې دبخښني لپاره زارۍ كولې اوويل يې، چي بې گناه دئ اونوروپه تورمتهم كړى دئ. اميرهغوخوانانوته دېريه غضب و، چي تښتېدلي وو خپله لكړه يې پورته كړه اوبوډايې په وواهه اوپرنوركسانو يې هم حكم وكړچي وهي يې. داميرپه مخ كي بوډاترهغوپوري ووهل سو چي ساه يې وركړه. مړى يې دوې ورځي پركټ (چارپايي) باندي په بازاركي دنورو دعبرت اخيستلو له پاره پروت وو. اميرتل دهغوكسانو نزدې خپلوانو ته سزاوركوي چي له مجازاتو تښتېدلي وي. زياتره كسان خانونه په دي خاطر تسليم كړي، چي خپلوان يې خوشي سي.

په لرگيو (لښتو) وهل عامه سزا ده. سړي پرمخكه باندي پرمخي غزولي وي اوپرشا (ملا) يې په لرگيو وهي. دوه عسكريې يوې خوااودوه بلي خواته ولاړ وي اوپه داسي حال كي چي نورو كسانو ورته سړى ټينگ كړى وي، دوى دلرگي واري پركوي. كله كله اميرحكم كوي چي مجرم ته دي دمرگ تروختنه وهل وركړه سي. يوتركان چي داميرد ماڼۍ په نوې برخه كي دكارامرپرسوى او پروخت حاضرسوى نه و، يوسل وپنځوس لرگيه ووهل نسو اويوه ورځ وروسته مړسو. كله كله خودلرگيو گوزارونه دومره درانه وي چي دملاهډوكي يې ورمات كړي اوانسان داسي له اخ وېوخه واچوي، چي لږ شمېر گوزارونه يې دمړيني سبب سي.

اوسني امير دكوټوالي پنځلس تنه سپايان په دې خاطرپه لرگيو ووهل، چي په وظيفه كي يې غفلت كړى و اودخپلو لوړو افسرانو دبې قانوني اجراآتو رپوټ يې وركړى نه و. اته تنه يې ځاى پرځاى ترلرگيو لاندي مړل سول اونوريې ځواوونى دښورخوړلونه وو. هغوى يې په زندان كي ساتلي اودټپونو دعلاج غم يې هم نه خوړل كېدلى. په يوه وروستي پيښه كي داميريو نوكركوم بدكاركړي اوملامتيا يې پريوه بل نوكراچولې وه. دا خبره كشف سوه. دغه سړى يې اميرته په داسي وخت كي راووست چي دارگ په باغچه كي دنوي ماڼۍ دموقتي چت پـــه جوړولو بوخت و. سړى يې په لرگيو دومره وواهه، چي تقريبا بېهوښه

سو. بیابې نو دماښی چت ته په کشولو پورته کړ اوله هغه خایه یې لاندي راوغورځاوه . تردې وروسته یې ښځې په رسی وروتړلې اوترکوټوالی پوري یې په کشولو بوت خودژوند څه پکښې پاته نه و. له چت څخه چې یې راوغورځاوه ، لاژوندی و.

اوسنی امیرددې روسواسي دئ اوغواړي، چې دده شاوخوا دي هرڅه پاك اوسوتره وي. نه یوازي کوراوباغچه بلکي ماڼی ته دورتلو سړکونه هم باید پاك اوجارو سوي وي . یوه ورځ دی دارګ باغچې ته دکوچنی دروازې له لاري تلی اوبې کتل، چې ددروازې شاوخوا مخکه جاروسوې نه وه . هورې معطله سو او د خایونو دجاروکولو مسول تن یې راوغوښت . دهغه شخص پرځای یې مېرمن حاضره سوه اووې ویل چې دمېړه یې سخته تبه وه اودراتلو نه و او داپه ناروغ دومره مصروفه سوه چې پخپله یې دځای جاروکولو ته وخت ونه موند اودغه راز لکه څرنګه چې تاسي مي هم وینئ ،کوچنی مي هم په نس دئ . امیرورته په خواب کي وویل، چې دی به یې له عذابه خلاص کړي اوامریې وکړ، چې ښځه دي پرګېډه باندي پنځوس لرګیه ووهل سي . دده له امرسره سم یې ښځه پرمځکه باندي پر شاوځملوله اووېې وهله . ښځه سمدلاسه مړه سوه.

امیرمرحوم هغوکسانوته په سزاورکولوکي ډېرسخت زړی و چې دده دمړیني خبربه یې په درواغو ورکړی و . کله چې ۱۹۰۰ کال دکولرا ناروغي خپره سوه . امیرپغمان ته چې دهندوکش په لمن کي پروت دئ ، داستوګني له پاره کډه سو. امیراودده کورنی له کولرا څخه سخته ډارېدله اوکله چې کولرا جاري وه ، بېمدستي له سیمي څخه ووت. دناروغي دختمېدو پروخت دوه تنه له پغمانه کابل ته راغلل اوپه بازارکي یې اوازه خپره کړه، چې امیرپه دغه ناروغي مړسوی دئ .کله چې امیرخوورځي وروسته ښارته راستون سو، دادوه تنه یې ونیول اوحضورته یې وروغوښتل اوورته یې وویل کاشکي ستاسي اوازه رښتیاسوې وای خودپلار ترخوله به هم تېره وای . وروسته یې امروکړ،چې خلك بندپربندپرې کړئ اوتوټې یې په بازارکي دنوروعبرت له پاره وځړوئ . یوبل وخت بیایوچادده دمړیني خبرپه درواغو سره خپورکړ. ده امروکړ چې سړی دي د اسمایي غره ته وخیژول سي اوهورې دي په هغه برخه کي ، چې سیند پکښې

ليدل كيږي اوخورا لوړ پاڼ دئ ، په يوه ښهرل کي واچول سي اولاندي دي لمني ته راورغړول سي . يوه بله ورته پېښه چي په ډېروحشت سره اجرا سوله ، ديوه زاړه ملا وه . هغه ويلي يې وو، چي اميررښتيني مسلمان نه دئ . پرده هم امرسوی و چي له هماغه غره څخه دي راشيوه سي. کله چي دی دکوتوالي سپايانو له پانه را ارتاوکړ ،جامې يې په يوه تېره ډبره کي بندي سوې اودده دراشيوه کېدومخه يې ونيوله . سپايانو يې بېرته وخېژاوه اودوهم وارېې په برياليتوب سره را ارتاوکړ.

اميردمېکاډو Mikado (١) په شان له ډراماتيک شهرت گټلو وروسته تل هڅه کوله،چي سزاوي له جرم سره متناسبي وي. سره له دې چي کله کله به چا فکر کاوه ، په جرم کي زياته مبالغه سوې ده. دمثال په توگه يو سړي چي له څوبې وزلو ماشومانو څخه يې مړي غلاکړې اوهغوی ته يې هيڅ وړيږې ايښې نه وو، په بازارکي په يوه قفس کي شوم وساتل سو. خوددې له پاره چي سزايې جرم ته ورته وي ، دورخي به يې دوه درې خله ورته ډوډی اواوبه دومره نزدې ايښوولې چي لاس به يې نه وررسېدل. دې کارته يې ترهغو ادامه ورکړه چي سړی له لوږي مړسو.

په يوه بله پېښه کي يوسړي اوبوې ښځي يوله بل سره زياته مينه درلوده دواړه واده سوي وو اوغوښتل يې يوځای سره وتښتي اوبه راتلونکي کي يې دخوښيو ارزوگاني ترسره سي. هندوستان ته درسېدوپه وخت کي چي غوښتل يې هورې گډ ژوند وکړي، ونيول سول اوبيرته راستانه سول . اميرددوی دسزا په باب امروکړ څرنگه چي سړی پرښځه باندي ډېرمين و اوغوښتل يې څومره چي ممکنه وي هغومره يې په بشپړه توگه ترلاسه کړي، څکه يې ښځه دايشېدلو اوبو په يوه ستردېگ کي ژوندی واچوله اوښوروايې څني پخه کړه. دغه ښوروا يې په سړي په زوروچښل اووروسته يې دارته وخېژاوه . په دغه راز جزاورکولو کي دامير مراد داو چي مجرم ته نه يوازي په دې دنيا بلکي په هغه دنيا (آخرت ) کي هم جزاورکړي. څکه دقرآن له څرگندوونو سره سم ، سړيخوردجنت له نعمتونو څخه بې برخي وي.

يوبل سړی او ښځه په نامشروع عمل کي سره نيول سوي وه ، داميرلـه حکم

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره سم چي په ظاهره يې دوی ته دژوند ترپايه ديوخای اوسېدلو اجازه ورکړې وه ، داسېمايي غره سرته وخېژول سول او هورې يې شاپه شا په رسی وتړل اوترهغه وخته يې هورې وساتل چي له شرم اولوږي څخه مړه سول . سپايان يې ورباندي پيره درولي وو ، چي څوك يې له جزاڅخه دژغورلو په برخه کي مداخله ونه کړي . لومړی ښځه مړه سوه اوسړي ته يوه بله ورځ هم دژوندي پاته کېدلو اجازه ورکړه سوه اوپه دې ډول يې په سفرکي مرسته ورسره وسوه .

په عادي قضيو کي چي نراوښځه سره ونيول سي ، لکه په دا تېره پېښه کي ، پردواړو حکم کېږي چي ددار خای ته بوتلل سي دارته دآماده کېدو له پاره دسړي په غاړه کي رسی اچول کيږي. دی تر هغوولاړ وي چي ښځه په بوری کي واچوي . دبوری خوله وتړي اوسپايان دبرچووارونه ورباندي پيل کړي . کله چي دښځي چيغاري ودريږي معنايې داده چي مړه سوې ده . وروسته سړی چي دخپلې معشوقې مرگ يې په سترگو کتلی وي ، دارته خېژول کيږي. که دواکمني کورنی خپلوان په دغه شان قضيو کي ونيول سي ، نارينه يې بندي کيږي اوهيڅوك نه پوهيږي چي څه ورباندي وسول . دومره پوهيږي چي بيابه يې څوك ږغ وانه وري .له ښځي څخه ياسترگي ايستل کيږي يايې پزه پرې کيږي اويادې ته ورته نوري جزاگاني ورکول کيږي. ترجزاوروسته ددې خوښه چي مري اوکه بې له علاجه پهطبيعي توگه روغيږي. زياتره مري اوويل کيږي چي که دچا زړه پروسوخي نويې په زهروباندي دوژلو په لاره کي مرسته ورسره وکړي اوښايي دابه يې ډېره مهرباني وي چي ورسره کړې يې وي.

دنارينه له پاره داعامه مساله ده، چي که يې پرماندينې باندي دبې وفاتوب گومان راسي، پزه يې وربرې کوي .کله يې لاپه غاښو ځني شکوي چي وتولوته ددې دبې وفاتوب نخښه سي اوخپله ښکلا پکښې بايلي. البته داپه هغه صورت کي چي اشنای (نامشروع يار ) يې معلوم نه سي اوناوړه عمل له پاره يې ثبوتونه هم په منځ کي نه وي.

په هغه رازقضيوکي چي نارينه پرنجونو يابښځوباندي په تېري کولوتورن وو ، اميرپه جزاگانوورکولوکي ډېرسخت چلندکاوه. په يوه پېښه کي درې تورن نارينه ترزني پوري ښخ سول اوترڅوچي مړه کېدل ، همداسي پاته وو. وروسته يې سپي

ورخوشي کړل چي وېي خوري یاځومره چي تري وړلای سي ، یوېي سي. په سپیوباندي دخوړلو سزا دمرگ ترنورو سزاگانو بدتره ده ځکه په دې صورت کي جنت ته دتللو ټولي هیلي له منځه ورسره ځي . امیر په ځینو قضیوکي هغه چاته چي دېرښخنوکي اوله ځپلو ښځوسره زیات وخت تېرولوته مایل وي، اوپه دې توگه یې سرکاري وظیفه پرخوشي کړې وي ، د «گناه دمخنیوي په مقصد» کافور ورکول . ځکه داسي فکرکېدی ، چي کافوردنارینه وو جنسي خواک کمزوری کوي. په بېلابیلو کارخانوکي ددولتي پیسو دلوټولو دمخنیوي له پاره، فقید امیر هغه شخص چي دصابون ددوکانومسول اوپه غلا باندي تورن سوی و، دصابون ایشېدلي دېگ ته ژوندی وروغورځاوه چي دغلاشوو موادو کمی په پوري کړي .کله کله خوامیردایشېدلو غوړیو دېگ ته هم خلك اچول .دا داسي جزاوه، چي دگناه په نوعیت یې اړه نه درلوده .

دغلاپه جزاکي یوه معموله سزا چي دامیرله خوابه د «دارولو» پرځنگ ورکول کېده ، دلاس پرې کول و . کابل ته زمادلومړي ځل ورتگ په وخت کي (۱۸۸۹ ) یې ماته داستوگني له پاره دورکشاپونو ځنگ ته په یوه باغچه کي خیمې راکړې وې . ددوبې وخت و اویوه ورځ له یوتن کارگر سره له لویې دروازې څخه دوتلو دوخت په ټلابنې کي دانسان دلاس په اندازه دځرمني یوه ټوټه گیرسوه، چي ترکوټ لاندي یې پټه کړې وه . امیر حکم وکړ،چي د نورو د عبرت لپاره دي په کارخانه کي دننه په دار وځړول سي.خو دهغو انگرېزانو په منځگړتوب چي په کارخانه کي یې کارکاوه ، امیرپه سزاکي کمښت راووست اودسړي دلاس پرې کولو امریې وکړ. لاسونه دقصابانو په واسطه پرې کېدې اوکله چي لاس پرې سي معمولا یې دوینو دبندولو په خاطرپه ایشېدلو تېلو کي ورغوټه کوي . دغه کارگریودوې ورځي وروسته مړسو.

یوه بله معموله سزادخلکو ړندول دي. داسزا عموما هغوکسانوته ورکوله کېدې، چي له بندیخانې یاله هیواده یې د تېښتېدلو هڅه کړې وي . له بندیخاني اوهیواده تېښتېدل تقریبا ورته جرمونه دي.

ددغې سزادعملي کولوطریقه داسې ده، چي دسترگو نینك په نشتر وهل کېږي اووروسته د نایټریك تېزابو ځاځکي پکښې اچول کېږي . ددې له پاره چي

ړندېدل حتمي سي، وروسته کلسیم اوکسایډ (quicklime) هم پرزیاتیږي.
دغه رازتېپ درد باید دزغملو نه وي . په یوه پښښه کي یې پنځلس تنه یوځای دښېرپور په چونی کي چي معمولا دغه راز سزاوي پکښې عملي کیږي ، ړانده کړل . په دریمه ورځ دغه خلك په داسي حال کي ولیدل سول چي یوله بله یې په ځنځیرتړلي اوپرمخکه باندي یوه لیکه ناست وو . دوی بل ځای ته د تللو قدرت نه درلود، چي طبیعي ضرورت پکښې رفع کړي اوپه نتیجه کي دومره په مرداریو لړل سوي وو، چي بیان یې نسي کېدلای. دري تنه یې مړه سوي وو ځوله نورو ژوندیو کسانو سره لا تړلي پاته وو. ځیني ژوندي هم بېهوښه پراته وه . په داسي حال کي چي نوروکسانو زګېروی کاوه اوځانونه یې له مخ وشاڅخه پرډېرو باندي وهل.

دتېښتي سزاهروخت ړندېدل نه و .دپنځوتنو کافري هلکانو یومثال به بیان کړم . دغه هلکان دهغي ټولی غړي وو، چي له کافرستانه دراوستل سوېو بندیانو څخه هغه وخت جوړه سوې وه چي دغه سیمه دامیرله خوافتح سوه . دوی هڅه کوله هندوستان ته وتښتي ځکه کابل اوپه زورسره یې محمدي(ص) شریعت خوښ نه و. خو دوی باالفعل نیول سوي اوبیرته راوستل سوي وو. امیردسزاورکولو په توګه پرکافري ټولی حکم وکړچي منظم ودرېږي اوهلکان دي دخپلو ملګرو په مخ کي په برچو ووهل سي. دې کاردکافرو په منځ کي ښه پوره اندازه نارضایتي څرګنده کړه اوامیربه غالبا دډېروسختو ضروري اقداماتو فکرکړي وي.

داعدام یوبل شکل چي البته دډېرنادرکارترې اخیستل کېږي ، دادئ چي ددوو نیالګیو سرونه یوبل ته راغبرګوي اوپه مځکه کي یې تړي . د اعدامېدونکي سړي یوه پښه اویولاس دیوه نیالګي په سر پوري اوبله پښه وبل لاس یې دبل نیالګي په سرپوري وتړي . کله چي داکارسرته ورسېد ، هغه رسی چي نیالګي په تړل سوي دي، یودم غوڅوي اودتړل سوي شخص بدن سره شلیږي(۲) داعداملودغه درې عام روشونه معمول دي : په توپ کي الوزول، په دارول او په برچووهل. وروستی ډول یې زیاتره په بندیخانوکي دشپې له خوا سرته رسیږي . اعدامېدونکي کسان دمحافظینو په واسطه یــــوګوښه ځای ،

دمثال په توګه دبالاحصار یوې ګوښه برخې ته بېول کیږي اوهورې په برچوروژل کیږي . مړی یې وروسته یوه زاړه ښاه یاځرمه کندې ته غورځول کیږي اوخاورېورباندې اړول کیږي.

کله چې پرچاباندې په توپ کې دالوزولو امروسو، هغه چاته یې وروليې، چې هره ورځ دتوپ په ویشتلوسره دغرمې وخت اعلانوي . دغه توپ دشیرپور چوڼۍ ته نزدې پریوه کوچنۍ غونډۍ پروت دئ . ( ۳ ) هورې محکوم شخص توپ ته داسې تړي، چې شا یې دتوپ میل ته برابره وي. دتوپ په ټک سره یې دبدن زیاتره برخه سره ټوټې ټوټې کیږي . په توپ کې دالوزولو له سزا څخه مراد دنورخلکو په زړونوکې دبېرې اووحشت ایجادول دي، خوشك نسته چې داعدام ترنورو ډولونو یې مرګ غوره ځکه دئ چې ناڅاپې اویوه شېبه دئ .هغو کسانوته، چې حکومت سرمایه غلاياوخوري ، دغه راز سزاورکول کیږي اوامین نظام یادادرو دتادیاتو مشرPaymaster کله کله په دغسې مواقعو کې مرکزي عنصروي. دغه راز دلویولارودغلواوسپاهانو دژوند ورځې دتوپ په واسطه پای ته رسیږي.

ددارله پاره له معمولي زندۍ څخه کاراخیستل کیږي .محکوم شخص دمغزي ماتېدلو له بېرې یې دپاسه راځوړندوي نه، بلکې دیوه څرخ په واسطه دارته خېژوي اوترهغو ځوړند وي، چې دزندۍ له امله مړ سي . له دوه رازه دار څخه کاراخستل کیږي . یویې د T په شکل دئ اوبل جګ دئ . دغه دارهغه کسان ځوړندوي چې غواړي تردابلې ورځې پورې یې لاځوړند پاته کړي . مړی ددې له پاره پردار باندې پرېږدي چې نورو ته اخطاروي. ددار بل شکل دمېز دچوکاټ په شان یوچوکاټ دئ چې دسرلرګي ته یې لیرې کبدلاي سي. دچوکاټ بازوګان په ځمکه کې ښخوي . دمربع پرهره څنډه باندې دلرګیو درې ځلور دانې څرخونه (غرغرې ) نصب سوي وي چې دهغو په منځ کې رسی تېرېږي اودشخص بدن ځوړندوي. کله کله پېښېږي چې څوتنه باید په یوه وخت کې اعدام سي اوددې له پاره یې ددار ټمبې دومره غځېږې کړي وي چې دشپاړسو تنو له پاره کافي وي. دهغوکسانو ،چې په دارمحکوم سوي وي، داعدام په وخت کې سترګې نه ورتړي.لاسونه یې په ــــــه بدن پورې ترځنګلو لوړ اوپښې یې ترزنګنو

لوړي په رسی تړل سوي وي . کله چي یوڅوك خوړند سي، لېښي یې پورته وکښته کیږي اوددې له پاره تلاښ کوي چي له غاړي څخه دزندی حلقې لیري کړي . داکارترهغودوام مومي، چي شخص بې سده ( بې هوښه ) سي. دایوه ډېره دلخراشه منظره وي چي څوك دیوچادهغه بې گټي تلاښ تماشا کوي چي دزندی کېدوددرد دکمولو له پاره یې سرته رسوي. یووخت یوه پنځه افغان چي دارته یې خېژولی و، هغه وکړه هغه رسی وشلوي، چي پرلاسونو اوغاړه یې تاوسوې وه . خان یې سره کش کړ بیرته یې خوش کړ، غالبا به یې مراد داو، چي دغاړي په پرې کولوسره دشکنجې زجرپای ته ورسوي . خو دغاړي پرخای رسی وشلېده اودی لاندي راولوېد .شل دقیقې یاڅه زیات ددار په بېخ کي بې سده (بېهوښه ) پروت و. بیایې بله رسی له بازاره راوړه، دوباره یې خوړند کړ اواعدام سرته ورسېد. په یوه بله پېښه کي یې یو سړی په دار خوړانداوه اورسی درې واره پرې سوه . هرواربه یې بله نوې رسی له بازاره راوړه . کله چي دریمه رسی هم وشلېده ، هغوکسانو چي نزدې ولاړوو، وویل چي دا دسړي پربېگناهی باندي دخدای له خوایوه اشاره ده اوسړی باید خوړند نه سي. داعدام مسول افسر ، امیرته دپېښي دڅرنگتیا اوخانگړتیاپه باب یوایلچي واستاوه اوغوښتنه یې وکړه چي شخص دي وبخښل سي. خودامیرپیغام بیرته راغی، چي سړی باید لکه څرنگه چي امرسوی دئ، په دارخوړند سي .دوی ته بله لارپاته نسوه ، بې له دې چي سړی یې دځلورم وارله پاره دارته وخېژاوه . اوترهغوخړېدی، چي مړسو.

دجرمونو په وړاندي ټیټي سزاگاوني ، پرهغو برسېره چي پورته بیان سوي ، دامیر دطبیعت په سموالي یاناسموالي اړه لري اوبېلابیل ډولونه لري .په ځینو حالاتوکي پېزي پرې کیږي ، زیري یې ورشکول کېږي ، سړی دځوورخو اوشپولپاره خای پرخای بې له دې چي وښوري ، درول کېږي . په سترگوکي نصوار اچول کیږي اودامیر دخپگان اوقهرله احساس سره سم نوري بېلابیلي لاري په کاراچول کیږي . امیرشیرعلي به هرهغه قصاب چي دلږوزن په ورکولو محکوم و، ددوکان ددروازې څنگ ته گوش مېخ کاوه . ( په غوږکي به یې مېخ ورټك واهه ).

په یوه پېښه کې دامیرپه وړاندې ناحقه شاهدي ورکول سوې وه او کشف سوه. پرهغو جاسوسانو، چې ددغې ناحقه شاهدۍ او دهغې پرسر دپیسو اخستلو خبرېې راوړې و، حکم وسو چې په ارګ بازارکې دې له لمرختوڅخه ترلمرلوېدو پورې اته ورځې په پښو خوړند سي .خوخلکو اشنایان درلودل اودپیسو قدرت ډېر زیات و، ځکه نو دپولیسو سپایانو دوی ته اجازه ورکړه پرخپلو سینو (ټټرونو) باندې تر هغو پورې پرمخکه دمه وکړي، چې افسر به له ستر ګو نهامېدی. کله چې به افسر تېرسو، دوی به بیرته پښې کښته کړې. خوله دغوټولو چلونو سره سره بیاهم خلک څوواره بېهوښه سول. ددې سزاعجیبه برخه داوه، هغه سړی چې ناحقه شاهدي یې غوښتلې اودهغې پرسرېې پیسې اخیستې وې، صرف یولږڅه جریمه سو.

په کابل کې ویل کیږي، چې دامیر په دماغ هیڅوک نه پوهیږي.اودابه ډېره جالبه وي، چې څوک په دې دلیل پوه سي، ولې غټ مجرم ته ترهغوکسانوچې ده جرم ته امرکړي وي، لږسزاورکول کیږي ؟

یوه بله سزاچې څومیاشتې په دربارکې یوه لویه مسخره وه، داسې وه: یوغلام بچه څوواره له امیرڅخه غوښتې وه، چې ماندینه ورروغواړي. په پای کې امیر «هو» ورته وویل. امیرته دامعمولې خبره وه چې له خپل حرم څخه یوه مینځه (وینځه) یوګران غلام بچه ته واده کړي. ددغه هلک واده په معموله توګه وسو. دواده په شپه دماښې په باغچه کې دزوم وناوې له پاره یوه لویه خرګاه (غټه خېمه) ودرول سوه. ټوله شپه دټوپکو په ډزو اودعوتونو تېره سوه. په پای کې زوم خیمې ته ولاړ چې دلومړي ځل له پاره خپله ناوې مخامخ ووینې (ناوې ترهغوپورې زوم ته نه ښکاره کیږي چې دواده مراسم پای ته رسېدلې نه وي) په خیمه کې تیاره وه، خودی ورورواندې سو. لږشېبه وروسته په ځغاسته اوچیغو راووت اودامیر حضورته یې ورمنډه کړه. ویل یې چې لویه بدمرغې وړباندې نازله سوې ده ځکه له چاسره چې ده واده کړی دئ. ښځه نه ده بلکې «شیطان» دئ. وروسته څرګنده سوه امیرددې له پاره چې دهلک اصرار ته یې سزا ورکړې وي، په پټه یې بل غلام بچه ته امرکړی و چې جامې واغوندي او د واده په شپه دنجلۍ رول ولوبوي.

## دلسم ځپرکي لمنليکونه

(۱) ميکاډو د جاپان دامپراتور لقب و ، چي دبهرنيانولخوا ورکړه سوی و (م.ع)

(۲) دغه عمل ته يې په محلي ژبه شغه (شقه) کول ويل. (م.ع)

(۳) دغه توپ په وروسته وختوکي دده مزنگ نوآباد ته مخامخ دکابل سيند پرجنوبي څنډه د چهلستون دسړك پرغاړه ديوې غونډۍ پرسر ايښوول سوی و. (م.ع)

# يوولسم څپرکی

## په کابل کي داروپايانوژوند

**دکابل ژوند ـ کورونه اوباغچي ـ ساتونکي ( ګارډ ) او د « غازيانو » لخواخطر ـ ماندينوته ورکول سوي تخصيصي (Allaowances ) ـ نوکران او دوکه بازی**

زما څخه به تل داپوښتنه کېده ، چي « په کابل کي دي خان يوازي نه ګاڼه ؟ » دې پوښتني ته په مثبت ځواب ورکولوسره به مي تل دهغو ستومانوونکو ګړيو ياد ذهن ته راغی ، چي تر کاروروسته به مي په يوازيتوب کي تېرول . د کابل دژونديوازيتوب ترټولوبدترين يوازيتوب دئ اوپرېوچاباندي ددغه رازخوکلن ژوند اغېرلېبره زيانمنه ده . خوله هغې څخه دراپيداسوي دوامداره ناروغی اوټکل ترهغو څوك نسي کولای،چي مدنيت ته بيرته راستون نسوی نه وي . دافغانانو او اروپايانوترمنځ ټولنيزه راکړه ورکړه نسته او په دې لار کي چي ډېر سي ، نو هغه مېلمستياوي يا کاليزي ته دداسي چالخوا ورغوښتل دي ، چي انګرېزانو ته ښه نظر لري . داپه عمومي توګه يوه داسي پېرزوېنه ده ، چي دمجراورکولو انتظار يې کېدلاي سي .

په ژمي کي تردوبې يوازيتوب ډېرسخت وي . ورځي لنډي وي او ماښام له ځلوروبجو څخه د بيدېدلو تر وخته پوري تماميده نلري . په تېره بيا چي ژمی پسې اوردسي . ځکه د وخت تېرېدلو لپاره له لوستلو پرته بل هيڅ شی نه وي . دورځي چي څو ساعته به لوستلو بل کارنه وسي ، سړی ډېر ستومانه کېږي . سخته خولاداوي چي دلوستلو لپاره نوی کتاب نه مونده کېږي . زماهغه کارډېر خوښ دئ ، چي دپلان او نقشې کښلو تياري ته اړتيا لري . دغه تياري زه دشپې لخواسرته رسوم اوپه هغه باندي وخت ډېر ژر تېرېږي . کله چي د ساتېري او خان مشغولولولپاره بل څه نه وي ، زه خپل دېوالي ساعت راواخلم ، سره ټوټه ټوټه يې کړم ، پاك يې کړم او يا يې له کاره وباسم . بلهکارچي ماشپې ته پرې اېښې وي ، هغه دهغو کاني ډېرو څېړنه ده ، چي امير ته دهيراد له ټولو برخوڅخه استول سوي وي . نوموړی دا ډېري ماته رالېږي او زه ځکه په خوشاله

يم ، چي راته دوخت تېرولويوه وسيله وګرزي .

په کابل کي به څوك خانته پخپله ساتېرى برابروي . داسي څوك لږ وي ، چي خانته يې ساتېرى نه وي برابركړى . كه نورڅه نه وي ، ترا ژيكي ټوكي جوړوي . په جمعو اورخصتيوكي ورځ په ښكار سره تېرېدلاى سي . ددوبي په زياترو مياشتو كي ترښاردباندي كروندو كي كركان ( مېزان ) او شنې كوترې موندل كېږي او په ژمي كي په چمنانو كي ښه پرېمانه هېلى او تاروګان پيداكېدلاى سي . چمنان ( چمنونه ) په كروندو كي دخمكو هوارې ټوټې دي ، چي تر يوې اندازې په اوبو پټې وي او د مرغانودښكارلپاره واښه او لوخي پكښې پرېمانه وي . دمرغانوښكار زيات كېږي ، ځكه يې مرغان ډېر تورندوكي وي. څرنګه چي ويشتل يې سخت دي ، له دې امله يې يوښه سپورت منځ ته راوړى دئ .

فقيد فليشر (Fleischer ) چي په كابل كي زماداستوګنې په وروستيو دريو كلوكي اوسېدى ، زياتره جمعې زماسره ملګرى كېدلى او موږبه په چمنانو كي د ورځي تېرولوتمرين كاوه . ( نوموړى د ۱۹۰۴ كال په نومبر كي هندوستان ته دتلوپه لاره كي دخپل افغان بدرګه افسرلخوا ووژل سو ) . موږبه اته يا لس تنه سپاهيان دساتونكوپه توګه ، چي تل ضروري دي ، له خان سره ملګري كول . داخلك به ښكار كي زموږډېرپه درد خوړل . موږبه ډغرمې ډوډۍ او دغه رازچايجوشي او دچايو نورضروري مواد له خان سره اخيستل ، چي په دې توګه په ښكار كي ښه مېلمه په جوړه كړلاى سو . له ښكارڅخه به تشه موږنه راستنېدلو . داسپورټ په ورځني ژوندكي يوه ډېره ښه تنوع وه . په پسرلي كي چي دهېليو اوتاروګانو ښكارختم سو او مېزان به هم نه راتلل ، موږ به د بوريو ټوپكو (Rifles ) دتمرين لپاره ځغلندهدفونه جوړول . داهدفونه (نښانونه ) به دژوندېو هوسيو يا پيشي پېرانګ په اندازه وو ، چي پركاغذو باندي به په بدرنګه توګه رسم سوي اوپه يوه سپكه ګاډۍ كي به پريوه چوكاټ باندي مېخ سوي وو . يوه سړي به دغه ګاډۍ په يوه اوږده رسۍ باندي په يوه لنډه فاصله كي په ډېره چټكۍ سره كشوله . دګاډۍ مخي ته به موږ دنازكز بوټو او ونويوه كتاره جوړه كړې وه ، چي هدف په صرف په ټاكلو وقفو كي معلومېدى . دا كارپه اټيا ـ سل متري كي دګرندي ښكارله پاره يوښه تمرين و . د بوري ټوپك

له ښکارځخه چي به ستړي سولو ، بیابه موږ په رود کي د سیمه ییز ګردي تور په واسطه ماهیان ( کبان ) نیول . کابل ته دځرمه رودونو کبان لږ او واړه دي او که ځوك غواړي ډېر کبان ونیسي ، باید ځومیله بر ولاړ سي . موږ تر دریو انچو غټ ماهي ډېر نادرېيولی . زیاتره به چي په تورکي ونیول سول ، واړه به وو . خوچي پاخه به موکړل ، ډېرخوندور اوتك سپین به ښکارېدل . ماهي چي هرڅومره غټ و ، هغومره به بې مزې و .

په کابل کي زماداستوګني په لومړیو وختوکي به ماپه شاوخواسیمه کي د آس په سپارلۍ اوږده مزلونه کول .عمومابه یوازي وم.داهغه شپې وې ، چي امیرعبدالرحمن ښه په زورکي و اودابه خوښي حماقت وای، چي چادده یوه «پرنګي»ته په بده کتلي وای.په هرصورت ماته داسي ځرګنده سوه ، چي زه دځپل کار په معمولي لارکي ډېر سپور تللی وم، ځکه یې خوا راووهلږ . بیا مي نوبایسکل پیداکړ اوپه شاوخواسیمه کي به مي ځغلاوه . داکار هم ورو ورو راته بېخوندہ کېده،ځکه په لارکي به دکتلو وړ نوی شی اوپه مزله کي به هم کوم خاص هدف نه و . ورځنی کارراته تر تمرین و سپورټ کولو زیات کافي و، چي دروغتیاله مخي مي روغ وساتي . ترڅو وروسته به که په راځرمو کروندوکېدمزانو ښکار میسر کېدلی ، نو زیات مازیګرونه به مي په باغچه کي تېرول . ځکه راته معلومه نبوې وه ، چي ترلمرلوېدو دوه ساعته وړاندي به یوزیات ښهر ښني کوتري دوې دوې ، دري دري دباغچې دپاسه په هوا تېرېدلې اوپه داسي حال کي چي ټوله ورځ به ښې مړې سوي وې ، کروندو او غرونوته به د بیدېدلو ځایونو ته ستنېدلې . دې کار زمالپاره ډېرښه او اسانه ساتېری براېراوه. مابه زیاتره مازیګرونه ، چي کوم بل تردي ښه کاربه مي نه درلود ، په باغچه کي منتظرناست وم،یوه یابله کوتره به په روڼ سره راتله . دا یوډېرښه تمرین و،ځکه ښنه کوتره په الوتلو کي ډېره تېزه (ګړندۍ ) وي، مخ پرتندي دسېري دسردپاسه تېرېږي .موږ دټېنس میدان هم جوړکړ اوپه وروستیو دوو کلونوکي به مودژمي ترراتلو پوري زیاتره دورځي لخواد ټېنس لوبه کوله .په کابل کي ځوك دډسمبرترپایه پوري ټېنس کولای سي . کله چي واوري اورېدل پیل سي ، لوبه هم ترراتلونکي اپریل پوري نوره بنده سي .

دغه کور چي زه پکښې اوسېدلم ، شپږ خوني لاندي اوشپږ باندي درلودې .
ټولي کړکی منځني غولي ته پرانیستي وې .شاوخوا ته یې پخلنځی ، دنوکرانو
کوټې ، غوجلونه ، حمام او نور واقع وو . مادکوربهرني لوري ته هم کړکی
جوړي کړي وې ، چي په دې ډول مي نه یوازي دباغچی منظره لیدلای سوای ،
بلکي دشاخوا کوټو هم ورسره په پوره اندازه رڼا وموندله او داوسېدلو وړ
وګرځېدې . داکور اساسا حرمسرای و، چي دامیرشیرعلي څو مېرمني پکښې
اوسېدلې . په هغو ودانیوکي چي ښځمني اوسي ، رواج داسي دئ ،چي مخ یې
د کور دننه غولي ته وي . له همدې امله یې دکورو پر بامو هم جګ جګ
دېوالونه راتاوسوي وي ، چي ښځي وکولای سي دمازیګر له خوا ببله دې چي
نورنارینه یې ووینی ، له آزادي هواڅخه مستفیدي سي .
موږټولوکوروته خرمه باغچې درلودې . زمادکورباغچه تر ټولو لویه وه .
کورمي هم غټ و او ده افغانانوته نژدې دښار یوه بهرنی برخه کي ، چي
مځکي یې پرېمانه دي ، پروت دئ . ماله باغچې څخه ښه پوره ګټه اخیستله او
هر رازترکاری ، پټاټې ، کرم ، ګلپي ، بادرنګ ، ختټکي ، ګازري ، سابه ،
رومیان ، نخود ، لوبیا او نوي ترکاری پکښې کرلې اوښه په موج کي وې .
مادغه رازمځکني توت هم کرلي وو، چي ښه پوره حاصل یې ورکړ. خودباغچې
له ونو څخه مي ګویا هیڅ میوه نه اخیستله. دکوټوالی اووتنوسپایانوبه چي
دکورېه بهرنی دروازه کي یې پیره کوله ، زیاتره میوه له پخېدلو سره سم وړله .
داکاربه یې دشپې لخواکاوه یابه چي زه پرکورنه وم او دوی به پر ګیرولای نه
سول. له دې سره مي نه غوښتل چي دغلاسوي مېوې پرسرخان ته تکلیف ورکړم
.یووخت مي دیوې ونې په ګڼو ښاخوکي یوه مڼه ولیدله،چي پاته سوې وه .
سپایانوته مي وویل دامڼه زماونډه ده خوزه غواړم څو ورځي یې لاپه ونه کي
پرېږدم ، چي ښه پخه سي . له دوی څخه مي وغوښتل،چي پام پرکوي او څوك
لاس ورنه وړي. دوی وویل « بچشم » (پرسترګو ).خودابله ورځ بیامڼه نه وه
اوټول یې پرشکولو ناګاره وو . په داسي حال کي چي له دوی پرته بل څوك
باغچې ته راتلای نسول . داخبره مي خکه یاده کړه چي دکوټوالی سپایان ، چي
کوم شي ته یې لاس ورسېږي ، صرفه نه پرکوي . خکه نـود غله د نه کشفېدلو

امکانات منځ ته راځي. يوبل وخت يې زما د آس کيږي ( ملونه ) غلاکړل .
څرنګه چې داکارجدي و او ماهمدغه يوه دانه درلوده څکه مي نو پيره داران او
دهغوی حوالدار راوغوښت اودغلاموضوع مي ورته څرګنده کړه . ورته ومي ويل
زه ترسهارپوري لاګورم، که ترهغه وخته پيدانه سوه نوبايدا ميرته خبرورکړم . په
سهارکي يوه سپاهي هغه پيداکړه،چې دباغچې په ګڼو وابنوکي غورځول سوې
وه اوماته يې دثبوت لپاره هماغه ځای هم راوښود.ماورته وويل،چې زماټينګ
ګومان دئ دکورپه شاوخواکي کوم شيطان ياپيريان سته،چې زما دشيانو د غلا
کولوعادت لري . دادښکمرغی ځای دئ،چې مادی وېرژاند.کنه فکربه مي کاوه
،چې سپايان داشيان غلاکوي او «بدنامي» به دوی ته وراوښتله . دوی ماته په
اريانی سره کتل،چې آيا زه دملنډو په توګه وايم ، که مي رشتيا مقصد همدا
دئ . ډېره موده بياله کوره بل شی غلا نه سو .
دکوټولی پيره دارانوماته دغلادعادت له امله ډېري ستونزي پېښي کړې .
دوی چاته داموقع نه ورکوله،چې لاس په لاس يې پرغلاګيرکړي . کله چې به
مي هڅه کوله پرغلايې ګيرکړم . دوی به زماپريوه يابل نوکرتاوانول . ټولوبه
شاهدی ورکړې . يوه به وېل مانوکرولېد ، چې غلايې کوله.بل به يوڅوک
راووست،چې غلاسوي شيان وربانديپلورل سوي وو . اوداسي نوري شاهدی به
ورکول سوې . له هغه څخه به يوه لويه قضيه جوړه سوه . زه پوهېدم چې که
نوکرانوته دغلازمينه برابره سي ، کوي يې.خوماداسي انتظام ورته برابرکړی و
چې هرسړی دخپلوشيانومسؤل و . هرڅه که به ورکېدل بايدده يې غم خوړلی
وای . څکه مي نسوای منلای ،چې يونوکردي پخپله يوشی غلا کړي او ودې
پلوري . څکه په دې صورت کي يې بايدپلورل سوي شي دوه چنده بيه تاديه
کړې وای . په دغه وخت کي چې دغلاوو دبندولوپه هڅه کي وم اوکله کله به
پېښېدلې، دسپايانو يو ډېره بده ډله پرپيره ولاړه وه اوکوټوال زماپه هڅو
سملاسي خبرېدلی . څکه يې زمادنوکرانوڅخه يوتن دعمومي باغچې له چای
پلورونکي څخه د دووپيالوغلاکولوپه تور جبل ته اچولی و . دکوټوالی يوسپاهي
چې پرماپيره و ، شاهدي ورکړه ،چې نوموړی نوکرپه بازارکي
پردوکانداربانديد هماغو پيالود پلورلوپه حال کي ليدلی و . دوکاندار او پيالې

دواړه یې دشاهدپه توګه حاضرکړل . قضیه امیرته وړاندي سوه . پرنوکربانديدبندي کېدلو حکم وسو اوامیرماته ولیکل،چي دنوکرانوپه استخداملوکي احتیاط وکړم . خکه یوځوکلچي غل وي یو وخت قاتل کېدلای هم سي.ده ته داډېره خطرناکه ده چي زماپرشاوخوادي دغه رازکسان واقع وي.په دې ډول کوتوال غوښتل دامیرذهن زمادنوکرانوپه نسبت خراب کړي اودده دسپیانو دغلا په برخه کي زما شکایت خکه نه اورېدل کېدی،چي دوی ټولوبه زمادیوه نوکر پر متهملو باندي قسمونه خوړل. دچایودپیالودغلاپه بابزه پوهېدم،چي‌نوکربېګناه دئ .خکه تردغي ټاکلي غلاځوساعته مخکي لادوی دواړه زماسره وو. له هغه وروسته‌یې ټوله شپه زماسره دکتابودالماری په جوړولوکي مرسته کوله. بالاخره مانوکرله جېله راخلاص کړخونوموړی دسپایانوددښمنی له ېېري بیرته زما نوکری ته رانغی.په هرصورت دوی خپل دغچ اخیستني دود ته دوام ورکړ. هغه داچي تورن سړی یې پسې پرې نښود اولږه موده وروسته یې بیرته جېل ته واچاوه اوهوري دنورو کسانوپه شان تری تم سو .

دحکومتخدمتګارو اروپایانوته دسپایانوورکول سوی ګارډدعزت او درناوی ګارډبلل کېږي . دوی بایداروپایانودټولوکارونوربوټ هم ورکړي. داچي دوی څه کوي ، چیرته خي ، څوك ددوی کور یانوکرانو ته ورځي او ددوی اړوندکسان څوك دي ؟ اساسا داټول ددې لپاره کېږي ، چي څرګنده سي بنایي دی ( اروپایي شخص – م.هـ ) مخبروي اودهندحکومت ته رپوټونه لېږي . خودغه راز بیاامیرته داهم څرګندوي ،چي نوموړی اروپایي څه راز شخص دئ؟ ګارډ له هغو بریدونو څخه داروپایانودژغورلو لپاره ضروري دئ ، چي د متعصبینویاغازیانوله خواکېږي .دوی په همدې نامه ( غازیان ) بلل کېږي او شاوخواپرېمانه دي . ددوی لخواخطر اوسیځفقیدامیردواکمنی تر وخت زیات دئ . دامتعصبین(Fanatics ) په دې کي ری نه وهي ، چي دپرنګي دوژلوپه صورت کي به دوی پخپله یوه یاځو شپې وروسته ووژل سي.خکه دوی تردغه راز وژل کېدلو وروسته جنت ته پرتلو ، پر حورو، دشیدوپرشیندونو او نورثوابونوکلك باور لري . پرماباندي یوه ورځ ماپښین په ورکشاپ کي دغه رازبرید وسو. زه د پښو پرګوتو ناست وم.بنایانو ته مي ، چي دیوې کړې (دابښ ) تاداویې ایښاوه ،

لاربنوونه کوله . غازي زماشاته راغی، په دوا ړولاسو کي يې دنهه پونډيز توپ تش اوسپنيز کارتوس و اوله ډېري نژدې فاصلې څخه يې يوه دانه پخپل ټول زور ځما پرخوا ارتاو کړه . ده زماسرپه نخښه کړی و .خوله بنه مرغه دکارتوس د راغورځولو په شېبه کي زه ولاړ سوم اودسرپرخای مي کارتوس دارږوپه منځ کي ولګېد . دکارتوس يوې څنډې مي دنيم انچ په اندازه شمزۍ راوتورله . دګوزارله امله زه يوه شېبه بېخي بېواکه سوم خوزما سپاهي ، چي په دغه ورځ يوازي راسره و،دمخه تردې چي غازي ددوهم کارتوس وارورکړي ، زنياوه . لاسونه يې ترشا ور واړول اوپرمخکه يې راغوځارکړ.کارګان دمعجزې په شکل پر راغونډسول . غازي يې دومره سخت په لغتو وواهه،چي ډېر ژر بېهوښه شاته سو. وروسته مي دورکشاپونودګارډ دقطعې کپتان ته حال ورکړ اوسږی مي په پيره دارخانه کي واچاوه،بندي مي کړ اودامیرحکم ته معطله سوم . ده ته يې داسي سزا ورکړه،چي لاسو په منځ کي د دوولسوانچوپه اندازه يولرګی ورکړ،په خنخيرېې وتاړه اوشپږمياشتي همداسي پاته و .پردغه سزاسربېره ورته دعمري بندجزاهم ورکړه سوه . په مسلمانانو کي پرنګي وژل ډېرغټ جرم نه دئ او دسږي دوستانو ډېرژرډېرې بريالي سول ، چي دبندموده يې يوکال ياترهغه لږې مودې ته راټيټه کړي . خوماله خپل نفوذ څخه کاراخيست اودذوی هڅې مي ناکامه کړې . ترحملې څو ورځي وروسته مي ډېر حرکت نسوکولای او دفلج کېدلو بېره موجوده وه . خکه شمزۍ مي لږڅه ټپي سوې وه مېرمن ډالي Mrs.Daly زماعلاج په زيات دقت او مهارت سره وکړاو زه ډېر ژرعادي حالت ته را وګرزېدم. اميرډېري خواخوږۍ په څرګندولوسره خپل شخصي حکيم ډاکټر )راولېږه چي زما زړه امتحان کړي . نوموړی درې ورځي راغی،چي وګوري ناروغي مي څومره ښه سوې ده؟ وروسته بيرته له امير سره په پغمان کي يوځای سو .اميرډکولرانارو غۍ دخپرېدوله امله چي زمادټپيکېدوپه شپوکي يې شيوع موندلی ووخپل درباريغمان ته لېږدولی و . نورېريدونه هم راباندي وسول خوهيڅ يو يې ددغه واربه شان نه و .داخل بيخي ورياخني بچ سوم .داواقعېپه کابل کي زماداستوګني په وروستيودريوکلونوکي پېښي سوې.په دغه وخت کي فقيدامير ډېر بې سبکه سوی او اوسنی اميرلاپخپل هيوادکي د تقدس درجې ته

رسېدلی نه و .

یوه بله واقعه چي دکابلي بې عقلي اوحسادت ترې ښکاره کېږي 6 په باروت خانه کي پېښه سوه . دغه ځای ته زه دامیرله هدایت سره سم تللی وم ، چي کارونه يې سمبال کړم . امیرویل،چي په کابل کي جوړسوي باروت تر بهرنیو باروتو دتوپونو میلي ډېري چټلوي.دباروت خانې مشردشاهي کورنۍ د زیات شمېر غړو له ډلي څخه و . دده پر سرباندي زما مقررېدلو دی په خښم کړی و . له دې امله يې دباروت ګډولو دکارخانې په باروتوکي پټاکی ایښي وې او زمادورتګ په وخت کي يې خلاصه کړې وه . دباروت ګډولو په وخت کي تل دچاودني امکان سته او له دې امله دی اوملګري يې دباندي ووتل. زه يې په شاپ کي يوازي پرېښوولم . ماته حالات سم ښکاره نسول . دباندي راووتم او دکارخانې درولو امر مي ورکړ . وروسته چي ماته دپلټني اجازه راکړه سوه ، په دې پوه سوم چي خبره څه وه؟ مقام اتو نه مي په دې باب هیڅ ونه ویل اوپه رپوټ کي وښوول چي دباروتواندازه داسي تنظیم سوې ده ، چي دمسولوکسانولپاره يې دعاید یوه منبع جوړه کړې ده . زه پوهېدم چي همداخبره دټولو مقصدولپاره کافي وه .

اروپایانوته داحق سته چي کابل ته خپلي مېرمني ورسره بوزي او مېرمنوته يې دامیرلخوادژوندکولو سخاوتمندانه اسانتیاوي برابري سوي دي . خوکابل دیوې ښځې لپاره دژوندځای نه دئ . هلته دساتېري وسایل نسته اوددې لپاره په عمل کي ګویا هیڅ ټولنه نسته . یوځومحمدودي ښځي چي له یوې میاشتي ترډېري پوري بې له خپلو مېړو څخه بل څوک نه ویني ، آیاپه خوښۍ سره ژوندکولای سي؟نتیجه داده ، چي ښځي یوازېتوب ته ورټېل وهل کېږي اوداکاري روغتیایي حالت ورخرابوي اوژرېي ناروغۍ ځي ښکاره کېږي . دماشومانولپاره آب وهوادېره ښه ده او هغوی ښه ووده پکښي کوي . افغانان له ماشومانوسره زیاته مینه لري . دوی په دې عقیده دي ، چي ماشومان له هرنژاده چي وي ، دبلوغ سن ته تررسېدلو وراندي ټول مسلمانان دي . اروپایي ماشومان چي هرځای ځي ، په ښه سترګه ورته کتل کېږي . کله چي په کوڅو او عمومي باغچو کي د خپل ورځني چکرلپاره وزي ، یوه لویه ډله يې تعقیبوي او

تحسينوي يې . ناوکياني ( نانځکي ) ورکول کېږي او هره غوښتنه يې دقانون په شان ترسره کېږي . ځکه نوکله چي يې له محافظينوڅخه بيرته خپلو کورونو او مور و پلارته بيايي ، دوی ډېر خواشيني او معمولاپه چيغو ژاړي . په زور وجبر سره يې له ساتيري څخه راوستل نه خوښېږي.

په کابل کي داروپايي ښځونوکړي ښه نه ده .ځکه يوخوډېرزيات مراقبت غواړي اوبل يې دمعشوقې په توګه له ملګرتوب پرته دکارکولو زمينه هم نسته . محلي خدمتګاراني او نوري ښځي چي له دوی سره په تماس کي وي ، داشنايي او ملګرتياچلندورسره کوي او مسوليتونه يې ورلېږوي ، چي داددوی په کريډيټ کي نه راځي. په کابل کي زماداستوګني په لومړي پړاوکي چي کومي انګرېزي مېرمني راوستل سوي وې، زياتره يې په لږوياډېرخپګان سره بيرته ولېږل سوې.جرمنی نرس چي د Mrs. Flaisher لخوا راغوښتل سوې وه ؤ ډېر ژر هغه وظيفه خوشي کړه ، چي داورته استخدام سوې وه او داوسني امير حرم ته ولاړه .خپل خان يې داميردګراني مانديني په واك کي ورکړ. ورته يې وويل ، غواړي مسلمانه سي.کله چي مسټرفليشرپه هغه ناوخته داميرماڼي ته ددې لپاره ورغی ، چي ښځه که ديوې ورځي لپاره لاهم وي ، دستونزي دليزي کېدو تروخته بيرته کورته بوزي . دامير لخواورته وويل سوه ، چي دی نوموړې ښځه دکور ستنېدلو ته مجبوروﻻی نسي . هروخت چي يې خپل زړه وغواړي ، ستنېدلای سي . خوښځي له بيرته ستنېدوڅخه انکارورکړ . په نتيجه کي مېرمن ډالي ته خان ډېر غټ ښکارېده ځکه مېرمن فليشر او ماشوم يې هماغه شپه اودابله ورځ بې له نرسي تېره کړه . دغي جرمنی نرسي په پای کي مېړه وکړ، چي ګويا دايې ددين اړولو اصلي علت و . که څه هم په لومړي سرکي داکاريوڅه مشکل ښکاره سو، ځکه کله چي اميرخپل نوکران راوغوښتل او پوښتنه يې ځني وکړه چي څوک غواړي له دې سره واده وکړي؟ له بده مرغه کله چي يې ددې مخ ته وکتل،هيڅ کوم داوطلب حاضرنسو. دافغانانودواده کولو درواج دغه يوه ګټه مرور وليده . اميرپه پای کي هغه يوه کافري افسر( ۱ ) ته ورو بخښل .دافسرتنخواه يې ورزياته کړه اويوکوريې داستوګني لپاره ورکړ.

په کابل کي کليساوي اوپادريان نسته.ځکه نـــومېرمن فليشرخپل ماشوم

دخپل مېره په لاس عيسايي کړ (٢) زه او مېرمن ډالي دسپانسرانوپه توگه ورته ولاړوو او اميرپخ يوه فرمان کي ماشوم ته نوم ورکړ. دپاچاهرليکل سوي امر ته فرمان Firman ويل کېږي .

کوموانگرېزانوچي پخوايې په کابل کي ژوندکاوه، پخپل هيوادکي دخپل ډولنيزموقف له بابته متاسف نه وو. يوې ښځي، چي ديوه انگرېزي مامور مانديته وه، په دې خبره چي پلارېې وزير و او سيمه ييميز ترجمان بياداخبره د «صدراعظم دلور»په توگه ژباړلې وه، سمدلاسه دربارته اجازه وموندله اونورو ښځو ددې لپاره چي دخپل شخصيت دټيټېدلومخه ونيسي ، خپل خانونه هماغه موقفو ته لوړول . په نتيجه کي دايوه منسجمه ډله سوه ، چي کله کله به يې دملکې سلطانې ددربارملاتړ هم گاټه .

دکابل نوکران دکورله عمومي کارونوپرته دبلي هيڅ ښې نه دي . په انگرېزي اشپزي او دميز اوډلو په چل خو کورټ نه پوهېږي . ماله خان سره يوهندوستاني اشپزاوخدمتگار بوت . داوبو راوړلو، جاروکښي ، دشيانودپاکولو او داسانودمراقبت له پاره مي يوهزاره استخدام کړ. دغه خلك له څومياشتونوکري ورروسته خپل کار زده کولای سي . خودوی بيا کله چي په کارپوه سي اوپرکار باندي دکومارلو ور وکرزي، هرومروبې دومره پيسې سپمولي وي ، چي خپل کوروکلي ته ددوی دستنېدلولپاره کافي وي . دی هورې ديوه ړوکي بزگرپه توگه کار پيل کړي . څينو هزاره گانو، چي کله کله به يې زماله اشپزسره همکاري کوله،ډېر ژرديوشمېرانگرېزي کتغونو پخول زده کړل او ښه به يې پخول که دوی زياته موده په کابل کي پاته کېدلای،بې له شکه به ښه ماهراشپزان خني جوړېدلای.هزاره گان کلك خلك هم دي اودگارډله سپايانوسره کله جگړې کوي . ددغوجگړوپه نتيجه کي دښمني اوبدنيتي ښه پوره ډېري سوې او زمايوزيات شمېر نوکران ورك سول . زه ورروسته پوه سوم ، چي ماته يې مخبري کولړاو اطلاعات يې راته راوړل . په بنديخانه کي بيا په يو شکل دشکلونو ترور سوي او له منخه وړل سوي وو . په جبل کي دا راز کارونه عام دي .

يوهندوستاني نوکر، چي زماسره دکابل ـ کندهارپه سفرکي ملگری و ، څومياشتي ورروسته په شرابو روږد او دايم الخمر سو. تل به يې هغه اومه الکول

چنبل ، چي دحکومت په شاپونو کي تصفیه کېدل اوورو ستــه بيا په بېلابېلو
لاسي صنایعو کي کارخني اخیستل کېدی . دغه الکول په بازار کي
پرهندوانوباندي خرڅېدل. ماده ته زياته موده وکتل . کله چي يوه سوم ، کار
ورخ په ورخ ورانېږي اونه يوازي دکورکارونه په سمه توگه سرته نه رسيږي ،
بلکي يوه زياته اندازه غلاوي هم کېږي، نومي په هندوستان کي خپل يو دوست
ته ليك وکښ . نوموړي بل سړي ته دغه پرخاى راولېږه . ما دده يوه اندازه پيسې
ددې لپاره ور ساتلي وې ، چي په شرابو او ښځو يې ضايع نه کړي . دی ددغو
کارونو دپرشوقي و . دغه رازمي دلويي دروازې سپايانو ته امرکړی و ، چي
دشپې لخوايې پرې نږدي دنوروهندوستانيانوکورونوته ولاړ سي، ځکه هوري
قطعه بازي او شرابخوري کېدلې اوبدي ښځي پکښې ساتل کېدلې . دې ټولو
اقداماتو چي دسړي دناوړوکارونوپه بندولوکي مرسته ونه کړه او بل نوکر هم
راورسېد ، نومي هندوستان ته دده دستنېدلولپاره دپاسپورت سربېته وکړه اوده
ته مي وويل، چي خان چمتوکړي او په کوم کاروان کي ، چي زړه يې غواړي
سفر وکړي . ده ته مي وويل ، چي ترڅنګ يوه ورځ وړاندي راسره وګوري،ځکه
غوښتل مي سپمول سوي پيسې يې بيرته ورکړم . په همدې وخت کي دی ولاړ
اوله خپلوملګرو سره يې استوګنه غوره کړه . دوې ورځي اووني تيري سوې
اويومابښام د خداى پاماني لپاره راغی ، راته ويې ويل ، چي سباسهرهندوستان ته
روانېږي . مخه ښه مي ورسره وکړه اودلاري اجازه اوپيسې مې ورکړې او دی
ولاړ . لنډه موده ورروسته خبرسوم، چي دی هندوستان ته نه دئ تللی ، پيسې
يې له يوې بداخلاقي کونډي سره په واده کولو لګولي دي او زماله پخواني
دښمن ، کوتوال سره هره ورځ ګوري .کوتوال هغه څوك و، چي غوښتل يې
ددغه هندوستاني په واسطه له ماسره دامير په مخ کي روغه جوړه وکړي. ده
کوتوال ته زمادغچ اخيستلو په خاطر زيات دروغ ويلي وو .خوځرنګه چي هيڅ
يوه يې ثبوت نه درلود ،ځکه نوامير غوږ نه پر ونيو . په پاى کي کوتوال نوموړی
شخص په جېل کي واچاوه اوزماپرخلاف قضيه کي دده دلاس لرلو په باب
دهندوستاني داقراردمخيوي لپاره يې همداجېل ډېره ښه وسيله ګڼله . څو
اووني وروسته يې دسړي سر وربيرې کړ او تن يې هيسته وغورځاوه . زه څــــو

ځو میاشتي په دې خبره هیڅ خبر نه وم خو وروسته یو چا د کوټوال الله سپاهي له خولې راته ټول جزییات ووېل. داچي څرنګه دغه سپاهي یوه شپه له نورو څو تنو سپاهیانو سره ګومارل سوی و، د نومړي هندوستاني سر وربرې کړي. داچي څرنګه یې له تنه کالي وکاږي او څرنګه یې وروسته په یوه کنده کي وغورځوي اوخاوري پر واړوي. ده ووېل هندوستاني چي کله پوه سو، مورډ یې وژلو ته بیایو، چیغي یې اسمان ته رسېدلې. ماته دده دارن حالت رامعلوم و، ځکه مي زړه ته داخبره ولوېده، چي ده به څومره چیغي وهلي وي.

کوم هندوستاني نوکران چي ما په کابل کي درلودل، ټولو یې لېرپاډېره غلا کوله اوعموما به یې هغه وخت کوله، چي نوکري به یې پای ته ورسېده یا به زه مجبور سوم له کاره یې وباسم اوپرځای یې بل یو ودروم. زه د کور چارو ته له شپې پرته بل وخت فارغه نه وم اوڅرګنده وه، چي ستومانه به هم وم. دغه راز کارونه دشپې څه، چي دورخي لاهم سخت وي. ماله مجبوریته د نوکرانو هر راز بیان مانه. داچي دخارویو او آس لپاره څومره خوراکي مواد پېرودل سوي او مصرف سوي دي، بې له دې چي پوه سم آیاداټول موادخارویو ته رسېدلي دي که نه؟ خو په زړه کي مې پوره باور و، چي وررسېدلي نه دي. نوکرانوزماله دغه وضعیته ترنورو ښه ګټه اخیستله. دنوکرانو وهلو ټکولو ښه نتیجه نه ورکوله اوپرځنګ یې په هغوی کي دغچ اخیستني یوراز روحیه رازېږوله، چي اغېزه یې په ځینو کوچنیو شیانو کي څرګندېدله. داچي دکور وظایف به یې هېرولهء خوداسي به یې ښوولهء، چي دصاحب دخوشالولو لپاره هرڅه کوي. دغه رازجزاګاني که څه هم ورې به وې خودوی به پرځان ډېرولې. په دغه شان غچ اخیستنو کي محلي نوکران اول لمبردي ( ۲ ). کله چي په وظیفه کي وړوکي غفلت وربه ګوته سي، خوراډېري توبې باسي. خو نوکر و بادار دواړه دواړه پوهېږي، چي داخوشي ټکي دي او مخکي سنجول سوي کیني ترې ثابتېږي. نوکرپه خواشیني سره شاته کېږي او کله چي کافي اندازه لیري سو، په ډاډه زړه ومسي. په داسي حال کي، چي بادار یې ولاړ وي او له دې بابته ځان ته په قار وي، چي ولې یې دخپل وقار له بایللو پرته نوکرته دسرزنش اراده ونه درلوده. هغوی، چي محلي خلك نه پېژني او داسي ښکاري، چي په ټولـــو

ختيځو هيوادو کي به همداسي وي ، ښايي د دوباره انتقام اخيستلو په لټه کي سي .
خو ښه داده مخکي له دې ، چي موضوعات دغي اندازې ته ورسيږي ، نوکر بايد بدل
سي او نوی سړی ومونډل سي . د نوکر بدلول به بيا يوبل تاوان لري او هرچا چي زيات
نوکران بدلول ، ډېر ژر پوه سوي دي ، چي دښه سړي پيداکول ورته سخته ده اوپه سيمه-
ييزونوکرانو کي هر راز خلك سته . په ختيځ کي دانګرېزانوعمومي تجربه داسي ښکاري
، له خينو کسانوپرته چي له خپلو نوکرانوسره نورو بده ګوزاره کوي، زياتره يې د ښه
چلند خلك دي. عمومي نظرغالبادهغو کسانوپه باب چي سيمه ييز خلك ښه ورته معلوم
نه وي ، داسي دئ، چي بادار يې له بې وزلو نوکرانو سره ډېر ناوړه او له انصافه ليري
چلند کوي .

که څوك غواړي له بازاره دې ارزانه شی رانيسي ، هندوستانی دې نه پسې ليږي .
دوکاندار په هندوستاني پوهيږي ، چي دا دکوم انګرېز نوکر دئ، څکه نوهرشی تر نورو
دوه چنده زيات ور بيه کوي . هندوستانی او محلي سړی دواړه چي سودا وکړي يوځه
هرومرو پرزياتوي . خودمحلي سړي کمېشن ترهندوستاني لږ وي اودايې لابله ګټه ده ،
چي له دوکاندار څخه ترهندوستاني په لږ بيه سودا اخلي. مايووخت بازارته دسودا لپاره
زما يوغريب هزاره نوکر ولېږه . دغه بيچاره سړي زما څخه هومره پيسې واخيستلې،
څومره چي دوکاندار ترې اخيستي وې . دوکانداردافکرکاوه،چي يوغريب هزاره دخپل
خان لپاره سودا څني اخلي . ددغي بيې له مخي ما دنور نوکرانو سوداګنجولای شول
اود کمېشن د ډېربدلو مخه مي په نيوله .دغه «دستوري»يا دسوداکمېشن په ټولو
هغونوکرانوکې، چي دبهرنيانولپاره سوداااخلي،ديو راز حق په توګه پېژندل سوی دئ .
کله چي نور نوکران دهزاره غريب په دې کارخبرسول ، چي له ماڅخه يې عين هماغه د
دوکانداربيه اخيستې ده اوخان ته يې هيڅ نه دي اخيستي، نويې له ده سره ډېرناوړه
چلند کاوه . خودځوميباشتونوکرۍ او نصيحت له لاري نورو نوکرانو تل ددغه شان
حماقت مخه نيوله . په هرصورت ماته هزاره ګان تل تر نورو هندوستاني نوکرانو په «
دستوري » اخيستلوکي باانصافه او دبازارپه سوداکي ارزان پېرودونکي ښکاره سول .
هندوستاني نوکـــــران تل تر وروستی اندازې پوري هڅه کوي او عموماًدخپلوسرانو
طبيعتونوپهخاطر، دچاخبره له ډېري څخه غوري باسي . دې کار ددوی جيبونو
ته سخته صدمه ورسوله . خوله شرمه يې څه نه ويل ، څکه مادبازار سودا
ددوی له لاسه وايستله اوپرځای مي نورداسي غريب نوکران وټاکل ، چي تردوی
يې ښه کار کاوه اوغلايې هم لږ وه .

# دولسم څپرکی

## په کابل کي داروپایانو ژوند

### (ادامه)

بې قانونیت ـ خواړه ، خاروي، چرګان اونورروزل ـ دشهزاده ګانو او نورو کسانو لخوا سوغاتونه ـ په کابل کي وچکالي (famines ) ـ کولرا ـ دملاحج اوزیارت ـ دکورله بام څخه کاراخیستل ـ کاراودکار ساعتونه ـ ساتېری ـ هندومعامله ګران اوزاړه قیمتي شیان ـ له امیراوشهزاده ګانو سره دجشن لیدني کتني ـ دجوړي هیات په واسطه داروپایانو ازمویل ـ لیکونه ـ دپوستې بیه ـ ترجماني ـ

---

دامیرعبدالرحمن ترمړیني وروسته په بازارکي ښه پوره بې قانوني څپره سوه ،چي هغه هم زیاتره دخلکو په کاروکي دعسکرو دمداخلې له امله وه ـ عسکري خلکوالبته ټولوېې نه، دامیرترمړیني وروسته ددېوال دچرګانو په شان اسمان ته کتل اوهریوه کوښښ کاوه ، څان داسي ونښيي چي ګویا دهیڅا پروانلري ـ له دې امله زه مجبورسوم له هغه نوکرسره خپل ساتونکي ملګری کړم، چي بازارته به دوړځنی سوداله پاره تللی ـ داهم په دې مقصد چي څوک یې ونه خوروي اوټول پېرودلي شیان ترکوره پوره راورسوي ـ

دوکاندارانو هم لــــه دغي بې ثباتی څخه ګټه اخیستله په وزن کي

يې کمې راووست اوله نورو لارو چارو څخه يې پله ګټه زياتوله. دوی بې له شکه په دې فکررو، چې تراله ګولې ورانديې څومره يې وس وي خپل کاروکړي. داله ګولې انتظارېږولو لاره. يوه دوکاندار داورلګيت له درزن څخه چې دوولس قطی وي، نيمی ايستلي وي اوددې له پاره چې دوه چنده ګټه واخلي. دغه نيمی يې دپوره په بيه ورکاوه. دغه نيم درزن يې زما پريوه نوکر هم خرڅ کړی و. کله چې يې چلبازي کشف سوه، له نوکرسره ملګري عسکردوکاندارپه خوله کې وواهه اودوه غابنه يې ورواېستل. دوکاندارکوټوال ته عرض وکړ اوهغه موضوع دعسکرومشرافسرته ورانديې کړه اوکيسه زما دجيب په څورو پېيو پای ته ورسيده، چې عسکرمې په راخوشي کړ. البته داکاررشوت ورکول اوفساد و. خوماهغه څوك يوازي پرېښوولای نه سوای، چې په ډېره مېړانه يې زما دمنفعت له پاره ځان ته جنجال پېښ کړی و. دی يو ساده افغان عسکرو. اودغه شان خلك معمولا ډېرمخلص وي. صرف هغواوامرو ته ګوري، چې ورکول سوي وي. يووخت ماخپل دغه شان عسکردورکشاپ په مشرپسې واستاوه، چې ورته ووايي، زمادفترته راسي. دورکشاپ مشرپه سپين سترګی سره حال راولېږه، چې ګويا مصروف و اوورروسته به راسي. ما عسکر ته وويل چې که بيانه راتلی اوهمداسي يې درته وويل، تړويره يې ونيسه اورايې وله. عسکر ولاړی اوسمدستي يې سړی تړويره نيولی راووست. ددوی دووغالمغال دنوروکارګرانو پاملرنه هم ځانو ته اړولې وه اويوه لويه ډله ددې له پاره وريسې راروانه وه، چې وګوري ماجراڅه رازپای ته رسيږي. البته مانه غوښتل، چې زما امردې ټکي په ټکي عملي سي خواغېزه يې پرنوروکارګرانو داوه، چې بيامې نوبل چاته دوهم وارسړی ونه لېږه.

په بازارکې کې ښې غوښې نه پيدا کيدلې. معمولا يې غټ ترکستاني پسونه حلالول. ددغوپسونو غوښه سخته وي اوپه خوړلو کې يې چنداني مزه هم نه وي. له دې امله ماخــــان ته کوچنی هزاره

کې پسونه چې welsh sheep ته ورته دي ، رانیول . دپنځوسو شپېتو مېږیوه رمه ترې جوړه سوه اوهزاره جات ته مي ولېږل. هوري وابښه هم ارزانه وو، هم پرېمانه. نور وري يې هم راوزېږول . وخت په وخت يې ماته اته ، لس تنکي وري، چې ماد حلالېدو تروخته مرولای سول، رالېږل. اوپه دې ډول مي ډېره ښه غوښه ترلاسه کوله. هرپسه ماته په متوسط ډول په دوه شلینګه تمامېدی. نه مي پروښو پیسې ورکولې نه پرروزنه .هغه چاچې مارمه ورسپارلې وه ، دمېږو شیدې اخیستې ، کوچې بې خنې جوړول اوخپل مزدیې په جوړاوه. مادغه رازچرګې، هېلۍ، بتې ، پیل مرغان او چرګان کښېښول . څرنګه چې خواړه يې ارزانه دي، ماته ګران نه تمامېدل. چرګو ماته هرڅومره چې مي غوښتل ، هومره هګۍ تهیه کولې . دوې غواوې مي ساتلي وې ، چې شیدې او دګیلګیانو (خوسیو ) دغتېدلو پروخت يې غوښه راکوله. ددې خای غواوي د زیاتي مودې له پاره ښه اندازه شیدې نه ورکوي خکه مي لازمه وګڼله، چې دوې غواوې وساتم، چې په دې ډول زما دورخنۍ اړتیااوکوچوله پاره پوره اندازه شیدې راکړي. اوره معمولا ارزانه وي خودتېروڅوکلونو په بهیر کې يې بیه ورو ورو څکه سوې ده . او اوس يې بیه تر پنځو کالو وړاندي درې چنده سوې وه . کله چې زه له کابله راوتلم په روپۍ شپېږپونډه پلورل کېدل (پونډ تردرې نیم پنسو په لږبیه )

چای ،قهوه ، دقطیو (دبلیو )مواد ، تنباکو،شراب اونورله هندوستانه باید ترلاسه سي . معمولا يې پراغوښتلو او رسېدلو درې میاشتې وخت تېرېږي . داچې ولې دومره اوږده زمانه پر تېرېږي ،علت يې په کرایه کښنانوکي دئ. لومړۍ ستونزه يې داده، چې یوڅوک به له پېښورڅخه کابل ته دمالونو راچلولوله پاره هڅوي اودوهمه ستونزه يې پرلاربانديدمالونو دخنډخبره ده، چې څواوونی نیسي،زیاتره داسې پېښه سي، چې یوڅوک خپل ټول اوښان ،اسونه اونورڅاروي له پېښوره رابارکړي ،خوددې بارنیمه برخه که دجلال آباد

ابتلا له پاره وي اوکه دوراندي وړولوله پاره ، ټول تسليم کړي. دی بيرته دنوربارله پاره پېښورته ستون سي. داتګ وراتګ څرواره ددې له پاره تکرارسي، چې کابل ته دخپلو ټولو څارويو په اندازه پوره بارزپرمه کړي . کله چې داکاربشپړسو، بيانومخ پرکابل حرکت کوي .
له پېښوره ترجلال اباده سفرپنځه شپږورځي اوکابل ته دتياری له پاره نورسفرونه هم زيات وخت نيسي . اوس نوکه ديوچاتنباکو يانورڅه مخ پرتمامېدو وي ، دتازه مال تررارسېدلو پوري انتظارکول دپرستومانوونکی وي . په تېره بياکله چې له پېښوره چاته ليك راسي، چې مالونو څراوونی مخکي حرکت درکړی دئ . خوکله چې مالونه راورسيږي ، سړی يې په رسېدلو ډېرخوشاله سي اوټولي ستوماني ترې هيري سي . زياتره پېښيږي چې مالونه پرلاري، هغه وخت چې بکسونه دهواد خرابی له امله دبېلابېلو سيمو په سرايونو (کاروانسرايونو ) کي پراته وي، وراسته اوخوساسي، خوچاره نسته . سړی بايد داچانس قبول کړي.
کله چې دخيبرکوتل شاوخواقبايل وپاڅېدل اودتيراه دکمپاين اړتيا منځ ته راغله، دکابل اوهندوستان ترمنځ تګ راتګ يومخ بندسو اوموږ په کابل کي له هغوشيانو څخه بې برخي سولو، چې ژوند په هوساکيږي . دخښلو له پاره هيڅ نه وو ، ان چاى اوقهوه هم نه وه . دڅکولوله پاره څه نه وو .دې حالت څومياشتي دوام ومونډ .زه داړتيا په وخت کي په نه څه ګوزاره کولای سم اوډېرنه خواشيني کېږم . که څه هم په دغسي حالاتوکي ډېره تقاضانه کوم خوکه تنباکو اوسګريټ نه وي، نو داسي ښکاري چې بايدژړيږم دچارې کولوپه فکرکي سم .زه بايد تل هغه وخت په يادولرم چې دخيبرکوتل بندو ، اميراوشهزاده ګانو تل دموادو دکمښت په وخت کي زما سره ډېره ښه مرسته کوله خوپه دغه راز حالاتوکي دوی پخپله هم له کمښت سره مخامخ وو.
دغه رازاميراوزامنو يې ماته هروخت مېوې اونورسوغاتونه رالېږل، هغه مېوه چې په کابل کي به لارسېدلې نه وه، خو دوی تـــــه به له

نوروځایوځخه استول کېدله. په تېره بیاکله چې به یې په پسرلي کې ماته مځکني توت راولېږل، ډېربه ممنون سوم،ځکه دامېوه به په کابل کې لاپخه سوې نه وه . په پسرلي کې تل ترکاري لږوي ځکه دتېرکال حاصل مخ پرخلاصېدووي اودنوی کال دالارسېدلی نه وي . مابه زیاتره وخت څواوونی بې له پتاټو ژوندکاوه اودا داسي کتغ دئ، چې زما په فکرزیاتره خلك یې که دمانسام په ډوډۍ کې ونلري ،چندانې پروانه په کوي . خو په هرصورت ، کله چې زه ددغه ځای له شرایطو سره بلدسوم ، نومې ددغه شان کمښت دمخنیوی له پاره بندوبست وکړ .

د۱۳۵۳ کال په وچکالۍ کې چې په زرگونو تنه له لوږي مړه سوں، دبازارزیاتره موادپه ټپه ورك سول . ځینې شیان خوپه هیڅ بیه نه موندل کېدل. اوړه په گنج(منډيي ) کې نه پیداکېدل اوزه مجبورسوم له حکومت څخه دخان اوخپلونوکرانو له پاره یوه اندازه غنم رانیسم اواوړه یې کړم . حکومت یوډېرپوړرانیسست، چې هره ورځ پکې یوه ټاکلې اندازه اوړه پرخلکو پلورل کېدل ځکه بل ځای هیڅ شی نه پیداکېدی . دادحکومت یودوددئ، چې دتنگسې له پاره گودامونه ډك وساتي . ډیپوته درسېدلو په وړاندي تگ کې دخلکو بیروباراوټېل ماټېل دومره زیات وو ، چې هره ورځ دغنمو دونډې ترلاسه کولوپروخت دډیپو ترېرانیستلو دمخه ډېرکسان په تېره بیاښځې، مړې یاترپښولاندې مرگي حاله کېدلې . پربې وزلو باندي فشارخورازیات و. میندي اوپلرونه چې دکورهرڅه یې دخوړو رانیولو له پاره پلورلي وو، مجبوروو، له لوږي څخه دخپلو ماشومانو دچیغو ، دهغوی دورځ په ورځ کمزوري کېدلو اوتښتېدلو اوپه پای کې دوروستۍ ورځې دمړکېدلوننداره وکړي او دوی ښځېلمه به په دې خاطر ژوندي نه پاته کېدل، چې څه به یې خوړل اوماشومانو ته به یې نه ورکول ، بلکې له دې امله به ژوندي پاته وو، چې مقاومت یې درلود اویوڅه پیاوړي وو.

زماترلاس لاندي زياتره کارگران ورڅي وو. يووخت خولايوتن دکارپه وخت کي بېښوښنه سواوکله چي مي دبېښوښی علت وپوښت ، راته څرګنده سوه، چي دخوروخو په اوږدوکي يې تقريبا دوه انسه ډوډی خوړلې وه . له ټولودغوکسانو سره مرسته ممکن نه وه خوهغوی ته مي چي زماکارګروو اوزه پوهېدم چي ډوډی ته اړتيالري ، دورځي يووار خواړه ورکول . يوه ورځ مي يوځوك وليد چي زما لخواورکړه سوي ډوډی ترکوټ لاندي پټوي .سړی له لوړي هڅوپوست و اوزه حيران وم، چي ولي دغه ډوډی خوري نه . خورروسته راته وويل سوه، چي دی په کورکي يووړی ماشوم لري اودخوړو رانيولوله پاره په کورکي څه ورپاته نه دي ، چي ويې پلوري . ده وويل، چي دماشوم موراويوه بله ښځه هم په کورکي شومه ناسته ده . خودي دهغوپروانلري . يوازي يې په ماشوم زړه کښانده دئ . په کابل کي ښځوته هيڅ ارزښت نه ورکول کيږي اودنارينه لپاره داښه خبره نه ده چي دښځي پرمرګ وژاړي . که څه هم موريا خوريې وي . خودهرنارينه خپلوانوپرمړينه باندي بيايه رينګټ ژاړي .

يوه بله ورځ دکارګرانو يومشرراته راغی، بې له دې چي دمعمول په شام سلام واچوي ، راته يې وويل، چي دی يومسلمان دئ اوهيڅکله يې له يوه غيرمذهب سړي يا پرنګي څخه دمرستي غوښتنه نه ده کړې . خودده په کورکي درې تنه کوچني ماشومان شامه پاته دي، چي ورو ورو مرګي حاله کيږي. دوستانويې هيڅ مرسته نه سوای کولای . له خانه سره يې وټيپل چي خپل ماشومان ووژني ، غم بې ورلنډکړي اووريسې خپل ځان هم ووژني . خودماپښين دلمانځه په وخت کي يې په زړه کي وروګرځېدل، چي يووارباېدپرنګي ته ولاړسي . په دې ډول دلمانځه تراداکېدوورروسته سملاسي راغی .دده ويناموديانه نه وه اودهغوکسانوزاريو ته ورته نه وه، چي ماته دمرستي له پاره راځي اومعمولا مي د «حضور» په نامه يادوي . خوماداسړی پېژاند ،چي له هغومتعصبومذهبي کسانو څخه و، چي په دې ملك کي

خوراړ بردي اوکافرورته ترحیوان لاهم سپك ښکاري . په هرصورت ماده ته دري روپۍ بې له کومي ملاحظې ورکړې .دی بې له دې چې مننه وکړي ، راځخه رهي سو اوروپیوته یې په بې خوندۍ سره کتل . په کابل کي درې روپۍ ډېرځه دي که څه هم ارزښت یې ترنیم کرون لږدئ . ماپه دي گیسه کي نور ری و نه واهه. دوې ورځي وروسته سړی بیرته راغی . له سره یې بگړۍ پورته کړه اوماته یې دوعاوکړه . داکاردیوه مسلمان له خوادېرزیات صمیمیت اوپېرزوېني ښکارندوی دئ ، چي د لامذهبه په وړاندي یې وکړي . ده وروسته راته وویل، چي تازما دماشومانو ژوندوژغوری اودده داهم . ځکه دی چي لومړی ځل ماته راتلئ ، له ډېره غمه چورلېدونی سوی و . ده زیاته کړه، چي ماته دپرنگیانو په باب ډېري خبري سوي دي. خودی به اوس تل دادوعا کوي، چي دوی مسلمانان سي اوترمړیني وروسته جنت ته داخل سي .

په دغه کال پروچکالی سربېره دکولرا (وبا ) ناروغي هم راغله . مرگ ومړینه بیخي زیاته وه، ځکه خلك کمزوري اوخوار وته اړوو. ددوی دخوراك سیستمونه ببخي بې نظمه دي هرناوړه اوچټل شی، چي په لاس ورسي ، خوري یې اودلوږي مخه په نیسي . هره ورځ دهدیرې پرسېرك جوپې جوپې انسانان روان وو اومړي یې پراوږو وړل اوزیاتره چي مي پیژندل ، راته راتلل اوویل یې چي نن موزموږدواړو یواشنابنځ کړ. خوسبایابله ورځ به یې دی پخپله هغه ځای ته یوړ. کولرا په ټولوطبقوکي خپره وه . ان دشهزاده گانو حرم لاهم په اخته سو. دسردارنصرالله خان گرانه ماندینه په همدې ناروغي مړه سوه . په نورکسانو کي دامیریوډېرگران غلام بچه هم وبا وواهه اومړسو. څوتنه لوړرتبه افسران ددې ناروغۍ له امله مړه سول .

دشاهي کورنۍ غړي له کولراځخه خاصه بېره لري اودغه شان له زلزلې څخه هم ډېره واهمه کوي . پخوادناروغۍ له شیوع سم به مرحوم امیراودده کورنۍ دټولو مامورینو اومتعلقینو په گډون له ښاره

دکابلی ښځي جامې

وتل اوپغمان ته به تلل . کله چي دري کاله دمخه په ۱۹۰۰ کال کي دکولرا ناروغي خپره سوه . مرحوم اميراوټول متعلقين يې سمدلاسه ووتل ، په ګاډيو کي بارونه ، خيمې اونورشيان چليدل ، خلك پراسونو باندي سپاره اومنډي يې وهلې ، بارچلوونكي په وارخطايي سره روان وو ، نوكران اوعسكرو په پښو وروسې ځغستل . دغي صحنې دالوتكي دبې نظمي الوتني (flight) بڼه اخيستې وه . انګريزان شاته پاته وو اوچي مرخومره يې وس و، نه يې سپماوه . (په دغه وخت کي Mr Daly اوزه يوازني اروپايان وو. ) مېرمن ډيلي خلورمياشتي دکولرادناروغانو په علاج کي تېري کړې . ډېروکسانو ژوندېې وژغوره . ماخپل خان دبې دوده بارونو دجوړېدوپه يولړتجربو مشغول کړی و، چي له نېکه مرغه ډېرپکښې بريالی وم اواساسي دليل يې داو چي په دغه وخت کي يوازي وم اومزاحم مي نه درلود .

کله چي د۱۹۰۳ کولرا راغله اوسني اميردخپل پلار په شان سمدلاسه فرنيچراوغالی اونورشيان پغمان ته ولېږل اوبه دابله ورځ يې خيال و، چي دی هم وروسې رهي سي خوپه دغه وخت کي چي والی دده په تصميم خبرسو، سملاسي ورغی اوورته يې وويل چي که دی له ښاره ووزي ، ښايي عسكراوخلك بغاوت وکړي ، خکه ناراضي خورازياته ده . اميردحالاتو په باب دوالي نظرومانه اومجبورسو دارګ په مانی کي پاته سي . هورې يې خان په دوو خونو کي محدود کړ اوصرف پنځو شپږوتنو ډېرو محرمو درباريانو اونوکرانو ته يې دکتلو اجازه ورکوله . چاچي به ورسره کتل ، له مانی خخه دبيرته وتلو اجازه ورته نه وه . خکه دميكروب راوړلو بېره ورسره وه . سردارنصرالله خان هم مجبوروو په مانی کي پاته سي ، خکه اميرله ښاره بهرنه ووت، زياتره وخت يې پرخپل جای نماز (مصلې) تېروواه . ماته هغووکسانو چي له ده سره پاته وه ، وويل کله چي دده ګرانه ماندينه په کولراباندي مړه سوه، دی ددغي ضايعې له امله اوله دې امله ، چي ښايي بل واربـــــه پرده هم ناروغي حمله وکړي ، له ډېره

غمه بالکل لېونی شانته و.

دشهزاده اودغه رازدامیرېبره پرخای وه اودناروغی واهمي ددوی بېره لاورزیاته کړې وه . په دغه کال یوډېرستراومنلی ملاحج ته، دمکې د زیارت لره روان و. کله چي هندوستان ته ورسېداومدینې ته دتګ په نیامت بندرته ولاړ، هورې یې واوریدل چي یورروحاني سړي دعیسی(ع) ددوهم واررااتګ تبلیغ کوي اوویل یې چي یوبل - St John رالیږل سوی دئ ( له سینت جانه یې مراد بنایي مهدي «ع» وي . ژباړونکی ) چي دعیسی(ع) دراتګ خبرورکړي اوتیاري ورته ونیسي . ملادغه روحاني ته،لا چي خلکو یې په باب عجایب بیانونه کول ، دلیدلو له پاره ورغی . دده دپیغمبری خبري دومره ډاډه وي، چي ملایې هم اړولی اودې ته نزدې کړی و، چي دروحاني خبري ومني . یوه ورځ چي«پیغمبر» دملادحج دتګ په اراده خبرسو، دی یې دننه کوټې ته بوت اوملابیا وروسته بیان کاوه، چي دوی دواړو هورې مکه ولیده اوملاځپل خان دکعبې پرشاوخوا دګڼوحاجیانو په ډله کي ولید، دننه حرم یې وکوت اوهورې یې دکتلو هرڅه ولیدل .ده وویل چي دننه حرم ته له رسېدو وړاندي یې په بېلابېلوخایو کي ټول ضروري عبادتونه پرخای کړل. داچي دملاددغه تصورله پاره څه رازدم وجادو یا کوم تاثیراغېږ:من واقع سوی و، بېله خبره ده اوبېل اټکل غواړي.خوملاپه مرګ لاهم له خپلي دغي عقیدې نه اوونښت، چي دی مکې ته تللی و اودده لارښود واقعي پیغمبر و. مسلمانان په دې عقیده دي، چي دبېلابېلو نبیانو (موسی «ع» عیسی«ع» محمد «ص» ) دینونه دخپل وخت وزمان رښتني ادیان وو اوخدای«ج»نوی دین دبشریت له نویوغوښتنو سره سم نازل کړ. په دې ډول دیهودیانو دین دعیسی«ع» تر راتګ پوري حق دین و اودعیسی«ع» دین د محمد «ص» تربعثت پوري رښتیني دین و. دغه نوی شخص به،که یې څوک پرخبروغوررونیسي ، دمحمدي دین لارویان خواشیني کړي. څکه دی وایي، چي مسلمانان باید عیسیانو ته د وروـــــــــــــــو په شان

درناوی وکړي او دکافرانو په سترګه باید ورته ونه ګوري. داکاربه دانګرېزانواوروسانو دتېري پرضددامیراساسي وسله ،جهاد (مذهبي جګړې ) ته زیان ورسوي . له همدې امله کله چې امیرپه دغوټولو کیسو خبرسو ، ملایې بیرته راوغوښت . ملاهیواد ته راروان سو اوله راستنېدو سره سم یې دنوي دین تبلیغ پیل کړ .خوکله چې دهیواد سرحدته راورسېد ، ونیول سو اوبندي یې کابل ته راووست . امیرهغه وازمویه . خودملاپه معقولو جوابونو کي امیرداسي څه ونه موندل چې دواقعي دین پرخلاف دي وي اودهغه له مخي دي یې کافروبولي اودمرګ مستحق یې وګڼي . دقران له مخې کله چې یومسلمان مرتد سي ، باید په ډېرو ووژل سي. ملا یې دازمویښت له پاره سردارنصرالله خان ته، چې په دیني چاروکي ترملازیات عالم دئ ، ولېږه . خوشهزاده هم دملاله خولې داسي ونه ایستل، چې په محکوم دې کړي . نو یې دډېرو سترو ملایانو دوولس کسیزه وفدورته وټاکه اودهغوی ازمویښت هم داسي اتهام په لاس ورنه کړ، چې دهغه له مخي دي سړی ووژل سي . هغوی خپل رپوټ امیرته ورکړخوامیروویل چې سړی باید محکوم سي . هغه بیا ملایانوته ولېږه اوورته یې وویل، چې هغوی باید داسي کاغذلاسلیک کړي ، چې په هغه کي دغه شخص کافراودمرګ مستحق بلل سوی وي . داخل دملایانو اکثریت تاییدکړه، چې سړی بېګناه اوددین پرخلاف نه دئ. دووتنوچې دنصرالله خان رفیقان وو اودهغه لخواورسره خبري سوي وې ، دمرګ فتوا ورکړه . ددغودوو ملایانو په پیداکولوسره امیرهغه محکوم کړاوورپسې یې سنګسارکړ. دمخه تردې چې ملا دامیرله حضورڅخه وژنځای ته بوزي ، ملاپېشګویي وکړه چې هیوادته به یوسترمصیبت راسي اوامیروسردارددواړه به په مبتلا سي . دملادوژني دورځي په ماښام دنهوبجو په شاوخواکي دباد اودوړو یوسترتوپان راغی اودنیم ساعت له پاره وچلېد. وروسته لکه ناڅاپه چې پیل سوی و ، همداسي ناڅاپه ودرېد. د شپې له خوا دغه رازتوپان یوه غیرمعمولي پېښه وه

اوخلکو ویل چي داملا روح و چي تېر سو . ورروسته کولراراغله اودا ناورغي ورستيو څلوروکلونو کې پېښېږه نه وه اودا هم دملا له پېشګويي سره وتړله سوه اوامیروشهزاده زیات وبېرېدل . دوی دواړو خپل مرګ پکښې ولید . دغه رازدشهزاده لیونتوب، چي دهغه دګراني ماندیني دمړيني پروخت ورته پېښ سوی و ، هم له همدي پېښي سره وتړل سو . وژل سوي ملازیات شمېرپیاوړي پیروان درلودل اوهغه دوه تنه ملایان چي دده دوژلو فتوایې ورکړې وه ، دده دپیروانو له غچ اخیستني څخه دېرسخت وېرېدل. هغوی لوړلي وه، چي غچ به یې اخلي .

په دوبي کي مادخان له پاره پربام خېمه درولې اوپکښې بیدېدلم . خېمه ترکورهم دېره تازه وه هم سړه . ددوبي شپې دېري تودې اوشمال (باد ) دېرکم یاهیڅ نه وي . څرنګه چي دکورو بامونه هموار اوپه دېوالونو محاط دي، څکه نوخلك معمولا ددغه شان مقاصدو اودشپې لخوادناستي له پاره کارځني اخلي . دغه راز ښځي هم دتازه هوا داخیستلو په مقصد استفاده ځني کوي. دوی ته دباندي وتلو اجازه نسته اودېرمحدود کوروته، هغه هم یوازي دېرلبانو کورونه په څنګ کي باغچې لري . په هغوکي ښځي په تنهایي سره ګرزېدلای سي . پردغسي باغچوباندي چي ښځي استفاده ځني کوي، باید دومره چګ دېوالونه راتاوسوي وي ، چي دوی دګاونډیانو له لیدو پرته په خلاصه ښه وګرزیدلای سي. دکورغولي (انګړونه ) معمولاکوچني اوچټل وي او دفضله موادو دبوی له امله دساتیري وړنه وي . زه چي مازیګرله کاره یاکوم بل ځایه راستون سم (دکاروخت له وختي سهاره ترمازیګره وي )، ښه زیات وخت پربام باندي تېروم اوځان دهغو نیالګیو په کتنه و روزنه مشغولوم ، چي پربام باندي په ګلدانیو کي ساتل سوي وي . دګلدانیو نیالګي ترهغه وخته، چي مخکي ته انتقالیږي ، دوچېدلوبرچانس لري. ما په هغوکي ښه وختي لاتخمونه پاشلي دي څکه زه بایددسلات موادتیار

ولرم بې له دې چي مارکېټ ته دهغو درارسېدلو تروختنه دي منتظرپاته سم. پربام باندي کله کله خپل سات هم تېروم .. ډول ډول کاغذبادونه(ګوډي ) په هواکوم ، چي نزدې اوسېدونکي سمدلاسه زماتقليدپيل کړي . خوزما کوردښېردروازې اواسمايي غروترمنځ پروت دئ اودناڅاپي دوړواوبادو له امله، چي په دغه تنګي کي زياتره چليږي، زيات شمېرکاغذبادونه له لاسه ورکوم.

کابل دلرغونو نادروتورو، سپرونو، پلته يي توپکونو، زغرو اونورشيانو دکلکسيون دشوقيانو له پاره ښه مناسب ځاى دئ . ځيني دغه رازشيان ښېخي زيات لرغوني وي . له هغوعربي ليکونو څخه، چي پرزياتروتوروباندي ليدل کيږي، چاته داسي چورت ورلوېږي، چي ښايي دغه توري به په پخوانيو صليبي جګړوکي کارسوي وي. داسي سکې هم موندل کيږي، چي نېټه يې دسترسکندرهغه زمانې ته رسيږي، چي نومړي به دهندوستان دفتح کولوپروخت دلاري داوږدو په ښېلاښېلو سيموکي خپل واليان مقررول . داکارښه پوره پوهه اومعلومات غواړي، ځکه جعلي شيان هم په دغه ځاى کي پلورل کيږي .هندواڼ چي څوسوه تنه يې په کابل کي اوسي ،ددغونادروشيانو زېرمي لري. خواروپايانوته يې دسپايانو له ښېري نه راوړي ځکه څه چي يې کټلي وي، له کورڅخه له وتلو سره سم بې بيرته په ټى کوي . کله يې سپايان په دې خبره ګوابنوي ، چي دعوه ورته جوړوي ، يايې پرنګيانوته دا ا طلاعاتو رسولو ريوټ کوي. په داسي حالاتوکي نوبياله دوى څخه چي، سپايان هرڅه غواړي، د «نه» جواب نسي ورکولاى . ماددوى له خولې دغه خبراوربدلي دي.

په لویو جشنونوکي به اروپایان عموما دامیر اوترهغه وروسته دشاهزاده گانو دربارته دسلام له پاره ورتلل . په دغسي مواقعوکي دربار‌دنورو وختوپه شان نه وي . په دغودرباروکي دامیرپه گډون ټول حاضرین ټوکي ټکالي کوي اوخوشالي ددغي ورځي دود وي. ځني مامورین به پرمخکه ناست وو اوشطرنج به یې کاوه اوامیر به کله له یوه اوکله له بل سره شرط تاړه اوکله کله به یې دچال په کولوکي مشوره هم ورکوله . امیرښه شطرنج بازو. دده په دربارکي ډیرولږوکسانو له ده سره سیالي کولای سوای . ددربارټوکي به هم په لوړه سویه وي . زیاترو به په کیسواوټوکو باندي خنداوي کولې . مرحوم امیربه په دغسي محافلو کي زیاتره خپل خاطرې بیانولې اودهغوخایو اوسړیو په باب به یې خبري کولې ، چي ده په روسیه کي لیدلي وو. یوله دغوکسانو څخه یوروسی سوداگرو، چي امیربه تل ددغه سوداگردښه سلوك اواړیکو په باب ږغېدی. دغه سوداگریووخت امیرته په پور ورکولو سره نومړی له ستري شرمندگی څخه ژغورلی و. امیریووخت ماته وویل، چي ده له یوساعت ساز سره څه موده په دې نیامت کارکاوه، چي داکسب ځني زده کړي . ځکه دمشغولاله پاره یې نورڅه نه درلودل . ده به دساعت سازدماندینې په باب ډیري جالبي کیسې کولې . داچي هغې څه رازپرخپل مېړه باندي په ډیرسخت ډول حکمراني کوله. خودامیردظرافت قوت ډیرپراخ و اومکرري کیسې نه ځني بېخونده کېدلې .

داوسني امیردجشن دورځو درباردده دپلاردوختو خوند اوشخول نلري ځکه دی ټول وخت دخپل درباریه زموخت نظم اونسق باندي لگوي اوله خپلو متعلقینو پرته له بل چاسره کارنلري . اصلا خوحاضرین ببخي محدود کسان وي. دی ترامیرکېدو دمخه ښه مجلسي سړی و خوله غالمغالي ټوکو څخه یې ښه نه راتله اوددرباریه خوښیو کي به یې له ستوځوټوکو سره مینه نه درلوده . دده ارام ساتېری خوښ دئ ، چي وخت په تېرکړي . له خپل (Magic Lantern) ( * ) سره ډېره مینه لري اوکله چي یې په کارواچوي ، ساعتونه ساعتونه یې پرپرده باندي دبېلابېلو تصویرو په ننداره کولو تېروي.

اروپایانوته په کابل کي په دې سترگه نه کتل کیږي گڼې، چي دوی دغه ځای دقوانینو تابع دي. خوکه داسي کاروکړي چي ددغو قوانینو پرخلاف وي

نولکه په ټولو هیوادوکي چي رواج دئ ، بی له شکه به هندوستان ته بیرته لیږل کیږي . خوتراوسه پوري هیڅ اروپایي په دغه شان قانوني ضدعمل باندي محکوم سوی نه دئ . مرحوم امیرډېراحتیاط کاوه ، داسي کار ونکړي، چي نورهیوادونه گوته ورته ونیسي . کله چي یوافغان عرض ورته وکړ، چي له هندي حکومت څخه دده دهغه دپورپه ترلاسه کولوکي مرسته وکړي چي د۱۸۷۹-۸۱ کلونو دانگریزي اشغال په بهیرکي یې لښکروته دموادو برابرولو له بابته پرهغوی باند ي و ، امیرله دغه سړي سره دعدالت کولو ډېره ښه لاره غوره کړه اوبې له دې چي پخپل سرتصمیم ونیسي ، دکابل له غټو سوداگرو څخه یې شپږتنه وټاکل، چي زماپه گډون به پرموضوع باندي غورکوي . خودسړي اسناد ، چي په انگریزي ژبه وو ، ددې ښکارندوی وو، چي دغه ټول پورتصفیه سوی دئ. یوه بله دعوه چي زه پکښې دحکم(jury) په توگه ټاکل سوی وم ، داو، چي یوامریکایي سوداگرکابل ته دخپلو کارونو دتصفیه کولو له پاره راغلی و. ده پخپلو تړون کي دټاکل سوي معاش دبشپړي ادایني ادعادرلوده اوویل یې دبیزنس اندازه چي دهغه له مخي کلنی معاش ټاکل کیدی، ترهغه څه لږوه ، چي په تړون کيورباندي موافقه سوې وه.
کوم کارچي ده ته سپارل سوی و ، دتړون ترانداز ې لږوخوډی دهغه لږوالي مسول نه و . په دې خاطرباید ده ته هومره کلني معاش ورکول سوی وای ، څومره چي تړون پرسوی و.. ده خپله ټول کوښښ کړی و اوله حکومت سره خپل تړون ته تل وفادارپاته سوی و. له هغه لیکونه، چي ده ماموړینو ته کښلي اوپه پوسته خانه کي قیدو ، دامیر په حکم پرانستل سول اوله هغو څخه داسي څرگندېدل چي نوموړي دامیرپه ژمنوډېرلږپوه سوی و . دغو لیکونو امیرته دده نظریه هم په ډېره گونگه توگه رسولې وه . څکه نو امیرادعا کوله، چي ددغو لیکونو له مخي داسي چاته کارنسي سپارلای، چي پرخپلو ژمنو باندي شک ن ري اودخپلي نظریې درناوی نه کوي . په حکم هیئت کي زما اودمېرمن ډیلي حضورڅکه لازمي وگڼل سو، چي که نورڅه نه وي سوداگرخوبه د اروپایانو په وړاندي نورهم وشرمول سي. زه باید په هرصورت ووایم چي له لیکونو څخه څرگندېدله ، چي سوداگردامیردماموړینو کرکترپه بشپړه توگه درک کړی نه و.

دلیکونو په باب ، په کابل کي دایوعام کاردی، چي دانګرېزانو مکتوبونه باید قیداودحکومت له خوادګومارل سوو جاسوسانوله خواولوستل سي اومعمولا ترلوستلو وروسته بیرته نه وراستول کیږي . ګویا دمامورینو په نظردیوه انګرېزشخصي لیك یوبې ارزښته شی دئ . په کابل کي دانګرېزانو لیکونه اوهغوی ته لیږل سوي لیکونه څکه پرانستل کیږي، چي دهغواودهندوستان دحکومت ترمنځ کومه دجاسوسي خبره اورپوټ څانته معلوم کړي. خوداوسني امیرپه وخت کي داکار ترډېري اندازې بندسوی دئ . اوس له دواړوخواوو څخه لیکونه په محافظت سره څي وراځي . په هرصورت په افغانانو کي دپوستې لیکونو ته دیوه ډېرمحرم شي په سترګه نه کتل کېدل . ټول لیکونه به یې په یوه کڅوړه کي واچول ، لاك ومهربه یې کړل اودلیکونو لیست به یې ورسره مل کړ. دپوستې امرینوته امرونه صادرسوي وو، چي یوه پوسته بایدتریوې ټاکلي اندازې زیات وزن ونلري . دپوستو رسوونکو داعادت و ،چي دلیکونو پارسل به یې خلاص کړاوښه ډېرلیکونه به یې دغره په ډډه کي په دې خا ضرغورځول ، چي دپلنډي وزن یې سپك سي.

ماته یوچادیوه مهم لیك په باب بیان کاوه، چي دانګرېزي نماینده له خواخپل حکومت ته استول کېدی اوامیرغوښتل هغه ترلاسه کړي . امرونه صادرسوي وو ،پوسته رسوونکي دلاري په یوه ټاکلي ځای کي وژل سوی و اولیکونه بیرته کابل ته راوړل سوي وو. داوژنه اوغلا پرهغوقبایلو تاوان سوه ، چي دهجرم دپېښېدو په شاوخواکي اوسېدل . له دې څخه څرګندیږي، چي نه لیکونو اونه هم دسړي ژوند ته اهمیت ورکول کېدی . په هرصورت امیرلیك ترلاسه کړاوچادده دایمانداری خبره پرخوله هم رانه وړه.

دکابل اوپېښور ترمنځ لیکونه دسړیو په واسطه دپنځومیلو په مزله وړل کیږي. هرسړی (عادي تګ نه کوي ) پخپلو پنځومیلوکي مخ وشاته څغلي اوله یوې خوالیکونه وړي اوله هابلې خوایې راوړي . اوبه دې ډول ددغو دووخایو (کابل - پېښو - ژباړونکی ) ترمنځ واټن په دریو ورځوو هل کیږي. دپوستې بیه پریوه مثقال باندي چي دانس شپږمه برخه کیږي، څلورپنسه دد اوټکټونه ورباندي نښلول کیږي. خوله بهرنیولیکونـــــــــو څخه په پېښورکي

دامیردپوستي دمشرله خواښکتونه دمخه ترديږ چي هندوس ،ن ته دي ولیږل سي.
لیږي کیږي. افغانستان دپوستې په اتحادیه کي شامل ن دی. خکه نودک بل
پرلیکونو بایدپه پښنوریاکوم بل خای کي دمرسل الیه لخو وسته ووهل سي
اوپیسې یې تادیه سي.

کله چي مجلې یاورخني اخبارونه کابل ته رااستول کیږي ده ستې لګښت یې
یوغټ رقم وي . مایووخت دپښنور اوکابل ترمنځ، چي نږدې دوه سوه میله
کیږي پریوه کوچنی مجله باندي درې روپۍ دپوستې محصول ورکړ. په داسي
حال کي چي دهمدغي مجلې محصول له انګلستانه ترپښنوره یوپنس و. نه
کابله، چي هندوستان ته لیکونه لیږل کیږي، پته یې باید په پارسي ژبه ونیکل
سي اوپرپاکټ باندي باید دافغانستان دپستي محصول پرځنګ دهندوستان
ټکټ هم ونښلول سي.

له کوم شخص سره، چي په کابل کي انګریزان زیات اړیکي لري.هغه
ترجمان دئ . دلته څوکسه ترجمانان سته ، خوپوتن یې دبرمهم دی اوهغه دامیر
اوانګریزي اوسېدونکوترمنځ دترجمانی له پاره ټاکل سوی دئ . دغه دنده
دبرزیات کارغواړي . پرترجمانی سربېره دامیراودهغه دشهزاده ګانو خدمت هم
کوي اوټول هغه خطونه، چي دانګرېزانو لخواامیرته اوبرعکس لیږل کیږي . باید
وژباړي. له نوروهیوادوسره حکومتي مکاتبات دنوروکسانو لخواچي ددغي
دندي له پاره په خاصه توګه ټاکل سوي دي ، ژباړل کیږي. اوس دی په کابل کي
له اوسېدونکو انګرېزانو سره داړیکولرلو جرات نه کوي. دترجمانی له پاره په
کارده، چي یوشخص باید په چټکی سره په دواړو ژبو کي دمعناروټولي اوبنتني
درک کړای سي او دې ته تیاروي ، چي که کومه خبره سمه وانه وري . پخپلو
الفاظویې سره واوړي . خکه چي امیردخبرودتکرارحوصله نه لري دغه رازباید
دی تریوې اندازې دخبروپه موضوع کي وارد وي اوکه داسي نه وي ، نوبنایي
تخنیکي لغتونه په څینو خایو کي سکتګی راوړي.

دزیاتروانګرېزي لغتودتشریح له پاره دپارسي څوجملې په کاردي . خکه دوی
دهغو معادل لغت نه لري . په وروستیو کلونو کي څیني دغه شان معادل لغتونه
له نورو ژبوڅخه اخیستل سوي دي. دی باید ، مخصوصا ټولي ویل سوي خبري

په چتهکۍ سره بې له غلطی ترجمه کړي . که داسي نه وي نو له کاره به لیري اوپرخای به یې بل څوک ودرول سي، چي داکارده له پاره د همېشني خجالت په معنا دئ .

# دیارلسم څپرکی

# عسکراووسلې

جامې - تمرینونه - مشق - دامیردباډیګاړدانو یونیفورمونه - وسلې - معاشونه - مډالونه - دخدمت موده - عوضیان - بارکونه - دژوندلاري چاري - په عسکرو کي قماربازي - دبېلابېلو قبیلو قطعات - غله قبیله اوټولي - افسرانو او درتبولوړبدل - باجه خانې - د ۸۱ ، ۱۹۷۹ کلونو دجګړې په باب دافغانانو کیسي - افغاني لښکردیوه جنګي ماشین په توګه - دجګړې له پاره دهیوادحالت - دافغاني کرکټردیواړخ بیان .

---

دافغاني عسکرودیوې ټولې دلیدلو پروخت ، لومړی شی، چي دچاپاملرنه وراړوي ، هغه ددوی بې نظمي ، بې سلیقې بڼه اوخپرېدلی رفتاردئ. څرنګه چي هغوی منظم یونیفورم نلري ، نوجامې یې رازراز وي، چي ددوی په غوښتنه اودرانیولو په قدرت پوري اړه لري . ځیني دانګرېزي لښکرو یاداورګاډي دکارکوونکو زاړه کوټونه اوځیني له رنګارنګو ټوکرانو څخه په بازارکي جوړسوي کوټونه اغوندي. دبازاردګنډونکو کوټونو چي په لاس ورسي ، پرخان یې برابرګڼې. ځیني دټوکرانو پتلونونه اوځیني نخې پتلونونه اوځیني نوربیاافغاني پرتوګونه(تنبان ) اغوندي . زیاتره افغاني کمیس وپرتوګ اغوندي . دغه جامې په ختیځوسیموکي باب دي . له غرنیو اوسېدونکو څخه جوړې سوي ټولې بیاپوستینچې اغوندي . البته ټولودرمني کمربندتړلی وي چي پردواړو خواوو یې کڅوړي (بغل خولۍ ) ځړېږي. عسکراوملکي کسان که کمربندونلري لکه جامې چي یې نه وي اغوستي اوهرهغه چاته، چي په دغه هیوادکي یې څه موده تېره کړې وي ، بې کمربنده افغان عسکریا ملکي تن ورته بې جاموښکاري . دسرله پاره بګړۍ عامه ده . خوډول ډول خولۍ هم رواج لري، چي زیاتره یې دروسانو عسکري خولیوته ورته دي . توپچي عسکر، چي دوی یې سوار (Sawars ) بولي، روسي ډوله جګ بوټونه ، چي ډېري چګې پوندي لري، په پښوکوي اواغوستونکي پکښې بې ډوله دنګ ښکاري . دابوټونه زیاتره پینه سوي اوله سره ترمیم سوي وي . دحیرانتیا ځای دادئ ، چي

دوی دغه بوټونه دوهم لاس رانیسي (پېرودي) ، په داسي حال کي چي ماهیځکله هم کوم سوارنه دئ لیدلی ، چي نوي بوټونه دي یې په پښو کړي وي . دعسکروجامې عموما زړې اوځیري ویري وي ، مایوحوالدارځوواره لیدلی دئ ، چي نوی کوټ یې اغوستی وي. اودغه باید خوراډېري ورخې سپماکړې وي، چي ددغه کوټ درانیولو وس یې موندلی وي . دی دکوټ په انتخاب کي ډېره پاملرنه کوي.اومعمولا تېزرنګونه (تېزژړاوشین) خوښوي، چي په اغوستلو کي ډېرژرخیرن سي اوسړی مجبوروي، چي په پاکولویې نیم ساعت ولګوي . دی خپل زاړه کوټونه دخپلي ټولی پرافرادو خرڅوي.

کنډکونه، چي پریوه کرښه ودرېږي، توپک یې ټول کاره نیولي وي . دوی هغه رازتمرین نه لري، لکه په نوروهیوادوکي چي کیږي. ټولی دمارش په وخت کي داسي ښکاري لکه دوسله والو داړه ماروډلو ، نه لکه دعسکروټولی .ددې له پاره چي په کلنیو دوومارشونو کي عسکري ټولی ښه وایسي ، دتمرین په میدان کي مارشونه په کوي اوافسران دعسکروفرد فردپرخپلو ځایونو ودروي - یودلته وراندي کشوي ، بل هلته شاته پوري وهي. ځوړه پای کي یوکوډ ووډ غبرګ کتار ځني جوړکړي. کله چي تمرین پای ته ورسیږي ، خلك بیامخ وشاته پوري وهل کیږي چي داخل یې ځلوریوره کتاره کړي. وروسته نوبیا مارش پای ته ورسیږي اوټول بیرته دخپلوبارکونو پرلورخوځیږي. پرلاري دمخ یادشاځلورکسیزي کرښې افراد یوبل ته دخبروله پاره سره نزدې سي اوپه دې وخت کي نو هغه لږشانته نظم چي یې موندلی وي ، هم وران سي اوټولی، چي څه راز یې زړه غواړي ، روانه وي واداحالت نو هروخت پېښیږي . (دتمرین پروخت امیراوشهزاده یې دمرستیال په توګه دبېلابېلو ټولیو مخ ته په چټکی سره پرآس سپورتېرېږي. ) دکنډکونو هغه افراد ، چي په تمرین یارسم ګذشت کي (رسم ګذشت یې هم دتمرین په شان وي ) په استثنایي توګه پرخط برابرتېرسي اوافسران یې وګوري ، ځانونه دومره ډېرسرلوړي ګڼي لکه په کومه مغلقه مانوره کي چي یې برخه اخیستې وي. دامیرساتورنکی ګارډلږڅه روزل سوي کسان دي. دوی ته په تمرین کي داخبره ورښوول کیږي.چي څه رازځانونه پرځلورکسیزه کرښه باندي برابرکړي، دډول له ږغ سره سم ورو ورو مارش وکړي

اودامیرپه ورانديښې اوچتې پورته کړي . ددغه تمرین تماشا ته، چي دارګ د ماڼۍ په بهرنۍ سړك کي سرته رسیږي، دښاریوزیات شمېرمینه وال لاوسېدونکي راوزي . خودمارش په وخت کي دعسکرو دپښواوچتولونندارهٔ ، چي هرګام یې څلور پنځه ثانیې وخت نیسي ، نندارچي ته هغه نوي جلبیان وريه یادوي، چي داوزګړو په شان ګامونه اخلي (۱) کنډکونه کله کله په رسم ګذشت هم تېرېږي اودبې ګولیو کارتوسوډزي کوي خوهغه رازکتارونه نسته چي عسکرپکښې دنښان ويشتلو له پاره روزل کیږي . ځیني توپچي ټولی کله کله دنخښي ويشتلو تمرین کوي اوداکاردواقعي تمرین په نیت نه، بلکه د توپودازمويلو له امله سرته رسیږي . کوم توپچیان چي مایې تمرین لیدلی دئ، نخښي سمي نه ولي. ډېرلږېښېږي چي هدف ته دي دپنځوسو مترو په اندازه نزدې ځای وولي.یووخت چي یې جنرال توپ پخپله پرنښان برابرکړ اوپه دوه زره متره کي یې نخښه وویشتله ، دومره خوشاله و، چي ځودقیقې یې وراندي وروسته ګامونه اخیستل . زه فکرکوم چي دنخښي ويشتلوله پاره دعسکرو دنه روزلوسبب دادئ ، چي په افغانستان کي دهري طبقې سړي کارتوس ته دکارتوس په توګه ګوري نه دداسي شي په توګه، چي بې له ضرورته هم کارخني اخیستل کېدلای سي . ترټولولوبنه نخښه ويشتونکي ځي مالیدلي دي ،هغه کارګران دي، چي توپك اوتوپونه له دوکانو څخه دازمويلو په نیت راباسي . ماپخپله کله کله دتمرین په وخت کي خپل لنډتوپك هغوعسکرو ته دنخښي ويشتلو له پاره ورکړی دئ، چي زماسره به ملګری وو.خوهیڅ یوه یې هدف ته نزدې ځای نه دی ويشتلی. دغرونو خلك چي له توپکوسره زيات بلددي، ډېره ښه نخښه ولي . دنخښي ويشتلو په وخت کي توپك پرډبره تکیه کوي او ډز په کوي.

دامیرپلي سپاره بادیګاردان یوازني کنډکونه دي چي خاص ډول یونیفورم لري اوامیرپې تعقیبوي ، چي یونیفورمونه اووسلې یې پاکي وي. پلي ساتونکي په Lee Metford( ۲ ) توپکواوبرچوسمبال دي اوداَس سپاره په تومانچو، توروواوکارابینونو وسله وال دي . په نورلښکرکي یو ځوباوري کنډکونه په Martinis ( ۳ ) توپکووسله وال وي اونوريې Sniders لري(۴). توپچي ټـــولی

شپېږېن اونهه پن توپونه لري اویوخودکچروټولی ستنه چي شپږېن او دري پن توپونه ورسره وي . توپونه يې دلنډ واټن دي اوسمه نخښه نه سي ویشتلای .پلټې يې زیاتره نامنظمي وي اوگولی يې زیات اغېزمنتوب نه لري.گویا توپچي پوخ يې ډېرداروتکی نه دئ . دتوپخانې دوړلو راوړلو له پاره ډېري غښتلې کچري اواسونه لري، چي په غرنیولاروکي ښه بلددي . دترانسپورټ څاروي دلوی لښکرله پاره کفایت نه کوي. هغه توپك چي په حکومتي کارخانوکي جوړسوی وي ډېربدشکله دي اودوه يې په یوه رنګ نه وي . که له هغوڅخه دانسانانو دیوې داسي ټولی پرضدکارواخیستل سي، چي سره نزدې پراته وي ، دنوني (جري وجوك ) نیمګړتیابه يې لادومره زیاته اغېزمنه نه وي . خوسمه نخښه ویشتل دیوه توپك له پاره لومړی درجه اهمیت لري اوپه پټوسترګو نخښه ویشتل دیوه روزل سوي لښکرله پاره په عمل کي ډېره اغېزه ښندي . ددغو توپکو بله نیمګړتیاد باروتوده . هغه باروت چي په هیوادکي دننه جوړېږي ، له دوو درو وارو ډزي کولو وروسته دټوپك میل خورازیات خیرن کوي ، داسي چي پاکول يې حتمي سي. که پاك نه سي ، ټوپك سمه نخښه نسي ویشتلای اوپه دې ډول دویشتونکي روحیه ورکمزوري کوي . Maxim ( ۵ )او Gatling (۶) ټوپك هم په شاپونو (کارخانو ) کي جوړېږي ، خودپرزوناسم اچول اوپریوه لاس اویوه اندازه برابر کارتوس نه جوړول ددې سبب کيږي، چي درست کتار کارتوس بې له ناغې نسي ویشتل کېدلای . ناغه هرومرو کوي.

دعسکرو معاش دخوراکي موادو د هماغه وخت دبیو په پام کي نیولو سره، ډېرناکافي دئ .پلي عسکروته په میاشت کي اته کابلی روپۍ ورکول کېدلې، اوکله چي نوی امیرپرتخت کښېنوست ، ددې له پاره چي عسکرراضي وساتي ، معاش يې په میاشت کي لسوروپیو ته جګ کړ ( شپږشلنګه اواته پنسه ). سپرو لښکرو ته دمیاشتي دېرش کابلی روپۍ (شل شلنګه ) ورکول کيږي خوآس باید پخپله خان ته پیدا کړي. ګویاد آس بیه خني وزي . دامیرپلي ساتونکي په میاشت کي دېرش روپۍ اخلي اودنورو عسکرو کست(رخه، حسد ) خکه په کيږي چي ګویاشاهانه عاید لري . عسکردامیرلخوادهغوی په تنخواه کي ددوو روپیه زیاتوب راضي نه سول . دهـــــغوی توقع زیاته وه اوویل به يې، چي که

تنخواه ورته زیاته نه کړي، دابه وکړي ، هابه وکړي . خوافغانان زیاتره په طبعه کي پسونوته ورته دي اوترڅو چي یوېږ وړاندي نسي ، ټول ځای پرځای ولاړوي اوبې له بغاروبل څه نه کوي. دفعال خدمت پرهرمړا!! باندي دمیاشتي یوه روپۍ په تنخواه کي زیاتیري خکه نوعسکرپخپلو مړالونو ویاړي . په داسي حال کي چي هغه دوفاداری اوستونزونه پښنسولو له امله ورکړه سوی وو. دغه مړالونه تر زیاتي اندازې دسپینو زرو دارزښت له امله دخوراکي موادو د رانیولو په بدل کي گرو (برمته ) سول . خکه کاختي ددغومړالونو له ورکولو سره سمه راغله . دکاختی په جریان کي اوړه نه پیداکېدل اوحکومت دعسکرودتنخواه دیوې برخي پرځای اوړه ورکول . دې کارته یې ترهغه وخته دوام ورکړ، چي نوې غله ورسېدله .

دعسکرو دخدمت موده نامعلومه ده اوښایي ترهغه وخته پوري اوږده سي ، چي عسکرنوردبوډاتوب له امله خپله دنده سرته رسولای نسي . زیاترو عسکرو وماته وویل چي هغوی څه دپاسه شل کاله کیږي خپلي کورنی یې نه دي لیدلي . خکه درخصتی له پاره ټاکلي اصول نسته اوکه یوعسکردخپلوشخصي کارودسرته رسولو له پاره کورته دتگ سخته اړتیا ولري، باید چي دخان په عوض کي بل څوك دخدمت له پاره پیداکړي . په خینو حالاتوکي دغه عوضي کسان تنکي هلکان وي اوما یوزیات شمېردغه شان هلکان دخدراڼواونورغرنیو قومونو په قطعاتو کي لیدلي دي .دوی به دومره واړه وو، چي ټوپك به یې پرغټ وو. خودوظایفو په سرته رسولوکي به بیاډېرهوښیاران وو. اوامربه یې ژرسرته رساوه . دابېله خبره ده چي په عملي خدمت کي به نوددغوهلکانو ارزښت څومره وي؟ عسکرمعمولاً غریب خلك وي اوخیني خوېږ دخان اوخپلي کورنی له پاره له تنخواه پرته بل هیڅ نلري . همداعلت دی کله چي زاړه اوږیري وسرونه یې سپین سي، وربښتان ددې له پاره رنگوي ، چي دتنخواه اخیستلو اوفعال خدمت کولو په لیست کي پاته سي.

دعسکروبارکونه فرش وسامان لکه چپرکټونه، چوکی اومېزونه نه لري . خلك پرمخکه بیدیږي . هغه کسان ډېربختوروي، چي خان ته چارپایي یادتختو کټ برابرکړي اودډوډی دمېز پرځای یوه زیږه بوریا ولري، چي د خوراك په وخت

کي پر مخکه هواره کړي . هره پېره (دحوالدارپه ګډون داوو تنو ګارډ ) دخان له پاره دپخلي لوښي برابروي . دادحوالداروظيفه ده ، چي دسونګ دلرګيو له پاره تېشه او د ډوډۍ پخولو له پاره تبۍ برابره کړي . نورلوښي وسامان لکه مسي دېګ ، فلزي چايجوشه اودچايوبې لاستي پيالې دهرسړي لخوا پخپله تهيه کېږي . څرنګه چي په لاس باندي خوراک ددوی دود دئ، خکه نو ينجو، کاچوغوو چړوته اړتيانه ليدله کېږي.

تروظيفې وروسته دوی ډلي ډلي ناست وي ، يا يې څنګ اچولی وي (ډېره يې لګولې وي ) په داسي حال کي چي يوېې رباب ږغوي اوسندري وايي ، بل يې نکلونه کوي اوکيسې وايي. زياتره عسکرېخواني قماربازان (جوارګر ) دي اوسره له دې چي قطعه بازي ډېره سخته منعه ده اوسخته جزالري، بيا هم په دوی کي ډېررواج ده .داکار ډېروجنايتوته لارهواروي . مايو څوک پېژاند، چي ورقي (قطعې ) يې بايللي وې اوخان يې وريشت . که ددوی قطعات(ټولی ) بازارته نزدې وي، بيانو بازارته وزي اوهورې زياتره په خلکو خانونه غرضي کوي اوهغه شان خانونه ښيي لکه عسکرچي يې عموما ښيي. داخکه دوی بل څه لري نه . عسکرمعمولا دخان په کيسه کي نه وي ،خکه ډېرپېرې اونوري وظيفې يې دغاړي وي چي په هغوباندي زيات مشغول وي. ددوی دپېرې وظيفې سختې ستومانوونکي نه وي. له څرګنده پېرې پرته ، نوربې له خوب وناستي بل کارنه لري . دوی دشپې له پاره نوم لري اودانوم په هرودوويادرو شپوکي بدليږي . دامېرپه پېره دارانو کي دشپې نوم هره شپه بېل نوم اوډېرزيات محرم (پټ ) وي .

قطعات معمولا دهغو قومونو ياسيمو په نامه نومول سوي وي چي دقطعې افراد ورپوري اړه لري. دمثال په توګه دمومندو ، خدراڼو(٧)، کندهاريو ،کوهستانيو، اردلو( ٨ ).اودخپلواونوروپه نومونو وي . بيانو دSappers اوMiners دي چي يو مخي له هزارګانوڅخه جوړي سوي وي اوتوپچي قطعات دي چي توپخانه يخ بولي . له Sappers اوMiners اوکوټوالي(پوليسو ) پرته نورداردوټول افراد پښتانه دي. دکوټواليو نورو قطعاتو ته يې دملنډوپه توګه د«پنج پدر» نوم ورکړی دئ (د پنخوپلار وخلك ).

دامیرسپاره گارډ «شاهي رساله» نومیږي.

اودخېل لوېماره قبیله ده اوځرنګه چي ددغو عادتو پرېښوول یې په نورهیڅ رازلاروچارو سره ممکن نه و اودهغوی مشرانو به ویل ، چي ددوی مخکي شاهي دي هغوی اودځوندي پاته کیدوله پاره غلا پرته بله وسیله نه لري ، خکه نومرحوم امیردهغوی یوشمېر په قطعه کي تنظیم کړل اوقبیلې ته یې وښودله ،چي دخپلوهیوادوالو له لوټولو څخه لاس واخلي . که غواړي چي غلاوکړي نوباید هندوستان ته ولاړسي . له پېښورواودهند له نوروسیمو څخه زیاتره غلاسوي ټوپك کیدلای سي ، ددغوخلکوپه لاس وي . اودخپلودهیوادپخوانیو امیرانو ته هم ښه ډېري ستونزي پېښي کړي دي اوهروخت چي ددوی دانتظام له پاره کومه نیمګړي هڅه سوې ده ، دوی یې په ړاندي سخت مقاومت کړي دئ . خوامیرعبدالرحمن لکه دهیواد پرنوروسرکښوخلکو چي و، پردوی هم ډېرغښتلی و.

دکابل خلك دامیرشیرعلي اوداوخیلو دیوه مشرکیسه کوي وایي، دغه مشریې خپلي قبیلې ته واستاوه چي ورته ووایي غلاوي مه کوي څکه ډېره رسوایي یې پېښه کړې ده . که غلابنده نه کړی ، امیرته که غل په لاس ورغلی ، په داربه یې ځړوي . مشرته وویل سوه چي اودخېل په غلاکي دومره ماهره دي، چي هیڅوك یې لاس په لاس نیولای نسي اوپه ثبوت کي یې ورته وویل چي نن شپه پخپله دامیردخوب شال غلا کوي . که یې لاس په لاس ګیرکړ، بیادي یې په دارځړوي . په دابل سهاردغه مشردامیرحضورته ورغی اودامیرپه مخ کي یې دهغه دخوب شال له تخرګه راویوست اوامیرته یې ورکړ ، ورته یې وویل ، چي ده خپله وعده پرځای کړه . امیرهك پك سو چي ځرنګه یوځوك دده ترپیره دارانو تیرېدلای سي ، دده خوب خوني ته تللای سي اوهغه شال چي دی پکښې بیده دئ ،.اخیستلای سي، بې له دې چي ویښ دي سي . له دغه وختـه ویل کیده، چي امیرشیرعلي نوراودخېل خپل سرته پرېښوول .

د اودخېلوقطعې په خپل وارسره دورکشاپونو پیره هم سرته رسوله . هره قطعه دیوې میاشتي له پاره خپله ډله ټاکي، چي پردغه وظیفه باندي ودرېږي . ماته ددوی کپتان یوساده سړی ښکاره سو. ده دکولرا (وبا ) دلومړي ناروغۍ په

وخت کي چي زه هوري وم ، له خپلو سړيوسره مرسته کړې وه . موږ هغه وخت سره وپېژندل. دی به زمادفترته دماښام دډوډۍ پروخت راتلی اوزما سره به يې مجلس کاوه . يوه ورځ مي خني وپوښتل چي پښتوژبه رازده کړه خکه مايې له زده کړي سره مينه درلوده ، خوکوم کتاب مي دلوستلو له پاره نه درلود . کله چي مي دغه پوښتنه تري وکړه ، دی يوڅه ناارامه ښکاره سو اوچوپ پاته سو . يوآن وروسته يې راته وويل، چي دی دژبوښوونه نسي کولای خکه ورسره بلدنه دئ خودغلا تدريس کولای سي اوبه ډاډه زړه يې راته وويل چي «په څو اوونيو کي به داسي غل درڅخه جوړکړم چي هيڅوك به دي نيولای نسي» د اودخپلو قطعه پوروخت داميرله خوامنحل سوه اوهغوی سمدلاسه خپله پخوانۍ دنده پيل کړه . دغه وخت شکايتونه دومره زيات سول چي اميرمجبورسو، قطعه بيرته له سره تنظيم کړي.

داردو دافسرانو لقبونه داسي دي : سپاره سالار (Commander-in-chief) نايب سالار(۹) (دده مرستيال)، جرنيل(۱۰) (General) ، کرنيل(Colonel) ، قومندان(Commandant)، کفتان(Captain)، صوبدار(Lieutenant of foot)، رساله دار(Lieutenant of horse)، حوالدار(Sergeant of foot) اودافع دار(Sergeant of horse) . داردوسترافسران داميرله کورنۍ يادده له پلويانو Favourites څخه ټاکل کيږي اوترفيع درتبوله مخي نه، بلکي يوازي دده دخوښي له رويه ورکول کيږي . مرحوم اميريه ديوې قطعې دجوړېدو پروخت خپل مخ ته ټول سړي يوه ليکه ودرول اووروسته به يې په ډېرسطحي قضاوت سره هغه کسان، چي ده ته مناسب ښکاره سول، انتخابول اوهغه به يې بياافسران کول.

دوی دموزيك يوشمېرباندونه(دستي) لري ، چي ځيني يې تاري وسايل اوځيني يې ډولونه لري. دڅېري باجې موزيك بايد په يادکړه سي خکه هره وسيله بايد پرخپل ځای وساتل سي اوهرسړی ظاهرا خپله شخصي لاره(Tune) ږغوي اوکوښښ کوي چي دده لاره ټرنوروڼلوړه واورېدله سي. که څوك نژدې ورته ناست وي دسرماغزه يې ورچپه کوي. دمشکۍ باجې (Bagpipe) يوه دسته هم سته اوددوی دموسيقۍ له ږغــــه چاته داسي ښکاري چي ، دوی هغه

کوي سکاټلېنډې لاره ورغوي . ددغي دستې غړي دشمالي سکاټلېنډ دغرنيو سيمو اوسېدونکو په شان جامې اغوندي . دسکاټلېنډې لمني پرځای يې دشطرنج دتختې په شان کميس اغوستی وي چې پرېټلانه دپاسه راځړېږي اوزياتره له خيرن سپين چيټ څخه جوړسوی وي. دغه دسته دشمالي سکاټلېنډيانو دجنګي مهارتونو په شان ستايل کيږي . اوافغانان يې پرنوروټولو دستوغوره ګڼي اووايي چې دوی په رښتياسره شيطانان(Devils ) دي.

ماته يووخت يوچاوويل، چې دکابل ښارته څرمه ، دشېردروازې دغرونو په جګړه کې يوه ورځ انګرېزان مات سول اوده دمات لښکرپه منځ کې يوسکاټلېنډی(Highlander ) وليد ، چې تر ټولووروسته روان و ، ټوپك يې په لاس اودشاخواته په نخښنه کړی و ، اودخغستاپه وخت کې يې کارتوس ويشتل اوپردښمن يې ډزي کولې . سړي راته وويل، چې دغه سکاټلېنډی دماتي پروخت لاهم زړه له لاسه نه و ورکړی. ددغي ورځي په جګړه کې زياتروښاريانو برخه اخيستې وه اونوموړي شخص هم يوله دغوښاريانو څخه و.

افغانان لکه چې دموسيقی په باب قضاوت دهغې داواز دجګوالي له مخې کوي. څکه په يوه جشن کې زه دملکې سلطانې سلام ته ورغلی وم . موږته يې په باغچه کې کمپ جوړکړی و اودرې باجې يې دړغولو لۀ پاره رالېږلې وې.دوی راغلل، دکمپ په دروکونجوکې ودرېدل اويودم يې په لوړاواز سره بېلابېلې لارې(نغمې ) پيل کړې. دوی هيڅ نه ستړي کېدل، خوشا،خواخلك داسې ښکارېدل، چې دباجې ديومخيزی بندېدو په سوچ کې وو.

افغاني اردودعصري لښکروپه وړاندې ديوه جنګي ماشين په توګه دېراغېزمن نه ښکاري . افغان ديوه عسکرپه توګه پخپله خورابنه خاصيتونه لري،دی په يوخولپوغنمو باندي څوورځي ګوزاره کولای سي اوپه عين وخت کې پوره اندازه ستړياګاللای سي، پخپل کوسي کې يې خان پېچلی وي اوآخ نه کاږي ، په غرونو کې نه ستړي کيږي ، زړه وردي ، ښه جنګېږي ، هروخت تياروي اوپرخپلوافسرانو باورلري. دغه رازيې زړه ورتياخوښيږي اوستايي يې. دډګرمن هميلټن (Lieutenant Hamilton ) کيسې ديوه زړه ورېرنګي په توګه ترننه لاهم کيږي . نوموړي له کيوناري(Cauagnari ) سره ملګری اوله وژل سوو

کسانو څخه و (۱۱) . ددوی (افغانانو) افسران چي ترده زيات جنګي مهارت اوپوهه نه لري ، زياتره يې ددوی له منځه ناکل سوي وي . هغوی دافسرانو په توګه دېرلږصلاحيت لري اوکوم کسان چي پرخپلو خلکو يوڅه اغېزه لري اوپه يوه سترګه ورته کتل کيږي ، هغه ددوی دخپلي انفرادي وړتيا له امله ده .په دوی کي دېسپلين دېرلږدی اوترڅوافسردخپلو اوامرو دسرته رسولو له پاره خپل شخصيت په کاروانه چوي، خلك يې پروانه ساتي . څکه عسکردخپل آمرپه باب دېرژرقضاوت کوي. دافسرانولخوانرمي اوښه وضعه له دووشيانوانګېري، ياداچي فکرکوي دخپل ځان له بېري نرمي کوي ياهم دبې عقل خيال پرکوي .

له جنرالانوڅخه يې هيڅ يودعصري جګړې په باب معلومات نلري څکه دوی يادهغوجګړوتجربې لري، چي په وروستيو کلونو کي دوی دسيمو له هغو وحشي قبايلو سره کړي دي، چي ترافغانانې واکمنی لاندي راغلي دي ، ياهم له انګريزانو سره دوروستی جګړې تجربه . هغه هم کوم محدود کسان چي ژوندي دي . کله چي دوی له يوه بهرني خواك سره دجګړې خبري کوي، دوی دخپلوعسکرواوغرنيو خلکو پرشمېراوپردې خبره تکيه کوي، چي دجهادتلقين اوتبليغ دهيوادنی جګړې له پاره دېره اغېزه لري. بل عامل داچي سيمه يې دېره غرنی ده اولوړي وژوري لري اوديوه يرغلګرلښکردچټك اواغېزمن حرکت له پاره دېري زياتي ستونزي پېښوي . اميرچي پخپل هيوادکي له اورګاډي سره مخالفت کوي، عمده دليل يې همداخبره ده، چي نه غواړي ديرغلګروله پاره سواني پېښه کړي.

افغانان منظمي جګړې ته دېرنادرځان نيسي ، زياتره له ګوريلايي (چريکي) جګړې سره رږږددي. اوديرغل په وخت کي بې له شکه له همدې جګړې څخه کاراخلي . په غرنيوکوتلونوکي داسي ځايونو سته چي يوڅومحدودمصمم وسله وال کسان کولای سي ، يوبشپړلښکرته ماته ورکړي .ديوه مهاجم لښکرله پاره به دادېره سخته وي ، چي ددغه هيواد زياتوبرخوته درنه توپخانه ولېږي. ددې کارله پاره دغاترو (کچرو) بطريې لازمي دي خودکابل ، جلال آباد اوکندهار پرشاوخواپه هوارو ميدانونوکي غټو توپونو ته اړتيا سته ، دومره غټ چي لږترلږه له افغاني توپوسره برابروي . دکابل ميدانونو ته خود هغورســـول دېرسخت دي

مگرخوك يې په دوه پلاوو ورسوي!

افغاني مقامات اوس دخپل لښكرپراغېزمنتوب باندي ډېرباوري دي. دوی فكركوي چي دلارډرابرټس(Lord Roberts ) تروخت اوس ډېرتوپيرپكښې راغلی اوغوره سوی دي اوددې امكان ستته، چي له هغوی سره ديوې بلې جگړې په صورت كي به ميدان وگټي ،خو كه يې ورخ(بخت. م.هوتك ) وگرځېدله نوبيابه غالبا له گوريلايي جگړې څخه چي دوی ورسره بلددي، كارواخلي . دوی هرورخت چي ددښمن شمېرزيات گڼلی دئ ، له همدې جگړې څخه يې كاراخيستی دئ . ددوی خپل منځي جگړې عموما منظم جنگ وي اوترهغو جنگيرې چي يوه خواماته سي، منډې ووهي اونورجنگ پرېږدي . دوی پخپلو منځوكي وايي ، چي مات لښكرتردريو ورځوپوري څغلي اونه درېږي .

دجگړې په وخت كي ښځي نارينه وو ته مهمات رسوي اود«پردې» قوانين نوربه منځ كي نه وي اودايوډول اړتياده. دوی ته اجازه ستته ، بې له دې چي وشرميږي خپل مخونه لوڅ كړي . په دې خبره هرخوك خبردي، چي له انگرېزانو سره په جگړوكي به ښځي ترجگړې وروسته په شپه كي دجنگ ډگرته ورتللې اوددښمن دمړيو لاس وپښې به يې غوڅولې اوټپي سوي كسان به يې پسې وژل . زياتره ښځي خوپه جگړه كي هم برخه اخلي. دافغانانو دكركټرديوې برخې دبيان له پاره به زه يوه كيسه وكړم چي ماته ديوه سړي لخواسوې ده اودكندهاربه سيمه اړه لري . دده تربورتركندهار څوميله دباندي يو كور درلود (ماداكورونه ليدلي دي جگ جگ دېوالونه پرراتاودي ) دشاوخوا قبيلو پر ضد د انگرېزانوله يوې جگړې وروسته له ډېرو انگرېزانو څخه لارورکه سوې اوبه اصلي لښكرپسې دكندهارپرلور روان وو. يوه ورخ دده تربورته چا وويل، چي يوانگرېزترديوالونوهاخواته (تركلادباندي ) ناري وهي. تربوريې دكلابام ته خېژي اوگوري چي يوسكاټليندی توپك پراوږه ولاړدئ اومړی (ډوډۍ) غواړي. تربوريې خپلي كوټې ته په منډه خي،توپك رااخلي ، بام ته بيرته راخيژي دېوال ته گونډه وهي، عسكرپه نخښه كوي او ډز پركوي، سړی چپه كيږي خومړلانه دئ لږخه ساه پكښې ښوري . تربوريې دتوپك اخيستلو له پاره خكه زړه نسي كولای چي مبادا ټك وربانډي ونه كړي . دوې ورځي يې ورتـــه وكتل او ورستـه

دتوپك اخيستلو له پاره وررهي سو. په دغو دوو ورځو كي عسكرداوبو له پاره زارى جگى كولې اوترڅوچي ساه پكښې چونېدله، څوك له بېري نه ورنزدې كېدلى (١٢)

## د دیارلسم څپرکي لمنلیکونه

( ۱ ) لیکوال دلته په افغاني عسکروباندي په ملنډووهلو سره غواړي خپله انګریزي برتري وښیي – خو همدي بي نظمو خلکو دنړۍ له ډېرو منظمولښکروڅخه دجګړي میدانونه ګټلي دي(م.هوتك ).

( ۲ ) « لي میټفورډ » ټوپك دتورو باروتو داستعمال په وخت کي تر ټولو عصري ټوپك و. چي په انګلستان او تقریبا ټوله اروپا کي کار څني اخیستل کېدی . په جوړښت کي کلاسیکو ۳۰۳ بور انګرېزي ټوپکوته ورته و. ( ژباړونکی )

( ۳ ) هنري مارتینیس ټوپك اصلا د سوټزرلینډ داوسېدونکي فریدریك وون مارټیني لخوا اختراع سوی و او د انګلیسي تبعه الکساندر هینري لخوا انکشاف ورکړه سو. له دغه ټوپك څخه دانګلستان په پلي پوځ کي تر ۱۸۹۰ ع کال پوري کاراخیستل کېدی . څیني هینري مارتیني ټوپکونه ان تر شلمي پېړۍ پوري لامروج وو . (ژباړونکی )

( ۴ ) سنایډر ټوپك هم دپلي پوځ وسله وه او دجېکب سنایډر امریکایي لخوا اختراع سوي اوپه انګلستان کي مروجه وه . ( ژباړونکی )

( ۵ ) ماکسیم ټوپك د هیرم ماکسیم لخوا اختراع په نونسمه پېړۍ کي اختراع سوی و او د میل په سرکي یې د ږغ ټیټولو آله ( Silencer ) درلوده . ( ژباړونکی )

( ۶ ) ګاټلینګ اصلا ماشیندار و، چي دامریکایي مخترع ډاکټر ریچارډ ګاټلینګ لخوا اختراع سوی و. ( ژباړونکی )

(۷ )په اصل کي جارجي(Jarji ) دئ ، چي مولف په ناسمه توګه اوربدلی و . ( ژباړونکی )

( ۸ ) اردل دقوم یاسبمي نوم نه دی(م.هوتك )

( ۹ )لیکونکي دسپاه سالاراونایب سالارکلمات سم نه دي اوربدلي اودSupper Salah اوNaib Salah په شکل یې ثبت کړي دي

( ۱۰ ) جرنیل یې هم دJinareal په بڼه ثبت کړی دئ ، چي سم نه دئ (ژباړونکی )

( ۱۱ ) لیکونکی دلته هغي پېښي ته اشاره کوي چي ۱۸۷۹ع کال دسپتامبر پر دریمه دکابل په بالاحصار کي پېښه سوه او د امیر داردو اردل ټولي او هراتی ټولي په ډله ییزه توګه په کابل کي د انګلیسانودسفیر سر لویس کیوناري استوګنځي ته هجوم ورووړ اوپه نتیجه کي پخپله سفیر او دهغه ساتونکي ډله ټول ووژل سول ( م.ه )

( ۱۲ ) دا به غالبا دمیوند دجګړي دماتو لښکرو بیان وي. (پښتوژباړونکی )

# څوارلسم څپرکی

## سوداګري اوتجارت

**له تخنیکي وسایلو ، توپکواونورو دغه راز سامانونوسره دامیردلچسپي ـ ورکشاپونه ـ دسونګ مرادولګنبت ـ استادان اوکاریګران ـ دخلکو تنخواه ـ سوداګري ـ هټي وال اوسوداګر ـ دهیوادتولیدات ـ صادرات اوواردات ـ دغلودانوخوبول و اوداوبوپرسرجګړې ـ کاروانونه اودباروړلودکرایې ټولونه ـ وزنونه اواندازې ـ میرزایان اودفترونه ـ پورونه کښل ـ هندوان اودهغوی لخوا پیسې په پورورکول ـ دهیواد سکې وهل اوسکوک.**

---

امیرعبدالرحمن خان له ټولو تخنیکي چاروسره دزړه له کومې دلچسپي درلوده اوله سوداګرۍ اوسوداګرو سره یې بیاخاصه مینه وه . دده په نظردیوه سوداګردریغ دده دحکومتي مامورینو له هریوه سره برابرو. دسوداګرشکایت اوعرض چې به ورته وسو، هرومرو یې اورېدو. کله چې ده خپل ورکشاپونه پرانیستل، په دې کارکي یې څرګنده اراده یوزاې دانه وه چې توپونه اوتوپک دي جوړکړلای سي، بلکی مرادیې دخپلو خلکو ښوونه اوروزنه هم وه . ده به ویل چې غواړي خلکوته دنوروهیوادو سوداګري ددې له پاره ورزده کړي چې هغوی دنورو ملتونو سطحې ته ورلوړ کړي اوپه دې صورت کې به نونه یوازې هغوی اودهغوی هیواد داسي پرمخ ولاړسي لکه دانورچې تللي دي ، بلکي له کارسره دمیني لرلو له لارې به هغه عادتونه اوکمزورۍ هم له منځه ولاړې سي چې ، دبې قانونۍ اوغلطو کارونو خواته ددوی دتمایل سبب دي. ده به تل داشکایت کاوه له ټولو هڅوسره سره ، چې ده دخلکو له پاره کړي دي ، هغوی بیاهم هماغه شان پاته دي اوسره له دې چې ده په زرګونو تنه وژلي دي، خونوروخلکو لکه څرنګه چې دده غوښتنه وه ، سبق ځنې اخیستی نه دئ .

دده زوی، اوسنی امیرهم له ټولوتخنیکي شیانوسره ډېره زیاته مینه لري اودخپل هلکتوب له وخته راهیسي یې دحکومتي ورکشاپونو دمشرپه توګه کارکړی دئ . دی په اوونۍ کي یوواروركشاپونه ګوري اوهره څانګه اودهغې ټول تولیدات تفتیشوي . په ماشینونو کي دده معلومات ترپلارډېرزیات دئ . سره له دې هم ځیني داسي مسایل سته، چې امیراو د ورکشاپـــــــونو مربوط

(c) ketabton.com: The Digital Library

مامورين هغه په سمه توګه درك كولای نه سي اوكله كله يې ښه فكرپه بند اوپكښې سرګردانه وي. دمثال په توګه دوی په دې هيڅ نه پوهيږي چې يوې ټاكلي اندازې بخاردتوليد له پاره ټاكلې اندازه تودوخه په كارده اوڅرنګه چې دوی هره ورځ يوه زياته اندازه لرګي په بېلرانو كي په همدې نيت سوځوي(دوی دډېروسكاره نلري ) خكه نوهروخت په دې لټه كي دي ، چې دغه مقداررالږكړي اودانجنانو په كاركي بايدكمبوت هم رانسي . يووخت يې فكركاوه چې دوی دامسله حل كړې ده اوهغه داسي چې په بېلرانو كي يې دلرګيوغټې كوندې سوځولې غټې كوندې تركوچنيو ټوټوورو ورو سوځي اوكله چې دلرګيو دغې ستري كوټې دبخاراندازه اوچته نه كړه ، بيانو داوړپركاريګروبدګومانه سول . هغوی يې ددغي ناكامي عاملين وګڼل اويوشمېريې ښه وډبول اووټكول .

بل وخت دبېلرانو له پاره داور دلرګيو زېرمه تمامه سوه اوترڅو چې ديوې بلې ستري زېرمې دراغونډېدلو اووچېدلو له پاره بندوبست كېده، هره ورځ به يې تازه (لانده ) لرګي راوړل ، لرګي به لانده وه اوڅرګنده ده چې ورو ورو به سوځېدل . بخاربه اوچت نه ساتل كېده . سره له دې چې دلرګيو په اندازه كي كمښت نه راتلی ، خودانجنانو كارترېخوا بدتركېدی . دوی ددغه حالت دبدلون له پاره ډېري هلي خلي وكړې . ټولي لاري چاري يې وپلټلې خوسمه لاره يې ، چې دانجنانو دښه كارنه كولوعلت و، ونه پلټله. دوی حتی سلنډران Cylinders خلاص كړل چې وګوري پستهان pistons سم دي كه نه؟ اوكله چې دستونزي دحل له پاره ټولي پلټنې ناكامي سوې ، بيايې داوړپركاريګرانو راواچول اوښه يې وډبول . داوركاريګران يووخت په دې تورن سول، چې دسونګ دلرګو په اندازه ښوولو كي درواغ وايي . تراصلي اندازې يې زيات ښيي اوپاته برخه په بازاركي پلوري . له هغه وروسته يې بدګوماني دومره زياته سوه ، چې دوی په قصدي توګه سم كارنه كوي اوشيان سره مرداروي . دموضوع اساسي علت دا و كله چې ديوه مامورفكرته دسونك دلرګيو په ورځنی اندازه كي دكمښت راوستلو خلانده نظريه ورغله، له هغې ورځي راهيسي دلرګيو كاريګران دموادو په تالاكولوتورن كېدل اوداسي ورځ به نه وه چې هغوی ته سزانه وركول كېدله .

دهغه چادژوند مزه نه وي، چې دداسي ناپوهوكسانو ترلاس لاندي كاركوي.

زه که څه هم دنوروټولوبېلابېلو کارونو په څنګ کې دبېلرانو اوانجنانو تش په نامه مشروم، خودمصرف سوومموادو داندازې مسول نه وم . داکارديوه بل مامورپرغاړه و. دافغانانوذاتي بدګومانۍ اوپه کارباندي ناپوهۍ ددې سبب وې چې نومړوي دي په داراز موضوعاتو کې دچاپرخبره غوږونه نيسي . که څه هم زماسره به مشوره وسوه ، خوزمانظرته څکه دتعصب په سترګه کتل کېده، چې داورپرکاريګرانو مې پړه نه اچوله . کله چې مې دلرګيو دټوټه ټوټه کولو پېښنهادورته وکړ، هغه يې داسي تعبيرکړ،چې ګويازه غواړم حکومتي شتمني ضايع کړم . دحکومت دانجنيرپه توګه زماله ټاکلو لږوروسته ماته يوبل فرمان(داميرليکلى امر ) راورسېد ، په هغه کې يې زه دنوروکارونوپه څنګ کې دبېلرانو اوانجنانو مسول ټاکلى وم. څرنګه چې انجنانو په ډېره بده توګه کارکاوه ، نوراته ويل سوي و، چې هغه بايدډېردقيق وازمويم . بايد معلومه کړم،چې دادانجنانو اوبېلرانو نقص دي که داوردکاريګرانو، داسي فرمان نسته چې په دهغه دي بياڅړټول اړوند کسان خبرنه وي او کله چې زه په دابله ورځ بېلرهاوس ته ولاړم ، خلک ډېرخپه راته ښکاره سول . دوى به غالبا داسي فکرکاوه، چې دوى ټل پرکارحاضروو اودسونګ دلرګيو دمحدوديت په صورت کې د بخارپرزياتېدو باندي له خپلو ټولو هلوځلوسره برېالى سوى نه دي څکه نوزمادبرياليتوب چانس هم لږدى . اوپه دې صورت کې به نوبې له شکه ټوله پړه پردوى واچوم. ددوى خپل عادت داسي دئ، چې دکاردناکامۍ پړه ټل پرلاس لاندي کسانواچوي .بېلران مې وکتل .زماازموينې وښوول چې په بېلرانوکي دننه داهاکو (چونې ) اوختويږښډورغ (قشر )جوړسوى دئ . اوخلکو راته ووېل چې له هماغې لومړۍ ورځې څخه چې دوى اېښوول سوي دي ، بيايې چادپاکېدلو هڅه نه ده کړې . تقريبا دوې اونۍ يې ونيولې چې کارونه ټول سم سي. له دې وروسته به، چې هروخت د اور پرکاريګرانوچاپړه اچول ، هغوى به ټل ماته ديومسول شخص په توګه مراجعه کوله. دوى درک کړې وه ،چې زه يې په ټګماريو پوه يم او ژمنه يې راسره وکړه ، چې که يې رپــــــوټ ورنه کړم، په



دکابل ورکشاپونو نوې برخه ـ په منځ کې یې دسردارمانۍ اودفتر

راتلونکي کي به کارونه په سمه توګه سرته رسوي. له ډېرو نورو خبروڅخه راته څرګنده سوه ، چي ماته خلکو دکاریګرانو د ملاتړ کوونکي په سترګه کتل .

دداسي چاپه سترګه چي کاریګران له سزاورکولو څخه زغورم اوزړه مي پرسوځي. څکه ماپه ډاګه څرګنده کړه ،چي دزیاترو کسانو تنخواه کافي نه ده اوهروخت چي موقع برابره سوې ده ، دزیاترو کسانو دمزد په زیاتولو کي مي تلاښ کړی دئ . اوداکاربه یوازي زماسره دمیني له امله کېدئ نه دبل څه په لحاظ. خودنورو کاریګرانو تنخواه هماغه دکاردپیل پرېخواني حال پاته وه.

بله نظریه چي دوی درلوده هغه دسایفونو (Syphones) په واسطه داوبودسطحي دلوړولو نظریه وه . یوه ورځ چي له پخواني امیرسره په دربارکي ناست وم، نوموړي داموضوع دهغومشرانو په وړاندي مطرح کړه، چي دهیواد له لیروسیموڅخه دده لیدلوته راغلي وو.ده هغوی ته داسي تشریح کړه ، چي که تاسي یوسایفون سرچپه ونیسئ اوپه یوه ښانګه کي یې اوبه کښته تویي کړئ، په بله ښانګه کي یې اوبه لوړي خیژي. دومره لوړي چي سطحه یې دلومړی ښانګي ترسطحي نه لوړیږي . ده زیاته کړه چي غواړي ددغه شان یوشمېر سایفونو په واسطه دکابل شاوخواهغو سیمو ته ، اوبه ورسوي چي وچي دي ، اوبه نه لري ، اودجاري ویالو ترسطحي لوړي پرتې دي . ده ماته مخ راواړاوه اودخپلي خبري د حوالي په باب یې پوښتنه راڅخه وکړه ماخواب ورنکړ څکه که مي مثبت ځواب ورکړی وای نوبیادا کار زما پر غاړه لوېدی او پــه

عام درباركي بل رازخواب وركول له ادبه ليري كارو، پــــــه تېره بياچي خبره داميرله خواسوې وي . څه موده وروستــه دوركشاپونو يوڅو تنه اصلي استادان(Foremen ) د امير لخوا وروغوښتل سول اوهمدغه نظريه يې ورته بيان كړه . دوی ورته وويل چي په هغه كي به فكروكړي اووبه گوري چي څوك داكاردسايفونونو په واسطه يادداسي پمپ په واسطه چي پخپله كاركوي ، سرته رسولای سي. دوی پرموضوع كولو بانديدي دغوركولو له پاره څوورځي وخت وغوښت اوبېلابېلي تجربې يې وكړې . زه هم ددوی لخوا په موضوع خبرسوم څكه په يوه يادوو ورځو كي به دوی زمادنظر غوښتني له پاره راته راتلل.

داوسپني اوژېړوېه ريخته گری كي ماته څرگنده سوه چي دسونگ موادو اندازه چي دقالبو په وچولو كي كارترې اخيستل كېدی،دومره لږده چي تقريبا نيمايي قالبونه يې بيخي خراب كړي دي . دادمسولو مامورينو دوهمه مساله وه چي دحكومت دپيسو سپمولو له امله يې رامنځ كړې اوبه دي ډول يې دځانونو تنخواه دحكومت دخيرغوونښتونكو په توگه زياته كړې وه . دې موضوع دقالبونو يوه ستره فيصدي خرابه كړې وه اوله ماپرته بل چاپكښې ری هم نه وهلی.

دافغاني مامورينو كارونه چي دبېلابېلو څانگودشاپونو اوكارونو انتظام پرغاړه لري، دMP(دپارلمان دغړو.هوتك ) له هغومسافرتونو سره ډېر ورته والی لري، چي په ساړه موسم كي درې څلورمياشتي په هندوستان كي تېروي اوبياكوررونو ته دخپل حكومت دټولومسايلو دتشريح كولو اوچاري سنجولو له پاره څي.

دکابل په ورکشاپونوکي دماشینونودوه سترشاپونه سته، چي په هغه کي تقریبا سل داني راز راز ماشینونه پراته دي . دوه دکارتوس جوړولو شاپونه دي،چي په هغوکي دمارتیني اوسنایدرکارتوس دجوړولو ماشینونه سته ، دفلزي پتاکیوشاپ، دآهنګري شاپونه ، د بخاردسوټك شاپ ، داوسپني اوژیړو دریختنه ګری ځانګي ، دسکې وهلوځانګه ، دګرځنده ژرندي شاپ اودبایلراوانجن خوني. ددې پرځنګ دتوپونو دارابواوبازوګانوجوړولو، دتوپکو دکارتوسو جوړولو، دکارتوسواوتولیو ډکولو ، دتوپخانې ، دکیزو، دکتاروزمو، بوټونو اونورشیانو جوړولو لاسي شاپونه ، دتوپورنګولو، دتوروباروتو دپتاکی دغوزې، دځرمنودآتش ورکولو اوتورولو، دصابون اوشمع جوړولو، دالکول تقطیرولو، دتیزاب جوړولو، دعکاسي چاپولو (Electro-plating ) دتورواوبرچوجوړولو ، داورومیدو، دمرمیو جوړولو ، دحلبي اومسي کارونو ، ترکاڼي، دنخشې جوړولو، رسامي ، دکوردفرنیچرجوړولو اونوري ځانګي . په دې ځانګوکي دځلورو پنځوزروپه شاوخواکي خلك کارکوي.

افغاني کاریګران خیرك دي اوکه خپل مغزیوازي خپل کارته وقف کړي، دکورچاري یانورمسایل ورته دکارکولواجازه ورکړي، ډیرښه په زړه پوري اوله مهارته ډك کارکولای سي . داخبره دزیاتي ستایني اوکریډیټ وړده . اوهمدا دافغاني کاریګرانو ښېګڼه ده . په هغوکارونو کي، چي ډیردقیق پیل اوپای لري، دوی معمولا بریالي نه دي . زیاتره یې سبب دادئ، چي دوی ته دهیڅ جوړولو هنراوپه هغه برخه کي دکارکولو لارښوونه نه ده سوې . اوهمدا سبب دئ، چي خمکنی ماشینګني یې ډډاډ وړنه دي.

په خینوموارد‌وکي کاریګرداسي ښکاري چي ګویادیوې ناسمي (غلطی) لاري په یقیني کولوکي خوراډیرفکرپه کاراچوي اودوام پسې ورکوي . البته په دې کي شك نسته، چي که یوه افغان ته سمه ښوونه اوروزنه میسره سي ، ډیرښه کاریګرځني جوړېدلای سي . زه زیاتره وینم ، یوکاریګر ددې پرځای چي خپل کارپه ښه توګه بشپړکړي، یومخ یې وران کړي . داځکه چي دکارپه دغه برخه کي یې پوهه لږوي. کله چي کارځني وران سي، زه عموما پخپله دکومك ږغ پرکوم . ددوی داخوښه وي، چي کارپخپله سرته ورسوي. پــه دې امید، چي

دبشپړېدوپه صورت کي به يې له اميرڅخه کرېډيټ واخلي . داچي دوی دمرستي له پاره پرنورورغ نه کوي، تر ډېري اندازې ددوی دمامورينو گناه ده . څکه کله چي يوڅوك دکوم خاص کارله پاره اميرته ورولي، پرځنگ يې دااداعا هم کوي، چي نوموړي دکارپه دغه ياهغه برخه کي په ستونزو اخته و، ده مرسته ورسره وکړه اوپه دې ډول له سړي څخه پخپله گټه دکارکرېډيټ واخلي . په ځينوموارد وکي خولاماموربن په دې پلمه دټول کارامتيازخان کش کړي ، چي کاريگرد ده ترلارښووني لاندي کارکاوه. په هرصورت ددغه شان حکومتي سيستم يوه نتيجه داده ، چي هرڅوك کوښښ کوي خان داميرترنظرښه وايسوي اوله دې لاري په لږڅه باندي دخپل زړه مراد حاصلوي.

په ټولوکارونوکي يواستاد (ښوونکی يافورمن ) اودهغه شاگردان (نوی خوان کاريگران ) وي. کله چي يوشاگردله استادڅخه ټول کارزده کړي، يافکروکړي چي زده يې کړ، بيانومعمولا په دې لټه کي سي . چي څه رازدخپل استاد لاس له کاره وباسي اودی ځای ونيسي . داکاردوی معمولا اميرته دخصوصي رپوټونو ورکولو له لاري کوي . ورته وايي چي استادېې دکارتراړتيا زيات مواد غواړي اوکوم مواد چي پاتې بالابودسي ، هغه بياپلوري اوخپل دژوند اړتياوي په پوره کوي. ټول گاونډيان يې دده دعوايدو دزياتوب شاهدان دي. داړپوټونه تل ځای ته نه رسيږي . په دې معنا چي استاددي خپل موقعيت له لاسه ورکړي اوشاگرد دي ځای ته ور ټوپ وهي . خودومره اغېزه وښندي چي استادبه ښايي بندي کړي، پښوته به يې زولنې ورواچوي ، دورځي له خوابه دمعمول په شان کارته ورځي اوپه شپه کي به بيرته بنديخانې ته بېول کيږي . ميرزايان به دده حسابونه ورتفتيشوي اودانو دکلونو کاردئ اواستاد زياتره دحساب ترتصفيې دمخه په حق ورسيږي اومړسي.

افغانان په هرهغه کارچي خطرورسره مل وي، لکه دباروتو جوړول اونور، ډېرېې احتياطه اودځان په غم کي نه دي. په نتيجه کي يې کله کله چاودني پېښېږي سي ، ډېرکسان پکښې ووژل سي اونورېې مياشت ودوې په کارکي وارخطاوي. کله خولاعين بې احتياطي ترهغه وخته دوام وموميچي بله حادثه پېښه سي او د يو څه مودې له پاره دوی له احتياطه کار اخيستلو تـــه اړکړي .

یووخت د پارې (سیمابو) چاودني خوراډېري حادثې پېښولې. خوکله چې ماورته دتياريومعمولي لاري چاري ونښوولې، بیاکومه حادثه پېښه سوې نه ده . خيني حوادث دډېرو سرپوښونودېبباکه پورته کولو له امله پېښېدل . یووخت دیوه فورمن (استاد) دبې‌احتیاطی له امله شپېته زره پوښه وچاودل. یوځوېې دکتلو له پار راواخیستل اوبیرته یې بکس ته وروغورځول. په دې پېښه کې څلورتنه مړه اویوځونوردتل له پاره معیوب سول . یوځوېې په سترګوړانده سول. سرپوښونه یې په سترګو ننوتل اونوړتېپي سوی نه و. دباروتو په یوه چاودنه کې شل تنه مړه اویوزيات شمېرټپیان سول . زیاتره یې له دې امله ژوبل سول ، چې دچاودني له امله پرخلکو باندي دخوني دروند چت راونړېدی اوخلک ترلاندي سول. دبی‌احتیاطی له امله نورحوادث هم پېښ سول ، چې هره یوه یې دیوه یادوو تنو دمرګ یاژوبلي سبب سوې ده . په پای کې امیرماته امروکړ، چې دمقرراتو یولیست ورته جوړکړم اودخطردکمولو اوچاودنو دمخنیوی له پاره بشپړي ضروري لارښووني ورکړم . بندیزونه ولګېدل، ضروري کارونه سرته ورسېدل اومقررات عملي سول . له هغه وروسته حوادث هم ورسره ودرېدل.

دکاریګرانو مزدزیاتره دومره دئ چې له لوږي په راوګرزي. په داسي حال کي چي خینو کسانو بیا شخصا امیرته دخینو وړوکارونو په سرته رسولو سره خپل مزددومره زیات کړی دئ ، چې ورسره نه ښايي . ورکشاپونه تقریبا اتلس کاله وړاندي پیل سوی دي اودزیاترو کاریګرانو مزدچي دلومړي وارمقررېدلو پروخت هلکان وو، لاپرهماغه اولني حال باته دئ. په داسي حال کي چي دوی په کارکي دتجربې موندلو له بابته حکومت ته ډېرسترارزښت لري. دخوراکي موادو دبیوحیرانوونکي جګوالي دوی ته لازیاتي ستونزي پېښي کړي دي .وچه ډوډی چي ددوی اصلي خوراك دئ، اوس تریخوا څلورچنده ګرانه سوې ده . یوشمېر کسان سته، چې په خینو ټاکلو ماشینونو کي دشاپونو له هماغه پیل راهیسي کارکوي اوپه میاشت کي اته روپۍ( پنځه شلنګه وڅلورپنسه ) جوړوي . داخلك مېرمني اوکورنی لري . کله خوېې لانورښځینه خپلوان هم دغاړي وي . داچي دوی څه راز ژوندکوي ، پخپله یوه معماده . خوداخلك پرهډوکو باندي لکه څرنګه چي ښايي، وازګه نه لري. نورکاریګر زیاتره هلکان دي چي نـریو کارونو



دکابل ورکشاپونوپه باغچه کي عسکر دپیرې او ډوډۍ خوړلوپه حال کي

( دمولف رسامي )

ته گومارل سوي دي اودمياشتني يې په لسو روپيو (شپږشلينګه اواته پنسه) کارپيل کړی دئ .زياتره ماشين کاران اولاسي کاريګردمياشتني شل دېرش روپۍ اخلي.استادان دمياشتني له شلو څخه ترسلوروپيو پوري ګټي (ديارلس شلنګه وخلورپنسه ـ شپږشپېته شلنګه واته پنسه).

له حکومتي ورکشاپونوپرته په هيوادکي يوشمېرمحدود کسبونه هم سته . دامحدود کسبونه چي په کوچني سطحه چليږي، مسګري، حلبي سازي، آهنګري، دسرواوسپينو زرګري ،ترکاڼي، دڅرمني کاريګران اونوردي. دهيواددسوداګرۍ زياته برخه وچه ميوه ده، چي هندوستان اوروسيې ته صادريږي . تازه انګورهم هندوستان ته لېږل کيږي ، په وړيو کي يې پيچي اودلرګيو په کوچنيو بکسوکي اچوي . کابل اودهغه شاوخوا سيمي په پرېمانه اندازه ډېرښه انګورلري چي دموسم پروخت يې اته پونډه تقريبا په يوه پنس پلورل کيږي . ډېرښه انګوريي يوپونډدپنس څلورمه برخه بيه لري . زه له دغوانګورو څخه شراب جوړوم . دوه دري ډوله سره ګډوم، چي دري کاله وروسته له ټولو هغوشرابو سره يوشان وي، چي په هندوستان کي عموما پلورل کيږي. څرنګه چي دادخالصو انګورجوس(شربت) دي، بنايي ترزياترو نوروښه وي. زردالوهم په زياته اندازه سته . زردالواوانګوردصادراتي وچي مېوي ستره برخه جوړوي. غلې دانې هم صادريږي خوپه زياته اندازه نه. څرنګه چي وړل يې ارزانه دي څکه نودزياتو موادو لوی تجارت څني جوړېدلای سي. په کابل کي زياتره مېوې اوترکاری کيږي و دټولو هغومېوې له پاره چي دحاره سيمي لمرنه غواړي . دکابل آب وهوا ورته په څانګړې توګه مساعده ده. دجلال آباد اوکندهار په سيموکي تودوخه دومره ده چي دحاره سيمي زياتره مېوې پکښې شنې کېدلای سي . په جلال آباد کي په زياته اندازه ګني توليديږي.

وربښيم هم په پوره اندازه توليديږي . اوپه هيوادکي دوربښمودچنجي دروزني له پاره خورازيات امکانات سته . همدا اوس وربښم په دريو سيمو کي توليديږي : بخارا ،هرات اوکوهستان . په کوهستان کي دنورو سيمو په نسبت په لږاندازه دي. غالي هم جوړيږي . دهرات اوترکستان دا، ايراني غاليو ته ورته اودکندهاراوهزاره وو دا، کراستي(نيمخی) دي. دهيواد په بېلابېلو سيمو

کي په لاس باندي ډول ډول ټوکران اوپه غزني کي زيات شمېرپوستينونه دپسوله پوستکو څخه جوړېږي . دغه موادزياتره دهيواد دخپلو اړتياوو دپوره کولو له پاره توليدېږي اوصادرېږي نه. په بېلابېلو سيموکي زيات شمېر اوښان، اسونه ، غوايي اوپسونه روزل کيږي خوډېرلږيې صادرېږي . له تېروخوکلونو راهيسي اسونوته له هيواده بهردخرڅلاوله پاره دايستلواجازه څکه نسته چي وېل کيږي، هغوى دهندوستان دلښکروله پاره رانيول کيدل. دترکستان ( ۱ ) سيمه داسونو او مواشيودروزلو له پاره دافغانستان ډېرښه سيمه ده . په دغه سيمه کي خورا زيات سمسورڅرڅايونه سته اوله ترکستانيانو څخه چي څوک دهغوى دسيمي دکرني اودمنرالونو دشمتنيو په باب خبري واوري ، نوپه زړه کي بې Eldorado (۲ ) ور وګرزي، دجلال آباد له شاوخوا څخه دسيند داوبو په واسطه لږاندازه الوارونه(چارتراش لرګي ) هندوستان ته دخرڅلاو له پاره لېږل کيږي، خودااندازه ډېره کمه ده ، څکه دافغانستان دزياترو سيمو غرونه اوشاګی ببخي لوڅي دي اوخال خال دلته وهلته محدودي درختي پکښې وي.

په هيواد کي ورياوي(بارانونه ) لږکيږي خوپه ژمي کي دواوروتوپانونه اکثره وي . په پسرلي اودوبي کي دکښتونو دخړوبولو له پاره داړتياوړ اوبه په غرونو کي دواورو دويلېدلو له لاري پوره کيږي . دااوبه ټاکلو شيموته دويالو له لاري رسيږي . دغه کانالونه هرکال په پسرلي کي پاکيږي . دويالې دپاکولوپه ټاکلې ورځ ټول هغه کسان چي له دغواوبو څخه کاراخلي ، دډول اوسورنا (يادې ته ورته وسايلو ) په واسطه سره راغونډيږي . دوی هره ورځ په نوبت سره کارکوي. له ويالې څخه ببکاره وابښه راټولوي . ويالي ژوروي اوختېه يې ترپايه خني باسي(۳ )کله کله دکروندګروترمنځ په فرعي ويالو کي داوبودلوميې واراستعمال پرسردعوي(شخړي ) پېښيږي . څکه کوچنيوويالو ته زياتره هومره اوبه نه رسيږي ، چي دکروندګرو له پاره دی کافي وي . څرګنده ده چي جګړه لوميې پردې خبره پيل سي ، چي څوک بايد اول واراوبه ولګوي . له جګړه کوونکو سره عموما اوږده اوږده يومان(بېلونه ) وي اوپه جګړه کي کار ورڅخه اخلي ، چي کله کله سرې هم پکښې ووژل سي . ديامه ورای ډېردروند دي اوژور ټپونه خني پېښيږي.جګړې کله کله دې اندازې ته ورسيږي چي خني کسان دنورو درمندونه

په غځ اخيستلو کي وسوځي اوکه پردغه کارڅوك شاهدي ورکړي، نوبيادواړه خواوي محکمې ته عرض کوي .

دغنمو داوړو کولو ژرندي دويالو پرټاکلو مناسبو ځايونو باندي جوړي سوي وي اوپه اوبوباندي چليږي ، چي دکارشمره يې ډېرلږ اودهغي قوې څلورمه برخه وي، چي ژرندي ته ورکول کيږي . ژرندي يې ډېري پخواني او زوړماډل دي. يوه ډبره (پل ) پرپله باندي پرته وي اوغنم دهغه سوري له لاري ورسيږي ، چي دپاسني ډبري په منځ کي جوړسوي وي. لومړي واراوړه ډېرغټ‌چيچن (زيږه ) وي اوکه څوك غواړي ښه يې ميده کړي ، بايد دوه دري واره يې ترژرندي وباسي .

په افغانستان کي دمالونو دلېږدونو (انتقال ) چټکووسايلو ته ډېره زياته اړتياسته . په اوسني وخت کي دحيواناتو پرشادبارونو انتقال دټولو شيانو دوړولو راوړلو يوازني وسيله ده . اوځرنګه چي ديوه لنډ واټن انتقال له پاره ډېرزيات وخت لګيږي ، ځکه نودکراهي سيستم ګران تماميږي اودسلو ميلو واټن وهل څواوني نيسي . ددغه رازکاربيه دهمدومره واټن له پاره پرسل سېره وزن باندي اتلس شلنګه ده . دابيه په داسي يوه هيواد کي ډېره لوړه ده، چي هرڅه پکښې ارزانه دي. دهرشي وزن اواندازه داسانوډااوښانو دباروړلو په ظرفيت پوري محدوده ده .

کوچيان زياتره له يوه ځايه بل ځاى ته دمالونود انتقال دنده سرته رسوي . دايوه غښتلې اوسخت سرې قبيله ده اوهغو Gipsies ته ورته ده ، چي کورنه لري . دوى دپنځو سوياسلوځارويو له يوه کاروان سره خوځيږي ، چي اوښان ، اسونه، خره اوپسونه پکښې وي . دوريو کوچني رمې هم وسره وي . له کاروان سره هرچيرته چي ځي، ښځي اوماشومان ، دکورلوښي اويولږشمېرچرګوړي چي پرخروباندي يې بارکړي وي ، ملګري وي. دچرګوړو پښې يې ورتړلي وي چي ونه تښتي . کوچني ماشومان که ولري ، هغوی يې هم په يوه کجاوه کي دچرګوړوځنګ ته بارکړي وي. دوى اکثره دپسونو غټې رمې لري اوهغه کوچني وري چي سفرنسي کولاى ، دهلکانو اونجونو په غېږکي انتقاليږي . کله چي پرهرځاى باندي واړوي ، زيږې کوډلي دروي ، چي له لرګيو څخه جوړي سوي

اودپاسه یې بوریاوي اووانښه وي. (۴) خوکله کله بیاد استوګنې ځای دونو اوګاروپه منځ کې وي . دوی ښکلي خلك دي آزاد اودخوندمزلونه وهي. دوی په آزاده هواکي ژوند کوي اوپرله پسې مشق وتمرین هم ورسره کوي . بې له شکه په دغه راز ژوند کې ناروغ ماشومان نسي پایېدلای. همدا سبب دئ چې ژوندي پاته سوی کسان ډېرغښتلي اوپیاوړي دي. یوه ورځ چې ماپه یوه دره کې ساختماني کارکاوه ، دغه راز کاروان مې خنګ ته تېرسو. یوچااحوال راووړ چې کوم توندباد یوکوچنی اوښ اخیستی اودکاروان له یوې پیغلې نجلۍ سره یې جنګولی (ټکرکړی ) دئ . نجلۍ یې ښه ډېره لیري غورځولې اوهوري یې په ډېرشدت سره له تېروتېروسره ټکرکړې ده. ماورمنډه کړه اوفکرمې کاوه چې نجلۍ به مړه سوې وي . خونجلۍ له یوځوښښو وروسته اوچته راوغورځېده ، جامې یې له دوړو ټك وهلې ( وڅنډلې ) اوبیرته بې پروا رهي سوه . دکوچیانو ښځې مخونه نه پټوي اوکه کوم انګرېز یې مخې ته تېرسي، خپل مخونه په پوړني (څادر ) پټوي . ددرمندونو اخیستلو پروخت، کله چې دکښتوسیمو تودوخه د رموږخاروېو له پاره ډېره جګه وي اوله دې امله نورکارونه نه وي، کوچیان له یوه ځایه بل ځای ته دلوګرو (لوکوونکو ) په توګه ځي . کله چې دیوې سیمې کښتونه لوسول ، بیابلې ته ځي . دلووخت په بېلا بېلو سیموکې دمختلفو ارتفاعاتو له امله توپیرسره لري . هغه نارینه چې داوښانو څارنه کوي (چوپان ـ م، هوتك ) دشپې له خواخپل اوښان په یوه داسې حلقه کې سره تړي ، چې پزې یې ګویا دحلقې منځنی برخې ته متوجه وي . سړی ( چوپان ) دحلقې په منځ کې داوښانو ترغاړو لاندې څملي اودهغوپه منځ کې بې خاره Unmolested بیدیږي .

چای دهندوستان له لارې واردیږي. که څه هم دعاموخلکو په باب وي نوهغوی یوازې شین چینایي چای مصرفوي ، چې له چین څخه بمبۍ ته اوبیاپه اورګاډي کې پېښورته اووروسته دکابل سوداګروته رسیږي. دکندهاراوهرات سوداګریې دکوټې له لارې ترلاسه کوي. له پېښوره کابل اوله کوټې څخه کندهارته پراوښانو باندي وړل کیږي . هرکال یوه زیاته اندازه چای واردیږي . غریب خلك یوازې غرنی هندوستانی چای کاروي . په نوروېې ، چې یوپوند یې

له دریوشلنګو څخه ترپنځوشلنګو پوري دئ ، وس نه رسیږي . ما یو وخت هڅه وکړه په کابل کې دهندوستان شین چای رواج کړم . خوخوندیې چاخوښ نه کړ. دوی په نظردهندوستانیو چایو دزیاتي کړنې سبب همدا (خوند ) دئ .

نورواردات مواد نخي مالونه، ټوکران ، وربښم اوبخمل دي. وروستي دوه مواد (وربښم اوبخمل ) په زیاته پیمانه دښځوله خوا کاریږي . یووخت سړیو اوهلکانو هم وربښمني جامې اغوستلې . ددرباراوسني فیشني جامې دتورټوکره وي، ځکه نوپه نارینه وو کې دوربښمنو جامو تقاضالږسوې ده . داسانو زینونه اودځرمنو نورمالونه ، مستعملي جامې ، بوره اودکورداړتیاوړ نورمواد له هندوستان څخه دسوداګروپرلاس راوړل کیږي. خوددغو موادو تجارت ډېرکم دئ .

په کابل کې دغلودانو، مایعاتو اونوروموادو له پاره مقیاسونه نسته . ټول شیان په وزن پلورل کیږي . وزنونه یې په هندوستان کې له مروجه وزنونو سره ترپیرلري اوله نخوده یې جوړکړي دي . نخودهغه مقدارته ویل کیږي چې دیوه نخود (چڼه ) په اندازه وي، که څه هم ټول نخود په یوه اندازه برابرنه دي. دهمدانخودوځلېرویشت داني یومثقال کیږي . شپږمثقاله له یوه اونس سره برابردي، شپږنوي مثقاله یوپاوکیږي چې ترانګلیسي پونډ لږڅه کم دئ . شپاړس پاوه یوسېراواتیاسېره یوخرواردئ . له حکومتي مغازو پرته په نوروځایو کې دقیق کاڼي (وزنونه ) نه کاریږي. په بازارکې خلك دوزنونو له پاره بېلابېلي ډبري کاروي اوالبته دډبرو اوحقیقي وزنونو ترمنځ توپیرددوکاندارپه ګټه وي.

داوږدوالي له پاره دوه مختلف یارډونه (Yards ) سته چې دوی یې ګزبولي . هغه چې دسروې کوونکو اوبنایانو (ختمګرانو ) لخوا کاریږي ،نږدې اته ویشت انچه کیږي اودابل ګز، چې ټوکران اونورمواد په اندازه کیږي، دوځلوېښت انچه دئ . کروه یامیل چې مایې تقریبا غیرمعینه اندازه وښووله ، معمولا له یونیم انګریزي میل (Mile ) سره برابره ده.

حکومتي دفترونه دمیرزایانواوکاتبانو لخواکنترولیږي اوهغوی کارپکښې کوي، میرزاته په هیوادکې دتعلیمیافته سړي په سترګه کتل کیږي خودده تعلیم په فارس ادب، یولږ څه زړه عربي اودریاضي په څلورو اصولو کې لاهـــــم سم

مسلکي نه وي . که په جمع کي خبره وکسر (اعشاريه ) ته ورسيږي ، نو بيا دی لاس ترزني ورته ناست اوپکښې ورك وي . زه يووخت حاضروم چي ددوی اتلس تنه سره راغونډوواوغوښتل يې يوه داسي محاسبه حل کړي چي صرف ضرب پکښې و. دوی ټولو مختلفي نتيجې څني راايستلي وې . کوم يوه چي خواب يې حقيقي خواب ته يوڅه نزدې و، خانته د لږ څه سم خواب په خاطرډېرکرېډيټ ورکاوه . ميرزايان که څه هم له ټولوطبقو څخه متشکل دي، خودوی پخپل ذات کي يوه طبقه ده اوله نوروگړو څخه ددوی دسخت اونرم چلند له مخي توپيرلري. البته ددغه چلند ترشايې پربل چاسخت زړی اوظالم طبيعت پروت دئ . ميرزايان ددفترونو دڅانګو مشرتوب ته، دخپلي پوهي اوپه کارکي دمهارت له امله نه رسيږي ، بلکه دې مقام ته هغه څوك رسيږي ، چي په چل وچلبازۍ کي ماهروي. خوان ميرزايان کله ديوې قضيې په جوړولو کي دخپلو مشرانو خبروته غوږنيسي ، چي په هغه کي کلمات اومفاهيم په قصدي توګه داسي راوړل سوي وي ، چي ده ته دقضيې دناکامی په صورت کي دتېښتي لار خلاصه پاته وي . دغو اړخونوته زياته پاملرنه کيږي . ميرزايان له ټګماريوډك دي اوعادي سړی ژربه دام کي اچولای سي . دوی حتی يودبل پرضدياهغو کسانوپرخلاف ، چي زياتي پيسې لري ، هم په دې خاطردسيسې کوي ، چي په يوه يابله لاريې په خپله کړی کي راتاوکړي اوښه يې ونښتېځي.

کوم کارته چي دوی زيات ارزښت ورکوي هغه دادئ ، چي دهغومامورينو پرخلاف خپله خبره مدلله اوپه اثبات ورسوي ، چي اميرته يې ربوټ ورکړی وي اوپه هغه کي يې نوموړی شخص دلګونو سرکاري روپيوپه خوړلو متهم کړی وي ددغسي قضيو له ربوټ ورکولو وروسته دوی ته معمولا داتهام دثبوتولو کارپه غاړه کي ورلوېږي ، چي داکاردتورن شخص دصورت حساب دسپينولو اړتيا رامنځ ته کوي اوپه دې ډول نوبيادوی ترتفتيش لاندي کتابواوکاغذو کي دراغلو اعدادو او ارقامو پروانه ساتي ، بلکي پخپل فکرکي په هغه څه پسې ګرزي چي څه راز داسي واړه اتهامات پيداکړي اوتورن په متهم کړي، چي ردول يې سخت وي. بيانو ددغو کوچنيو اتهاماتوله پاره، چي ښه يې رنګ ورروغن کړي اوبې‌سولي وي. په کاغذونوکي ګوري . څرنګه چي هيڅ يومامور د خپلـــو

وظایفو په برخه کي له ښکماری اوچل ول ځخه خلاص نه دئ ، خکه يې پرضد د دځوناوړو قضیو جوړېدل عموما گرانه خبره نه ده . تردي وروسته نودوی ارقاموته مراجعه کوي اوزه داسي کسان پېژنم ، چي دهغې اندازې په دوه چنده پیسو خوړلو تورن سوي و ، چي په واقعیت کي ددوی په لاس کي وې. داکار ډېرساده دئ ، خکه دمیرزایانو پرشاوخواځومحدود تنه داسي کسان وي ، چي ترشلوپوري يې حساب زده وي . دمیرزاکاغذونه د خورا ستر مقدار د تروښولو (لوټولو ) ثبوت ښيي . وروسته داټول کاغذونه اوثبوتونه ! د امیر حضور ته وړاندي اوبه پای کي نوتورن شخص اوکورنی يې جېل ته اچول کیږي .ټوله پیسې اونورجایدادې ضبطیږي، چي رشتیا سي ، ټول جایداد يې نه ضبط کیږي، خکه دتفتیش کوونکو میرزایانو لاسونوته بیاپه دېخاطرچي دسزادلغوه کولوبالبرترلږه دهغې دکمولو له پاره زیاروباسي ، ښه پوره اندازه پیسې رسېدلي وي. میرزایان ترهغوچي پیسې يې ترلاسه کړي نه وي په چاباورنه کوي . خکه دوی پوهیږي چي داسي لوبه يې پیل کړې ده چي یابایدسری له منځه پکښې ولاړسي ، یایې له خطره وژغوري اویابه ترځان زیات فعال دښمن ورته په انتظارکي وي . په هرصورت عوض ومعاوضه تل روانه وي . خکه هیڅ میرزا پرخپله چوکی دزیاتي مودې له پاره نه پاته کیږي اوداسي یوه ورځ راځي، چي له دسیسه جوړوونکي سره پخپله دده په شان معامله وسي . یاجېل ته ولویږي اویاووژل سي . په لوړودفترونوکي دیوه میرزادکارکولو موده معمولا دوه درې کاله وي . خکه دپیسو موندلو لاري چاري چي ده ځان ته غوره کړي وي، دنورومیرزایانو لخواکشف سي . دځانونو له پاره يې ددغي چوکی دترلاسه کولو رخه په زړه کي پیداسي اوبه دې ارمان، چي که يې په ژوندکي دلږوخت له پاره یوواربخت بیدارسي ، باید یوڅه وکړي . ددعووبه جوړولو کي میرزایان هغه څه کوي چي نوريې کوي . ناحقه شاهدی ورکوي اوداکارکله دومره پرمخ ولاړسي چي امیرلاپکښې ورك سي اونه پوهیږي ، چي کومه خواحق په جانب ده . ددې له پاره چي حقیقت ځان ته معلوم کړي، امروکړي چي ټولوته دي د قانه ورکولو سزاورکړه سي (٥) . مادوه تنه میرزایان یوه ورځ په بازارکي ولیدل چي دناحقه شاهدی په توردخلکو په وړاندي قانه سوي وو اودقانه ورکولو

دکابلي میرزایانو یوه ډله

په لرفشارېږ ډېرژر اقرار وکړ. دوی د هیواد ترنورو خلکو لږ درد زغملای سي. داځکه چي گرده عمرپرځای ناست اوپرله پسې چلم څکوي. داسي کوم میرزابه ونه وینې چي څنګ ته یې چلم پروت نه وي.

میرزایان دپیسوجوړولو بېلابېلي لاري چاري لري، چي یوه یې دگمرکي محصول اونورو مالیاتو دراټولولو وظیفه ده اودوی له دې لاري چي څومره کولای سي، له خلکو څخه پیسې اخلي. که یوڅوک وغواړي چي دخپلو تادیه سویو پیسویامالونو رسید ترلاسه کړي، اومیرزاته پیسې ورنکړي باید چي ټوله ورځ ورته منتظرپاته سي. کله لاهم څوورځي ورته انتظارورباسي. له هغه ځاڅخه، چي ښبوزله وي، یادوی یوه سي، چي نورڅه نه په بودیږي، دیوه پنس معادل لاهم دمنلو وړ ده. که یوڅوک میرزاته دځو انو له ورکولو څخه ډډه وکړي بایدچي کابل ته ددې له پاره ددو دریو ورځو له پاره سفرپرځان ومني، چي هلته تریوې روپۍ لږمالیه تحویل کړي اوڅوورځي لاورته انتظارهم وباسي. ځکه نوخلك ويني، چي میرزا ته یې دځوپیسو په ورکولو کي گټه ده. که دمیرزا له لاسه کوم لوړمقام ته شکایت وسي، دده ددفترټول کسان قسم وقران اخلي چي نوموړي شخص کورتې ورته راغلی نه دی. دغه راز که له حکومتي خزانې څخه یوڅاته پیسې ورکول کیږي، هم باید ټاکلو میرزایانو ته یوڅه ورکولي سي اوداپیسې ځکه اخیستل کیږي، چي میرزا معمولا دپیسو په شمېرلو کي یوه یازیاتي روپۍ باقي(short ) وي اوبه دې ډول دخپل باقي توب سرپه پوره کوي.

امیرمرحوم دحکومت په کارکي څومحدودو گومارل سویو میرزایانو ته تنخواه ورکوله. ده ویل چي هغوی که تنخواه ولري اوکه یې ونلري، له خلکو څخه پیسې اخلي اوځرنګه چي خلك شکایت نه کوي، نوباید دمیرزایانو غم وخوري. دادچارو اقتصادي اړخ ته دپام اړولو یوه لاره ده. دحکومت مغازه داران ټول میرزایان دي اوداسي ښکاري چي ډېرښه شیان ترې راباسي. ځکه ښې جامې اغوندي، پرښواسونو سپریږي اوپه کورکي ډېري ماندینې گانې اوښځي لري. په داسي حال کي چي ددوی کلنی معاش به په ندرت سره ترلسو پونډو زیات وي. په هرصورت ځرنګه چي دګودامـــــداری کوم سیستم نسته

اوهيڅوك نه پوهيږي ، چي په مغازوكي كوم شی سته اوكوم شی نسته ، څكه نوپه داسي يوه وظيفه كي دپيسو غونډولو كارډېره اسانه خبره ده . خوپه دفتركي ددوی دكارموده معمولا ډېره لنډه وي . څكه ترلاس لاندي كسان يې غالبا په دې خاطردموادو دكمبوت رپوټ كوي، چي هغوی ته دپيسو لېږونډه وررسېدلې وي.

كه يووخت افغان ته څوك پووركړي ، بيرته ترې اخيستل يې گويا له ډېري څخه ويني ايستل دي. كه بيخي زيات فشارېږي ونه لوېږي ، ددواړو خبرو (له افغان څخه پوركښل اوله ډېري څخه وينه ايستل.م.هوتك ) سختي سره يوشانته ده . زياترو ته دپيسو بيرته وركول داسي سخت ښكاري لكه زړونه چي يې ورسره ايستل كيږي . دتاديې په وخت كي مخ دومره بدونيسي اودومره عصبي سي، چي فقط ته واڅوك په زوراوبېرحمی سره غلا ترې كوي . اميرمرحوم دپورونو دحصول له پاره يوه لاره راايستلې وه اوهغه داچي دپوروړي كورته به يې عسكرورولېږل. كه به په پوروړي څه نه بودېدل ، عسكروبه يې پركور واړول اودكورښه برخه به يې خني ونيوله . كه به يې په كوركي كوم څه نه درلوده ، سړی به مجبور و هرڅومره ژرچي كولای سي ، ورته برابري يې كړي كنه دتوپك كنداغ ته بايدخان ټينگ كړي . په داسي شرايطو كي پوروړي څكه سمدستي قانع كېدی چي خان دنابللو مېلمنو څخه وژغوري. هغه مېلمانه چي كوربه يې پردابله ورته راالړاوه اوهره ورځ به يې په ډوډی اوچلم باندي زياتي روپی لگولې . هرڅوك ددغوعسكرو ياماسلانو له لاسه( دوی په همدې نامه يادېږي ) حكومت ته عرض كولای سي. خودا عسكركافي اندازه تجربه لري اوكولای سي دغه شان مراجعې پخپله گټه وڅرخوي.

په كابل كي دهندوانو يوه گالوني سته چي څونسله يې هلته تېركړي دي. دوی هغه شان خلكو ته پيسې په پووركوي ، لكه په نورو هيوادو كي چي يې يهودوركوي.دوی دغه راز دزرو اوقيمتي ډبروتقريبا ټول كاروباريه لاس كي لري اوپه وروستيو كلونو كي اكثره كورنی له دې امله چي دژوندداړتيا وو دقيمتونو جگېدوله امله له لوږي څخه خانونه وژغوري ، مجبورسوي دي خپل زيورات وپلوري . هندوكه پريوه شي باندي كومه بيه كښېښنوله، هغه بايد دنوموړي شي

دارزښت له دوه پردرې برخي څخه هیڅکله زیاته ونه ګڼل سي . خلك چي کله یوپربل باندي کوم شی خرڅوي ، په خپلو منځوکي وايي، چي هندوانوپه دومره پیسو غوښت. معنا داچي ددوی له خواایښوول سوې بیه یومناسب قیمت دئ . څیني هندوان دخزانې په دفتروکي مقرر سوي دي اوترمیرزایانو هم زیات معتبر خلك اوهم ښه محاسبین دي.

دهیوادپیسې دکابل په ضرابخانو کي وهل کیږي چي په عصري ماشینونو سمبال اوپه ورکشاپونو کي موقعیت لري. اوکله چي زیاتو پیسوته په عاجله توګه اړتیاولیدله سي، شپه وورځ کارکوي . امیرمرحوم دپیسوزیات شوقي و. کله چي یې لیدل ، عواید کال په کال لږیږي ، نوداسي وسایلو په لټه کي سو چي پیسې په زیاتي کړای سي . هغه و، چي یوه ورځ له دې لاري دپیسو دزیاتولو نظریه ورپیداسوه . دکابل روپۍ دشکل له مخي یوه غیرمنظمه سکه وه اوپه لاس وهل کېدله . خوله سوچه سپینوزرو څخه جوړه سوې وه . امیرمجبورسو داټولي روپۍ راغونډي کړي اوترراغونډولووروسته یې ویلي کړي . ترویلي کولووروسته یې په زیاته فیصدي باندي مس ورسره ګډکړل. دغه مخلوط سپین زرې په نوې ضرابخانه کي له سره بیاضرب کړله اوداسي روپۍ یې څني جوړي کړې چي څنډي یې ښوی او په ښکلي توګه حك سوي دي. په دې ډول امیردسوچه سپینوزرودپخوانیو روپیودویلولو اوبیاسکه وهلو دمخه ورسره دمسودګډولو له لاري خورازیاته ګټه وکړه اوکله چي دده دخپل هیواد پخواني روپۍ خلاصي سوې بیا یې ایراني روپۍ راغونډي کړې، مس یې ورسره ګډکړل . له بده مرغه دایران دیوشاه په وخت کي عین همداکارسوی و اوپه افغاني روپیوکي دمسوبرخه دنوروهیوادو دسکه وهلو ترمعمول ستنډرډ دوه چنده لاهم زیاته سوه. څکه نوامیرحکم وکړچي هغه ایراني روپۍ دي راټولي سي چي دنوروشاهانو په وخت کي ضرب سوي وي. دکابل په خزانه کي یوه ایراني روپۍ په یوه کابلي تبادله کېدله . امیرددې له پاره چي زیاته ګټه وکړي ، امرېې وکړ، چي دهري ایراني روپۍ په تبادله کي دي ترکابلي روپۍ یوPice (۶) لږورکړه سي.شاه ددې خبري په اورېدوسره دده په هیوادکي دټولوافغاني پیسو په وړاندي دعین تخفیف راوستلو حکم وکړ، په روپۍ کي د غیرمعمولي اندازې

مسوزياتوب اوبولړ نور عوامل ددې سبب سول ، چې پــــه هندوستان کې دهغې ارزښت راټيټ سي اوپنځه کابلي روپۍ له څلورو هندوستاني روپيو سره تبادله سي. اوس يوه هندي روپۍ په دوو کابليو روپيو تبادله کيږي.

## دځورلسم څپرکي لمنليکونه

( ۱ ) له ترکستان څخه دمولف مراددافغانستان شمالي سيمي دي چي پخواپه همدغه نامه يادېدلي(پښتوژباړونکی )

( ۲ ) دغي انگليسي کلمي ته يې په قاموسونوکي په(ودانه سيمه ، له زروړکه سيمه، شتمن هيواد ) ترجمه کښلي ده (پښتوژباړونکی )

(۳ ) دي ډله ييز کارته په اولسي اصطلاح (اشر ) وايي(پښتوژباړونکی )

(۴ ) دارازکوډلي په کوچيانو کي رواج نه دي ـ کوچيان توري کړدی لري(پښتوژباړونکی )

(۵ ) « فانه» تورن شخص ته د شکنجي ورکولويو راز سزا ده . دلاس دگوتوپه پيوستونو کي به يې لرگي ورايښوول او د لرگيو پر سرو باندي به يې سخت فشار راووست . دفاني په سزا کي دزياترو متهمينو دلاسو گوتي ماتېدلي او پسي وچېدلي . (پښتوژباړونکی )

( ۶ ) دپيسو ډېر کوچنی واحد ، چي غالبا به دپول معادل وي ( م.و )

# پنځلسم څپرکی

## د هيواد جيولوجيکي حالات

دکابل وادي يووخت اورغورځوونکي خوله وه ـ کابل يووخت يوسترجهيل و ـ دسروزرو، مسو، سرپو ـ دډبروسکرواونوروکانونو رګونه ـ سيندونه اوپه هغوکي سره رز ـ په جنجال کي دلوېدوله وهمه دحال نه ويلودود ـ دترکستان کانونه ـ دکابل ورکشاپوله پاره دسونګ موادو مساله ـ دداخلي زېرمي ختمېدل ـ دکابل په وادي کي دډبروسکاره .

---

ليري نه ده چي کابل وادي دي ديوه لرغوني اورغورځوونکي غره خوله وي، ځکه دنورو دلايلوترڅنګ دکابل شاوخواغرونو کي ډېرداسي ځايونه سته ، چي په هغوکي دلاوا موادو (Lava Cones) له مخي ديوه ولکانيك عمل نخښي ليدل کيږي. دغه رازپه زياترو ځايوکي دستروکانګريټي بلاکونو په بڼه دکوچنيوډبرواولاوا دګډېدو بسترونه سته ، چي سمدلاسه دکانګرېټي بلاکونه خيال پرکيدلای سي. يوڅودغه شان بسترونه ځوځوسوه متره اوږدوالی اوپسورلږي اوزياتره دغرو په بېخوکي پراته وي ، چي ديوې داسي ستري کلاياماني د تاداوونو په شان معلوميږي چي اصلي ساختمان يې نړېدلی اوله منځه تللی وي اودپېړيو پېړيو اوربنتونو يې شاوخواخاوره پريولې اويوازي يې دکانګريټي بسترونو نښاني پاته سوې دي . داسي ښکاري چي ويلي سوي لاوادغرونو بېخوته رابهېدلې اوله ځان سره يې کوچني ډبري اخيستي اودمځکي سطحي ته له رسېدو سره سم يې ژر غوړېدلې اوپرمځکه باندي سره سوې اوکلکي ګاري ځني جوړي سوي دي.

دکابل دشاوخوا مځکي قشرونه په ډېرګډوډحالت کي دي دځينو شاوخواغرونه اوشاګيو قشرونه جګ جګ ولاړدي . داسي ښکاري چي دهواري سيمي خاوره دي يې يومخي ايسته سوې اوپای ته غورځول سوي وي اوبې له شکه همداسي سوې ده .

زلزلې ډېري عامي کيږي اوډېري سختي اوزيات شمېرزلزلې معمولا په اکتوبراو نومبرکي کيږي. يوه زلزله چي زه پخپله يې شاهدوم اوترټولو سخته وه

، دډسمبرپه پای کي وسوه . څرنګه چي دکابل کوررونو دېوالونه له اوموخښتو
خخه جوړاوباموته يې ډېردرانه دي، زياتره کورونه دزلزلې
ې وروسته
دبادسخت توپان راوالووت . د ونو غټې ښاخونه يې مات کړل اونزدې وچې
کړکي له ېښخه وکاړي . دغه باد ديوه ساعت ياځه زياتي مودې له پاره چلېدی
چي ورسره سم زلزله هم شروع سوه . تقريبا دشپې لس بجې وې، چي زلزله پيل
سوه . زه دمېلمستون يوې کړکۍ ته ولاړوم ، چي له نېکه مرغه ډېره ټينګه
جوړه سوې وه . کله چي دکړکيو ښوربېدل اوزنګېدل شروع سول ، مافکرکاوه چي
دباد له امله دي .دخوني نورکسانوته مي وويل چي که بادپه همداسي شدت
سره روان وي، ډېرژربه کړکۍ له ېښخه وباسي . په همدې خبروکي وم ، چي
دخوني غولی ( فرش ) له يوه سره وبل ته په زنګېدوسو. مادخوني دروازې ته
يوځه چوله ورکړه اوبکښې ودرېدم . ترهغوپوري هورې ولاړوم ، چي مصيبت
ختم سو. دزلزلې په جريان کي د خوني دروازه ترنوروځايومحفوظه وي اوکه چت
راشېوه سي په دغه ځای دخوندي پاته کېدوچانس سته. ددغي زلزلې دوخت
داوږدوالي په باب قضاوت مشکل دئ . خکه سړی زياتره دراتلونکواحتمالاتو
په سوچ کي وي . خوداسي ښکارېده چي څلورپنځه دقيقې روانه وه اوبالاخره
ودرېده. وروسته ماوليده چي دخوني په دېوالونو کي ، سره له دې چي پنځه
شپږفوټه پلن دی ، بياهم غټ درزونه جوړسوي دي . په دابله ورځ مي واورېدل
چي زيات کورونه يومخيزه چپه سوي اواوسېدونکي يې مړه سوي وو.
اميرمرحوم چي په دغه وخت کي دنقرس له امله ناروغ اوپه درباركي ناست
و. کله چي زلزله شروع سوه، له ده سره ناستو کسانو ټولوبهرته منډه کړه اودی
يې، چي د ښور نه و، هورې پرېښو. اميرله زلزلو څخه ډېرپه وېره کي واوپه
دغه وخت کي څوك دده احساس ، چي ځان يې پوازي وموند ، اټکلولای سي .
دی دډېروخت له پاره پرې نښوول سو. څکه دري څلورغلام بچه ګانو دتکانونوله
لړځه وروکېدو سره سم ورمنډه کړه اودی يې باغچې ته وراويويست . تکانونو
اميردومره وارخطاکړی وچي له خطره څخه دبچ کېدو په شکرانه کي يې په دابله
ورځ ددريو څلوروسوتنو بنديانو دخوشي کولو امروکړ. زما هندوستاني نوکران

په دغه وخت کي پخپلو خونو کي بيده وو اوپه تکانونو باندي له خوبه راوغورځېدل.په علت يې نه پوهېدل ځکه دالومړی وارو چي زلزله يې ليدله . بهرته په منډوسول ، په داسي حال کي، چي نازکي جامې يې په تن وې، په واوروکي پرګونډوسول اوپه لوړآواز يې له دغه مصيبت ځخه دژغورني له پاره دوعاوي کولې . په دابله ورځ ټول دتبي له امله پراته ووداځکه چي بدنونه يې لوڅ اوعصبي شاکونه يې خوړلي وو.

کابل ته څرمه په کوهستان کي دغه رازسختي زلزلې کله کله کيږي اوداسونو اخورونه راڅپه کوي . دغه اخورونه چي له ډېرو او ختوڅخه جوړسوي وي اوځني يې صرف دري ځوړّه جګ اوپه کافي اندازه پلن وي . دزلزلې دتکانونو شدت ددغو اخورونو له چپه کېدلوڅخه تصورکېدلای سي . په ۱۸۹۹ کال فال کتونکو پېشګويي کړې وه چي ددغه کال په هغه مياشت کي به ، چي له نومبرسره برابره دي ، زلزلې وسي . تر ټولوسخته زلزله به په يوه ټاکلې ورځ وي چي دوی مشخصه کړې وه . ددې زلزلې شدت به دومره زيات وي چي ټول کابل به وران کړي . دحيرانتيا خبره داده چي دهمدغي مياشتي په پای کي ددوو اوونيو له پاره سرپرسرزلزلې کېدلې اوداسي ورځ به نه وه چي لږترلږه يوتکان دي پېښ نسي .په ځينوورځو کي خوبه لازياتې وې اوشپه وورځ به کېدلې . په هرصورت زلزلې دکال په پای کي معمول دي خوپرله پسې دوام يې ډېراستثنايي وي اودفال کتونکو پېشګويي پرخلکو زياته اغېزه کړې وه . کوموکسانو چي خيمې درلودې دښارترډېرالو دباندي يې ووهلې اوپکښې اوسېدل . ځکه دوی بشپړباوردرلود چي دپېشګويي يوه برخه رشتيا سوه، نوره برخه يې هم رشتيا کيږي . په داسي کورونو کي ژوندکول ورته حماقت ايسېدی چي په يوه ټاکلې ورځ يې چپه کېدل اوددوی ترلاندي کېدل اټکل سوي و . په هرصورت امير،چي له خپلو فال کتونکو سره يې مشوره کړې وه، امروکړ هرهغه څوك به بندي کړي، که دده دحکم ترورځي وروسته ترښاربهرپه خېموکي اوسېده . په دې ډول يې ټول خلك مجبورکړل چي خپلو کورونوته په زورسره ستانه سي. خودامیرله ډاډ سره سره زياترو خلکودکابل دورانېدوټاکلې ورځ په بېره اوواهمه کي تېره کړه اوپرکراره نه وو ، ځګه هماغه ورځ په يوه سترتکان سره پيل سوه او

ټول ښارېږ ولړزاوه . په هرصورت نورتکانونه پښن نه سول اوپه څومیاشتو کې داورروستی تکان و.

خینې زلزلې چې هروخت کیږي ، یوتکانیزي وي خونوري یې بیالړزانده اوښورونکي وي. داورروستی ډول یې یودوه واري دشپې له خواسوي ده . په دغه شپه ټول بیده وو، زه په کټ کي غزېدلی وم ، لابیده سوی نه وم اوراته څرګنده سوه چې ددې ډول زلزلوړغ دمخه تردې چې کورته دي راورسېږي اووېږ ښوروي ، اوربدل کېدی چې دجنوب لوېدیځ څخه دشمال ختیځ پرلورروان وه .

داډول زلزلې یوې ډېري درنې بګی ته ورته دي چې په سرعت سره ترکورلاندي تېره سي، کوروښوروي اوترهغو یې ږغ اورېدل کیږي ترڅویې فاصله ډېرېږي اونوريې نوږغ ورك سي.

ترمځکي لاندي داسي نخښي نښانې سته اوڅرګندوي چې کابل په یووخت کي ډېرسترجهیل و. دغه وادي یوواري نه بلکي څوواري په اوبوکي ډوبه سوې ده . خلکو ته هم داکیسه نسل پرنسل رارسېدلې ده ، چې دغه سیمه چي اوس کابل دئ ، یووخت یوډېرسترجهیل واومحیط یې څومیله پراخ و. له احتماله لیري نه ده چي په دغه برخه کي چي سیند دکابل دشاوخوا غرونو دیوه تنګي له منځه مخ پرهندوستان بهېږي ، یووخت مځکه ښویېدلې اوسیند مخه یې بنده کړې وي، دابوسطح دي یې دومره لوړه کړې وي ، چي شاوخواټوله سیمه دي پکښې ډوبه سوې وي . دغه راز دي داوبو دسطحي جګېدلو دومره دوام کړی وي چي دمځکي دښویېدو له امله په منځ ته راغلي ډم کي نوري دخایېدلو نه وې . وروسته دي یې موانع ټول ورسره وړي ، وادي دي له اوبو تشه سوې، اوترهغودي وچه پاته سوې وي ، چي دمځکي بل وارښوېېدلو درود دپرمختیا مخه بیانیولې وي . له هغو علایمو څخه چي دمځکي ترقشرلاندي دحفریاتو له امله موندل سوي دي، زه دې نتیجې ته رسېدلی یم، چي دامځکه څوواره ډوبه سوې ده اوبېلابېلو یوپربل ایښوول سویو برخوضخامت ښیي ، چي سېلابونه دزمانې په مختلفوپړاوونوکي کښېښستلي دي. دکابل دشاوخواغرونو په څنډوکي هم داسي نښانې سته چي ښیي ، یووخت دي دغه سخري اوګاري په اوبوپریولل سوي وي . په خینو ځایوکي ددغوګارواوګړنګونوپه لاندنی برخه کي

داوبوجریان ښوی سوري جوړکړي دي . داګړنګونه (لاښونه) دساحل لاښونه ورته دي اوځرنګه چي په ډېروجګوسطحوکي لاهم ځني دغه راز سوري ليدل کيږي، سړی دې فرضيې ته رهنمايي کوي ، چي دکابل ناوه يووخت ډېره زياته پراخه وه اوترمځکي لاندي زلزلو دي ورو ورو دمځکي ځيني برخي ، چي پخواتراوبو لاندي وې ، راپورته کړي وي. د رودمسيرته څرمه داسمايي غره پرګاروباندي دسيندله سطحي څخه تقريبا پنځوس متره لوړداوبو نښانې سته . دابه غالبا داوبو دځينو جريانونو ارتفاع وي.

له کابله څخه ډېرش ميله ليري ، دخوردکابل په غرونو کي دډېرو د سکرونوی نري رګونه موندل سوي دي. دارګونه يوپربل پراته دي اوپنډوالی يې توپيرلري . په ځينو ځايوکي دانچ له شپاړسمې برخي څخه بياتراتو، نهوانچوپوري رسيږي . دارګونه دخاوروډنريو ورغونو په واسطه يوله بله بېل سوي دي . دسکروپنډه برخه ترنری کښته پرته ده . په ځينو ځايوکي دمځکي دقشرپه درې انچه ضخامت کي دکاربوني موادو تقريبا دوولس بېلابېل ډولونه ليدل کيږي اوداښيي، چي دلته په بېلابېلو لنډوپړاوو کي تراوبولاندي کېدو څنګه تداوم پېښ سوی دئ .

په افغانستان کي دمځکي قشرډېرزيات سره متفاوت دئ اوپه بې شمېره ځايوکي دکاني ډېرورګونه سته ، چي دفلزبرخه يې غني ده . دارګونه دغروپه بغلوکي راپيداسوي دي . دمسو، سرپو، سپينوزرو، جستو، زربرقو، نيکلو اونوررومعدني ډېرو کانونه په زياته اندازه سته . سره زرديوشمېرشمالي سيندونو په ريګوکي پيداکيږي اوويل کيږي ، چي اکسوس سيندهم له دې بابته شتمن دئ . له کندهاره دوه ميله ليري دسروزرو ځلانده ډېري(Quartz) موندل سوي وې . خوهغه ډېري ايستل سوي دي . دډېرو په منځ کي دسرو زرو دهغونمونو له مخي چي ساتل سوي دي ، داسي ښکاري چي دايو ډېرغني کان و. ويل کيږي چي پخوانيو اميرانو ددغه کان ډېره ستره برخه وړې وه (۱) . دمسوډېري چي ماته يې دازمويلوله پاره رالېږلي وې، دمسوله لحاظه ډېري غني وې اوپه سلوکي ډېرش، څلوېښت مس لرونکي نمونې خوېې ډېري وې. ځينو يې لاپه سل کي شپېته مس درلودل او د معدني ډېرو په ځينو رګـونوکي محلي مس هم

موجودو. دسرپوډبري په سلوکي تراوريازيات سرپ لري اوله دې څخه دگوليو جوړولو له پاره داړتياوړسرپ لاس ته راځي . دسرپوخينوډبروچي ماته يې دازموېلوله پاره رالېږلي وې، په سلوکي لس سپين زردرلودل. دشېږدروازې په غروكي دمسورګونه چي دلته وهلته دغرولة اوږدو سره سم غزېدلي دي ، پيداكيږي . خوداډبرنري رګونه دي اودنوروځايودرګونو په پرتله يې فلز هم لږدي. خوفيصدي يې دومره ده چي په كاركولوازري . دكابل په شاوخواكي غرونوكي، په هرصورت ، دمسودومره بډاى رګونه سته ، چي دزياتوكلونو له پاره دي داروپااړتيا وړپوره كړي . اوكه دهيواد كانونه په بشپړتوګه وپلټل سي، امكان سته چي دنورو زياتو زېرمو موجوديت دي برملا كړي.

دهيوادخلك په خپلوسيموكي دكاني ډبروموجوديت په باب په خبروركولو كي ډېرمحتاط دي اوبېږېږي ، چي كه داشيان وموندل سي ، اميربه يې دراايستلو كارپيل كړي . په دې صورت كي به دشاوخوا سيموخلك وكاركولو ته مجبوراوډېرلږمزد په بدل كي به دسخت اوږرله پسې كارپه نتيجه كي دخپلو كروندو اوغلودانو له كارڅخه ګوښه كړل سي . ځكه يې نوكانونه نه خوښيږي . اميربايد دخپل هيواد له منرالي ثروت څخه دګټې اخيستلو په باب فيصله وكړي اويووخت به يې بې له شكه وكړي . خودخينو ناڅرګندو دليلو له امله ، اميرغوره ګڼي چي دغه كانونه دي ، چي په ثروت يې پوه هم دئ ، پرخپل حال لاس ناوهلي پاته وي . سره له دې چي ده يوزيات شمېرمعدني كاريګران دټول هيواد دكانونو پلټنلواو د ټولو ډبرو او نورو موادو دنمونو راوړلو له پاره ګومارلي دي اوڅرګنده سوې ده ، چي داډبري ارزښتناكي دي اودمخكي له معمولوډبروسره په وزن اورنګ كي توپيرلري . داكاريګرزما ترلاس لاندي وو اوماته امر سوى و، چي لاس ته راغلي نمونې وازمويم او رپوټ وركړم، چي كوم كوم فلزونه پكښې سته . له دې څخه ماته داسي فكرراولېدى، چي اميربالاخره په كانونو كي دكاركولو اراده لري . خوترهغه وخته چي زه له هيواده راوتم ، په دې برخه كي يې هيڅ ونه ويل اوكوم اقدام يې ونه كړ. دمسوله ډبرو څخه په حكومتي چاروكي كاراخيستل كيږي . اميرته ثابته سوې ده ، چي دده خلك ډېرخيرك دي او هركار چي ورښوول سوى دئ ، هغه يې زده كړى او پــــرمخ يې

ښېولی دئ . ده زماپرهغه رپوټ بشپړباوردرلود ، چې پکښې توصیه سوې وه، هروخت چې يې زاړه کارونه بشپړسي ، باید د سرپو ویلولو خلک نورخایوته دکارله پاره ولېږل سي . خوبه دې خبره پوهېدل سخت دي، چې ولي له کانونو څخه داستفادې کارترلاس لاندي نه نیول کیږي. ماته کله کله داسي چورت راولېږي چې امیرښایي دخپلو پیاړو ګاونډیو له سرابنتوب څخه ببرېږي، چې که دخپل هیواد پرکانونو کاروکړي، په لوی لاس به دهیواد دثروت عملي شواهد برابرکړي اوهیوادبه له لاسه ورکړي.

دترکستان خلک چې کله دخپلې سیمې دمعدني ثروت په باب ږغېږي ، ادعاکوي، چې ددوی سیمه ترنورافغانستان ډېره زیاته بډایه ده . خوددغي سیمي کاني ډبري ماته دازمویلو له پاره رالېږل سوي نه دي. یوترکستاني مشرله امیرسره دکتني پروخت له خان سره یوه ډبره راوړې وه اوویل یې ، چې سره زرلري . خوهغه اوسپنه وختله. دامشریوازنی کس نه و چې دغه راز غلطي يې کړې وه . اوسپنه لرونکي ډبري هغه پخواني مقوله رښتیاکوي چې وایي «هرځلېدونکی شی ، سره زرنه دي». دترکستان په دره یوسف کې دډېرو دسکرو یو رګ ښکاره سوی دئ . خوداډبري نوي سکاره یا لیګنایټ(Lignite ) دي. دغه رګ ماته تقریبا شپږفوټه پنډ او ښه ډېراوږدښکاره سو.له دې سکروڅخه په زیاتو مواردوکي کاراخیستل کېدلای سي . کابل ته يې څوټنه راوړل سول چې دلرګو پرځای يې په بایلرهاوس کي دسونګ موادو له پاره وازمویي. داازمویښت بریالی و.خو دغړونو په سختو دروکي داوښانو پرشادسکرو راچلولو اودریو اوونیو مزل وهلو يې مخه نیوله .

دکابل په ورکشاپوکي دبایلرانو له پاره دسونګ موادو دپیداکولو مسلې په وروستیو وختوکي اساسي اهمیت وموند. ځکه له کابل څخه دځو ورځو مزله په واټن دهیوادټولي ونې مصرف سوي دي . دسونګ نورمواد په سختی سره موندل کیږي. په داسي حال کي چې کوم نوي ذیګالګي دسونګ موادو دراتلونکي زېرمي له پاره ابنوول سوي دي ، په اتویاترهغوزیاتو کلونو کي دپرې کولو له پاره نه آماده کیږي . اوسني امیردموضوع دحل له پاره دخپلو هلوځلو په لړکي یوکال یاځه زیاته موده وړاندي یواعلان خپورکړاو په هغه کي يې هرهغه

چاته دزيات انعام ورکولوپېشنهاد کړی و، چې کابل ته نزدې دډبروسکاره پيداکړي. هغه چاته چې دښارپه پنځه ميلي کې دډبروسکاره پيداکړي ، دېرش زره روپۍ انعام، هغه چاته چې په لس ميلي کې يې ومومي ، شل زره روپۍ اوپه دې ډول نورانعامونه اعلان سوي وو. خوپوشرط پکښې واوهغه داچې موندل سوي سکاره به په داسې ځای کې وي چې دارابه لرونکو وسايلو له پاره ديوه ميل په اندازه سړك جوړول وغواړي. که داسې نه وي نودانعام اندازه به دکان دفاصلې په تناسب راکمېږي . داعلان په نتيجه کې خلکو دځوميلو په شاوخواکې په ډېردقت سره پلټنې وکړې ډېرلږکسان حتی دسکرو پرليدلو بريالي نه سول. دوی ځای په ځای په ځينونريورګونو باندې پښېښ سول چې دمځکې ترقشرلاندې ترتحت الارضي زلزلودمخه موجودوه . زه يې دغوسيمو ته دپلټنې اوريوټ راوړولو له پاره ولېږلم اوومې موندل ، چې داد ډبرو نوي سکاره اودومره نري دي چې مصرف کول وربانديي نه ارزي . ترکومه ځايه چې ژوري کيندنې وسوې ، دپنډو رګونو موجوديت يې ښرگند نه کړ. زمادکاريګرانو يوې ډلې چې، دنورتحقيق له پاره ګومارل سوي وه ، دهزاره وو په خواکې له کابل څخه دشپږو ورځومزله په واټن دشيخ علي په سيمه کې دډبرو دنويوسکرو رګونه وموندل اودغرونو په هغدې لړيو کې نورځايونه هم رګونه کشف سول . خوپه دې ځايوکې هم دغرونو موانع وو اوداوښانو پرشاراچلول يې حکومت ته ډېرګران تمامېدل. اميرپيادډېرام ياکوچنې اورګاډي په برخه کې دهراقدام په وړاندې سخت تعصب لري اودادسکرودانتقالولو يوازنی ارزانه لار ده.

ډېراحتمال سته چې دکابل ورکشاپونه دې دماشينونو دچلولو له پاره دسونګ موادو داړتيا له امله ډېرژروتړل سي . له کابل څخه زماله راوتلو لږوړاندې اميرراته وويل ، چې دلرګيو داخلي زېرمه تمامه سوې ده اوډېره لږاندازه دډبرو سکاره نزدې پيداسوي دي ، چې زيات ارزښت به ولري . په آخري ژمي چې ماپه کابل کې تېرکړ، لرګي لږپيداکېدل اوترپنځو کالووړاندې يې بيه درې چنده لوړه سوې وه . په دغه بيه لاهم ډېرلږ موندل کېدل.

له هغه څرګندونوڅخه چې وسوې ، داسې ښکاري چې دکابل تروادي لاندې به غالبا دډبرو ښه سکاره پراته وي . خواميرمرحوم دډبرو دسکرو کارچې ماپيل

کړی و، لېونتوب وباله اوغوښتل یې پوه سي ، چي دمځکي ترسطحي څوسوه فوټه لاندي دښکرو دموجودیت دمعلومولو ګټه په څه کي ده اوڅوك به وکولای سي دمځکي له ګېډي څخه ، چي له اوبوډکه ده اوخاګاني یې ښه ثبوت دئ ، سکاره راوباسي . داهغه څه و، چي ده په دربارکي ویلي وخوماته یې نه و ویلي ، ځکه نوماته په دې برخه کي زمادکارددفاع کولو موقع میسره نه سوه . ده ماته صرف لیکلي و، هیله لري هغه کاریګرچي ددغه کارله پاره استخدام سوي وو، شاوخوا سیمو ته ولېږل سي ، چي که کولای سي په غرنیو سیمو کي دډبروسکاره پیداکړي . په ترکستان کي همداسي وسوه . خودازما وظیفه نه وه ، چي ددغه شان یو مبهم امرپه باب بحث وکړم اونه امیرداسی سړی و ، چي زما دغه شان کارته دې یې غوږنیولی وای . ده چي به کله یو نظرورکړ. په هیڅ ډول یې غلطی منلوته غاړه نه ایښووله.

## دپنخلسم څپرکي لمنليکونه

(۱) داګان دکندهار ښار شمال ته په هغو غرونو کې ، چې توري نوميږي ، واقع و. زماد يادو خبره ده چې دغه ځای خلکو «کان طلا» باله اوشاه مقصود ته نږدې و ( م.هوتك )

# شپاړسم څپرکی

## دين

سني اوشيعه ـ ملايان اوپرخلکو باندي دهغوی اغېزه ـ جهاديامقدسه جګړه ـ پرملايانو باندي دامير مرحوم ناباوري ـ مقدس خلك ـ فقيران اوزيارتونه ـ لېونيانوته دخدای تتلو په توګه درناوی کول ـ سيدان اوحافظان ـ ګدايان اوخيراتونه ـ ددينې سزاپه توګه په ډبروژل (سنګسارول) ـ عبادتونه ـ په عبادتوباندي دنه پوهېدلو سزاګاني ـ مسجدونه ـ رمضان اوروژې ـ حج ـ په استراليا کي افغاني کالوني ـ حلال اوحرام خواړه ـ دماندينو تعدد.

---

دافغانانو دين اسلام (۱) يامحمدي دين دئ ، چي په ټيسوي هيوادو کي زياتره په دغه نامه يادېږي . که خلك دخپل دين له اصولو سره سم ، هغسي چي په قران کي يې ښوونه سوې ده ، عمل وکړي ، نوښه مسلمان به يوښه سړی وي . ځکه دايوقانون دئ، چي دخلکواعتبار اونه اعتبار دهغوی ددينې اعمالو له مخي ټاکل کيږي . په هيوادکي ددغه دين دوې څانګي سته، شيعه اوسني . په وروستی څانګه کي يې شاهي کورنی اودخلکو ستراکثريت شامل دئ .په داسي حال کي چي شيعه څانګه يې په اساسي توګه له قزلباشو څخه چي دايرانيانو اخلاف دي ، جوړه سوې ده . دغه قزلباش دکابل په جنوب لوېديځه سيمه کي ، چي چنداول نوميږي، اوسي . دوی خپله يوه کوچنی کالوني جوړه کړې ده ، خودوی زيات شمېر په کندهار اوهرات کي اودغه رازدايران پولي ته نږدې ژوند کوي . ددغودوڅانګو ترمنځ توپيرزياتره ددوی دمذهبي مناسکو په شکل کي ليدل کيږي . په عقايدو کي يې کوم اساسي توپيرنسته . اوداتوپير کله کله دزياتي وينې توېدني سبب سوی دئ لکه څرنګه چي په پخوانيو وختو کي درومن کليسا اوپروتستانتو ترمنځ دود و .

ملايان يااخوندان Priests هغه کسان دي ، چي په مسجدوکي روزل سوي، په قرآن باندي پوهيږي يا لږترلږه پخوانی عربي لوستلای سي ، په هغه يوازنی ژبه چي دليکلو اجازه يې سته . دوی په روحاني توګه ژوند کوي ، چي له ټاکلو عبادتونو اوروژو څخه متشکل دئ . ددوی تسبيح(۲) Rosary ته ورته دي اوتل

يې په لاسوکي وي . دتګ ، ناستي اوحتی خبروپه وخت کي يې په ګوتو کي
سره اړوي اوپرهره اړول سوي دانه باندي دخدای نوم تکراروي .
کافراوهرنامسلمان ته کتل ناروا دي اودومره ناوړه کارګڼل کيږي، چي که په
کوڅه کي يې له څنګ سره تېرسي،کښته مخکي ته وګوري . ددوی په
نظردکافروژل دستايني وړعمل دئ . دخلکو اکثريت ټول يوشان متعصبين دي .
دوی دغه راز درواغ ويل اودکافرخطاايستل (غولول) ګناه نه بولي (۳).
په خلکوکي دملايانو نفوذبېخي زيات دئ اوجهادياددوی ددښمنانوپرضد
مقدسي جګړې ته دهغوی په رابللو کي هيڅ ستونزه نلري. دوی استدلال کوي
چي ددوی ددين دښمن دخدای دښمن دئ اوله دې امله دکرکي ونفرت
وړموجودګڼل کيږي.قران ددغه راز خلکودوژلو امرکړی اوکه دوی په دغه
رازعمل کي پخپله ووژل سي ، خدای وعده کړې ، چي سيده به جنت ته ځي .
که څوك دکافرپه وژلوکي ناکام سي اوپه دغه تلاښ کي پخپله ومري، په جنت
کي به يې مرتبه ترهغه چالوړه کمه وي چي بريالی سوی وي.
ملايان دغه رازښوونه کوي، چي په جنت کي به ښه مسلمانان دداسي
ونوترسيوري لاندي پراته وي ، چي پاڼې به يې د سرو زرواوسپينوزرو وي ؤ
مېوې به يې قيمتي ډبري وي. شاوخوا به ښکلي حوزې پرې راتاووي اودده
ټولي غوښتني به ترسره کوي . دشيدو اوعسلو رودونه به يې څنګ ته بهيږي.
په دغه جنت کي که دوی هرهغه ښکلي مرغه وغواړي چي په
شاوخوا ونو کي ناست اورپېزکوي ، مرغه په سمدلاسه ورته پوخ
سوی اوحاضرکړه سي اوترخوړولو وروسته به مرغه بيرته په پخواني
بڼه سي اوښاخوته به والوزي ، داځکه چي په جنت کي مرګ نسته
. څرنګه چي دافغان ژوند په عمومي توګه د ژوندي پاته کېدوله
پاره يوه اوږده مبارزه ده ، څکه نوپه دغه تصويرکي ديوه عادي
افغان دغوښتنو دترسره کولوله پاره دراتلونکوخوشاليو په باب
کافي اندازه موادسته .

قران تل په ډېري درناوی سره ساتل اولاس پرلاس کیږي . دلوستلو له وخته پرته نوروخت په څوټوکرانو کي پېچل سوی وي اوکه څوك غواړي ویې ولولي، له پوښ څخه ترراایستلووړاندي باید خپل لاسونه ومینځي (اودس تازه کړي. ژباړونکی ) . قران یوازي په عربي لیکل سوی دئ . ماتعجب کاوه چي ولي دلا یقوملایانو لخواپه فارسي ژباړل سوی نه دئ . څکه ټول به یې لوستلای اوپېږي پوهېدلای سي . راته وویل سول چي دقران ژبه داسي ده چي هیڅوك یې کاپي اوتقلیدنسي کولای . په ژباړه کي به هرومرو زیاتي تېروتني پېښي سي اوخدای له کلام سره به بې پروایي وسي(۴) . له همدې امله دئ چي څوك غواړي و یې لولي ، دهرلغت تلفظ ورته په عین بڼه ښوول کیږي . په لیکلې عربي کي لنډ واولونه نسته اومتّېدي به هرومرو یولغت په ناسمه توګه تلفظ کړي . ډېرزیات لغتونه سته ، چي په لیکلو کي سره ورته دي اوتوپیر یې یوازي دنالیکلو لنډو واولونو په تلفظ کي څرګندیږي. له همدې امله یې په معنا کي ګډوډي پیښیږي اودخدای دکلام ترغلط تعبیرولو بلمه لویه ګناه نسته . له ملایانو پرته، ډېرمحدود کسان قران لوستلای سي . ملایان یې هم ظاهرا هغه راز آزاده ترجمه کوي ، چي ددوی له مقاصدو سره برابره وي . دمثال په توګه دلامذهبو خلکوژل چي دجهادیامقدسي جګړې اساسي پرنسیب دئ اوامیردهغه په باب یوه رساله چاپ کړې اوبه دې وروستیو وختوکي یې په هیواد کي توزیع کړې ده ( ۵ ). ماته دنورهیوادمسلمانانو په یقین سره ویلي ، چي په دغه څای کي دقران مطلب اړول سوی دئ .څکه په قران کي ربښتني مسلمانان هڅول سوي دي چي له غیردین خلکو سره دي دګاونډیتوب ژوند په داسي ډول وکړي ، چي هغوی ټول یې دښوخلکو په توګه وپېژني . که دهغوی پرضد دجګړې وخت راسي نوبیا دي په خپل ټول قوت ورسره وجنګیږي.

امیرمرحوم چي پرملایانو بې باوره و، دلیل یې درلود. هغوی څوځله دده پرضد خلك راپارولي وو او ادعایې کوله چي دی له خپل دین سره سم عمل نه کوي ، څکه نوکافردئ . له ده سره یې هروخت داسي چلند کاوه ، چي دخپلو خلکوترنظرېې سپك وښیي، نه داچي احترام یې وسي اونفوذ یې ورزیات کړي . ده چي بیاهم غوښتي دي ، دنوروخلکوپه څېرېې هغوته په سزاورکولوکي صرفه

نه ده کړي . دغه شان یوه پېښه هغه وخت وسوه چې دیوه زیارت ملایانو ده ته
یولیك راولېږه اوپه هغه کې یې دزیارت ددېوالونو اوخونو دترمیم له پاره چې
دنړېدلوپه حالت کې وو، دنغدي مرستي غوښتنه کړې وه. پرمقدسو قبرونو
باندي معمولا شاوخواودانی اوخوني راتاوسوي وي اودزیارت محافظ
اخوندپکښې ژوندکوي . امیرپوهېدی ، چې دغه ځای ته ښځي ترنوروځایوزیاتي
ورځي. په ښکاره یې عبادت مطلب وي خوپه حقیقت کې له خپلو مینه والو سره
وعدې پرځای کوي . زیاتره ښځي لاپخپله په ملایانو کې هم مینان لري .
دښځوعبادتونه معمولا خپلي خاصي ښېګڼي لري دوی بایدپه زیارتوکې ډېري
زیاتي سپېڅلي واوسي .خوپه ځینوشرایطو کې ښایي ددغې نظریې پرخلاف
نتیجه ورکړي . ځکه نوامیردغوملایانو ته چې په کېډه ښه ماړه اوښوي ښالاك
خلك وو، احوال ولېږه اوورته یې وویل چې دی ددوی په ښیلتوب پوهیږي. دوی
یې وښکنځل اوامریې وکړ، چې دغه ځای دې وتړل سي اوملایان دې تیت وپرك
سي.

اوسنی امیرچې تراوسه لادخپل پلارپه شان پرځان ویسانلدي، له
ټولوملایانو سره په ډېره درناوي چلندکوي. کله چې دی امیرسو، دوی ټول یې
راوغوښتل، پیسې یې ورکړې ، عزت یې وکړ اوپه ښه سترګه یې ورته وکتل .
دسیاست غوښتنه یې له شکه همداوه ځکه حالات ډېرنازك وو. خودوی زیاتره
دوه مخه وسله ده اودی به یووخت ووینی ، چې که یې خپه کړل،نوبیا دواړي
خواوي غوځولای سي .

په هیوادکې زیات شمېرمقدس کسان اوفقیران سته چې خلك یې زیات
درناوی‌کوي . دوی دناروغی دعلاج کولوقدرت لري اوپرناروغانو باندي دقران
ځیني برخي لولي یااوبه ورته دم کوي اوپه څښي یې . خومعمولا دقران یوآیت
پرکوچنی ټوټه کاغذ لیکي اوناروغ ته یې ورکوي چې ترستوني یې تېرکړي. په
زیارتونو (مقدسوقبرونو ) کې هم دناروغیو علاج کیږي اوناروغ باید صرف په
زیارت کې دروغبدوتروخته پاته سي . زمایونوکرددې پرځای چې انګلیسی
دواوخوري ، دابل علاج یې غوره وباله خوپه دریمه ورځ هورې مړسو.

د لبونیانو په باب ویل کیږي چې دا دخدای لخوا خوږول سوي کسان دي .

خکه نوهیخوك ددوی داعمالودکنترولولو لپاره نه کوي اونه یې په هیڅ ډول په کاروکي مداخله کوي. پرځای یې ورسره په ډېراحتیاط چلند کیږي . دستونزو اومشکلاتو په وخت کي دوعاوي اوتوصیې خني غوښتل کیږي . هرڅه خواړه اوپیسې چي اخلي ، ورکول کیږي اوهرځای چي یې زړه غواړي ، تللای سي .هیڅوك یې ممانعت نه کوي ، ان تردي چي که وغواړي دامیردربارته هم تللای سي . دغه رازیوسړی چي په ټول کابل کي مشهوراوپېژندل سوی و، له اوږده کمیس پرته یې بل څه نه اغوستل اودکمیس ګرېوان به یې هم خلاص و، دژمي په سختی کي به یې یوازي پوستین دکمیس دپاسه اغوستی و. مادغه سړی دژمي په ډېروسړوورځوکي لیدی ، چي پروچه مځکه به په خلاصه هواکي، سرتورسراولوڅي پښې پروت و. ددغه سړي مقاومت باید استثنایي وي، چي په دغه رازنیستي کي ژوندکولای سي . دی به کله کله حکومتي مغازو ته تللی چي سپایان به پیره پرولاړه وو، ددروازي تمبه به یې لیري کړه ، مغازي ته به ننووت اوهوري به پرېوت . هیچا ورته دڅه ویلو جرات نه درلود . دی به کله کله دامیرمرحوم دربارته تللی اودامیردکرکترپه باب به یې خپل نظرڅرګنداوه . داهغه څه وچي بل هیچاپه ژونداسي غوري(لاپي ) کولای نسوای. کله چي به امیرپیسې ورکړې ، ده به هیسته وغورځولې اوخوابندي به سو. که به یې چادپخلاکېدو هڅه وکړه ، نته به یې کوله . ده به دغه رازعمل دهغوسوغاتونو اوخواړو په باب هم کاوه چي خلکو به وراستول. ده ډېرپیروان درلودل اودغوړو اوپنډو خلکو به دی راوغوښت اودده دکارونو پېښې به یې هم کولې اوهڅه به یې کوله ، خانونه په بشپړتوګه دده په شان کړي ، چي دوی هم دعزت څښتنان سي اوداسي یوه ورځ راسي، چي دوی دخپل بادارپرپښوبوټونه وراصل اودنورو خلکو له شره خانونه خلاص کړي .

په هیوادکي زیات شمېرسیدان سته . ویل کیږي چي سید د پیغمبر (ص) مستقیمه اولاده ده . دوی ته دمهمواشخاصو په سترګه کتل کیږي اوډېرعلاقه یې ورنلوي کوي. خوداکاردژوندکولو له پاره ددوی دهلو خلوخنډنه ګرزي. یوشمېرسیدانو زماترلاس لاندي کارکاوه دوی مي ترزیات شمېرهغوکسانو ،چي زه ورسره په تماس کي وم ، غوره ومونډل. عموما ډېرخبرك وو، چي دا به ښایي پرنورو باندي دبرتری له پاره دپېړیو پېړیو هلوځلو نتیجه وه.

حافظ هغه څوك دئ، چي ټول قرآن په یادتلاوت کولای سي. دوی دروژې په میاشت کي گومارل کیږي، چي هرماښام په جوماتونوکي دقرآن یوه برخه تلاوت اوپه دې ډول ټول قرآن ختم کړي. داکارډېري ورځي په برکي نیسي اوتلاوت یې پروختونوداسي ویشلی وي، چي دروژې ترپایه پوري یې ختم کړای سي.

فقیران یامقدس گدایي کرپه هیوادکي یوه ستره موسسه ده، چي په حقیقت کي په ټول ختیځ کي ستنه . دوی( نارینه، ښځي اوماشومان ) لوزکړی وي، چي کاربه نه کوي اوورځني غوښتني به دگدایي له لاري پوره کوي . دوی دغه راز ژمنه کړې وي، چي دسباپه غم کي به نه وي اوکوم څه چي ورکول سوي وي، بلي ورځي ته به یې نه ساتي . هرهغه څه چي دخیرات له لاري وررسیږي په هماغه ورځ به یې مصرفوي . دوی دسړك پرڅنډواوبازارکي لیدل کیږي، چي دگدایي لرگیني یامیسني کاسې (کچکولونه ) یې په تارتړلي اوپه غاړویې ځړولي اومخ ته یې نیولي وي . لارویانو ته دخیرات ورکولوپرله پسې نارې وهي . په ژمي اودوبي ټولـه ورځ پـریـوه ځـای ولاړ وي. خـوپـه ژمـي کـي یـې ترپوستینونولاندي یوه کوچنۍ اوسپنیزه کاسه نیولې اوپه هغې کي یې دځان تودولو له پاره دسکرولږڅه اوراچولی وي. اوسنی امیرددغو خلکو د ژوندکولو دلارو چاروسخت مخالف دئ . دی دغه هلکان، چي پرسړکونو باندي دگدایي کولوپه حال کي وویني ،مجبوروي یې ،چي ورکشاپوته دکارله پاره ولاړسي اوهورې دکارکولوامرورته کیږي . دمزدپرځای هغوته دورځي دوه واره ډوډۍ اوپه کال کي یوه جوړه جامې ورکوي. دوی په ورکشاپونوکي عملا دبندیانوپه توگه ساتل کیږي. خکه چي دورځي یاشپې له خواورته دبهروتلواجازه نسته . ترکومه ځایه چي دحکومت دگټي خبره ده . نودوی کوم کټورکسان نه دي . دوی ټوله ورځ بې له لوبوبل کارنلري اوتنبل دي. زوراوتشددپردوی اغېزه نه کوي اودشاپونو زیاترو استادانوچي دوی ته دکارزده کولو هڅه کړې ده ،زړه توري سوی اوناهیلنده سوي دي. ترکومه ځایه چي مادوی کتلي دي، دښومواد و له ضایع کېدوپرته بل کارنلري . کله یې چي استادان کارته مجبورکړي ، دوی حتی په ساده کاروکي لاهم شان ضایع کوي . په ځرگنده توگه داسي ښکاري، چي دوی له دې هیله من دي ،بالاخره به د بې فایدې کسانو پـــه توگه خوشي

پرېښوول سي.

مذهبي جنايات اوجرمونه دملايانو ديوه حکم هيت له خواچي له خپل منځه يې يوتن دمشرپه توګه ټاکلی وي، څېړل کيږي. ملايان دمذهبي اعدام په خاطريوڅوك دډبرو ويشتلو په مرګ محکوموي. خوداجزابايد داميرله خوا منظورسي .کله چي جزامنظوره سوه ، محکوم تن په داسي حال کي چي لاسونه يې ترشاتړلي اوپه پښوکي يې زولنې وراچولې وي، دښارپه جادوکي ګرزوي . څوملايان په پسې وي اوپه يوه ټاکلي ځای کي لومړی ډبره دمشرملاله خوا ورباندي وارکيږي . دخلکوجميعت چي له غونډي سره ملګري اوخانونه يې په ډبروسله وال کړي وي ، دمشرملاوارته منتظروي .کله چي هغه ډبري وار وکړ، دوی وروسته دډبروويشتل پيل کړي . محکوم شخص دډبرو ترباران لاندي وي، چي دتيرو د دوام په صورت کي وارپه وار اغبزمن کيږي . دډبرو مسلسله اغېزه اودرد يې ورو ورو بې سېکه کړي ، ترڅو هغه ځای راورسيږي، چي سياه سنګ نوميږي . داځای دتورو ډبرويوه کوچنی غونډۍ ده چي له ښارڅخه تقريبا دوه ميله ليري پرته ده . دډبرو دپوال پرراتاوسوی دئ . په دغه ځای کي دويشتلو له پاره غټي ډبري اخيستل کيږي اوډېرژرمحکوم شخص له کمزوری څخه پرمخ لوېږي اوپوه سي ، چي ژونديې مخ پرتمامېدودئ .يوڅه موده لانورهم واري پرکيږي . په پای کي نوردښوره لوېږي اويوه يادوې غټې ډبري يې پرګونډو اووروسته يې اورد وغځوي . ورپسې نو دډبروباران پسې توندسي .خينو خو داسي ګاري ورسره راوړي وي، چي په سختی سره يې پورته کړي اودسړی پريدن يې وروغورځوي . داکارترهغوروان وي، چي پرسړي باندي دډبرويوه غونډۍ جوړه سي اونورنوهوري دډبروترکوټي لاندي پرېښوول سي. شخص که څه هم بېهوښه سي، خوتل سمدلاسه نه مري. داسي واقعې پېښي سوي دي، چي سړی دڅوساعتو له پاره لاژوندي وي اوپه پای کي په ډېرکړاو مړسي.

خلك دملايانو لخواتعقيبيږي ،چي وګوري آيادوي خپل دين پالي که يا ؟ رخت پروخت پوښتني خني کوي، چي آيادوی خپل عبادتونه زده دي . ددې هدف له پاره دمشرملالخوايوه ډله ټاکل سوې وي، چي کلمه کلمه په بازارو، ورکشاپونو اوعامه باغچوکي ګرزي ، په دغوموارد وکي چي هـــرڅوك په مخه

ورسي، باید خپل لمونځونه ورته تکرارکړي ، که یې په صحیح ډول تکرار کړل ، اجازه ورکوي چي پرخپله تېره ولاړ سي . دده لارمعمولا دملایانو تر نظر ښکته لاندي وي ، چي خلکو ته دتعقیب خبرداری ورنکړي . ټول هغه کسان چي تردغه ازموینښت بریالي ووزي ، غواړي وويني چي ورپسې سړي ته څه پېښيږي . هرڅوك چي پخپلولمونځوکي غلطي وکړي یایې یوه برخه ځني هېره سي، په لرګیووهل کیږي . څوکه یې موضوع لانجمنه وي اوسړی پخپلولمونځویاندي قطعاً ونه پوهیږي یایې له هغه چاسره لج کړی وي، چي له دهٔ څخه پوښتنه کوي اوهغوی پردي خبره شاهدي ورکړي، چي دهٔ دهري ورځي دټاکلووختونو په باب هیڅ نه دي ويلي ، بیانودغه شخص نیول کیږي ، مخ یې ورتوروي ، لاسونه یې ترشاورتړي اوپرخره باندي یې چپه سپروي . په داسي حال کي چي ملاپه پسې وي دښارپه عمده بازاروکي یې ګرزوي . البته دخلکو لویه ډله په پسې وي اوګستاخانه ملنډي په وهي . ویل کیږي چي ددغه جریان شرم اوخجالت پرسړي باندي خورازیاته اغېزه ښندي اوپه راتلونکي کي شخص دمذهبي مناسبکو پرپابندی باندي ټینګ سي . دده ملګري اودوستان دڅوکلونو له پاره پرده باندي ټوکي کوي اوبې باکه ملنډي پرې وهي . مایووخت یوڅوك ولید چي پریوه موضوع باندي یې خپله نظریه په جدیت اومباهات سره بیانوله .په دې وخت کي یې دځنګ سړی ورو پوښتنه ځني وکړه چي آیاپخپلولمونځو پوهیږي .سړی غریب سره راګیرسو ،غوښتل یې یوه شببه ځان زړه وروښيي، خوناڅاپه اوپه چټکی سره له خوني ووت اوملګرويې دسپکاوی په خندا بدرګه کړ. زیاتره افغانان له ریشخندوهلوسره سخت حساس دي اوکه ریشخندترانداز زیات سي ، خوراسخت هیجاني کیږي . ټول ښه مسلمانان بایدد ورځي پنځه وخته لمونځ وکړي اوترلمانځه دمخه بایدلاسونه وينښي ښکه ومینځي (اودس وکړي ) چي ځانونه دخدای په مخ کي په ښه توګه حاضرکړي ههاته وویل سول چي په قرآن کي دشرابواوالکولو دمنعه کېدلوسبب دادئ، چي څوك دشرابوڅښلو تراغېزي لاندي نشه وي، په ځان نه پوهیږي ، چي څه کوي؟ اوڅه وایي؟ اوپه دغه رازحالت کي به یې لمونځونه ددین سپکاوی وي.

دکابل مسجدونه زیاتره کوچني وي. معمولا یې داسي جـــوړکړي وي، چي

درې خواوې يې بندې اوځلورمه يې خلاصه وي اوپرداسې موقعيت بايدودان سوى وي، چې داوږدوالي لورې يې مكې شريفې ته، چې دپيغمبر (ص) زيارت پكښې دئ (٥) مخامخ وي. داځكه چې مسلمانان ټول دلمونځواداكولو په وخت كې مخ دمكې پرلوركوي. يوډېرسترمسجدچې جمعه مسجدنوميږي(۶) ، د اميرمرحوم په واسطه جوړسوى و. اميراعلان خپوركړچې ټول ښه مسلمانان بايد لږترلږه يوه ډېره له غروځخه ددغه مسجدپه ودانۍ كې دابنورلوله پاره دخپلې ونډې په توګه راوړي . په دې ډول يوزياته اندازه ډبرې راغونډې سوې وې، خوودانۍ دومره لوېږه وه، چې داړتياوړموادوداندازې بشپړولو له پاره لاسې ګاډي اوجواليان په كارول .په همدې مسجدكې خلك داخترونولمونځونه اداكوي اوپه هرواړشل ډېرش زره تنه حاضريږي .مسجداوښاوخوا غولۍ يې ټول په سړيو ډك سي چې څوك ولاړ مخوك پرركوع اوټول يودبل ترشا په اوږدو كتارونو كې ولاړوي . په همدې ځاى كې دكولرا (وبا ) اونورو آفتونوپه خاطرلمونځونه هم كيږي .داناروغى اوآفتونه چې په كابل كې پېښ سي او زياته موده دوام وكړي ، خلك هيله من وي، چې ددوى ګډې دوعاوې به دآفت پرليرې كېدواغېزه وكړي.

درمضان ياروژې په مياشت كې پرټولو خلكوباندې ددېرشوورځوله پاره له لمرختوځخه ترلمرلوېدو پورې روژه نيول لازمه وي. په دغه وخت كې بايدهيڅ شى ترشونډوتېرنسي .هيڅوك بايدنصوارياچلم ونه څكوي. ډېرواړه ماشومان اوهغه كسان چې جدي ناروغي ولري ،له دې كاره مستثنى دي، په وروستي برخه كې زياتره پېښيږي، چې ناروغ شخص كه څه هم ددغه ازموينست قدرت ونلري ، بياهم پر روژه نيولوټينګاركوي اوله ستومانۍ ځخه مري. په هرصورت ناروغ، چې روژه ونه نيسي ، بايدعوض يې وركړي اوددې كارله پاره بايديومبلغ تاديه كړي . دغه رازبايد له خپل وس سره سم څوتنه غريبان ماړه كړي. ملابايد له شرعي قانون سره سم ددغه شخص دحالت تصديق وكړي چې دروژې نيولو څخه معاف دئ . دلمرلوېدو اولمرختوترمنځ بايدخلك كه وغواړې يوځه وخوري اواندازه يې محدوده نه ده . معمول داسې دئ، چې له لمرلوېدوسره سم يوغټ توپ ويشتل كيږي او دا خلكو ته دروژې ماتې اشاره ده . زياتـــــروكسانوخواړه

اوچلمان تیارایښي وي اوهغې اشارې ته منتظروي چې دوی ته دروژې ماتولو اویودم چلم کشولو اجازه ورکوي څکه دورخې بندیزېې اشتهاخورا ورزیاته کړې وي .ترلمرختوېوساعت یاڅه زیات دمخه بیاتوپ ویشتل کیږي او دا هغو کسانو ته خبرداری دئ .چې په دا سبا یې کارکوي . دوی بایدراوپاخې اویوڅه وخوري، ولي چې دبلې ورخې روژې نیولو لپاره ځان سمبالولوته لایوڅه وخت پاته وي . دهغوکسانوله پاره چې وس ولري ، عام رواج دادئ، چې شپه اوورځ سره واړوي . دورخې بیده سي اودشپې خوړاك اوکاروکړي. په حکومتي دفترواوکارخانوکي دکارساعتونه کمیږي اوخلك کاردورخې ناوخته پیلوي اووختي یې پای ته رسوي . دمیاشتي په لومړی برخه کي خلك داسي ښکاري چې روژه خوراپه شوق نیسي. خو وروسته دورخي له خواداوږدې فاقې اغېزه زیاته سي اوورپسې یې دخورك دېربنت دهاضمې خرابوالی اوبدهضمي پیل کړي ، مقاومت مخ پرکمېدواوجګړې زیاتي سي. اکثره خلك دېرناورغه سي اویوڅه خولامړه سي. څکه خلك دروژې په میاشت کي دبلي هري میاشتي په پرتله زیات خورك کوي اوچي وس یې وي بچت ورته کوي . له خپلوېولوغوښتنوڅخه ترڅوساعتو محرومیت وروسته ترېږي پوري خورك وچښنګ وکړي او چلم وڅکوي . په تشه ګېډه درانه خواړه خودښه هضم له پاره ګټورنه دي . هغه کسان چې دزیات چلم څکولواونصوارو عادت لري، هغوی دزیات محرومیت احساس کوي . پردوی باندي دنوروخلکو په نسبت وخت دېرورو ورو تېرېږي . زیاتروخلکو ماته ویلي، چې دلمرلوېدو دتوپ تروختله پوري دانتظارساعتونه دېرستومانوونکي دي . زه فکرکوم ټول چلم کښان به له دوی سره هم نظره وي . میرزایان (کاتبان) هغه کسان دي چې چلم اونصواروته یې دېره هواکیږي . دوی تقریبا ټې له استثنا څخه دچلم اونصواروزاړه عملیان دي. دمسلمانانوکال له قمري میاشتوسره سم ټاکل سوی دئ اودروژې میاشت هرکال ژر راځي .کله چې په دوبي کي راسي او ورځي اوږدې اوهواتوده وي ، تنده هم پرنوروو تکلیفونو ورزیاته سي . دکابل خلك دورخې په اوږدوکي دزیاتواوبوچښلو عادت لري ، څکه نوتنده له زغملووزې . دوی وایي چې په روژه کي دغه حالت ترټولوحالتود برزورغواړي. درمضان تراخترچې دروژې دمیاشتي دپای ته رسېدو د ورځي اخترديئ، شپږ

اوني ورروسته لوی اختریاعید قربان یادقرباني مذهبي میله راځي . په دغه ورځ ټول خلك، غریبان وي که ماړه ، نوی کالي اغوندي . هغه څوك چي د نویو کالیو وس ونلري ، په کورکي ورځ یوازي تېروي اونه غواړي چي له خپلوملګروسره مخامخ اوخجالت سي. په هرصورت ډېرلږپېښیږي، چي یوڅوك دي دومره لږېدلی وي څکه دایو دود دئ اوخلك ددغي ورځي له پاره تیاری نیسي .که ببخي سخته وي، نوبیازاړه کالي مینځي اودومره یې پاکوي چي ښه وایسي اومراسم په تېرکړه سي . ټول خلك ددې وس نلري، چي نوی نزي (لوموی لاس ) کالي دي رانیسي . په دغه اخترپه لوی مسجدکي ترلمانځه ورروسته ،چي امیرله شهزاده ګانواونوروماموړینواوداردو له افسرانوسره یوځای پکښې برخه اخلي ، مسجدته مخامخ په لوی میدان کي دعسکرومعاینه هم کیږي . دمعاینې ډګرته دامیراودهغه دډلي دراتګ هرکلي ته دخلوښتوتوپو ویشتلوپه سلامي سره کیږي اووروسته يې معاینه پیل سي . خو هغه ډېره ساده وي. امیرد ټولوقطعاتو مخي ته سپورتېرسي اوبیوه لنډه وینااوکړي اوژرپای ته ورسیږي . وروسته نوقطعات بیرته خپلوبارکونو ته مارش وکړي په داسي حال کي، چي دمارش په مسیرکي خلك ورته راغونډسوي وي اوتماشاکوي . نه یوازي دامیراودهغه دباډي ګارډانو تماشا ، بلکي دهغودولتي پیلانوتماشاکوي، چي جل وبل ګاډی وریووري تېل سوي وي . تردې وروسته خلك ورځ دخپلو دوستانو په لیدلواو یوبل ته په مبارکي ورکولو تېروي . په داسي ورځوکي دا دود دئ ،چي مېلمنوته باید چای اوشربت ورکړه سي . ددغومراسمولګښت پرزیاترو کسانو باندي دروند تمامیږي. خوهغه باید هرومرو سرته ورسیږي. که یوڅوك غواړي چي دخپلوملګروپه منځ کي ددرناوی وړواوسي، ددې له پاره که حتی پورهم کوي بایدویې کړي.

دبرات په شپه (شب برات ) زمورد (all Souls)(۷) په شان دشپې لخواآتش بازي(اورلوبه ) کیږي . خلك خپل دوستان مېلمانه کوي اوبیانوداورلوبي تماشه کوي . دشتمنوخلکو په کوروکي تردغومراسموورروسته موسیقي اودنجونونڅاهم کیږي .دغه مراسم دشپې ترناوخته پوري دوام کوي . که یوڅوك نورخلك مېلمستیاته راوبولي ، پـــوهیږي چي مېلمانه باید دشپې پاته سي . یوازي په

خاصو مواقعو کې دغه راز مېلمانه رابلل کیږي .په نوروکي یې تل دشپې تر ناوخته پورې ساتي . دبرات په شپه دخلکو عقیده داسې ده چې ملایکې له ارواوو ( ارواحو ) سره ددې لپاره ګورې، چې دهغوی د پاتـه کېدلو موده وازمويي . دکومو ارواوو چې وخت پوره وي ، اخلي یې او جنت ته یې وړي .

دمکې زیارت چې دوی یې حج بولي ، دهغو کسانو له خوا ترسره کیږي، چې په مذهبي لحاظ آماده اودلګښتونو له پاره وخت اووس ولري . دافغانو له پاره حج یوستره ذمه واري ده .له دغه رازخطرناك سفرڅخه دراستنېدو چانسونه هم ډېرلږښکاري . هغه کسان چې ددغه زیارت ذمه پرځان اخلي ، لږیاډېرپاورلري چې بیرته به راستانه نسي، ځکه نوخپل کارونه هغه شان فیصله کوي لکه مرګ ته چې دنږدې کېدوپروخت یې غم خوړل کیږي . په دې سفرکې باید تر هغو بهرنیوهیوادوتېرسي، چې ددوی ددین اودخپل ځان دښمنان یې پکښې اوسي . دا چې دوی به تردغه سخت ازموینت سالم راووزي که یه؟ اوپرڅنګ یې لادسمندراودهغه داوسېدونکو په باب ډېرې ډاروونکې افسانې لري، داسې چې که پرچا پېښ سي ، درسته ببرې یوه ګوله کولای اوترستوني یې تېرولای سي . سړی ته دحج کولودارزوپرڅنګ دومره زیاته ذهني آمادګي هم ضرورده ،چې له دغوټولو خطرونو سره دمخامخ کېدلوجرات وکړي .په هرصورت د سفر ددغو ټولوخطرونو ترتېرولو وروسته که یوڅوك بالاخره راستون سي، نودعمرترپایه پورې د «حاجي» لقب اخیستلوامتیاز ګټي . خپلوان اودوستان یې په راتګ سره وياړي اوخوشالي په کوي . ترڅومیاشتوپورې دی بل کارنه لري بې له دې چې داورېدونکویې مشتاقي ډلي ته دخپلوسفرونو اوماجراواوهغومنظرو ،چې ده لیدلي وي، بیانونه وکړي . په بیان یې اورېدونکي هیڅکله نه ستومانیږي . ما ددوی ځیني اړوندي کیسې اورېدلي دي اوباید ووایم، چې دغه کیسې په ویلو ازري .

افغانان ډېرسفرونه نه کوي .واکمنان یې ورته دنورو هیواداودکتني امکانات نه برابروي اونه ببګانه خلك هیوادته دورتګ له پاره هڅوي. دوی غوره بولي چې خلك یې سره تیت اوله نورو نړۍ سره تماس ونه لري . دوی ډاریږي، چې پوهه اوروښانتیابه پرحالاتوباندې ددوی قبضه کمزوري کړي. که دا خلك د نورو

هیوادو دخلکوپه قوانینواورسم ورواج سره دپوهېدلو اوخانونه له هغوی سره دپرتله کولو له لاري دخپل دین په نامه راوپارېدل، نوبیابه واکمنانوته دهغوی له غوښتنې سره سم حکومت کول اسانه نه وي.

په لوېدیځه استرالیاکي دافغانانویوکوچني ټولنه سته ،چي له زیاتو کلونو راهیسي په یوه کالوني کي دي .هوري په ریګي بیابانونوکي پراوښانوباندي سوداګري کوي. څوکاله وړاندي ددوی یوتن افغانستان ته راستون سو.له ځان سره خپله انګلیسي یاپه بله ژبه استرالیایي مېرمن، چي خپل دین یې پرې ایښی و، راوستله. دې تعلیم نه وکړی اولیك لوست یې نسوکولای . دې چي دخپلوافکارواوهغوبیابانونو په باب خبري کولې، چي دایې په عمل کي دنوي دین منلوته هڅولې وه ، نوسړي ته دافکرورلوېدی، چي ددې ماغزه ګویا ګډوډ سوي وه. سړی خپل هیواد ته راستون سوی و اوغوښتل یې چي دېرش کاله وروسته یې بیاوويني اودخپلوپلرونو په خاوره کي ښخ کړه سي .له ځان سره یې یوڅه پانګه هم راوړې وه . خوپه کندهارکي دده دوستان دومره پوروړي اوښستمن وو، چي ده ته بیخې لږڅه وریاته سوې وه . له دې امله یې خپله مېنه پرې ایښې اوکابل ته دامیرلیدوته راغلی و ،چي ګوندي هغه ورسره مرسته وکړي. دی په یوه ډېرکوچني کورکي صرف له یوه نوکرسره اوسېدی . مېرمني ته یې دحکومت له خواپه کال کي یولږڅه مبلغ ورکول کېدی اوبس په همدې یې ګوزاره کوله . دی زماډېرممنون و ،څکه کله کله به مې پایپ اوتمباکوورکول . زیاتره به یې له استرالیاڅخه پرراوتلوافسوس کاوه. خودبیرته ستنېدووس یې نه درلود .ده داستړالیایانوپه شان انګرېزي خبري کولې اوپه خبروکي زیات قسمونه خوړل، چي دسوچه افغان له شونډوڅخه نادره اورېدل کیږي . دی ترخپل راتګ دوه درې کاله وروسته دزړه له ناروغۍ څخه مړسواومېرمن یې دهغي کولړاپه قربانیانوکي وه، چي دده ترمړیني یوڅواووني وروسته پېښه سوه. دمخه تردې چي دامړه سي، لېورزي یې ډېرتلاښ وکړ ،چي وادوه ورسره وکړي اوپه دې ډول یې په معاش کي ورسره شریك سي.

په استرالیاکي افغاني کالوني امیرمرحوم ته د «ضیادالملت والدین» لقب اخیستلو له امله دمبارکۍ یولیك راولېږه . له هغه سره یې پــــه عین حال کي د

استرالیادحکومت دفرمان یوکاپي هم مل کړې وه . په هغه کې یې دغه هیوادته دشرقیانومهاجرت هغه وخت منلی و ،چې هریوه سړي سربېره دروندټاکس (مالیه ) ورکړی وي . دوی له امیرڅخه په دې لارکې مرسته غوښتې وه، چې د هند پرحکومت باندي سپارښتنه وکړي، چې افغانان له دغه ټاکس څخه مستثنی سي . امیرچي هروخت یې بزنیس ته پام وي اوپوهېدی، چې داخلك شتمن دي، په خواب کې ځني وغوښتل، چې ددوی درې ځلورتنه مشران دي پردغه موضوع باندي دخبرواترولې پاره ورته حاضرسي. خومشران دزمري غارته په ننوتلوکې زړه نازړه وه اوبېرېدل، چې غالبا به بیرته ځني راونه وزي. څکه یې موضوع همداسي پرېښووله .

دافغانانوپه منځ کې مرغان اوحیوانات په پراخه توګه پردووډلو «حلال اوحرام» وېشل سوي دي . هغه چې دخوړولووړدي اوهغه چې نه دي . عموما داسي ویل کیږي، هغه مرغان اوحیوانات چې د غوښواومرداریوپه خوړلو ژوند کوي ، خوړك یې روانه دئ . هغه مرغان یاحیوانات چې دخوړك اراده یې وکړي، دغاړې پرې کولوپه واسطه وژل کیږي . پردغه کاربایددخدای نوم په مکرروډول وویل سي. له دې پرته یې غوښه حرامه اوخوړل یې ګناه ده. که یومرغه ویشتل کیږي، مسلمان چې دویشتلوپه نیت پرهغه دتوپك ډزکوي ، بایدله ډزسره سم دخدای نوم تکرارکړي. که په دې ډول له ویشتلوسره جوخت مړ سي، خوړل یې روا دي . ماچي به پخپله ښکارکاوه، ملګروبه مي هرمرغه چې رالوېدی ،سمدلاسه به یې غاړه ورېرې کوله اوپه عین وخت کې به یې پورتني فارمول تکراراوه . ویل به یې چې یولږڅه ساه ورپکښې پاته وه څکه یې نو «حلال» کړ. خوکه کوم مرغه به دراخیستلوپه وخت کې مړو، هیڅاپه نه خوړ. که سپي اوبل هر «حرام» حیوان خوله : خوراکي موادوته وروړي ، خواړه مردار دي او بایدونه خوړل سي. که یې ولیدل چې حیوان یې یوې برخې ته خوله وروړله، هماغه برخه یې بایدپرې اوپاته یې وخوړل سي.سپیوته دغه رازدناپاکه حیوان په سترګه کتل کیږي اوداسي بایدتناوسي چې خوله یې له شی څخه ونه نښلي. بایدله هغه چاڅخه هم ونه نښلي،چې تناوکړی یې دئ . خوکه لاس یاکالي دسپي له خولې څخه ونښلي ، بایدکګره سوې برخه پرېولل سي .

خني عسکراوغریب خلک چي سپی ساتي اوډېرېرګران وي، هغوی یې په ناولتوب کي ری نه وي .په خني مواردو کي خوسپی دخپل خاوندپه بسترکي څملي اوپه ډېره مهرباني سره سلوک ورسره کيږي . خيني دغه خلک خپلوسپيوته دخيني چلونوله ښوولوسره مینه لري. یوسپی به چي دیوسپاهي ملکيت و، ځان پرمړینه واچاوه، ګدايي به یې کوله ، دمخ پرېښوبه یې تګ کاوه اوپه بازارکي به یې دتمباکودوکان ته دلاس دسمال اوېوه ایکي وروړله اوبیرته به یې تمباکو راوړل . نورډول ډول چلونه به یې هم کول. دې سپي ته یې دغه رازورښوولي وه چي په خوله کي یولښلرګی ونیسي . دلرګي په دواړوسرونوکي به دوه کوچني الکين ځراغونه ځړېدل اودی به دشپې دخپل خاوند په مخ کي روان واولاربه یې ورته روښانه کوله .

خلک دغوښي درواکولوپرځنګ دخدای نوم پرتولونوروشیانوباندي وايي . کاریګران دکارترشروع وړاندي یادماشين دنوي چالانولواوپه قالب کي دوېلي سویوفلزاتوترتویلودمخه دخدای نوم وايي . په دې ډول دوعا به کارسم اوموفق کړي. دوی دغه رازترخوړولو وړاندي او وروسته همداکارکوي اوکله چي پرماشوم نوم ږدي، لومړی یې په غوږکي دخدای نوم ورته وايي (۸) اووروسته نوبیاماشوم په هماغه نوم یادیږي .

کله چي یومامورته خپله مېرمن دماشوم شېریني راوړي، نومړی هماغه شیریني اوسوغات امیرته وړي اودموضوع په باب خبرورکوي . روسته خني غواړي، چي دماشوم له پاره یونوم ورډاکي . دامیرله پاره دایودود ګرځېدلی، چي دخپلومامورینواو شاوخواکسانوپرماشومانو نومونه کښېږدي.خوکه نجلی پیداسي ، ملکه سلطانه نوم ورباند ږدي . دزوی زېږېدو پروخت امیردزوی وپلارته که پرګران وي ، اوغواړي عزت یې وکړي، سوغاتونه ورکوي. خکه دزوی زېږېدل ډېري خوښی خبره ده. دنجلی په مورد کي خبره په پټه خوله تېرېږي خکه په افغانستان کي ښځي لبرارزښت لري اوکله کله خودنجلی پلاردخوورخوله پاره خپلي مېرمني ته خکه نه ورنږدې کيږي، چي په دې ډول خپله ناخوښي وښيي اوښځي ته له دې امله، چي دده له ارزوګانواوغوښتنوسره سم یې عمل نه دئ کړی ، خپل خپګان ځرګندکړي.

کله چي دامیریوه ماندینه امیندواره سي ، دتوپودویشتلو ،آتش بازی ( اورلوبي ) مېلمستیااونورېټول ټك وټوك له پاره تیاری ونیول سي . دهلك په صورت کي داټول شیان منځ ته راځي. خوکه نجلی سي نوبیادخوشالی هیڅ کوم کارنه پېښیږي اوښځه خوشي پرېښووله سي، چي پرځپلونامېندیوباندي یوازي وژاړي . له دې امله ټوله ښځي دهلك هیله لري اودوعاوي کوي، چي په دې صورت کي به دماشوم پلار له دې سره وګوري اوددې به ډېرمراعات کیږي ،هرڅوك به مبارکی ورکوي اودابه له دغه کوچني جشن څخه خونداخلي.

په افغانانو کي دماندینوتعدد عام دئ . ځني چي یوازي یوه ماندینه لري ، له دې امله وي، چي دنورو وس نلري. یابه یې ماندینه په مصممه توګه باندي «غاوره» وي اوکورته به دبلي مېرمنې دراتګ ممانعت کوي. ماته ویل سوي دي ، چي په ټولو حرمونوکي دبېلابیلو مېرمنوترمنځ دبرتری له پاره یوه نه تمامېدونکې مبارزه روانه وي . همدغه سبب دئ، چي ښځه پرځان باندي دسړي دمیني ټینګولو په خاطرکوډو، دمیني څابنتونو اونوروجادویي هنرونو ته مراجعه کوي. همدغه دبرتری له پاره جګړه اوورسره سم حسادت ددې کار اساسي علت دئ، چي ولي زهري موادوته چي کشف کېدلای نسي ، دومره زیاته تقاضاسته . زماڅخه پخپله غوښتنه سوې، چي که لاداسي زهررامعلوم وي، یایې لرم، چي عادي ناروغي اودهغې اغېزې لیري کولای سي . یووخت خو لا د داسي کوډو اوتعویذپوښتنه هم راڅخه وسوه، چي دیوچامینه زیاتولای سي. خو ما یې یوشی لاهم نه درلود. که څه هم دهغوله پاره زیاتي پیسې راکول کېدلې . غربي جادوګره به بې له شکه په کابل کي ډېرزیات مراجعین ولري اوښه بیزنس به وکړي . وایي چي قرآن نارینه ته دخوښښخودلرلوواك ورکړی دئ. خوداسي کسان سته چي په قرآن باندي دپوهېدلوادعالري، اووایي په قرآن کي لیکل سوي، چي یو سړی هغه وخت له څلورو ماندینوسره واده کولای سي چي «له ټولو سره په مساوي توګه مینه ولري » اوڅرنګه چي دامممکنه نه ده ، څکه یې واقعي معنادیوې ماندینې سپارښتنه ده . دپیغمبر (ص ) په باب ویل کیږي، چي دی مجبورسوتریوې زیاتي ښځي وکړي .دده په موردکي ویل کېږي، چي دخپلي ګراني مېرمني پرته یې نورې داسي ښځي وي، چي هیڅ رازحمایه یې نه

درلوده اوده په دې خاطرخانته واده کړي، چې کور ورته برابرکړي.

افغانان ټوله مذهبي متعصبين Fanaticsدي. که څه هم فاناټيسيزم يې تل ځرګندنه وي. خوخاص مواردغواړي، چې يودم راڅرګندسي. دوی په دې عقيده دي، چې ددوی دين دعيسويت پرځای راغی اوعيسويت ديهودي دين جانشين سوی دئ . خدای دانسان دغوښتنوله پرمختياسره سم په بېلابيلووختوکي نوی دين منځ ته راوړی دئ .ددوی دين چې ترټولو وروستی دين دئ ، هروهرو بايدرښتينی دين وي. داداسي يوهيوادنه دئ، چې عيسوي مبلغين دي زياته اغېزه پروکړي.

## دشپاړسم څپرکي لمنليکونه

( ۱ ) په اصل کي د « اسلام » پرځای « مسلمان » راغلی دئ . دافغانانودين اسلام دئ اوداسلام دين پيرو« مسلمان » بلل کيږي . ( پښتو ژباړونکی )

( ۲ ) دا يو راز تسبيح ته ورته دانې دي . (م.ف)

( ۳ ) مولف په دې برخه کې له مبالغې کاراخيستی دئ . داکاربه يې له ځينومتعصبوکسانوڅخه ليدلی وي ، خو عام مسلمانان داسې نه دي . ( پښتو ژباړونکی )

( ۴ ) دقرآن کريم فارسي تفاسير ( ترجمې ) دمولف تر ژوند څو پېړۍ وړاندې څپاره سوي اوپه افغانستان کې موجود وو . ( ژباړونکی )

(۵ ) دحضرت پيغمبر(ص) مبارک مرقدپه مکه شريفه کې نه ،بلکې په مدينه منوره کې دئ ( م.ف ) .

(۶ ) دامسجدعيدگاه مسجدجامع ده چې د ودانولو کار يې د ۱۳۱۱ ق کال دشوال پر شپاړسمه داستاد محمد اکبر په معمارۍشروع سو او د ۱۳۱۵ ق کال دجمادی الاول پر نهمه پای ته ورسېدی . دغه مسجد جامع ۷۷ گومبټې ، مناري او ۴۴ رواقه لري چې ټول مساحت يې ۴۳۰۶۸۰ فوټه کيږي . (دافغانستان پېښليک ـ ۲۱۶ مخ ) .

( ۷ ) د رومن کاتوليکانو يوه مذهبي ورځ ده ، چې دنومبر له دوهمې سره برابره ده . په هغو کلونوکي ، چې دنومبر دوهمه ديکشنبې ورځ وي ، دا ورځ دنومبر په دريمه نمانځل کيږي . زياتره کاتوليکان عقيده لري ، چې په دغه شپه د مړو ارواح خپلو کورونوته حاضرېږي او له ژوندو سره په ډوډۍ خوړلو کې برخه اخلي . په انگلستان کې عوام خلک په دغه شپه هديرو ته ځي ، پر قبرونو باندې شيدې پاشي او په نيمه شپه کې دماخستن ډوډۍ مړيو ته پرېږدي . مسلمانان د مياشتي ( ذوالحجې ) اتمه د مړيو شپه بولي او په دغه شپه مړيو ته دوعاوې کوي ( م.ف ) .

( ۱ ) اول په غوږکې دخدای نوم يادول ياآذان کول له نامه ايښودلوسره متصل نه وي . په غوږکې آذان له زيږېدلوسره سم کيږي اونوم کېدلای سي څوورځې ورووسته پرکښېښول سي ( م. ف ) .

# اوولسم څپرکی

## سیاسي اوضاع

دهیواد دمشرانو په وژلو سره دخپل زوی دواکمنی په تامینولو کې دامیر پالیسي - یې سبکه عایدات - ولې امیر له لارډ کرزن سره په هند کې ونه کتل - پر پوله باندې دروسانو تیری - په افغانستان کې دروسانو نفوذ - دافغانستان او هند پر لور دروسانو د پرمختګ خطره - افغاني واکمني ، دبې نظمو قبایلو د تنظیمولو ډېره ارزانه وسیله - دافغانستان دېنه وسله وال کولو پالیسي - له انګرېزي حکومت او عدالت سره مینه - پرخلکو باندې دانګرېزي اجنټانو اغېزه - ولې په افغانستان کې ریلوې نه جوړېږي - ولې غني کانونه لاس نه وهلې پاته دي - دبلوچستان په ساحل کې دامیر له خوا دسمندر بندر غوښتل - دامیر عبدالرحمن کورني سیاست

---

دامیر عبدالرحمٰن سیاست دخپلې پاچهۍ له هماغه پیل څخه داو ،چې د هغو کسانو له شره څخه په یوه یا بله لار خان وژغوري چې په هیواد کې زیات نفوذ لري او کولای سي په راتلونکي کې دده ګټوته خطر پېښ کړي . داسیاست داسي نه و ، چې په څرګند ډول او په یوه وخت کې پر ډېرو کسانو عملي کېدی ، بلکی ورو ورو یې ټول هغه کسان ، چې ده ته دستونزو سبب وو ، له منځه وړل . په هیواد کې وروستی متنفذ شخص عمومي قوماندان غلام حیدر (۱) وچې دامیر د پاچهۍ په وروستیو وختو کې یې هر کله کابل ته راباله . خو هغه به دابلنه تل په یوه یا بله پلمه تېروله . نو موړي په پای کې د هندوستان پولي ته نږدې پخپله پوسته کې مړ سو . هغه وخت یو لړ کرکجني نخښې نښانې څرګندې سوې او هغه دا چې ده شخص حکیم [طبیب] چې یوسیمه ییز ډاکتر او دده دوروستی ناروغی پر وخت ورته حاضر و ، کابل ته راوغوښتل سو . امیر ده ګروالی رتبه ، پیسې او سوغاتونه ورکړل او عموما یې زیات نازاوه . دهغو کسانو دله منځه وړلو په برخه کې ، چې دامیر اند ېښنې ور ګرځېدل ، یوه طریقه ماته دداسي شخص له خوا بیان سوه ،چې څورواره دغه کار ته موظف سوی و . داسړی مسلمان نه و او یوه شپه یې وروسته له هغه چې زما شراب په پېښرو چښل ، خپل تجارب راته بیان کړل . دی سخت نشه و او ما ګومان نه کاوه چې بل وخت دې یې ددغسي مسایلو په باب د څه ویلو جرات کړی وای . زه به دی د خپل اصلي نامه پر ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

«ی» وبولم ( ۲ ) . ی» وویل، چي امیریوه شپه ناوخته ورروغوښتلم او د یو چا پوښتنه یې راځخه وکړه . دغه سړی دلوړي رتبې څښتن اوده پېژانده. «ی» ته وویل سوه چي د گارډ کـ ـان ته ورسي . په هغه حکم کي لیکل سوي و چي له خان سره دوولس تنه عسکربوزي اوددغه شخص کورته ولاړسي . په دې پلمه یې له کوره راوباسي، چي امیرغواړي یوه عاجل کار لپاره په خصوصي توگه ورسره وگوري . بیایې نودزاړه ښاروبوې تاکلي کنډوالې ته بوزي . کله چي یې سړی نوموړي ځای ته ورساوه ، بیانودیوبل کاغذله لارښووني سره سم عمل وکړي، چي امیرده ته ورکړی و . «ی» له امرسره سم دسړي کورته ولاړ . دوولس تنه عسکري ترکوردباندي ودرول اودی دننه په دروازه کي ورته معطله سو. دروازه وان دکورخاوندته وویل، چي «ی» دي کوم عاجل کارله پاره غواړي . تراجازې ورکولو وروسته ، دی له نوکرسره هغې خونې ته ورخوت ، چي نوموړي شخص پکښې له خپلو ملگرو اوخپلوانوسره یوځای ناست واوچای یې چښلې . کله چي یې «ی» ولید ، ځنگ ته یې ورروغوښت اوچای یې ورسره وچښلې. «ی» له امرسره سم سړي ته په غوږکي ورو وویل، چي امیرصاحب غواړي دیوې مهم کارله پاره درسره وگوري اوښه به داوي، چي امیرپه انتظارکي پرې نښودل سي . سړی ورته وویل، چي دی به حرم ته ولاړسي اوخپلي کورنۍ ته به دوتلوخبرورکړي اوډېرپه خنډیږي نه . خو«ی» ورته وویل، چي همدومره معطلي هم په کارنه ده . امیرسمدستي غوښتی یې اودوی ژریوځای سره راووتل . کله چي دوی تردروازې بهرراووتل ، عسکرپرراتاوسول .سړي د عسکرو د راتاوېدو پوښتنه وکړه . «ی» ورته وویل، چي امیرده دعزت له پاره ځکه گارډ رالېږلی دئ، ځکه چي شپه ناوخته ده . دوی رارهي سول .عسکريې پردواړو خواو روان وو.درود پله ته راورسېدل ، پله ته ورتاوسول ځکه دښارزړه کنډواله چي«ی» ته یې دسړي دبېولوحکم سوی و ، پرهابله غاړه پرته وه . سړی په ځان کي بدگومانه سو اوپوښتنه یې وکړه ،چي ولي له قصرځخه لیري ځي .غوښتل یې لارچپه کړي خوعسکرورته رانژدې سول او«ی» معذرت ځني وغوښت، چي امیرله همدې لاري حکم کړی دئ اودی هم قصرته له تللوپرته بله کومه اراده نلري . دوی بایدکښته بیرته تر رود راواوړي اوخپل هدف ته ورسیږي .سړي نو،

څه ونه ويل اودوی هماغسې روان وو . کله چې لارله قصرڅخه نوره هم ليرې سوه ، سړی له وړاندې تګه انکاروکړ.خوکله چې «ی» ورته وويل ،دادامیرحکم دئ اومقاومت ګټه نلري .وروسته نودی هم ورسره رهي سو. په پای کې دوی هغه کنډوالې ته، چې يو زوړ ځاه پکښې و، ورسېدل . اوعسکروته دسړي د نيولو اشاره وسوه.سړي ته ددوی اراده معلومه سوه اوسخت مقاومت يې وکړ . خو بالاخره له پښوولوېد اوپرمخکه غوځارسو. افسراوسړي يې راغلل، چې نورنوبايدڅه په وسي .«ی» دامیرکاغذراويوست ، اورلګيت يې ولګاوه او تر لوستلو وروسته يې افسرته وويل، چې دسړي سربايد له تنه بېل سي . افسردسړي خواته ورغی ، توره يې کش کړه ، سړی يې پرمغزی وواهه اوپه پای کې يې خپله وظيفه سرته ورسوله .دسړي شديدمقاومت دامرپه اجراکيدوکې ستونزې پېښې کړې. خوپه غاړه کې دېې له لاري دوېنې ضايع کولو بېهوښه کړ.سراوتن يې وروسته زاړه ځاه ته وروغورځاوه اودومره خاوره يې پرواړوله چې ټولې نښانې يې پټې کړلې . دوی قصرته ستانه سول اوله رسېدوسره سم «ی» اميرته دامرداجراکولوريپوټ ورکړ. اميروويل «ښه کاروسو» اوده ته يې کورته دتګ اجازه ورکړه .

«ی» وويل په هماغه شپه، چې به يې په بسترکې هزوارسترګې پټې کړې، دنوموړي سړي سربه يې، چې له تنه بېل سوی و، سترګوته جګ ودرېداوخوشې يې ترخوب وړلودمخه عين څه ليدل . تردې پېښې څوورځې وروسته دوژل سوي شخص زوی اميرته ورغی اوورته يې وويل، چې «ی» يوه شپه ناوخته دده پلار ددې لپاره چې اميرصاحب غوښتی دئ ، له کوره ويوست اوترننه پورې يې درک نسته . اميروويل، چې دارشتیادې.خوددې له پاره چې زړه يې ښېغمه کړي،ورته يې زياته کړه چې پلاريې ديومخصوص مقصدله پاره يوه اوږده سفرته استول سوی دئ . خدای خبرچې بيرته به راستون سي. دسړي خپلوان يې په دې ډول ترخان تېرکړل. خوهغوی ژړدنوموړي دورکېدوپه سرنوشت پوه سول اودخان ساتنې په خاطريې څه ونه ويل. څکه داريدل چې دوی به هم واستول سي اوبيابه راستانه نه سي .

دهغوکسانوپه له منځه وړلوکې چې امير ته به د ستونزو پېښولو سبب سي ،

دده هدف يوازي دانه و، چي دخپلي پاچهي په بهيرکي دستونزومخه ونيسي، بلکي مقصديې تخت ته دخپل زوی دسوله ييزرسېدلوله پاره لاراوارول هم و. اوددغوټولو کاروپه ترسره کولوکي يې له احتياطه کاراخيست خکه ډارېدی، چي ايوب خان يايعقوب خان به بيرته هيواد ته راستانه نسي اوپه راتلونکي کي به دزيات شمېراغېزمنوکسانوپه راغونډولوسره دخينوجدي ستونزوپېښولو سبب نسي . داچي اميرخپل ټول زامن په کابل کي ساتلي اوددې پرخای، چي دپخوانيواميرانوپه شان يې په بېلابيلوولايتوکي واليان کړي وي ، هغوی يې دمختلفوسرکاري دفترونو په سرکي مقررکړي وو، داميرمطلب داو، چي ترخپلي مړيني وروسته يې دګډوډيومخه نيولې وي . خکه دپلارترمړيني وروسته د واکمني اوبرتری له پاره دزامنوپه منځ کي دپخوانيوجګړويوعلت داو، چي هرزوي ديوه ولايت دوالي په توګه پيسې اولښکرپه واک کي لرل ، چي تخت ته يې د رسېدو په مبارزه کي مرسته ورسرکوله .څرنګه چي هرورورد تخت شوقي وخکه نوتل جګړې پېښېدلې اووخت په وخت په هيواد کي دزياتو وينو توېېدلو او بدمرغيو سبب کېده.

دافغانستان تاريخ ښيي، چي څرنګه ورور له وروسره جګړه کړې،زامنوله پلارسره ، يوه هابل دواکمنۍ له پاره دشديدي غوښتني په حکم وژلی ياړوندکړی دئ . داميردوربينی دده دمړيني پروخت ددغه راز وحشتونو د بيا تکرارېدو مخه نيولې وه .کله چي دی مړسو،دتخت له پاره دکانديد په توګه له سردارحبيب الله پرته بل هيڅا چانس نه درلود، خکه له ډېروکلونوراهيسي مشرسردارو او په زياتوسرکاري مواردوکي يې دپلارپرخای، چي زياتره به ناروغ و، نمايندګي هم کړې وه. ده ته دهيوادمخکښوکسانودداسي کس په سترګه کتل، چي تخت ته مناسب دئ اوپه نتيجه کي يې دهغوملاترګاټه . دې کاراوپرڅنګ يې دپلارله مړيني سره جوخت دده له خوادارګ مانۍ سملاسي نيول، دې پرحالاتوکابوکړ.خکه په ارګ کي يې دخزانې اوعصري وسلواومهماتودزېرمو کنټرول ترلاسه کړاودخپل دوولس کلن ناسکه ورور محمدعمرخان له مورملکه سلطانې پرته نورداسي څوک نه و، چي ده ته ستونزي پيښي کړي. دا يې سمدلاسه د ارګ له حـــــرامسرايه ، چي اميرخپلي ګراني

ماندينې له پاره جوړکړې اودابه معمولا پکښې اوسېدله، وايستله اومجبوره يې کړه، چې پخپله خصوصي ماڼۍ ګلستان سراى کې چې دښارپه څنګ ده افغانانوکي واقع و، ژوند وکړي . دلته يې داپه ښکاره دامیرمرحوم دګراني ماندينې په توګه په ډېرعزت سره خوندي کړې وه، خوپه واقعيت کې بندي وه. خکه ټول غټ اوباوري نوکران يې ځني اخيستي اوپرځاى يې نورکسان داميرپه خوښه ورته ټاکلي وو. هيڅاته اجازه نه وه، چې له دې سره وګوري .له اساسي دروازې پرته يې دماڼۍ ټولي لاري په خښتوتړلي وې . اميراوسردارنصرالله خان پخپلو مخصوصو اوعاجلواوامروکي مېرمن ډالي Mrs.Daly ته، چې په کابل کې ښځه ډاکټره وه ، يادونه کړې چې له ملکې سلطانې سره بايدونه ګوري اونه بايد ورسره اړيکي وساتي . دوى ظاهرا له دې بابته ډارېدل ،چې دابه ملکه ولمسوي چې دهندحکومت ته ليک وليږي اوپه هغه کې به پرتخت باندي ددې دخپل زوى کښېنولو له پاره دهغومرسته وغواړي . که دهندحکومت ددې ليک ته کومه خاصه پاملرنه هم ونه کړي ، بيابه هم دغه شان عمل نوي اميرته دهغوى له نظره زيانمن تمام سي . دغه رازټول هغه مامورين اواردو افسران چې دنفوذ خښتنان اودملکې سلطانې لوري ته متمايل کسان وو ، دنوي اميرلخواپېرودل سوي اورتبې يې ورلوړي سوې .

سره له دې هم لښکرله ناخوښيه سره خوښېدى اوداوېره وه چې هرومروپاځون پېښ‌سيږي .خودتنخواه دزياتوالي ژمني ټول شاوخواکسان له څرګندي سرغړوني څخه وساتل . که څه هم دزيات وخت له پاره ښه پوره ګونګسي موجوداو عسکروپه خلاصه خوله ويل، چې دوى له حکمرانې کورنۍ پرته دبل هرچا حکومت مني. دخلکو په منځ کې پرحکومت باندي دنه ويساغوښتنه دهيواد په بېلابېلوبرخوکي له تشدد سره يوځاى له برملا لوېماري څخه څرګندېده . دارازکارونه خوراډېرکلونه چانه پېژندل اودقانوني اداري په وړاندي يې دخلکوبې تفاوتي څرګندوله . دموجودحکومت پرضد اعتراض دهيواد پراوسېدونکو اروپايانو باندي په حملوکولوسره ښکاره کېدى . يوتن دخپل ساتونکي ګارډ په واسطه دشاله خواووېشتل اووژل سو. داکاردومره بې ارزښته تلقي سو، چې سړي ته شک پيداکېدى چې آياداکار به دګارډ خپل ابتکارو ، که

به دهغوکسانو لخوا په دې نیت لمسول سوی و، چې له خپل حکومت سره یې دښمني درلوده او په دې هیله و چې له اله گوله کوونکو سره دیوځای کېدو له لاري دگډوډۍ عامل سي .

له کابل څخه زمادراوتلوپه وخت کي دهیوادعایدات ایله دومره و، چې دلښکردتنخواه له پاره دي کفایت وکړي . له دپروکلونوراهیسي د لښکرو لگښتونه ورو ورو زیاتېدله اواميرپیسوته زښته زیاته اړتیادرلوده . دهندوستان له حکومت سره هم دهغې مرستي د دوام په باب کوم انتظام نه ونیول سوی، چې پخواني اميراواوسني واکمن ته ورکول کېده . نوی واکمن دده له پلارسره دجوړسوي تړون دموادو دتنظیم غوښتلو جرات له دې وېري نه کاوه چې مبادا پرې پښېمانه نه سي . لارډکرزن له اميرسره په پېښورکي دکتلو له پاره پر خپلو غوښتنو ټینگ ولاړو چې په دې ډول ټول مسایل په شخصي خبروکي حل کړي. خوپه هغه وخت کي اميرته داسترخطرو، چې له کابل څخه په داسي حالت کي ووزي چې خلك یې ناآرامه اوپه هیواد کي دننه په حکومت کي خوراډېرومهمو مسایلودسملاسي حل غوښتنه کوله . روسي حکومت ورته دډېرومخکنیوتوپونو، توپکواوسهماتو ورکولو وړاندیزکړی و، خوپیرته واخیستل سو. څکه روسان بېړېدل اوبې باوره سوي وو اوپرافغاني خاوره باندې دهغوی تېري خلك دېرخښمولي وو. خيني ماموریڼ له دې سره سره دروسانو دمرستي پلوي ښکارېدل . دوی ویل، چې که انگرېزي حکومت ددوی له هیوادسره مرسته ونه کړي ، نورسته چې وړې کړي . دغوکسانودروسي مرستي منلوته دامیر د هڅولو تلاښ کاوه .

په همدې وخت کي و، چې یوافغاني جنرال له روسي سرحدڅخه راغی اوویل یې چې له خان سره یې دوه تنه روسان دمخوري افغاني کوونی دغلام بچه گانوپه جاموکي راوستلي دي . ددې خبري نوردرك په مشخصه توگه معلوم نه سوخوپه دغه وخت کي ویل کېده، چې اميرپه هندکی کي خپلي ددوبي ماڼی ته، چې دښاردجنوب په شېرمیلي کي پرته ده، دیودوو اوونیو تېرولو له پاره تللی دی اوله خان سره یې له یوڅو باوري مامورینواوملگروپرته نورهیڅوك نه دي بېولي. ده غوښ امرکړی و، چې هورې به هیڅوك دده نه مزاحم کیږي او نه به بل

ځوك ورلېږل كيږي . دغه جنرال وروسته په ښارکي خورازياته اندازه روسي پيسي تسعير كړې اوله دغه وخت وروسته په بازاركي روسي نوټونه رانيول كېدلاى سواى .تخت ته له رسېدوراهيسي دالومړى وار و، چي اميردارگ له كلاپرته په هندكى ياكوم بل ځاى كي اوسېږي اوهيڅوك دي په مشخص ډول نه پوهيږي چي څه پېښه ده؟ په رښتياسره هم هيڅوك نه پوهېدل، چي اميرپه هندكى كي څه كول؟ دايوغيرمعول كارو، ځكه چي له خپل حرم سره له اوسېدو پرته، داميرپرنورو ټولو كارو باندي په عام ډول خبري كيږي اوخلك ښه په خبروي، چي دى څه كوي ؟

ځرگنده وه چي داميرموقعيت تخت ته تررسېدلووروسته دڅه مودې له پاره ډېرسخت و .اوس لاهم دخطرځيني عناصرسته، چي بايدليري كړل سي . دى د خپل پلارپه شان نه تجربه لري اونه هم پرځان ويسا . داچي دى به په بحراني حالاتوكي څه وكړي ،اوس يې اټكل نسي كېدلاى .خوپه هيوادكي دانارشى اوبغاوت جوړونكوسره ملاترنسته اوزمانه به غالبادې پوښتني ته خواب وركړي .

افغانستان په مكرر ډول د روسيې او هندوستان ترمنځ بې طرفه هيواد Buffer State په توگه گڼل سوى دئ خودا داسي ناپېيلتوب دئ، چي دهرلورواكمن يې په چټكى سره له منځه وړلاى سي . زياتره خلك دمځكوله لوري ماليې څخه داناراضى په حالت كي دي اوډېنديانو په توگه دكارتلاښ كوي. خوراكي موادكال په كال گرانيږي ، ناروغى عامي دي اوخلك داسي ښكاري، چي دهربدلون په تېره بيادبهتربدلون هركلى به وكړي . ترڅو،چي امير دخپل پلارپه شان درك ونلري، يرغلگرخواگونه به داميرله خوا د جهاد درسالوله پراخي وېشني سره سره پخپل وړاندي يوموټى افغانستان ونه مومي.

اميراوشاوخواكسان يې پرجهاد (مقدسه جگړه ) باندي زياته تكيه كوي، چي هيوادته ديرغلگرلښكردراتگ په وخت كي دملايانو له خوا تبليغيږي .په دې باب چاپ سوي رسالې په ټول هيواد كي وېشل سوي دي . خوله اوسنيو اوضاعو څخه ښكاري، چي خلك دي سره له دې چي په زياته اندازه متعصب Fanatic دي، جگړې ته زړه ښه كړي اوداوږدې مودې له پاره دي وجنگيږي . لښكرپه عصري مځكنيوتوپونو، توپكو او مهماتو سمبال دئ ، خوعصري نځښي

نښاني ډېري محدودي دي اوپه دقت وسربښته کي له نوروهيوادوسره سيالي نسي کولای . لښکردغه راز دهغودووخواکونو په پرتله چي دواړو خواوو ته يې پراته دي ، (روسيه اوهند ــ م.هـ ) په بشپړه توګه روزل سوي هم نه دئ ، او افسران يې له کوايت Rank -and- file پرته نوره عصري پوهنه هم نلري .
دهريرغلګرلښکرپه وړاندي دجدي مقابلې له پاره يوازني هيله چي له اميرسرهٔ ستهٔ.هغه داده ، چي دهيواد غرني موقعيت به دلښکرودخوځېدو اودرنوتوپونو د لېږدولو په مقابل کي طبيعي مشکلات پېښ کړي اومهاجم لښکرته به داناشونې وي، چي ترلوړمړي خنډوروسته دي دنوري جګړې خطرپرخان ومني . دابه هم ممکنه وي له چريکي لاروچارو دي، چي په دوي کي رواج لري کارواخيستل سي . يعني کوچني قطعات سره پرې کول اودشاله خوايې دارتباط مزي ور مغشوشول. څومره چي لښکرغټېږي ددغي لاري اغېزمنتوب هم ورسره کمېږي .
دبې نظمه قبايلودتنظيمولو ډېره ښه وسيله داده، چي افغانان خپل سرته پرېښوول سي چي ، پرخپلوخانو پخپله حکومت وکړي . دبغاوتونو اوبې نظميو دارامولو له پاره ددوی خپلي لاري چاري ډېري بې رحمانه دي. ځکه نوزياتي اغېزمني اوغوڅي دي . له خلکو سره ددوی چلند دنورو اولسونو له بشري لاروچارو سره توپيرلري. اميرعبدالرحمن دخپلي اداري پرضد دبغاوتونوله امله دخپل ملت ډزيات شمېرنارينه وو ، ښځواوماشومانو تروژلووروسته پاته کسان د هيواد ډېروليروبرخوته په لېږدولوباندي مجبورکړل، پخواني تشکيلات، يې له منځه يووړل اوله نوروخلکوسره دمناکحت له لاري يې ددوی زاړه دودونه ور محوه کړل او ورو ورو يې په چاروکي نوي نظم راووست . که انګرېزان ( يا نور خواکونه ) غواړي دغه هيواد اشغال کړي اوداشغال په لښکرکښيريې وارزوي ، نودي کارته غالبا دهند دلښکرپه شان اردو په کاردئ اوضروري ده چي خلک بايد ترهغه وخته.په نظم کي وساتي، چي نوی نسل رالوی سي اودچارو دنوي حالت له منلو سره خانونه عيارکړي .
که په پام کي وي چي له افغانانوڅخه دروسيې تېري ددفع کولو دوسيلو په توګه کارواخيستل سي نوبه بې له شکه دابهتره وي، چي هغوی په نويووسلوښه تراسمبال کړه سي. خوله بلي خوا د انګرېزانو پرضدددغووسلودکارولوامکان هر

وخت ستـه . څکه افغانان هرهغه چانه، چي ددوی دخپل هیواد اودین نه وي ، ددښمن په سترګه ګوري او دااحتمال سته، چي هيڅ رازترون دي په پام کي ونه نیسي اوله هري مناسبي موقع څخه دي دخپل هیواد اوخپلوخانونه په ګټه استفاده وکړي . کله چي سرحدي قبایل راوپاڅېدل اوتیراه کمپاین ته اړتیا پیدا سوله ، امیرمرحوم کابل ته نزدي دغرونو ترشا دترانسپورټ له پاره څوزره څاروي راغونډ کړل. که څه هم دده په پوله کي پاڅون بې له شکه دده خپلو ګټوته دخطري په صورت کي دلازمي احتیاطي تدابیروغوښتنه کوله ، خو ده تر اندوس هاخواته دانګرېزانوشړلو هیله لرله اوترپاڅون ډېرلږوروسته په بازارکي د پېښور دبيانيولو اوازه خپره سوه . پېښور په بنايي يوه پياوړي سيمه وي. څکه دغه سيمه تل دافغاني قلمرو يوه برخه ګڼل سوې اوادعا کيږي، چي انګرېزانوله دوی څخه غلاکړې ده .

په عمومي توګه دانګرېزي واکمنی له عدالت اومساوات سره دخلکو مينه سته .دامينه زياتره له هغوقضيوسره ارتباط لری، چي په هندکي داوسېدونکوله خوادغه خای دژوند اوآزادی په باره کي ويل کيږي . خومقامات له هغوکسانو سره ډېرسخت چلندکوي، چي له انګرېزانو يې بنه راخي . دوی ډېرډېري چي انګرېزي حکومت ته ددوی داعمالو په باب اطلاعات ونهٔ رسيږي اوهرهغه څوک که په رښتيايادرواغوسره انګرېزانو ته ددغه راز رپوټ په ورکولو تورن سو، مجرم ګڼل کيږي اوبالاخره دمجرم په شان چلند ورسره کيږي .

په کابل کي برتانوي استازي اوورسره کسان تربنديانو لږڅه ښه دي . څکه دوی له هيچاسره نه ګوري . له خلکو سره څانونه ګډولای نسي او مجبوردي دکابل ښاوخواته خپل مسافرتونه محدودکړي. ټول هغه کسان، چي له برتانوي استازيوسره يې کتلي وي ، بنديان سوي اوپه سلګونو تنه صرف په دې توروژل سوي، چي دحکومت داعمالو رپوټ يې کړی دئ . داستازي دکور ددروازې مخامخ دسړك پرهابله غاړه يې ورته افغاني جاسوس ظاهرا دسماوارچي په شکل ورته کښېنولی وي (کورترسړك لږڅه شاته واقع دئ ) . که څه هم يوڅوك به دغه خای ته په ورتګ سره کوم مقصد ونلري. خوکه يو څوك حتی څومتره نزدې هم دغي دروازې ته تېر سي ، دی يې کوټوال ته رپوټ ورکوي . او خلك اوس دغه

کور ته له نژدې کېدلو څخه دومره ډاربدلي دي، چې له ډېرې فاصلې څخه لیرې ختنې تېرېږي . اوهرچاته که خپل ژوند ارزښت ولرې ، نوپه بازارکي دي د استازي له اړوندوسرېوسره خبرې وکړي .

دغوټولوشیانو ته، چې په زیاته اندازه پېښیږي اودانګرېزي حکومت دګټوپرخلاف دي، باید اشاره وسي اوهغوی بایددافغاني واکمن په واهمېوه سي . خوله کوموشیانو څخه، چې ماپه دغه هیوادکي ولیدل یامې واورېدل ، ډېرلږ به داسي څه وي، چې هغه دي دانګرېزي حکومت په ګټه وي .که وي هم ،هغه به یوازې یولږڅه وي . همدغه سبب به وي چې بهرته دخپنو پېښودخپرېدو مخه نیول کیږي او افغاني واکمنان لازمه بولي خلک دخپل هیواد دښمنانو ته د هرراز خبرونو له رسولو څخه وډاروي . څکه نو دوی هرهغه څه، چې ددوی نه وي ، په پام کي نیسي.

دوی یقینا حق لري چې دخپلې بندیخانې دسیستم له رسواکېدو څخه وبیرېږي . څکه په هغه کي د شکنجې له پاره دوحشت ټول انواع شامل دي . یوه بندیخانه تصورکړئ، چې له انسانانو څخه پرې سوي اندامونه دي ، دمړیو له ټوټه ټوټه سویو بدنونو سره یوځای شاوخوا پکښې پراته وي . دهغه کړاو تصوروکړئ، چې پردوی به تېرسوی وي .بدبوی اوخوږسکوټوله سیمه اخیستې وي اوبیانودهغو سلګونو تنو دماغي حالت تصورکړئ، چې بې له محاکمې بندیان دي اونه پوهیږي، چې ددوی جزابه څه وي اوټوله ورځ ددغوروحشتونو په منځ کي تېروي . که دکابل دبندیخانوحقیقت په عمومي توګه افشاسي ، نور هیوادونه به غالبا ددغه رازبربریت پرېندولو باندي فشارراوړي.

عامه خلک بیاهرڅه ته له خپل خاص نظره ګوري. هغوی په بندیخانوکي له کوم څرګند دلیل پرته ددومره سترشمېروژنو نسبت له برتانوي حکومت سره تړي . دوی وایي، چې انګرېزانوونسوکولای دجګړې له لارې دوی فتح کړي ـ اوس غواړي امیرته دمیاشتي په زیاتوپیسوورکولوسره هغوی په بل راز ووژني . خلک دغه راز په کابل کي دبالاحصار خبرې کوي، چې لار رابرټس په ۱۸۸۰ کال کي دکیوناري اودهغه دملګرو له وژلووروسته له خاورو سره برابرکړ. کنډوالې یې تراوسه لاپاتي دي اوامیرته د تخت ورکولو د یوشرط په توګه بـرتانوي حکومت

امرکړی و، چي دوباره يې ودان نه کړي . ددغوخلکو نظرکه څه هم غولوونکي دئ ، خوبياهم داولس دزيات اکثريت نظردئ اودوی که څه هم ناپوه اوبې خبره دي، خونظريې بايد يومخيزه ردنسي.

اميرعبدالرحمن، چي يووخت زماسره پرسياسي چارو بړغېدی ، راته ورېل ده په روسيه کي دخپلو جاسوسانو پرلاس يوليك ترلاسه کړی چي راته وبه يې لولي. په دې کي دده هدف البته دانه و، چي زه دامعلومات له خان سره وساتم بلکي زه په داسبا هندوستان ته روان وم اواميرته تردې بله ښه موقع ميسره نه وه، چي دهندحکومت ته ددغه ليك په باب خبرورکړي . جاسوس ليکلي وچي ده دروسيې له يوه لوړرتبه مامورڅخه اورېدلي، چي دده حکومت په پام کي لري افغانستان ترهغوپوري پرخپل حال پرېږدي، ترڅو اميرعبدالرحمن ژوندی وي . خودده ترمړيني وروسته به يې ونيسي . کله چي اميرهغه ليك راته ولووست ، زياته يې کړه چي که داخبره رشتياوي لکه څرنگه چي دوی خيال لري ، رشتيابه نوهم دی مړوي، چي دوی دده دهيواد دنيولو هڅه کوي. سره له دې هم ده ته دااهميت ورخبره نه وه. خکه ده له زياتوکلونو راهيسي هڅه کړې، چي خپل هيواد يومو ټی اوداسي پوړته يې وخېژوي، چي خان دملتونو په منځ کي وساتلای سي او تل ديوه خپلواك سلطنت په توگه پاته سي . که دده دمړيني تروخته دده هدف بشپړنه سي ، بيابه هم دده کارونه يوداسي تاداو وگرزي، چي پرهغه باندي به دده زامن اولمسيان لکه څرنگه چي دده ستره ازرو ده ، يوداسي دېوال راوگرزوي، چي هيواد دبهرني تېري دمخنيوي په وړاندي خوندي کړلای سي.

په ټولوماردوکي چي اميرعبدالرحمن زماسره پردغه شان مسايلوخبري کړي دي ، تل يې څرگنده کړې ده، چي دی په زړه کي دخپل هيواد ښېگڼه لري اوپه خينوو ختوکي به يې کله چي خپلو خلکوته دخپلولوړو ارزوگانوپه انتقالولوکي دخان ناکامي بيانوله اوداچي دده له ټولوهڅو حتى له ترټني اووژلو سره سره بياهم دهغوعادتونو په له منځه وړولوکي ناکامه سوی دئ، چي ديووالي اوپياوړتيا په لارکي يې خنډ گرزېدلي ـ نوترسترگوبه يې اوښکي جاري سوې.

په دغه موقع کي چي پـــــورته يې يادونه وسوه ، اميرپه افغانستان کي له

اورگاډي سره پرخپل مخالفت لرڅه روښاواچوله . ده وویل چې دی پردواړوخواوو دوه پیاوړي گاونډیان لري . دواړه خواگونه دده هیواد ته داورگاډي له غزولو سره ډېره مینه لري اودی یې هروخت دخپلوخلکو دمفاد اوپرمختیا له امله د هغې دجوړولو په لارکي هڅولی دئ ، خوناکامه سوي دي. داسي فرض کړئ، ده لکه څرنگه چي هغوی غوښتل په خپل هیواد کي اورگاډی غزولی وای، نوبیا به یې ورته ویلي وای، چي دغه سیستم ترهغوپوري گټورنه تماميږي ، ترڅو چي ددوی له سیستم سره ونه تړل سي. اوس نوکه دی خپل اورگاډی له یوه خواك سره وصل کړي ، بل به هم دغه شان ورته غوښتنه وکړي اودی به په دې صورت دجگړې خطرمیسرکړي اوانگلستان اودهغه متحدین به له ده څخه یوازي دهغه څه انتظارولري، چي ددوی خوښ وي . له دې امله نوده وویل بهتره داده، چي هیواد هیڅ اورگاډی ونلري. که څه هم په دې کارسره به پخپل تجارت او انکشاف کي زیات تاوان وکړي.

امیرعبدالرحمن هیڅکله زماسره په دې باب خپل نظریات شریك نه کړل، چي هغه دي ظاهرا دده په هیوادکي دغني معدنونو دراایستلو پرممانعت لرڅه روښاواچوي .پرځای یې تل په دغوکانونوکي دکارکولوله بابته دخپل هیواد منفعت ته اشاره کوله اوزماترڼاکلولړوروسته یې ماته لیکلی امروکړ،چي د مسودهغوډبرودویلولو له پاره لازم کارونه پیل کړم چي دکابل په شاوخواکي موندل سوي وي . کله چي کارنیمايي ته ورسېد ، ده راته ترامرثاني پوري د کار دمعطل کېدولارښووني راولېږلې اووروسته یې موضوع همداسي معطله پرېښووله چي کار یې ترننه لاهم نیمگړی پاته دئ . ده ماته دهغه کاردبندولو له دلیل څرگندولوڅخه ډډه کړې چي په سرکي یې له پیل کېدو سره زیاته مینه درلوده .سړی صرف دومره اټکل کولای سي چي دی به ددې کارپه کولوسره دخپلوگاونډیو له لاسوهني څخه ډارېدلی وي، چي گوډیا دده هیواد دومره شتمني لري.

امیرحبیب الله چي په ټولو شیانوکي دخپل پلارپالیسي تعقیبوي ، دهیواد دمنابعود انکشاف پرلوردهغه دېبلابېلو منرالي زېرمو دموقعیت اوارزښت معلومولو په هاخوانورهیڅ نه دي کړي . په هرصورت امیرحبیب الله دافغانستان

په لویدیځ کې دبلوچستان دساحل پرځنګ دهیواد دیوې بیلې سوې برخې له بیرته لرلوسره زیاته مینه لري، چې په دې ډول سمندري بندرولري اودهغه له لاري له نورو هیوادوسره به یې له دې چې دګاونډیو قلمروته دې اړسي، دمستقیمي معاملې کولوس وموسي . دده ګاونډیان تل هغه وخت دخپل قلمرو څخه داستفادې اجازه ورکوي، چې په معامله کې ددوی خپله ګټه وي . دغه شان بندربه دوی مستقل کړي، خپل هیواد ته به انکشاف ورکړای سي . د خپلو کانونو محصولات اونورصادرات به په مستقیم ډول وپلورلای سي اوددغه رازتجارت په دوام سره به وکولای سي، هرڅومره جنګي مواد اونورمالونه چې غواړي یې، وارداودخپلو ګاونډیوله خبرېدو اولاسوهنې پرته به خپل ځانونه پیاوړي کړای سي .

افغان واکمنان په هندوستان اودغه راز نورو اروپایي هیوادوکې خپل جاسوسان لري اوهغوی دټولو هغوموضوعګانو په باب، چې پرافغانستان باندې په مستقیمه یاغیرمستقیمه توګه اغېزه ښندي، اطلاعات ورکوي. امیراودهغه صمیمي ملګري چې دنورو ملتونو پرسرواکمنې چلوي ، له دغوا طلاعاتو څخه حداکثر ګټه اخلي اوټول هغه څه ځاري چې دبېلابیلو خواګونوترمنځ روان وي . خوله دغوڅومحدودو مقاماتو پرته نورخلك دبهرنی نړۍ له خبرونو څخه بندسوي دي. ځکه په هیوادکې کومه ورځپاڼه نسته اودنوروهیوادوورځپاڼې اواخبارونه دوی لوستلای نسي. ددوی حکومت هیوادته دبهرنیانو پر راتګ باندې اعتراض کوي اوهیچاته له سوداګروپرته اجازه نه ورکوي . یوازې څومحدود کسان هغه هم دده خپل خلك دامیرلخوا دمخصوصو اجازو له لارې کولای سي ترېولې هاخواتجارتي سفروکړي . نورافغانان له یوه مخه بې له هغومسایلو، چې ددوی په محدوده ساحه کې پېښېږي، دبل هرڅه په باب بې خبره دي.

افغان واکمنان دغه راز دخپل هیواد دکورنیو چارواداره دنورو شاوخوا هیوادوسره له تماس پرته پخپله تنظیموي. هغه برتانوي مامورین چې په ناپامي یانوروعلتونو ترېولې رااوړي ، بندیان کیږي اودامیردحکم تررسېدو پورې ساتل کیږي. له نورو ملتونو سره دخلکو راشه درشه به بې له شکه خلك دتمدن لورته مایل کړي او د نظر پراخوالی به یې اوسنی فناتیك تعصب له منځه یوسي، چې

دنوروړولوخلکو پرضد یې لري اواساسا دهغه لنډ وتنګ ژوند محصول دئ، چي پردوی باندي په زور تپل سوی دئ اوپه عمل کي یې دوی له نوري نړۍ څخه رابېل کړي دي . همداافکاردي چي ددوی دواکمنانو دتجرید سیاست رهبري کوي .څکه دخلکو پرناپوهۍ اومذهبي افسانو باندي عملي کارکولو دوی ته وس ورکړی دئ، پرهرلورچي یې زړه وي ، کارترې اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اوولسم څپرکي لمنليکونه

( ۱ ) دغلام حيدرخان په نامه په دغه عصر کي موږ دوه تنه مشهور پوځي افسران پيژنو. يو غلام حيدرخان څرخي دئ . چي دعصمت الله خان څرخي زوی او دلښکرو عمومي قوماندان و . دی له اميرعبدالرحمان خان سره د ۱۸۸۰ ع کال په جولای کي پوخای سو او د تخت نيولوپه کار کي يې ډېره مرسته ورسره وکړه . له اميرسره دراولپنډی په سفرکي ملګری و . بل غلام حيدرخان اورکزی دئ . چي دسرهنګ سکندرخان اورکزي زوی و . دی په ۱۸۸۲ ع کال د څرخي غلام حيدرخان پرځای مقرر سو . په زرمت ، شينوارو ، منګلو او غلجيو په ټکولو کي يې اميرته زيات خدمتونه وکړل . امير دسروزرواو جواهرو مډالونه ورکړل .

زما ګومان دئ ، چي د مولف مراد به دلته دا دوهم غلام حيدرخان وي . ( ژباړونکی )

(۲ ) مولف دده نوم«ي» بللی اوما «ی»توری ورته وټاکه .

# اتلسم څپرکی

## دکابل پښتنورلار

افغانستان ته دننوتلو اووتلو داجازې اخستلو ستونزې ـ دهغه سپموبیان چې په مخه راځي ـ رباتونه اودلارې داړودوخایونه او فاصلې ـ دجلال آباد ښاربیان ـ دازیکانو د«بزبازۍ» لوبه ـ په جلال آباد اوشاوخواکې دکابل سیند ـ مشک ـ ددرېي اهاړ ـ دسفروروستی ورځ.

---

په کابل کې له څوکالو تېرېدلووروسته یوه تجربه راته داوه، چې دراوتلو پروخت مې دیوځه وړاحساس کاوه . بیرته مدنیت ته دستنېدلو، دخپلو دوستانواوخپل هیواد دخلکو په منځ کې داوسېدلو فکرپه سړي کې دومره تلوسه پیداکړي، چې دتیارې نیولو اوپه لاره کې دوخت تېرولو موده وربااندې ډېره اوږده سي . کله چې څوک په کابل کې وي ،په فکرکې یې دکوراوانګلستان فاصله ببخي زیاته وي او داسې ورته ښکاري لکه دبلې سیارې له مخکې اوخلکوسره چې دچاسروکاروي .که څوک بوردیسټ(دبودادډین پیرو- ژباړونکی ) وي، په اساني سره به احساس کړي، چې له بهرنۍ نړۍ څخه دومره بېل سوی اوټول شیان دومره مختلف دي، چې دعلیحده هستۍ په شان ښکاري.

افغانستان یوداسې هیواددئ، چې ورتګ ورته سخت دئ. نه یوازې په دې دلیل چې دامیرلیکلې اجازه ورته لازمه ده ، بلکې دهندحکومت هم بایداجازه ورکړي . هیڅ اروپایي نسې کولای له اجازې پرته دخیبرله غاښې تېراوترپولې ولوړي اوداکاریوازې دامیردفرمان ترلاسه کول تضمینوي اوان ترهغه وروسته هم له افغان سرحدڅخه دتېرېدواجازه ترهغوپورې نه ورکوله کیږي، چې په یوه ټاکلې ورځ له مسافرسره دبدرګې دبندوبست په باب خبرې سوې نه وي . له هیواده راوتل هم مشکل دي. خکه امیرهغوکسانوته په رخصت ورکولو کې محتاط دئ، چې به هیوادکې یې څه موده تېره کړې وي . همدغه سبب و چې ماپرله پسې اته کاله هورې تېرکړل اوسره له دې چې په مکرړډول مې درخصت اخیستلو غوښتنه کړې وه . بیاهم تل په یوه اوبله پلمه ځنډول کېدلم . کله چې چاته اجازه ورکړه هم سي بیاهم نوري دري درې اونۍ ځنډېه کښېوزي . په دغه موده کې د باروړلو له پاره اسونه اود بدرګې لپاره سواره (Cavalry) چې

دسفردحفاظت له امله لازم دي، خيمې، غالۍ اونورڅه برابرېږي. دهرڅه ژرحرکت له پاره ارزو، دخلکو دننن اوسبا مزمن عادت چي څوك لېږدېږ ورسره عادي کېدلای هم سي ، داټول په ناڅاپي اوځرګندډول له يوراز عصبانيت سره مل سي . خوځرنګه چي ټول شيان وهغه چاته متوجه وي چي انتظارباسي ، ځکه نوانتظارکافي اندازه اوږدسي .په پای کي هرڅه تيارسي اوبوسهار ټول بکسونه اوبارونه دځارويو پرشاټړل سوي ، نوکران پرهغواسونو سپاره سوي چي سپك بارونه پرې باروي اوبارونه خوځېدوته اماده سوي.اويادوه ساعته وروسته سړی پخپله پرآس سپوراوروانيږي.

له کابله تريپښوره که هره ورځ اوږده مزلونه ووهل سي ، داتوروورخو سفردئ خوهغه خلك چي پرلاره معمولا پورته اوکښېنته سفرکوي ، نوبيادېبولسو، دوولسو ورخولارده . که سفرپه دغه اوسني وخت کي وي، نوبيادسپارلی او بار اسونه بايد ښه تکړه وي. ځکه په غروکي مزل وهل اودلارو ډېرين اوزيږ حالت (سړکونه له کابل پرته بل ځای نسته ) داسانوله پاره ډېرستومانوونکي وي. ډېرو اوږدو ورځو په مزلونوکي خوځيني اسونه له ستړياځخه چپه سي او پر لار باندي داسونو دمړه کېدو موارد خوبيخي عام دي.

کله چي دکابل ناوه شاته پرېښودله سي ، نوشاوخوا ورشوډېره ويجاړه ښکاري .له غرونو، ګارو اوشګوپرته بل څه نه ليدل کيږي .دسفرپه دوهمه ورځ د «لته بند » ترغاښي اوړي، چي له کابل څخه په ښه پوره ارتفاع کي پروت اوکابل پخپله دسمندرله سطحي ځخه اووه زره فوټه لوړدئ . نورسفرنوترهغو چي جلال آباد رسيږي ، په غرونو کي دئ .دشپې تېرولوکمپ کليوته نژدې په هغوناووکي وهل کيږي، چي دلېږڅه اوبوله امله يوڅه محدوده مځکه دکرني ورګرزېدلې وي . دباران ډېرکمښت ددې سبب سوی، چي سيمه دي ډېره وچه اوشاوخوا دي په وادي کي غتي ګاري راغونډي سوي وي . دغرونو په ببخ کي حاصلخېزه خاوره جوړه سوې اودکرني وړده . په غرونو کي شنوبوټو اوونو ته هم اړتيا سته . دوريځو اوپرځنګ يې دشبنم نشته والی مځکي ته ديکنواخته رنګ ورکولو سبب سوی دئ . ډېري ښې غرنی ساحې سته، چي ښکلي کېدلای سي خود اتموسفيروچوالي ليري اونژدې غرونو او غونډيو تـه بېخونده رنګ ورکړی

دئ . دورځني مارش په پیل کي دمنظرې یوشانتوب اوترستومانوونکوبرخو تېرېدل سړی بېخي ستخ کړي. ځکه کوم په زړه پوري څه نه وي، چي دسترېااحساس دي په کم کړه سي اوبوازنی غوښتنه داوي چي مزل پای ته ورسیږي اودکمپ وهلو ځای ولټول سي.

له کابله ترجلال آباده، چي دپېښورتقریبا نیمایي دئ، معمول تم ځایونه دادي : بتخاك ، دوولس میله ـ بریکاب Barikab ، دودېرش میله ـ جګدلك ، شپاړس میله ـ ګندمك ، اته ویشت میله ـ فتح آباد اتلس میله او جلال اباد نولس میله . دافاصلې ټولي اټکلي دي. ځکه له یوه ځایه بل ځای ته درسېدلو دوخت له مخي اټکل سوي دي . نورځایونه هم سته چي که دشپې لخوالازمه وي ، کمپ پکښې وهل کېدلای سي اوبه دې اړه لري، چي څوك غواړي دغه سفرپه څومره ورخوروهي .خو که څوك غواړي دهري ورځي مزل یې داسونو او باروړونکو ځارویوله پاره ستومانوونکی نه وي ، نوبورتني تم ځایونه ډېرمناسب دي. لنډ مارشونه په غرنیو برخوکي وي اواسونه پرهواره باندي داوږده مزله په اندازه ستومانه کوي . جلال آباد ته شپږورځنی سفرپرداسي لارودئ، چي د غونډیو په بېخ کي جوړي سوي دي اوتقریبا ټوله لارپه ریګواوکوچنیو ډبروکي تېره سوې ده [ وداسونو پښې پکښې ډېري ننوزي. داکاراسونوته سخت او ستومانوونکي وي. چاچي په وچو ریګو کي لږڅه تګ کړی وي، پوهیږي چي داوبو غاړه به داسونود سترېا اچولو له پاره ډېره خوندوره وي.

زه چي له کابله راوتلم ، واوره اورېده اوتېري دوې ورځي هم اورېدلې اوسمه وغریې ټول پوښلي وو. دتوپان شمال ډېرېدلګېدی . دتوپان ساړه هغه چاته ښه معلومیږي، چي تجربه کړی یې وي .ماورروسته واورېدل، چي په هماغه شپه دوه دري تنه عسکر دشپې په پیره کي دیخنی له لاسه ترمرګه رسېدلي وو اودکابل په سختوژموکي، چي بادپه شدت چلیږي اودشپې لخواساړه مخ پرزیاتېدووي ، دامعمولي پېښي دي.

په واوره کي له څوساعتومزله وروسته چي اندامونه شخ اوحواس د ساړه شمال له امله فلج وو اوبه دې وخت کي مي دواورو په منځ کي دسرای (رباط ) دېوالونه ولیدل ، شکرمي وکیښ اوګله چي وروررسېدو اوله اسونوراکښته سولو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکابل اوپېښور پرلار کاروانسرای

يوه سوم، چي په ښې لاس کي مي دويښي جريان بېخي بندسوی واو له څه مودې موښلو وروسته بيرته سم سو. سرايونه، چي دلاري په اوږدوکي پرتاکلو فاصلو باندي جوړسوي دي ، اصلا دکاروانونو له پاره دي او دمربع شکل لري چي شاوخوا جګ دېوالونه پرراتاوسوي وي. تردېوال دننه خوني جوړي سوي وي . دخونو مخي ته برنډه وي، چي بده هواکي دشپې لخوا دکاروان بارونه پکښې پراته اودغه راز داوښانو اوباري څارويو له پاره ددرېدلوځای هم وي. دسرای د دروازې دپاسه يوه لوړه خونه وه، چي موږلومړی شپه پکښې واړول . داخونه دمعتبرو مسافرولپاره جوړه سوې ده اوپه دغه شپه زماپه اختيارکي وه . خودهوساتوب له مخي دومره ويلای سم، چي تربهرپاته کېدوښه وه . کښته خوني چي کوز اوپاس دکاروانونو مسافرپکښې اوسي، تودي وي خوهغه بيا چټلي اوزياتره داسي خلك پکښې اوسي چي دپاك اوستره عادت لرونکو کسانو له پاره مناسب نه وي . داخونه چي مانيولې وه نسبتا پاکه خوفرش نه وه او داورځای يې هم نه درلود . دلرګيو کړکۍ يې وه چي دڅوکاټ پرشاوخوايې ديوه انچ په اندازه درزونه درلودل .دلرګي اودېوال ترمنځ يې خالي ځايونه جوړسوي وو. پخپله په دېوال کي هم غټ درزونه وو چي غالبا به دزلزلې له امله جوړسوي وو. تردغودرزوبادچلېدی . دبارونو تررارسېدوپوري ماپه برنډه کي اور بل کړ او يوازېخ وبل به مي په روڼ سره ورته توداوه . شپه لانه وه خپره سوې، چي دبارونو څاروي راورسېدل اوماوکولای سول چي يوه پياله چای وڅښم .يويادوه ساعته وروسته ډوډۍ هم برابره سوه . خوك چي ستړي اووږي اوتودوخه هم ترصفرکښته وي، دغه انتظارډېرستومانوونکي تماميږي . ددېوال له درزونو اوکړکۍ څخه سوړشمال لګېدی اوپه دې وخت کي کالي ايستل اوبيدېدل خوترتصوروتلې خبره ده. خکه نومايوازي بوټونه وايستل اووغزېدلم . څه غالي چي مي درلودې، راباندي وامي چولې . سهار چي راپاڅېدم ، ومي ليدل، چي په لګن کي اوبه کرنګ يخي سوي وې اود واوري ګردلې فرش اوبسترپوښلی و.

سهاراسمان شين اوخلانده و.دلمرووړانګوته دواوري خلېدلو خوك ډنداوه . څه آن وروسته سترګي ورسره عادي سوې. خوبادپخپل ټول شدت چلېدی اوکله چي د «لته بند» غابښي ته وختو، هوادومره سړه وه، چي پر زين باندي ځان تکيه

کېدل سخت و. لاسونه اوبښې موداسي بيده اوبې حسه وو، چې مور وبېرېدلو
يخني يې راځخه يونه سي . خکه نوزه اوبدرگه مې له آسه راکښته اوقدم
مووواهه، چې خانونه لږخه تاوده کړو .اسونه مودماپښيېن تردوو بجوپورې
خوشي کړي وو . دغابني پرهابله غاړه له باد ځخه يوځه خوندي وو خو ما فکر
کاوه ، چې دساړوله امله پرآس سپارلي لازمي نه ده اوتر « بريکابه» مونوره لار
په پښووهله . دغه کمپ ته دمابنام پرشپږبجې ورسېدم .دورخي اوږده مزله
دېرستړی کړی وم . دبارخاروي، چې دېردرانه بارسوي اودغرونو دپاسه پرلنډو
لارو باندي په اسونو پسې وي، کمپ ته دشپې ترنهو بجو لاهم نه ورارسېدلي.
خکه نوبيادېرناوخته و چې دمابنام ډوډی برابره سوه. خوپردغه وخت هم ښه وه
چې راوورسېده .

تر دې وروسته نو ترجلال آباده پورې، چې دغرو هري لړی مورنور هم کښته
کولو، هوا ورخ په ورخ تودېده خوتودوخه يې صرف نسبتي وه اوجلال آباد ته
چې ورسېدو، لاهم ښه يخ و . دلته مي يوه ورخ تېره کړه اوترخيبرکوتل پورې
مې يوه اضافي ورخ بله هم درلوده. خکه کوتل دمسافروپرمخ په اوونی کې
يوازي دوه واره خلاص وي.په دغه ورخ مې خان دښار اودااميردماڼي اوباغچو په
کتلو مصروف وساته . دايوکوچنی ښاراوله معمول سره سم دېوال پرې تاوسوی
دئ. خودېوال (کلا ) ځای ځای کنډو دئ اوهرځه دېرويجاړښکاري . زياتره
برخي کنډوالي دي. دښار دصفايي له پاره هڅه نسته .دهرکوراوسېدونکي د
خپلي روغتياساتني له پاره پخپله بندوبست کوي، چې په عمل کي گوياکورټ
نسته . خکه هرځوک دکورکثافات بهرته غورځوي اوکه دسپيو ياکارگانو په
واسطه ونه خوړل سي ، همدلته ورستيږي . داوبو يې بدبوی خې اودحيرانتيا
خبره نه ده چې کله کولرا راسي ، دېردوام کوي اوزيات تلفات پېښوي . کولرا
ورته له هندوستان ځخه دکاروانونو په واسطه انتقاليږي . سړی تعجب کوي،
چې ولي ټول خلك نه پکښې تلف کيږي. خوروج اقليم اودوامداره شمالونه بې له
شکه دښارله روغتيايي حالت سره مرسته کوي اوښايي دکولرا دوامداره
پېښبدلو زياترو خلکوته دناورغی په مقابل کي معافيت ورکړي وي .

په جلال آباد کي مي د لومړي خل له پاره د اوزبکانو يوه لـــوبه (بزبازي )

ولیدله . دالوبه پراسانو کیږي . لومړی کاردادئ، چي یو اوزګړی یاپسه په داسي حال کي چي اوزبك سپاره شاوخوا پرې راغونډوي په معموله توګه حلالوي . داکارچي سرته ورسېدی، اشاره ورکوله کیږي اوټول سپاره حلال سوي مړه ته، چي پرمخکه پروت وي، هجوم وړي . هرڅاڼه چي په لاس ورغئ ، پرزین باندي یې مخي ته ږدي اوپه تراټ سره خغلي . نورسپاره یې ترهغو تعقیبوي چي دبل یوه لاس وررسیږي اوورروسته په عین خغستا کي دجسد د لاس ته راوړولو له پاره مجادله روانه وي . څاته چي په لاس ورسي ،نور یې په نوبت سره تعقیبوي او که حلال سوی مړ پر مخکه ولوېږي، بل سپور یې په تاخته کي حمله کوي . داس دسورلی یوه ښه اولاس پرآس وي اونورهڅه کوي خان مخکي ته ورسوي .لوبه ترهغو پوري روانه وي چي حیوان اشلې پشلې سي. هغه څوك بریالی وي، چي په پای کي یوه برخه په لاس ورسي اوخوندي یې کړای سي . داسانوسرعت اوچالاکي ددې مانع وي، چي نورکسان یې ځني واخلي .

له جلال آباد څخه ترپېښوره پوري معمولاً پنځه ورځي مزل دئ. ګردی کڅ لومړی تم ځای دئ، چي شل میله کیږي . باسول اتلس میله ، ډکه دافغان سرحدڅوکی ، شپاړس میله اولنډي کوتل دخیبرکوتل په پای کي انګرېزي پوسته ، شله میله . دسفرپه وروستی ورځ له لنډي کوتل څخه دخیبرکوتل له لاري ترجمرود اوړي، دا هغه کلاده چي دهند پرخوا دخیبر دخولې ساتنه کوي ، اوپېښور ته رسیږي .دانوهغه ځای دئ، چي یوواربیا څوك مدنیت ته داخل سي.

له جلال آباد څخه دخیبر ترغرونو پوري مخکه نسبتا اواره ده . اودسفرپه ډېره زیاته برخه کي لاردکابل سیند پرغاړه تیرېږي .په دې ځای کي سیند پراخ اوژورنه دئ . که څه هم داوبو جریان دجلال آباد اوپېښور ترمنځ دسطحي دلوړتیا په پرتله چټك دئ . دسند په دغه برخه کي یوشمېر ګرداوونه سته اوهغه څاته ،چي له جریانونو سره ښه بلدنه وي ، په بېړی چلولو کي مشکلات او خطرپېښوي . ویل کیږي چي ګرادوونه زیاتره دخیبر غرونو په تنګیوکي واقع وي اودغه ځای دئ چي وایي دجاله وانانو مهارت دناځاپي فاجعو په مخنیوي کي رول لري . څکه دجریان سرعت څاته لږ موقع ورکوي، چي دجلو غلطي تصحیح

کړي.

جلال آباد دافغانستان له هغو محدودو ځایوڅخه دئ، چي زیاتي ونيْ لري . خنګلونه دښارپه ګوميلي کي واقع دي اولیدل کیږي چي ځیني غونډی یې پوښلي وي . چارتراش چي دچنغوزيو يوراز ونه ده .کله چي پرې سي به بدشکل یې څلور کونجه کوي اولرګي يې سيند ته راشيوه کوي . هورې سره اوډل کيږي او پېښورته دخرڅلاو له پاره دسيند له لاري وړل کيږي . يوه لږاندازه يې په هندوستان دخرڅلاو لپاره استول کيږي.

پېښور ته زما په يوه سفرکي دجلال آباد والي داميرله حکم سره سم څو دانې غټ خټکي چي هورې شنه کيږي ، راوليږل. خټکي دومره غټ وو، چي دوه فوټه اورده اويونيم فوټ يې بر (پسور ) و. ماله څان سره دهغو دوړلو وسيله نه درلوده . داخبره، چي ترواليي پوري ورسېده ، هغه سپارښتنه وکړه، چي خټکي دي پېښورته ورسول سي اوهورې دي ورتسليم سي. جاله وانانو راته وويل، چي دوی به له جلال آبادڅخه پېښورته په دوولس ساعته کي ورسيږي . دافاصله سل ميله ده اوسړی دجريان سرعت څني تصورکولای سي.

دسيند اوبه دغرونو دواورو له ويلېدو څخه منځ ته راځي اوډېري سړې دي. ماته وويل سوه چي که څوك غوايي ترسيند په لامبوپوري وزي ، داوبو جريان يې دومره ليري يوسي چي بلي غاړي ته تررسېدو وړاندي يې داوبوسوړوالي بدن ورکنګل اودومره يې بې سيکه کړي، چي نزدې وي ډوب سي . دسيمي خلك چي غواړي ترسيند پوري وزي ، له پړسول سوي مشك څخه کاراخلي چي هم بدن وچ ساتي اوهم له پښوولاس څخه دکاراخستلو زمينه برابروي . څو دبدن غړي دومره کرخت اووچ سي چي يوغښتلي سړی به له رود څخه دپوري وتلو ياپرهابله غاړه باندي څوميله کښته کلي ته دتللو له پاره دمشك کارولو توان ولري . ماته وويل سوه چي پرله پسې استعمال يې دلاسواوپښو روماتيزم پېښوي اوداخبره دمنلو وړده .

مشك هغه شی دئ، چي په ټول ختيځ کي دلامبوزنو په واسطه کارول کيږي . هغه دوزې ياپسه له پوست څخه جوړيږي . پوست صاف اونرموي اوبيايې پړسوي، چي له سر اوپښو پرته نور سم دم هماغه لومړنی حيوان وي . بندونه يې

ورتېري .پوست چي تول وېرسول سي ، يوه ډېره سپکه بېړۍ ځني جوړېږي .
کلېوال خان پرمخي پراچوي، ژورو اوبوته يې ورېوري وهي، لاسونه وېښې
ښوروي اوپه دي ډول گويا لامبوکوي . هغه کسان چي ماپه سيند کي په همدې
ډول لامبو کي وليدل ، زما داټکل له مخي يې سرعت په ساعت کي لس ميله
کېدی .
جلال آبادته نزدې، چي رود ددوو غونډيو په منځ کي تېرسوی اوسره تنگ
سوی وي ،کلېوال له يوې غاړي بلي غاړي ته دسيند دپاسه پنډه رسۍ تېروي،
چي يوسراوبل سرېې داوسپنو پرغټو ميلو باندي چي دځنډي په گارو کي ښخي
سوي وي ، ټرل سوی او ددغې رسۍ په مرسته ، دوی ديوې بدشکله تختې
دپاسه بلي غاړي ته پوري وزي . داتخته له بدشکلوزيږو خادو څخه، چي يوله
بله سره ټرل سوي وي ، جوړه سوې ده . پرهغې باندي سپك سپارلي او ځاروي
پوري باسي . دغه وطني رسۍ چي پنډواله يې يوشان نه وي ،له بېکاره وېښتانو
څخه جوړه سوې اوداوبو جريان ورته ښه زيات مقاومت ورکړی وي . زه
ورېږډېدم چي څوك له دغي وارخطايي سره، چي دتېرېدلو په وخت کي
ورېښيږي ، څرنگه روږديږي .داچي وايي کله کله دغه رسۍ شلېږي اوله هغه
سره سم فاجعه ناکي نتيجې ترې راوزي ، زمادحيرانتيا سبب نه سو ځکه
ډېرمحدود کسان لامبو کولای سي.
دسيمي خلکو يووخت اميرته دسيند دپاسه دپله جوړولو له پاره عرض وکړ
اوده ته يې ډاډ ورکړ، چي ازادتگ وراتگ په ددواړو غاړوکي دخلکو په گټه
دئ اوپله ته سخته اړتياسته . اميرچي له هرهغه ساختمان سره مخالف دئ، چي
يووخت به يې دښمن کارځني واخلي، فيصله وکړه، چي هوايي پل دي جوړسي .
خوهغه خلك چي دې کارته يې گومارلي وو، ټول بې تجربې کسان وو اوپرسيند
باندي يې لږکاروکړ. وروسته دامفکوره معطله سوه .
مايووخت اميرته يوه پروژه پېشنهاد کړه، چي له سيند څخه دي دجلال آباد
اوهندوستان ترمنځ دمالونو په انتقال کي کار واخيستل سي .داپروژه بالکل
عملي وه . ځکه دسيند په پراخه برخه کي ديوه ژور کانال په کښلو اودغټو گارو
په ليري غورځولوسره به چي د گرداوونو اوکښتی چلوني ته د نورو خطرو سبب

کيږي ، هندوستان ته سفرکول اسانه سي اودبخاربېړۍ به دمالونو دوړلوراوړلو له پاره استخدام سي . په اوس وخت کي داکاردخارويو په واسطه سرته رسيږي اوهرکال حکومت ته په ډېره بيه تماميږي .په کال کي څومياشتي دجلال آباداوخيبر ترمنځ دکبنته سيمي تودوخه اودباري خارويو په منځ کي دمړيني لوړه اندازه دهرڅه دلپېردولو په لارکي خنډ کيږي اوله ډېرو ضروري موادو پرته چي بايد په هرقيمت وي ،راوړل سي ، نورڅه ممکن نه وي . امير په لومړي سرکي ددغي پروژې عملي کېدل ومنل خوورو ورو يې له نظره وغورځوله او د نورو پروژو په شان يې سملاسي تياري ونښود .

دجلال آباد اوخيبر ترمنځ سيمه ښه سمسوره ده اودسيند پردواړو غاړو باندي ډېرکلي سته خوزياته اندازه دکرني وړمځکه همداسي شاړه پرته ده . علت يې بې له شکه دادئ، چي هندته يې دخرڅلاو په مقصد دمحصولاتو دانتقال له پاره ارزانه وسايل نسته. خکه نوخلك ترخپل لګښت زيات کرلو ته زړه نه ښه کوي خاوره يې ډېره حاصلخېزه ده اوزياتره غلې دانې ،مېوې اونور هغه څه، چي دتاوده اقليم له پاره مناسب وي ، پکښې ښه وده کوي . ددوبې په مياشتوکي يې تودوخه زياته خودپېښور په شان زياته نه ده . په هرصورت دومره توده ده، چي دهڅواد په دغه سيمه کي سپارلي کول ډېره زياته تجربه غواړي .زماېه ياد دي، چي يوروخت مي په جون کي همدلته سفرکاوه ، خوله مي داسي وچه سوه، چي تالو ته مي دژبې وروړلو جرات له دې بېري نه کاوه، چي مبادا ورباندي ونه نښلي اوبنده نسي . اوکه هرراز کوښښ په مخه راغلى واى ، زه حاضروم اوبه يې وڅښم . له نېکه مرغه په دغه وخت کي کولرا نه وه .زه ترهغونارو غيوچي داوبو څښلو له لاري چاته پېښيږي، له بل هيڅ شي څخه دومره نه ډارېږم . دتودوخي درجه ترخپلي اندازې زياته خسته کن سي. خکه ګاري دلمر تودوخه جذب کړي اوډېري تودې سي .ددغو ګارو تودوخه چي دلمر له هغې سره يوځاى سي نو شاوخوا تنګي درې ددانښ په شان ګرمي کړي . څوك پکښې ترهغو ساه سمه نسي کښلاى چي څني ونه وزي. پرهرهغه چاچي په دغسي سيمه کي سفرکوي ، د اوارو مځکو تودشمال داسي لګېږي «لکه په وچه مځکه کي دغټې ګاري سيوري .»

له کابل څخه تریښنورپوري لار ډېره لنډه ده اوهغوکسانو ته، چې هندوستان ته خي، ښه بلده لارده . هندوستان ته نوري لاري هم سته اوکه چاته دهغولارو فرصت برابر سي، ډېر لږکسان به حاضرسي، چې دسفر وخت ورباندي تېرکړي .

کله چې په افغاني خاوره کي دسفرورورستۍ ورځ وآخري نقطې ته، چې انګرېزي قلمرو پيل کيږي ، ورسيږي ، دپولي کرښه سمدلاسه څرګنده سي . تردغه ځایه، چې افغاني واکمني غزېدلې ده ، سړی پرداسي سيمه سفرکوي، چې طبيعت جوړه کړې ده اولارپه ګارو اوتيږو کي تېره سوې اوسانو ته لازمه ده چې هيسته ودوري خپله لارپکښي ومومي .له دې امله يې پرسم سړک تراورده مزله زيات ستومانوي . خوله هغه ځایه چې انګرېزي حاکميت پيل کيږي، سم سيده ښوي سړک، چې له خيبره ترلنډي کوتله پوري په غرونو کي لاهم آن ترپېښوره پوري له لوړو ژوروسره سره چاته دومره اسانه سي ، چې څوک په داټوله فاصله کي دسپيوګاډۍ په تراټ سره څغلولای سي اوداټول واټن فقط يوڅوساعته نيسي، خودپولي په افغاني برخه کي داوږدو ورځو ستومانوونکې سپرلو غواړي .

---

پای

دجنوري لومړی ۲۰۰۲ کال

دماپښين دوې بجې وپنځلس دقيقې

سکاربورو - ټورنټو

کاناډا

محمد معصوم هوتک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# UNDER THE ABSOLUTE AMIR

BY

FRANK A. MARTIN

FOR EIGHT YEARS ENGINEER-IN-CHIEF SUCCESSIVELY TO THE AMIRS ABDUR RAHMAN AND HABIBULLAH, AND FOR THE GREATER PART OF THAT PERIOD THE ONLY ENGLISHMAN IN KABUL

*Illustrated by the Author's Drawings and Photographs, and by other Photographs*

LONDON AND NEW YORK
HARPER & BROTHERS
45 ALBEMARLE STREET, W
1907

250

(c) ketabton.com: The Digital Library

# UNDER THE ABSOLUTE AMIR

By

FRANK A. MARTIN

PROPERTY OF ACKU 11883
PROPERTY OF ARIC Established 1989

Translated in Pashto

By

MOHAMMAD MASSOM HOTAK

Toronto
Canada
2002

# Under
# The Absolute Amir

By:
Frank A. Martin

Translated in Pashto
by:

Mohammad Massom Hotak

Designed by: Shafiq

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ــ جرمني
VEREIN ZUR FORDERUNG DER
AFGHANISCHEN KULTUR E.V
د خپرونو لړ (۵۷)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**